
قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان من البيان لسحرا

خطبات عارفی

من افادات
شیخ القرآن والحدیث شهید مظلوم حضرت مولانا
سلطان غنی عارف طاهری شهید



ترتیب وتخریج
محمد طاهر توحید یار
ابن شیخ عارف طاهری (شهید)

۱

المکتبة الطاهریة
کهوئی برموڑ مردان 0345-9367242

جماعت اشاعت التوحید والسنہ کے علماء کی
تصانیف کو سکین کرکے PDF فارمیٹ میں
علماء، طلباء اور عوام کو پیش کرنا ہمارا مشن اور
محنت ہے لہٰذا کتاب کا مطالعہ کرتے وقت ہمیں
دعاؤں میں یاد رکھیں شکریہ



منتظم اعلیٰ: ابو معاذ خٹک

معاونین:
مولانا عبدالکریم
مولانا اکرام گل
مفتی ابو عتبان فداء الرحمان عابد

رابطہ نمبر: 03149958550

ټول حقوق محفوظ دي

د کتاب نوم: **خطبات عارفي**

از افادات: شیخ القرآن والحدیث شهید مظلوم حضرت مولانا
سلطان غني عارف طاهري (شهید)

ترتیب و تخریج: **محمد طاهر توحیدیار**
ابن شیخ عارف طاهري (شهید)

الناشر: **المکتبة الطاهرية**
کهوئي برمول مردان
0345-9367242

کمپیوتر چاري: تحت اشراف مولانا نقیب الله حنیف

مطبعه: **مکتبة الاشاعة**
محله جنکي پشاور
0345-9459209

فهرس الكتاب

غرض ناشر..... ۱۱
مقدمه..... ۱۸
موضوع اتباع د قرآن او سنت د جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم..... ۲۳
دوه ډلي..... ۲۳
اصل کتاب قرآن دي..... ۲۵
د انسانيت ژوند بغير د قرآن نه ممکن نه دي..... ۲۶
سياست څه ته وائي؟..... ۲۸
د قرآن مقصد..... ۳۰
د الله او د مخلوق په مينځ کې د تعلق د خرابيدو اسباب..... ۳۱
د معاشري اصول..... ۳۷
قرآن او اقتصادي نظام..... ۴۱
د پيغمبر د ژوند مقصد..... ۴۳
د قرآن عظمت او شرافت..... ۴۴
د دين اوله جامعه او د هغي ضروريات..... ۴۷
د صحابي تپوس او د رسول الله صلى الله عليه و سلم جواب..... ۴۸
دعا..... ۴۹
(موضوع توحيد ابراهيمى)..... ۵۱
لوئى اختر او د ابراهيم عليه السلام ذکر..... ۵۱
مقام ابراهيم عليه السلام..... ۵۲
دين لپاره د ابراهيم عليه السلام د وه کارونه..... ۵۳
د ابراهيم عليه السلام ذکر په قرآن کې..... ۵۳
مشرکانو د چا عبادت کولو ؟..... ۵۴

صنم چا ته وائي ؟ ٥٦
تبليغ د ابراهيم عليه السلام خپل قوم ته ٥٨
صفات رب العالمين ٥٩
دعوت د ابراهيم عليه السلام خپل پلار ته ٦٠
د مكي والو د كفر اسباب ٦٠
د ابراهيم عليه السلام بيان كول او د پلار اود قوم ني ورسره مقابله كول ٦٢
بيان د ابراهيم عليه السلام خپل قوم ته ٦٤
د نوح عليه السلام د بيان طريقه ٦٦
ابراهيم عليه السلام او د بادشاه مقابله ٦٧
د ابراهيم عليه السلام د الله د دين لپاره ښځه او بچي پريخودل ٦٨
د ابراهيم عليه السلام خپل خوئني له حلالول ٦٩
شيخ احمد سرهندي او د ظالم بادشاه خلاف كول ٧٥
د ابراهيم عليه السلام تابعدار څوك وو ؟ ٧٦
پښتون او د ميراث حفاظت ٧٧
واقعه ٧٧
د يهود و سره دشمني ٧٨
قرباني او يو څو خبري ٧٩
((موضوع ـ شان قرآن)) ٨١
اشاعة التوحيد او د نورو جماعتونو فرق ٨١
شان قرآن ٨٢
د قرآن دشمني او د هغي انجام ٨٤
د جناب رسول الله صلى الله عليه و سلم منصب ٨٥

رومبی وحي رسو ل الله صلی الله علیه وسلم ته ۸۷
د قرآن لپاره کور او ملك پریخودل ۸۹
د اشاعت په علماؤ د الله احسان ۹۰
د پیغمبر سره د خلقو دشمني د قرآن د وجي نه وه ۹۱
شیخ القرآن سره د خلقو دشمني د قرآن د وجي نه وه ۹٤
واقعه ۹٤
د کافرو مطالبه ۹۵
د دنیا نظامونه ۹۵
د ابو بکر رضي الله عنه د انتخاب طریقه ۹۷
د حضرت عمر رضي الله عنه د انتخاب طریقه ۹۹
قرآن د عزت کتاب دي ۱۰۰
د طالب او د عالم مقام ۱۰۵
پنځهٔ عقیدي ۱۰٦
انبیاء ټول الله ته محتاج وو ۱۰۷
شیخ القرآن پیندئ او بیان د توحید ۱۰۸
عزت او ذلت د الله په لاس کې دي ۱۰۹
حدیث جبرئیل علیه السلام تفصیل ۱۰۹
د نیو ټاون واقعه ۱۱۲
د عقیدي حفاظت ۱۱٤
پنج پیرئ عقیده: ۱۱٦
د صبر اقسام ۱۱۷
د الله او د بنده صفات ۱۱۸

د الرحمن د لفظ تشریح ١١٩
بحث الاسماء والصفات ١١٩
لطیفه ١٢١
سورة فاتحه کې رد په فرق باطلو ١٢٢
د اشاعت د علماؤ کار د د شمن خیر غوښتل ١٢٤
موضوع نفی سماع الموتی بمقام جلبی ١٢٥
د بیان کولو مقصد ١٢٥
د انبیاء علیهم السلام مقصد ١٢٦
په پښتنو د الله احسان ١٢٧
اذا ذُکر اللهُ ذکرتُ تشریح ١٢٨
د اشاعت مشن د انبیاؤ مشن دي ١٢٩
د داعي او د مدعي فرق ١٣٢
د مولانا عبد الرؤف واقعه ١٣٤
د شیخ جانه د بیان واقعه ١٣٥
د پیغمبر او د پیغمبرانو د تابعدارو لار ١٣٦
د آیت تشریح ١٣٧
امام الهند او د مشرکینو د شرك بیان ١٣٨
مشرکینو ته د الله اعلان ١٤٠
د زیدي د بابا واقعه ١٤١
د الله نه د لري کیدو اسباب ١٤١
مسئله: نفي سماع الموتی ١٤٢
احمد رضا بریلوي او د دیوبند علماء بدنامول ١٤٦

د شیخ محمد بن عبد الوهاب حقیقت..... ۱۴۸
مولانا محمد زکریا د محمد بن عبد الوهاب رحمه الله سره محبت..... ۱۴۸
د کراچئ واقعه او د طالبانو تپوسونه..... ۱۴۹
د کراچئ د طالبانو تپوسونه کول د سماع الموتی په باره کې..... ۱۵۵
د امام مالك رحمه الله وینا د بدعتي باره کې..... ۱۵۷
اصل عقیده ده..... ۱۵۸
پیغمبر په غیبونه پوهیږي..... ۱۵۸
د دعا کولو طریقه..... ۱۶۰
په حیاة الانبیاء کې د مبتدعینو اساس او بنیاد..... ۱۶۵
د خیرات طریقه..... ۱۶۵
عذاب القبر حق..... ۱۶۶
غیر مقلدین او د تقلید اثبات..... ۱۶۹
د ریاض د درس واقعه..... ۱۶۹
تقلید شخصي..... ۱۷۰
امین بالجهر..... ۱۷۰
د ریاض واقعه..... ۱۷۲
د مولوي عبدالسلام رستمي مناظره د عمر خطاب سره..... ۱۷۴
صحابه معیار حق دي..... ۱۷۵
قرآن او سنت مونږ له کافي دي..... ۱۷۷
د جنید بغدادي رحمه الله قول..... ۱۷۸
بدعت څه شي دي ؟..... ۱۷۹
موضوع: اتحاد او اتفاق مقام دودهیر..... ۱۸۳

د جمع کیدو مقصد ۱۸۳
د مسلمانانو جماعت ۱۸۳
مسلمانان او بهر د نیا ته تك ۱۸۵
د نفرت د نوم نه ځان ساتل ۱۸۵
اسلام انسان ته د اتفاق او اتحاد درس ورکوي ۱۸۷
تشریح د حدیث د تفرق د امت ۱۸۷
د ملك ډلي او د هغوئي اوازونه ۱۸۹
د الله تعالی احکام په څه کې دي ؟ ۱۸۹
د نجات او د فلاح لار ۱۹۰
د پیغمبر طریقه ۱۹٤
ذکر شیخ القرآن او زما مقام ۱۹٦
د شیخ عبد القادر جیلاني اقوال په باره د توحید کې ۱۹۷
د پیغمبر لارځه وه ؟ ۲۰۰
چې قران بیانوي نو الله به ستا ملګري وي ۲۰۳
واقعه د شیخ القرآن ۲۰۳
چې قرآن دي پریخودو الله به دي پریدي ۲۰٤
د کوجر فیصله ۲۰۷
د رحمن معنی ۲۰۹
د رب تشریح ۲۰۹
د بني اسرائیلو د زاهد واقعه ۲۱۰
د کلي د ملا واقعه ۲۱۳
پشاور هشتنګری کښې طلباء ته خطاب ۲۱۷

د اشاعت تاریخ ۲۱۷
د حضرت خبیب رضي الله عنه واقعه ۲۲۰
اشاعت او قرباني ۲۲۱
د چارباغ واقعه ۲۲۳
د اشاعت سره مینه کول دا ایمان دي ۲۲٤
صحابه او د اسلام دپاره خپل رشته دارانو سره جنګ کول ۲۲۵
د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم مقصد څه وو؟ ۲۲۷
د الله ډشمنانو سره به دوستي نه کوي ۲۲۷
د اشاعت مشن د انبیا ؤ مشن دي ۲۲۹
د پیغمبر عقیده ۲۳۱
د حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه واقعه ۲۳۳
د شیخ عبد القادر جیلاني رحمه الله تقریر ۲۳۵
د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه واقعه ۲۳۷
صحابه د تبلیغ اسلام لپاره لیکل ۲۳۸
د جماعت دشمنانو ته خیري کول ۲٤۱
د صحابو سره بعض کول کفر دي ۲٤٤
د قرآن قیمت ۲٤۷
د صحابو سره بغض د کوم وخت نه شروع شو؟ ۲٤۹
د جماعت د حفاظت احکام ۲۵۰
موضوع د امن طریقی ۲۵۳
دنیا کې به امن څنګه راځي ؟ ۲۵۳
د امن اصول څه دي ؟ ۲۵٦

د امن لپاره د صحابو اصول..... ۲۵۹
د امن لپاره واحد لار تعلق بالله دي..... ۲۶۲
زمونږ صوبه او د مولیانو حکومت..... ۲۶۶
د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم قانون..... ۲۶۸
واقعه د سراقه بن جعشم رضی الله عنه..... ۲۶۹
د صحابو حالات..... ۲۷۰
د حضرت عمر رضی الله عنه حکومت او د قاتل میلاویدل..... ۲۷۲
مولیان او نیشنلیان..... ۲۷۲
د قاضی حسین احمد وکیلانو ته خطاب..... ۲۷٤
ضمیمه..... ۲۷۵
دعا..... ۲۷۵
(موضوع تعلق بالله او دهغی فائدی) ۲۷٦
تمهید ۲۷٦
دعوت تبلیغ او د هغي اثرات..... ۲۷۷
د اسلامی معاشری اصول..... ۲۸۱
د انسانیت صفات ۲۸۲
د کامل انسان جوړیدو لپاره قاعدي او اداب..... ۲۸٤
اوله قاعده..... ۲۸٦
واقعه د عبدالله بن حذافه السهمي رضی الله عنه..... ۲۸۷
واقعه د انس بن نضر رضی الله عنه..... ۲۸۹
دویمه قاعده..... ۲۹۱
دریمه قاعده..... ۲۹۲

څلورمه قاعده ۲۹۵
پنځمه قاعده ۲۹۸
شپږمه قاعده ۳۰۰
د ایات مقام ۳۰٤
د مسئلة حیاة النبي صلی الله علیه و سلم پس منظر ۳۰۵
په امت کې ورومبي خلاف ۳۰۷
د جناب رسول الله په وفات صحابه په څو ډلو کې تقسیم شوي وو؟ ... ۳۱۲
د ترنول واقعه ۳۲۵
الانبیاء احیاء في قبورهم یصلون تحقیق ۳۲٦
مولانا یوسف بنوری او مسئلة حیاة الانبیاء علیهم السلام ۳۲۷
احناف او مسئلة حیاة الانبیاء علیهم السلام ۳۲۸
شوافع او مسئله حیاة الانبیاء علیهم السلام ۳۳۰
امام بخاری او مسئله حیاة الانبیاء علیهم السلام ۳۳۱
علامه عبدالقاهر بغدادی او مسئله حیاة الانبیاء علیهم السلام ۳۳۲
د صحابو اجماع د نبي علیه السلام په وفات باندي ۳۳۳
په قبر کې د انبیاء علیهم السلام ژوند ۳۳۸
د قرآن دلائل د انبیاء علیهم السلام په وفات باندي ۳۳۹
د عمر (رض) رجوع د حیاة النبي (ص) نه ۳٤۲
حیاة الشهداء ۳٤۷
اصل دیوبندیان څوك دي ؟ ۳۵۱
د نبی صلی الله علیه وسلم صحیح تاریخ وفات ۳۵٤
واقعه د انس بن نضر رضی الله عنه ۳۵٦

د شیخ القرآن رهنما اصول ۳۵۸

بسم الله الرحمن الرحیم

غرض ناشر

الحمدلله وحده والصلاة والسلام علي من لا نبي بعده اما بعد فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم

بسم الله الرحمن الرحيم

فمنهم من قضي نحبه ومنهم من ينتظروما بدلوا تبديلا

دکوم وخت نه چه الله رب العزت دادنیا اباده کړي ده دهغه وخت نه يي دي دنيا کي دوه قسمه خلک کارکوي (۱) اولياءالله (۲) اولياء الطاغوت.

څنګه چه دواړو نومونو کي فرق دی دغسې د دواړو ډلو په کارونو کې هم فرق دی داولياء الله کار دی تکليف په خپل ځان تپرول او فايده او خير د بل په ژولې کې اچول او دا کار د انبياوو او دهغوی د پيرو کار دی.

داولياء الطاغوت کار دی تکليف په نورو خلکو تپرول او فايده او خير په خپله ژولې کې اچول او دا کار دی د شيطان او دهغه د پيروکارو او دا دواړه ډلې په هره زمانه کې کار کوي.

په دې زمانه کې د اولياء الله يو منظم جماعت اشاعة التوحيد والسنة دی او دا جماعت په دې ملک کې د الله (جل جلاله) دين خدمت کوي او تکليف په خپل ځان تپروي او فايدې دنورو په ژولو کې اچوي په دې جماعت کې ګڼ شمېر علماء دي.

په هغه علماوو کې یو عالم زما والد محترم زما مربي ،زما استاد شیخ القرآن والحدیث شهید مظلوم حضرت مولانا سلطان غني عارف طاهري وو شیخ عارف (طاهري رح) په ۱۹۵۰م کې په کوئي برمول ضلع مردان کې یوه کورنۍ کې پیدا شو د لسم پورې عصري تعلیم او لږ غوندې ديني تعلیم يې په خپل کلي کې حاصل کړو چونکه زمانه د جاهلیت وه نو مور او پلار ورته دا وویل چې چېرته سرکاري نوکري شروع کړه خو دشهید مظلوم د علم دین حاصلولو سره مینه وه نو دخپلې دینې تندې دختمولو لپاره لائل پور (فیصل اباد) ته لاړو فنون اکثریه په سوات چکیسر او مارتونګ کې ووې او دوره حدیث ئې په پنج پیر کې د شیخ الرب والعجم شیخ القرآن مولانا محمد طاهر (رح) نه وکړه او د دوو کالو د تدریس نه پس يې دوباره دوره حدیث داستاذ العلما محدث دیوبند قاضي شمس الدین (رح) نه وکړه اوهر کله چه قاضي صاحب دحدیث سند ورکوو نو په هغي يې ورته دا الفاظ ولیکل جامع المعقول والمنقول شیخ القران والحدیث حضرت مولانا سلطان غني عارف طاهري او دادشهید مظلوم په قابلیت دلالت کوي اوددي نه پس په دارالعلوم تعلیم القران رستم کي مدرس شو اوتقریبا لس کاله هلته ديني خدمت وکړو ۔

هر کله چه مولوي عبدالسلام دجماعت نه بیل شو نوشهید مظلوم هم دهغه سره خپل هر قسم تعلقات ختم کړه

هلته نه يې خپله بستره وترله اوخپل ابايي کلي کوئي برمول ته راغي اوخپل کلي کي يې ددین خدمت شروع کړه

د يو څو کالو دتدريس نه پس مالي پريشانو دوجي نه سعودي عرب ته سفروکړو اوهلته په يوه مذرعه کي نوکرشو

چونکه شهيد مظلوم الله (جل جلاله) دخپل دين دخدمت دپاره پيدا کړي وو دزميدارئ د پاره نه نوپه سعودي کي په يو دار التحقيق کي مقرر شو او هلته يي په حديثو باندي تحقيق شروع کړو او تقريبا لس کاله يي دغه مشغله وه ددغي مشغلي سره سره يي د قران خدمت هم کولو اوپه رياض کي يي دقران دوره شروع کړه چونکه داهل حق کار د هرقسم باطل ردکول دي او د هر قسم باطل خلاف کول دي نوپه دي زمانه کي هغه باطل چه جامه يي ددين اغوستلي ده اوددين مخالفين دي اودجناب رسول الله صلي الله عليه وسلم ددي قول مطابق دي چه په آخري زمانه کي به خلک راشي ژبي به يي دګبين نه خوګي وي ظاهرلبا س به يي ډيرښه وي خو زړونه به يي د شرمخانو وي

ځما مراد نام نهاد اهل حديث غيرمقلدين دي

د هغوئ تردید يي په ډيرزورشورسره شروع کړو نو د رياض غير مقلدينو په شهيد مظلوم باندې د هغه وخت ګورنر ملک ستان ته شکايت وکړو او دملک ستان ولګيده او شهيد مظلوم يې ګرفتار کړو او ويزه يې ورله ختمه کړه ۵ اکتوبر ۲۰۰۵ م کې په خروج نهايي سره يې پاکستان ته سفر کړو خو فعل الحکيم لا يخلو عن الحکمة داسفر د شيخ عارف لپاره ډير ښه وو ځکه چې خپله علاقه کې يې ددين خدمت شروع کړه او تقريبا ۴ کاله يې د دين ښه پوره خدمت وکړو او دملک مختلفو علاقو ته يې ددين

د بیان لپاره سفرې وکړې هر کله چې په ۲۰۰۷ م کال کې د سوات انقلاب شروع شو نو شهید مظلوم بعضي کارونو په ډېرې سختۍ سره مخالفت وکړو او د خلاف شرع کارونو نه يې ځان وساتلو خو((فاذا جاء اجلهم لا يستآخرون ساعة ولا يستقدمون)) خو د دربار لايزال نه نيټه پوره شوی وه او د دوه زره نهم ميلادي کال د لسمې مياشتې په ۱۳ نيټه پاکستاني فوج شيخ عارف ګرفتار کړو او ديو مياشت د قيد دبند د تکليفونو برداشت کولونه پس په ۲۰۰۹ م کال د ۱۱ مياشتې په ۱۲ نيټه يې شهيد مظلوم د بونير علاقې کراکړ کې شهيد کړو او په څلورمه ورځ د شهيد مظلوم جسد مبارک بغير د غسل او کفن نه په خپل ابائي کلي کوئي برمول کې دفن کړی شو.

تر ننه پورې دامعلومه نه شوه چې شهيد مظلوم په څه بندي شو او بيا کوم داسې غټ جرم وو چې د شهادت په لويه مرتبه فائز کړی شو خو انما اشکوا بثي وحزني الي الله. الى الله المشتکي انا لله وانا اليه راجعون.

لکه څنګه چې ما مخکې وويل شهيد مظلوم به د ملک پاکستان اکثره علاقو ته سفرونه کول او ددين خدمت لپاره به يې په مختلفو پروګرامونو کې بيانات کول

د هغوی اکثره بيانات بنده عاجز ريکارډ کړي وو . دهغوی د شهادت نه پس چونکه مشکلاتو زمونږ په کور کې يو مستقل ځای جوړ کړو او دمختلفو وجوهاتو په بنا بنده عاجز ددرې نيمو کالو راهيسې د کور نه بهر دی خو دالله(ج) لاک لاک شکر دی چې

دا د هجرت زنده ګي اګر چې يو طرف ته د تکليفونو او مصيبتونو نه ډکه ده خو بل طرف ته د الله اربها کربها احسانات هم دي چې ددې دومره تکاليفو باوجود الله رب العزت بنده عاجز له توفيق ورکړو او د شهيد مظلوم هغه علم نکات د الله (ج) په فضل دچاپ ميدان ته شول او تقريبا ۵ کتابونه اول نظم المرجان من مشکلات القرآن دويم الجواهر العارفيه في المسائل الاختلافيه دريم التحفة العارفيه في المسائل الاختلافيه څلورم البرهان الجلي في حيات النبي پنځم ذم الغناء دډمتوب نقصانات د الله په فضل او احسان سره منظر عام ته راغلل او دملګرو لاسونو ته ورسېدل هم ددې خنګيږ يوه کړۍ د شهيد مظلوم د خطباتو مجموعه خطبات عارفي چې د شهيد مظلوم د بياناتو نه ليکل شوې ده دتحقيق او تخريج سره انشا الله ستاسو په لاسونو کې ده دا تقريبا ۹ نهه خطبات دي چونکه د شهيد مظلوم اکثره بيانات هغه په علمي نکاتو باندې مشتمل وو او اکثريه بيانات دهغوئ دعلماو او طلباو دپاره قابل قدر تحفه وه

نودملګرو په اسرار باندې اودالله (ج) په توفيق باندې بنده عاجزپه دي کارشروع کړو اوجلداول مرتب شو سره دعنواناتواودترتيب نه بفضله المنان

په دي خطباتو کي تخريج داحاديثو اودايتونو دالمکتبه الشاملي نه شوي دي اګرچه اکثروځايونو کي باب جلد نمبر صفحه نمبر هم ذکر شوي دي خوکه بيا هم څه مشکل وي نو المکتبة الشاملي ته

رجوع کولي شي چونکه دبيان او دتحرير نهج جداجداوي اوبنده
عاجزدخپلي کم علمئ او کم عقلئ اعتراف هم کوي خوبعضي
ځايونوکي رد و بدل مونږ کړي دي ددي دپاره چه ترتيب برابر شي
او نهج تحرير هم څه برابر شي اګرچه دازمونږدبس کارهم نه وو
اوبعضي حوالي چه شهيد مظلوم ذکرکړي دي دډير کوشش
باوجود بنده عاجز ميلاونه کړي خوبياهم دهغي دتائيد دپاره نور
روايات ذکرکړي شوي دي
دانساني استعداد موافق مونږکوشش کړي چه څه قسم غلطي نه
وي خوبيا هم دانسان کتاب دغلطيانونه نه خالي کيږي
په دي کتاب کي که څه علمي جواهرات تاسو ته په نظر ښکاري
نودادبنده عاجزکمال نه دي بلکه داکمال دشهيد مظلوم مربي
ووالدي شيخ القرآن حضرت مولانا سلطان غني طاهري (رح) او
که څه غلطي وي نودابه د بنده عاجزکم علمي وي
لکه څنګه چه شهيد مظلوم په العرفان کي ذکرکړي دي
فان اطلعت خطاء فيه فلاتنسبه الى شيخنافان هذامني وانااعجبك
حسن التوضيح وبيان المقصدفعليك بمدح الشيخ والدعاء له.
نودغلطئ نسبت بنده عاجز ته کوئ اوکه کومه ملګروته غلطي
معلومه شي نوبنده عاجزته اطلاع ورکړي چه په راتلونکي
ايډيشن کي دغلطئ اصلاح وشي
درخواست تهولوملګروته دا درخواست دي چه شيخ القران شهيد
مظلوم مولانا سلطان غني عارف طاهري په خپلو خصوصي
دعاګانو کې مه هيروئ او د بندۀ عاجز لپاره هم دعاګاني کوئ

چې الله رب العزت زما نه تر مرګه پورې د دين خدمت واخلي او
دا سلسله الله رب العزت جاري وساتي ... امين

محمد طاهر توحيديار بن شيخ عارف طاهري شهيد

ژوند ګډه

(مولانا سمیع الله)

خطیب جامع مسجد جامرد مردان

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله حمد الشاکرین والصلاة والسلام علی سید الاولیاء وامام المرسلین و علی آله و اصحابه الطیبین الطاهرین خصوصاً علی ائمة المهتدین و خطباء الامة العارفین من جماعة اشاعة التوحید والسنة المتمسکین بالکتاب والسنة المتین. اما بعد:

یوتي الحمکتمن یشاء و من یوتی الحکمة فقد اوتي خیراً کثیرا

[بقرد: ۲۶۹]

وقال النبي صلی الله علیه وسلم: ان من البیان لسحراً

قلم د لیکلو نه عاجز او ژبه د ویلو نه بې وسه او دماغ د سوچ کولو نه قاصر دي خکه چې د یو داسې عظیمې ذمه داری ترسره کول په نصیب شول چې یا خو د الله جل شانه امتحان او یا د ملګرو علماء حقه حسن ظن دی په بنده عاجز سمیع الله باندې. چې د علم یو نمرا ود فکر سمندر د الفاظو ذخیره چې دنیا یې د مثل پیش کولو نه عاجز ده چې نوره یې د افتاب په شان خلیدونکی او د مهتاب په شان بلیدونکی دی. داسې انسان چې د هر عالم د زړه محور یې نیولی وو او د طالبانو د زړه تسکین وو د مسایلو عام فهم حل وو. او د عوامو پښتنو په ساده پښتو کې پوهوونکی خطیب چې د وخت کشمیري او اشرف علي

تهانوي يا محمود الحسن ديوبندي او ترجمان د ديوبند وو. چې يوه يوه خطبه يې په سرو زرو ليکل غواړي. دهغوی په خطباتو باندې مقدمه وليکم د الله جل شانه په دربار عاليه کې دعا کوم چې ما ته توفيق راکړي د ليکلو د يو څو کرښو په صفت د مقدمې په خطبات عارفي باندې

الله جل شانه په دې ځمکه باندې دوه سلسلې جاري ساتلې دي چې يوه سلسله د نور رښا هدايت رشد والاده او بله سلسله د ظلمت. تيارې. ګمراهۍ او تباهۍ ده، د وړومبۍ سلسلې علمبرداران او داعيان خو يا د آدم عليه السلام په شکل کې راغلي وو نو د شيطان مقابله يې کړې، يا د نوح عليه السلام په شکل کې وو نو ود. سواع، يغوث، يعوق او نصر او دغه رنګه نورو شرکي معبودانو خلاف يې نعره لګولې ده. يا د ابراهيم عليه السلام په شکل کې چې د نمرود مقابله يې کړې ده. يا د موسى عليه السلام په شکل کې چې د فرعون مقابله يې کړې ده. يا د حضرت عيسى عليه السلام په شکل کې چې تردید د تثليث يې کړي دی او په آخر کې بيا حضرت محمد صلى الله عليه وسلم چې مشهور په خطيب الانبياء او خطيب الرسل وو. د داسې خلکو استاذ چې دنيا کې د هغوی کارنامې. قربانيانې. همدردۍ. اخلاق او معاشره بطور مثال پيش کولى شي خصوصاً داسې خطيبان چې سمندر يې کوزه کې بنده وو يا د جوامع الکلم زرخيزه ځمکه حسابيدله او مقابله يې د وخت فصحاؤ او بلغاؤ سره وه چې هغوی خپل کمال او هنر د توحيد په مقابله کې خرچ

کولو او صحابه کرامو یې مقابله کوله نو یوه ډله د اولیاء الرحمن وه او دویمه ډله د اولیاء الشیطان وه اوله ډله د توحید علمبردار او داعیان وو او دویمه ډله د شرک او د تیارو تیکه داران وو. کوم کاروان چې د انبیاء علیهم السلام او د صحابه کرامو رضي الله عنهم وو نو د دغه کاروان ملګري او د دغه کشتۍ سواره د صحابه ؤ نه پس تابعین بیا تبع تابعین او بیا محدثین او په آخر کې د دې ګلستان مالیاران علماء دیوبند رحمهم الله وو چې د وخت په هر ضرورت یې خپل صلاحیتونه استعمال کړل. د قلم په څوکه د توري په تېره طرف د مال په قربانۍ، د بچو او خاندان سره په مقابله کولو او وطن نه علاوه خارجي استعمار بهرپور مقابله یې خپله شپوه او عادت جوړ کړی وو او بیا په تېره تېره خصوصاً د یوسفزو په خاندان د یوې زمینداري کورنۍ په منځ کې یو داسې نمر راوخیژولو چې رڼا ته یې ټول مشالونه او ډیوې بې نوره لګیدلې چې نامه یې شیخ القران والحدیث جامع المعقول والمنقول، قدوة الخلف بقیة السلف حضرت العلامه محمد طاهر پنج پیري رحمه الله وو چا چې د قران کریم مشن او د قران کریم اواز پاکستان کې خصوصاً او دنیا کې عموماً اوچت کړی دی او د هغه د مجلس تمام شاګردان د یو ولي الله په حیث د قران کریم خادمان او علمبرداران یادیږي د دغه باغ یو ګل د مردان په غیرتي خاوره کوهی برمول تحصیل کاټلنګ کې هم راتوکیدلی وو چا چې خپل ژوند او زندګي اشاعت لره وقف کړې وه او بیا د وفاداری سره د دغه خدمت آخري سلګۍ پورې داعي

او خادم پاتې وو. څوک چې په حالاتو باندې د زړه دلی خو تښتیدلی نه دي. مشکلات يې زغملي خو بدل شوی نه دی اکثره حصه يې د توحید په خدمت او د قران کریم په اشاعت او د حق په محبت باندې صرف کړې ده د چا قرباني او شهادت چه نن هم د جماعة اشاعة التوحید لپاره د فخر او عظمت یو لویه وسیله ده. په خپل ژوند يې مختلف حصو د دین لره وخت ورکړی وو چې یو حصه يې دعوت کې هم صرف کړې ده او د عوام الناس د اصلاح لپاره په ساده پښتو کې بیانات او خطبې په مختلفو مجلسونو کې په مختلفو موضوعاتو باندې موجود دي. خو زما ورور فرزند ارجمند محمد طاهر توحید یار د انتهایي مشکلاتو باوجود چې هغه مشکلات د الله جل شانه په علم کې دي او که دحضرت فاطمې رضي الله تعالی عنها دا قول د هغه په زبان جاري وي نو نامناسب به نه وي.

صبت علي مصائب لو انها صبت علی الایام صرن لیالیاً

د دغې خطبو نه یو څو د قلم په زړه د کاغذ خیټې ته ورحواله کړې یو طرف خو د فائد د عامې سبب خو بل طرف ته د ملګرو مشایخو او د شیخ القران و الحدیث شهید مظلوم حضرت مولانا سلطان غني عارف طاهري شهید رحمه الله د تمامو شاګردانو وربانديې یو لویه حوصله افزایي وشوه او ورته جوته بنکاره شوه چې د باز د جالې نه بازان پاڅي د شیخ القران په تللو د هغه مشن ختم نه شو بلکه د هغه جانشین په دې حالاتو کې دا کارنامې چې کله الجواهر العارفیه چاپ کول کله التحفة العارفیة او کله د

هغوی مایه ناز تفسیر د مولانا عبید الله سندهي په طرز او کله خطبات عارفي چاپ کول

د شهید مظلوم روح او شاګردان دوارډ په دي خوشحاله شو که دا حالات د سر نه اوچت شول نو ان شاء الله توقع ده چې د شیخ تمام فکرونه او خیالونه به زرغونیږي او خدمات به یې مخې ته راځي

این سعادت به زور بازو نیست تا نه بخشد خدای بخشنده

په آخر کې بیا هم د ټولو عوامو او خواصو ملګرو په دربار کې درخواست کوم چې زما شیخ. شیخ القران والحدیث حضرت العلامه مولانا سلطان غني عارف طاهری په خپلو نیکو دعاګانو کې مه هیروئ

احقر الافقر الی الله تعالی

مولانا سمیع الله

خطیب جامع مسجد جامړه مردان

بسم الله الرحمن الرحيم

موضوع اتباع د قرآن او سنت د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم

الحمد لله الحمد لله نحمده ونستعينه ونتسغفره ونستهدى ونؤمن به ونتوكل عليه ونعوذ بالله من شرور انفسنا ومن سيات اعمالنا من يهده الله فلا مضلله ومن يضلل فلا هادي له ونشهد ان لا اله الا الله وحده لاشريك له ونشهد ان سيدنا وسندنا ومولانا محمدا عبده ورسوله صلى الله عليه واله واصحابه الذين هم خلاصة عرب العرباء وخير الخلائق بعد الانبياء اما بعد

أَعُوذُ بِاللَّهِ السَّمِيعِ الْعَلِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

كَذَلِكَ أَرْسَلْنَاكَ فِي أُمَّةٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهَا أُمَمٌ لِتَتْلُوَ عَلَيْهِمُ الَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَهُمْ يَكْفُرُونَ بِالرَّحْمَنِ قُلْ هُوَ رَبِّي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ مَتَابِ (۱)

دوه ولي

عزت مندو مسلمانانو وروڼو الله رب العزت چې دد كله نه دادنيا پيدا كړى ده دادنې دد دوه ۲ جماعتونو نه جوړه دده يو هغه جماعت چې دهغوى ژوند او زندگى ديو خاص قانون د رڼا

---

۱ سورة الرعد (۳۰)

په تحت تیریږي او هغه قانون او رنړا هغه هغوی خپله نه وي جوړه کړي بلکه الله تعالی هغه قانون او رنړا هغه هغوی ته ورکړی وی او دوئم قسم جماعت هغه خلق دي چې هغوی ځان له خود ساخته اصول او ضوابط جوړ کړی دی او د هغی ده لاندی ژوند تیروی نو ده دی لازمي نتیجه دا ده چې کوم کسان خپل ژوند د الله رب العزت د قانون او ده الله ده رالیږلی شوی دین او د الله تعالی د خودلی شوی دین رنړا د هغی لاندی تیریږی د هغوئ ژوند به ښه تیریږي ځکه الله تعالی داسی ذات دی چې د ازل او ابد ټول علوم هغه د الله تعالی سره دی هغه چې یوه قاعده او قانون راولیږي هغه د هغه خلقو لپاره مناسب وی او بندیان چې خپل دستور او قانون جوړوی نو د هغوئ دستور او قانون لکه سنګه چې بندیان په هر حیثیت سره ناقص دی دغه شان د هغوئ دستور او قانون هم ناقص دی د ابتداء نه واخله تر نته پوری دغسي دوه ډلی دی یوه ډله هغه د الله تعالی قانون دستور او د الله رب العزت خو دلی شوی طریقی د هغی مطابق عمل کوی او خلقوته ئي خانی او دویمه ډله هغوئ خپل ضوابط او خپل اصول جوړ کړی دی او هغه ټرا اخلی او د خلقو مخکې ئي پیش کوی کله چې الله رب العزت په دی نوع انسانی باندې خپل خاص رحمت اوکړو او جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د خلقو د هدایت لپاره راولیږو هغه لږه ئي داسی هدایت او داسی کتاب ورکړو هغه کتاب چې ده دی آبادی دنیا دستور او

قانون دی چې هغه کتاب قرآن کریم دي کتاب چې کوم دین او دستور هغه دنیا ته پیش کړی دی هغی دین ته اسلام وائی

اصل کتاب قرآن دي

اصل کتاب قرآن دي د الله رب العزت په نیز باندې د قرآن کریم نه بغیر چې هغه کتابونه چې هغه ده قرآن کریم مقابله کوی هغه هیڅ کتابونه نه دی او قرآن کریم چې کوم دین پیش کړی هغه اسلام دي او د اسلام نه بغیر نور دینونه هغه هیڅ دینونه نه دی د تیارونه چې رڼا ته سړی راوځي د دی قرآن کریم نه بغیر نه شی راوتلی الله رب العزت خپله د قرآن کریم صفت چې کوی فرمائی الر کِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَى صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ: (۱)

الله تعالی وائی دا داسی کتاب دی چې ما را لیږلی تا ته ده دی کتاب عظمت او شان هغه ده مرسل او د مُرسَل دواړو نه معلومیږی الله تعالی وائی چې داسی بهترین کتاب دی چې الله تعالی وائی د هغی مرسل زه یمه الیك اي پیغمبره تا ته می رالیږلی دی او اول مرسل چاته چې نې رالیږلي دی دواړو طرفو ته اګوره یو طرف رالیګونکی الله تعالی او بل طرف چاته چې رالیږلي شوي محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ده دی کتاب غرض او غایه هغه څه ده ؟ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ

---

۱ سورة ابراهیم (۱)

دي لپاره ټول انسانان د تیارو نه رڼا ته را اوباسئ دا ده قرآن کریم یو خاص امتیاز دی ده قرآن کریم نه مخکې هم کتابونه راغلی حدیث کی رازی چې الله رب العزت څلور د پاڅه سل کتابونه رالیږلی دی خوپه هغه څلور دپاڅه په سل کتابونو کې د قران کریم دا شان دي چې دي د ټول نوع انسانی لپاره دي د دی لپاره هغه ټول نوع انسانی چې ده تیارو نه رڼا ته را اوباسی قرآن کریم دا د تیارونه رڼا ته راویستل کوئ که یو انسان مسلمان نه بلکه یو انسان ځکه مسلمانی خو بغیر د دي کتاب نه ممکنه نه ده یو انسان که د انسانیت ژوند تیرول غواړی نو د قرآن کریم نه بغیر ده انسانیت ژوند نه شی تیرول ځکه ده دنیا ټول خیرونه الله رب العزت په دی قرآن کې ایخودی دی

وَهَٰذَا ذِكْرٌ مُبَارَكٌ أَنزَلْنَاهُ أَفَأَنتُمْ لَهُ مُنكِرُونَ (۱)

دایو داسی کتاب دی ما تاسو ته رالیږلي چې ده خیرنه ډك دي نو ایا تاسو ده دی کتاب نه انکار کوی دا کتاب تاسو نه منئ؟

د انسانیت ژوند بغیر د قرآن نه ممکن نه دي

که یوسړي دا غواړی چې زما جولئ کې دی خیر راغلي او ما دی ده انسانیت ژوند تیر کړي او یا د اسلام ژوند مې تیر کړي ځکه اسلام د انسانیت دوئم نوم دي بغیر د قران نه دا ژوند ممکن نه دي علامه اقبال وائی

گر تمهیں خواهی مسلمان زیستن نیست ممکن جز به قرآن زیستن

۱ - سورة الانبیاء (۵۰)

که ته دا غواړی چې زما ژوند دی د مسلمان او د انسان تیر شوی د قرآن نه بغیر دا قسم چې هغه د اسلام او د انسانیت ژوندون وی دا د قرآن نه بغیر ممکن نه دی.

هیچ می دانی که آئینی توچیست زیرگردو سر تمکین تو چیست

تاته پته نه شتي چې ستا قانون څه دی؟ او داسمان لاندی چې الله تعالی ته آباد کړی ستا ده دی ابادولو سر او راز څه دی؟

آن کتاب زنده قرآن حکیم حکمت اولا یزال است قدیم

او داژوندي کتاب اود ژوند کتاب قرآن چې د حکمت نه ډک دي او داسي حکمت دي چې د همیشه نه دي او همیشه به وي

او کتاب داسې کتاب دی چې دا په عالم کې انقلاب راولی او حقائق بدلوی.

رهزنا از حفظ او رهبر شدند واز کتاب صاحب دفتر شدند

غلو چې کله دی کتاب ته لاس اچولی دی هغه د دنیا رهبران او رهنما جوړ شوی دی او ده دی یو کتاب نه هغوئ ده لکهونو کتابونو مصنفین جوړ شوی دا داسی انقلابی او عظیم الشان کتاب دی.

حرف او را ریب نې تبدیل نې آیی شرمنده ئی تاوئیل نې

د دی په یو حرف کې نه پکې شك شته او نه ئی څوك بدلولي شی او د دي یو ایت د چا د تعبیر او تاوئیل محتاجه نه دي او انقلاب څنګه راولی؟

پیش قرآن بنده و مولا یکیست بوریا و مسندي دیبا یکیست

د قرآن کریم په وړاندی ده آقا او ده غلام فرق نه شته داسی عظیم الشان کتاب دی قرآن کریم د ژوند سومره اطرف چې دی ده دی ټولو آمین دی او ده دی ټولو خودنکی دی

سیاست څه ته وائي؟

زما خپل نظر دادی چې انسانان چې ژوند تیر وی او د اسلام او مسلمانی ژوند چې دوئ له پکاردی دا ټول اصول او طریقي چې راجمع کړي دې ته سیاست وائي

قرآن کریم مونږ ته سیاست خائی ده ټولو نه وړمبی خبره چې په هغی باندې انسانان د یوبل سره یوځائی کیږی هغه دعقیدی ده او قرآن کریم عقیده په داسی انداز کې بیان کړی چې عقیده د الله رب العزت شان چې الله تعالی به څنګه پیژنئ دا ئی د هیچا د ژبی محتاجه نه ده پریخودی وکُلَّ شَيْءٍ فَصَّلْنَاهُ تَفْصِيلًا. (۱)

الله وائي دا خبره ما ډیره په وضاحت او په تفصیل سره بیان کړي ده تردې چې د جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم تشریح محتاجه نه ده پریخودی ده مونځ مسئله هغه ئی نبی صلی الله علیه وسلم ته پریخودی چې تفصیل نی وکړه او دا رنګه نور مسائل هغه نې جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته پریخودي دي چې تفصیل نې وکړه لیکن هغه اساسي عقیده چې په کومه باندې د سیاست بنیاد دي او انسانی معاشره په کومه عقیده باندې جمع کیږی هغه عقیده قرآن کریم د هیچا محتاجه

---

۱ سورة الاسراء (۱۲)

نه ده پریخودی او ده دی مقصد دا دی چې ټول انسانیت په یو ځائی باندې راجمع شی اتحاد او اتفاق او یو والی دا صرف د قرآن کریم شان دی د خلقو د یووالی لپاره اصلي نقطه دا ده چې د خلقو عقیده دی یوه وی هر یو پیغمبر چې راغلی دی هغه خپل قوم یو ځای کړی دی او دي یو ځای کولو دغه قیمتي جوهر هر یو پیغمبر بیان کړی لیکن قرآن کریم په اکمل طریقه باندې بیان کړی نبی علیه السلام فرمائی وَأَفْضَلُ مَا قُلْتُ أَنَا والنَّبِيُّونَ مِنْ قَبْلِي لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ» هَذَا مُرْسَلٌ (۱)

هغه بهتره عقیده چې ما او ځما نه مخکې نورو انبیاؤ د هغې دعوت ورکړي دي هغه دا ده چې دالله تعالی نه سوا حاجت راوا او بل مشکل کشا نه شته دا رنګه الله رب العزت په دي قرآن کریم کې کله چې د عامو انبیاؤ او بیا د اسلام هغه خصوصي شان بیانی نو الله فرمائي:

وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ فَمِنْهُمْ مَنْ هَدَى اللَّهُ وَمِنْهُمْ مَنْ حَقَّتْ عَلَيْهِ الضَّلَالَةُ فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ (۲)

الله قسم کوي چې ما په هر قوم کې چې کله پیغمبر رالیږلو نو د هغه اساسي او مرکزي دعوت هغه د دا وو چې د اک یو الله بندګي وکی او د الله رب العزت د عبادت په لار کې هر حائل چې تاسو ته راځي دا شیطان دي او د ده نه به ځان ساتئ

---

۱ السنن الکبري للبیهقي جلد ٤صفحه ۲۸٤ باب الاختیار للحاج فی ترك صوم یوم عرفة

۲ سورة النحل (۳٦)

دارنګه الله رب العزت فرمائی
وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ (۱)
ستا نه مخکې چې ما سومره انبیاء رالیږلی هغوئ ته مادا وحې کړی چې د الله تعالی نه سوا بل حاجت سرکونکی نه شته
د الله رب العزت معرفت اوپه دې کې نقصانونه دا قرآن کریم مونږ ته په ګوته کړی دی چې تر څو یو سړي الله نه وي پیژندلي هغه به انسانیت کې نه شی داخلیدلي د هغه اجتماعیت نه شی جوړیدي

د قرآن مقصد

قرآن کریم دا اصل د اجتماع کتاب دی نبی علیه السلام ته چې کله وړمبی وحی وشوه اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ (۲)
اولوله څه اولولم د صفا په غر باندې ټول عرب راجمع کړل او ورته ئی ووئیل فَقَدْ لَبِثْتُ فِيكُمْ عُمُرًا مِنْ قَبْلِهِ
ما تاسو کې ډیر عمر تیر کړی دی تاسو زما باره کې څه خیال دی؟ هل وجدتمونی صادقااوکاذبا ریشتونی ئم او که دروغجن هغوي ورته وي جربناك مرارا فماوجدنا فيك الا صدقا مونږ په تا ډیره تجربه کړي بغیر د رشتیا نه په تا کې مونږ نور څه نه دي موندلي ټولو ورته ووی نبی علیه السلام په اوله ورځ چې کله ئی د خلقو نه خپل تصدیق واغستو په اوله ورځ باندې هغوئ ته یو

---

۱ - سورة الأنبياء (۲۵)
۲ - سورة العلق (۱)

خبره کوی ورته وائی یوه عقیده به تاسو زما سره امنی داسی انقلابی عقیده ده

قال: فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " يا عم، كلمة واحدة تعطونها تملكون بها العرب وتدين لكم بها العجم " فقال أبو جهل: نعم وأبيك وعشر كلمات.قال: " تقولون لا إله إلا الله وتخلعون ما تعبدون من دونه: (۱)

داسي عقیده ده چې عرب د دي په تاسو مالکان شي او عجم به ستاسو تابعدار شي خلق ورته وائی:

تقولون: لا إله إلا الله. وتخلعون ما تعبدون من دونه.

هغه عقیده څه ده ؟ عقیده دا ده چې تاسو دا اووائي چې د الله نه ماسوا بل اله نه شته

په اوله ورځ باندې جناب محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم د قرآن کریم هغه بنیادی عقیدی خلقو ته اوخو ده

د الله او د مخلوق په مینځ کې د تعلق د خرابیدو اسباب

د الله رب العزت او د مخلوق په مینځ کې چې کله دا واسطه او دا علاقه خرابیګی ده دی دوه اسباب دی یو سبب د خرابیدو هغه شرك دی او دوئم سبب هغه تشبیه ده شرك دې ته وائی چې سړی مخلوق د خالق په شان ګڼی د شرک باره کې قرآن کریم مونږ له ډیر سخته یره راکړي ده قرآن کی دوه ځایه الله فرمائي:

---

۱ السيرة النبوية لابن كثير: ۲ / ۱۲٤

إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدِ افْتَرَى إِثْمًا عَظِيمًا: (۱)

الله رب العزت چې د هغه سره حصه دار جوړ کړي شي الله وائي زه ئې هيڅري نه بخښم د دی نه کم ګناهونه چې کله ځما خوښه شي او چا ته مې خوښه شي نو معاف کوم

بل خائی کې الله تعالی فرمائی

وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَاءِ فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ: (۲)

چا چې د الله تعالی صفات مخلوق لره ورکړه دی داسی تباه شو لکه چې دی ده آسمان نه راوغورځیدو زری زری شو او مارغانو اوخوړو

شرک د تباهۍ لار ده توحید ده نجات لار ده او دا ده نجات لار مونږ ته قرآن خائی

شاولی الله لیکی په خپل کتاب البدور البازغة کې چې کله کله شرف قدسی او شرف ناسوتی د بندیانو صفات او د الله تعالی صفات کله کله په اوریدو کې یوشان وی خو د هغی تعبیري یو شان وی لیکن حقائق د هغی جداجدا وی مثلا الله رب العزت د بندیګانو په باره کې فرمائی

إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ نُطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَاهُ سَمِيعًا بَصِيرًا: (۳)

---

۱ سورة النساء (٤٨)

۲ سورة الحج (٣١)

۳ سورة الانسان (٢)

الله تعالی وائی ما انسان ده مختلطي نطفی نه پیدا کړی او په مختلفو ادوارو کې می اړولی را اړولی دی بیا مې چې دنیا ته راوستو هم می سمیع راوستی او هم بصیر راوستی دی.

الله رب العزت د خپل ځان باره کې وائی إنه هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ: (۱)

الله تعالی وائی زه هم سمیع یم او هم بصیر یم اوس د الله رب العزت سمیع او د انسان سمیع دا دواړه صفتونه دي یو د الله صفت دي او بل د بندیانو صفت دي تعبیر ئي بلکل یو شان دي لیکن حقیقت د دي جدا دي الله رب العزت سمیع دي خو داسي سمیع دي چې غوږ ته نه دي محتاجه په زوره وینا ته نه دي محتاجه او انسان غوږ ته محتاج دي او په زوره وینا ته هم محتاجه دي دا اوریدل او لیدل یو شان دی خو لیکن حقیقتونه جدا دی انسانان په اورید کې غوږونو ته محتاج دی الله تعالی نه دی محتاج که یو سړی د الله صفت مخلوق لره ورکړی او د مړو په باره کې ئی دا عقیده وساتله چې دا ځما خبره اوری که هغه لری دی خو چې اواز ورته اوکړم هغه ځما خبره اوری دي سړی د الله تعالی او د مخلوق د صفاتو فرق ونکړو دی ته شرك وائی.

دا رنګه الله هم بصیر دي او انسان هم بصیر دي لیکن صرف لفظي تعبیر یو شان دي او حقیقیت جدا جدا دي.

انسان لیدونکې دي خو سترګو ته او چې کله نظر کم شي نو بیا چشمو ته محتاج دي او الله رب العزت خپلو لیدو کې هیڅ ته نه دي محتاج الله تعالی فرمانی

---

۱ سُورة بني إسْرَائيل (۱)

سَوَاءٌ مِنْكُمْ مَنْ أَسَرَّ الْقَوْلَ وَمَنْ جَهَرَ بِهِ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍ بِاللَّيْلِ وَسَارِبٌ بِالنَّهَارِ: (۱)

الله رب العزت ته برابر دی که څوك ورو خبره کوی او که په تیزه خبره کوی بابا سمیع دی خو د الله تعالی په شان نه کله چې ژوندی وو سمیع چې مړشو نو بغیرد غوږو اوریدل د الله تعالی صفت دی دا مخلوق له ورکول شرك دی دارنګه الله عالم دي او انسان هم عالم دي الله انسان له څه پوهه ورکړي ده خو د الله تعالی علم مخلوق لره ثابتول دا هم شرك دی موسی علیه السلام او حضر علیه السلام په کشتی کې روان ؤ یوه مرغی راغله او د کشتی په غاړه کیناسته او سمندر ته ئی مخوکه ورکوزه کړه حضرت حضر علیه السلام موسی علیه السلام ته وائی چې زما او ستا علم نسبت د الله تعالی علم ته ده دي نه هم کم دی کوم نسبت چې د مرغئ د مخوکی سمندر ته دی الله رب العزت علم په شان د مخلوق علم نه شته د مخلوق علم شته خو مخلوق په خپل علم کې الله ته محتاج دي لکه ملائک وائي:

سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا إِنَّكَ أَنْتَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ: (۲)

او پیغمبر هم وائي:

قُلْ لَا أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ وَلَوْ كُنْتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ إِنْ أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ (۳)

---

۱ سورة الرعد (۱۰)
۲ سورة البقرة (۳۲)
۳ سورة الاعراف (۱۸۸)

مالابد منه یو وړو کې غوندي کتاب دي هغې کې لیکلي دي چې انبیاء او ملا ئک په نه پوهه کې د عامو انسانو غوښته دي هغه علوم چې الله انبیاوو او ملائکو له ورکړي دي اور نور مخلوق له یې نه دي ورکړي نو دا علوم د انبیاوو او د ملائکو پوري خاص دي که د دي علمونو نسبت د الله علم ته وکړي نو بیا هیڅ دي دارنګه انسانان هم ژوندي او الله هم ژوندي دي خو د الله ژوند همیشه دي او د انسانانو ژوند ختمیدونکې دي زه هم یو یم او الله تعالی هم یو دی الله رب العزت فرمائی:

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ (۱) اللّٰهُ الصَّمَدُ (۲) لَمْ یَلِدْ وَلَمْ یُولَدْ (۳) وَلَمْ یَکُنْ لَهُ کُفُوًا اَحَدٌ (٤):(۱)

زما پیغمبره اعلان وکه چې الله تعالی یو دی څنګه یو دي؟ یو خو زه هم یم زه یو یمه خو په یو والي کې محتاج یم زه هم یو یم خو فرق دي زه مختاجه یم.

الله تعالی نه دی محتاجه اللّٰهُ الصَّمَدُ (۲) د ټولی دنیا حاجتونه سرکوی لَمْ یَلِدْ وَلَمْ یُولَدْ (۳) ځانله ئی نائبان نه دی نیولی کله کله یو سړی چاله څه شی ورکوی نو د بل نه ورته پاتی شوی الله تعالی فرمائی زه د چا نه پیدا نه یم چې د پلار مال راته پاتی شوی کله کله یوسړی حاجتونه سرکوی خو د هغی مثل هم وی الله تعالی وائی زما مثل نه شته دا پنځه عقیدی شوی مونږ پنجپریان هم ده دغه پنځو عقیدو دعوت ورکوو

۱ سورة الاخلاص

دوئمه خبره چې د الله تعالی او د بنده گانوپه مینځ کې نقص رازی هغې ته تشبیه وائی چې یوسړی د مخلوق صفات راواخلی او خالق له ورکوی د مکی د مشرکینو عقیده لکه څنګ چې ده شرك وه دغسی د هغوئ عقیده د تشبیه وه څنګ چې الله تعالی د هغوئ شرك رد کوی دغه سی د هغوئ د تشبیه رد هم کوی کله ورته وائی شرك نه بخم او کله ورته وائی:

فَلَا تَضْرِبُوا لِلّٰهِ الْأَمْثَالَ إِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ: (۱)

ماله مثالونه مه بیانوی زه د مخلوق په شان نه یم مشر کینو به وئیل

كمًا ان ملكًامن الملوك عظيم القدر يرسل عبيده الى نواح المملكة ويجعلهم متصرفين في بعض الامورالخاصة كذلك ملك على الاطلاق جل مجده شرف بعض العباد بخلعه الالوهية فياثر رضاهم في رضاه وسخطهم في سخطه

ترجمه: لکه څنګه چې یو بادشاه د مملکت اطرافو ته خپل خاص بندیان ولیګي او هغوئ له په بعضي خاص خاص کارونو کې اختیار ورکړي دارنګه خالق کائنات بعضي بندیانو له د الوهیت صفات ورکړي دي د هغوئ رضا د الله رضا ده او د هغوئ غم دا د الله خفګان دي الله د دی نه منع وکړه او وئې فرمائیل

وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَنَسِيَ خَلْقَهُ قَالَ مَنْ يُحْيِ الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ (۲)

ته ماله مثالونه بیانوي او خپل ابتدائی پیدائش دي هیر شو

---

۱ سورة النحل (۷٤)

۲ سورة یس (۷۸)

کله وائی چې سړی چې بادشاه ته رسی وسیلی او واسطی ورلره پکار وی دغه رنګی لکه څنګه چې د خالق صفت راواخلي او مخلوق له ئي ورکړي دا شرک دي دغه رنګ چې د مخلوق صفت راواخلي او خالق له ئي ورکړي دا تشبیه ده او دا هم شرک دي دا تشبیه ده او داکفردی.

دا دوه اساسی غلطی دی په بندیګانو کې چا کې چې شرک راشي او چا کې تشبه راشي.

قرآن کریم اول مونږ ته دا جتماعیت دا خبره خائی ګوره چې یوکیږی عقید به یوه ساتی

د معاشري اصول

د یو کیدونه روستو معاشره راته خائی او په معاشره کې د غم او خادی اصول راته خائی مثال په طور باندې زمونږ فقهاء مونږ ته د حدیثو په رنا کې د غم ابتداء نه واخله تر انتهاء پوری څه اصول خائی وائی.

کله چې د مرګ اندازه شروع شي نو هغه ته به د کلمه شهادت تلقین کوي.

وَلُقِّنَ الشَّهَادَتَيْنِ لِقَوْلِه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: { لَقِّنُوا مَوْتَاكُمْ شَهَادَةَ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ } وَالْمُرَادُ الَّذِي قَرُبَ مِنَ الْمَوْتِ. (۱)

کله چې د مرګ اندازه شروع شي نو هغه ته به د کلمه شهادت تلقین کوي لکه څنګه چې پیدا شي نو هم به ورته د کلمه شهادت

۱ الهدایة شرح البدایة جلد ۱ صفحه ۹۰ فصل في الغسل

تلقین کوي لکه بانګ به ورته وائي دا دي لپاره چې دا بنده دنیا ته راغي چې شیطان تري نه وتختي دغه رنګ چې کله مرګ ته نزدې کېږي بیا به هم ورته د شهادت تلقین کوي او چې کله مړشو بیا فقهاء وائی:

وَإِذَا مَاتَ تُشَدُّ لَحْيَاهُ وَتُغْمَضُ عَيْنَاهُ تَحْسِينًا لَهُ. وَيَقُولُ مُغْمِضُهُ: بِسْمِ اللّٰهِ وَعَلَى مِلَّةِ رَسُولِ اللّٰهِ اللّٰهُمَّ يَسِّرْ عَلَيْهِ أَمْرَهُ، وَسَهِّلْ عَلَيْهِ مَا بَعْدَهُ، وَأَسْعِدْهُ بِلِقَائِكَ، وَاجْعَلْ مَا خَرَجَ إِلَيْهِ خَيْرًا مِمَّا خَرَجَ عَنْهُ ثُمَّ تُمَدُّ أَعْضَاؤُهُ، وَيُوضَعُ عَلَى بَطْنِهِ سَيْفٌ أَوْ حَدِيدٌ لِئَلَّا يَنْتَفِخَ (۱)

سترګي به ورله پټي کړي او ژامي به ورله وترې او که خپله ئې پرسیدلي وه نو د دي د پاڅه به دروند غونته شي کېدي چې دا خپله ئې نه پرسیږي بیا به ئې د کفن دفن پروګرام شروع کړي چې کله قبر تیار شو کفن راغي دله به غسل ورکړي د نبي علیه السلام د غسل باړه کې د ابوبکر رضي الله عنه تپوس اوشو چې نبي علیه السلام له به غسل ورکول کېږي نو هغه ووئیل آو وئي وئیل څوک به ورله غسل ورکوي ؟ نو ابوبکر رضي الله عنه جواب ورکړو يُغَسِّلُهُ بَنُو أَبِيهِ (۲) د تره ځامن به ورله غسل ورکوي نو دغه رنګه خپل رشته داران دي ولګي او دي سړي له دي غسل ورکړي خپل خلق به ورلره غسل ورکړی ده دغو مړو په باره کې نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی:

---

۱ ردالمحتار جلد ٦ صفحه ۲۲۵ بَابُ صَلَاةِ الْجَنَازَةِ

۲ الاحاد والمثانی مشکول جلد ۲ صفحه ۱۹

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ. قَالَ: حَفِظْنَاهُ مِنَ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَسْرِعُوا بِالْجَنَازَةِ. فَإِنْ تَكُ صَالِحَةً فَخَيْرٌ تُقَدِّمُونَهَا، وَإِنْ يَكُ سِوَى ذَلِكَ، فَشَرٌّ تَضَعُونَهُ عَنْ رِقَابِكُمْ»: (۱)

چې کله ئې غسل ورکړو بیا به ئې مقبري ته یوسي او د دغه وړو په باره کې مونږ ته د نبي علیه السلام ارشاد دي زمونږ ناپوهه ورونه هغه اواز وکړي خدائی مو اوبخښه ورو ورو ځئ ورته وایه دا اواز دی د سنتو نه خلاف دي بتمامه مونږ ته اعلان کړي «أَسْرِعُوا بِالْجَنَازَةِ» زمونږ فقهاء لیکي:

وَيَمْشُونَ بِهِ مُسْرِعِينَ دُونَ الْخَبَبِ (۲)

مړي چې وړي جنازګاه ته په تیزئ باندې به ئې وړي خو جړقوي به ئې نه کله چې په جنازه کې یو دوه یا دري تکبیره قضا شي نو څه به کوي؟ نو فقهاء لیکي: چې کله سلام وګرځولي شي نو ځان له به تکبیرات ادا کړي ځکه د دغه دعاګانو د لوستو لپاره د مړي وجود ضروري دي نو کله چې سلام وګرځولي شو نو مړي به فوراً اوچتولي شي د دغه وخت نه وروستو نبي علیه السلام مونږ ته یو بل فرمان کړي دي [اسرعوا بالدفن]

[دا الفاظ د حدیث د دیر کوشش باوجود ما ملاو نه کړه (محمد طاهر)]

البته د دي الفاظو د تائید لپاره دا یو روایت نقل کوم چه سنت طریقه د مړي په دفن کولو کې تادي کول دي

---

۱ صحیح مسلم مشکول وموافق للمطبوع جلد۳صفحه۵۰ باب الاسْراع بالْجنازة

۲ الهدایة شرح البدایة جلد ۱ صفحه ۹۲ (فصل في الدفن)

[والسنة التعجيل بالدفن]

أخبرنا إبراهيم بن محمد بن أبي يحي أخبرني أبي أنّ ابن المسيب وهو سعيد قال: أحبُّ الأيام إلى أن أموت فيه ضُحًى يوْمَ الجمعة لعله خص الضحى ليتمكن أهله من دفنه في يوم وفاته لإغنه إذا مات آخر اليوم لم يمكنهم ذلك والسنة التعجيل بالدفن: (۱)

مړي زر وړه نو چې کله نې ګدي په قبر کې د هغې طريقه ئ راته خودلي ده چې د مړي شا دا به د قبر ډډي ته اړمه کړي او بالکليه به دي قبلي ته متوجه کړي او بيا پري خاوري واچوئ بيا که د سړي قبر ژوړ نو پردي ته نې ضرورت نه شته او که د زنانه قبر وو نو چونکه زنانه لپاره پرده فرض ده نو په وخت د کېخودو کې پرده واچولې شي کله چې دفن شي نو د جناب رسول الله صلى الله عليه و سلم اعلان دي «اسْتَغْفِرُوا لأَخِيكُمْ. وَسَلُوا لَهُ بِالتَّثْبِيتِ»

حدّثنا إبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ. حدّثنا هِشَامٌ. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بَحِيرٍ. عَنْ هَانِئٍ. مَوْلَى عُثْمَانَ. عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ. قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. إِذَا فَرَغَ مِنْ دَفْنِ الْمَيِّتِ وَقَفَ عَلَيْهِ. فَقَالَ «اسْتَغْفِرُوا لأَخِيكُمْ. وَسَلُوا لَهُ بِالتَّثْبِيتِ. فَإِنَّهُ الآنَ يُسْأَلُ». قَالَ أَبُو دَاوُدَ: «بَحِيرُ ابْنُ رَيْسَانَ». (۲)

۱- مسند الشافعي ترتيب السندي صفحه ٦٤

۲- سنن ابي داود جلد ۲ صفحه ۳۵ كتاب الجهاد

قرآن او اقتصادي نظام

قرآن کریم مونږ ته اقتصادی طریقی هم خائی چې مال به ګټی سنګه ؟ هغه اقتصادیات چې په هغي کې ظلم دی قرآن د هغي باره کې اعلان کړي دي چې کوم کسان د ظلم په طریقی باندې مال ګټی هغوئ ته الله تعالی او پیغمبر علیه السلام د جنګ اعلان کړی:

فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ (١)

نبی علیه السلام وئیلی صحابه وائی

أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ قَالَ: أَخْبَرَنَا ابْنُ التَّيْمِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ تَلَقِّي الْبُيُوعِ»: (٢)

چې بهر نه څوک سودا راوړي نو تاسو به ورله مخي له نه ورځئ ځکه په ملک کی سودا ګرانیږي او د رانګه نبي علیه السلام منع کړي ده

أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنِ الثَّوْرِيِّ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ ابْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَنَسٍ قَالَ: «نَهَانَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ، وَإِنْ كَانَ أَبَاهُ أَوْ أَخَاهُ»: (٣)

---

١ - سورة البقرة (٢٧٩)

٢ - صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان جلد ١١ صفحه ٢٣٣

٣ - شرح معاني الاثار جلد ٤ صفحه ١٠ بَابُ تَلَقِّي الْجَلَبِ

د ښار سړي به د باندې چي مالونه نه خرڅوي ځکه د ښار سړي ته نرخونه معلوم وي د باندې سړي ته نه وي معلوم ګراني نه رازي دا قرآن د ټول انسانی ژوند ذمه وار او حافظ دی

د پیغمبر د ژوند مقصد

کوم آیت چې ما لوستی ؤو په دې کې الله رب العزت نبی علیه السلام ته فرمائی:

كَذَٰلِكَ أَرْسَلْنَاكَ فِي أُمَّةٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهَا أُمَمٌ لِتَتْلُوَ عَلَيْهِمُ الَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَهُمْ يَكْفُرُونَ بِالرَّحْمَٰنِ قُلْ هُوَ رَبِّي لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ مَتَابِ (١)

دا کاف دلته د بیان کمال لپاره دی الله تعالی وائی دا زما کمال دی چې ته ما په داسی ډله کې لیږلی ئی چې د هغی نه مخکې نوری ډلی هم تیری شوی خو ستا د رالیږلو مقصد څه وو؟ دی لپاره می ته رالیږلی ئی چې کوم کتاب می تاته وحی کړی چې هغه دی خلقو ته ورسوی د پیغمبر علیه السلام د ژوند مقصد دا وو نبي خپله ډیوتي بیانوي فرمائي:

وَأَنْ أَتْلُوَا الْقُرْآنَ فَمَنِ اهْتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهْتَدِي لِنَفْسِهِ وَمَنْ ضَلَّ فَقُلْ إِنَّمَا أَنَا مِنَ الْمُنْذِرِينَ: (٢)

زما یو ډیوتی دا ده چې زه به قرآن لولم.

خلق وائی د الله په احکاماتو کې او د پیغمبر په طریقو کې کامیابی ده مونږ وایو صحیح ده خو د پیغمبر علیه السلام طریقه ده قرآن لوستل او مبارکی ده هغه کسانو لره چې هغوی د الله تعالی قرآن لاس کی اغستی دی او مخلوق ته ئی رسوی.

١- سورة الرعد (٣٠)

٢- سورة النمل (٩٢)

د قرآن عظمت او شرافت

عزت مندو د قرآن عظمت او شرافت دا ددی نه معلومیږی چې د قرآن د چا سره نسبت راغلی په هغه کې ئی څه غوروالی راوستي دي مثال په طور د رمضان میاشت په تولو میاشتو کې غوره ده الله فرمائی

شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ (١)

د رمضان میاشت هغه ده چې په دي کې قرآن نزول شروع شوي دي او په تولو شپو کې د تولو نه غوره شپه هغه لیلة القدر ده.

إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ : (٢) ما تا ته قرآن په لیلة القدر کې رالیږلی دی په تولو انسانانو کې معزز او اشرف انسان جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دی څکه قرآن کریم پری راغلی دی الله تعالی ورته وائی:

يَاأَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ (٣)

وَلَوْلَا أَنْ ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدْتَ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيلًا إِذًا لَأَذَقْنَاكَ ضِعْفَ الْحَيَاةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا: (٤)

حدیث کې رازی

---

١ سورة البقرة (١٨٥)
٢ سورة القدر (١)
٣ سورة المائدة (٦٧)
٤ سورة الإسراء (٧٤ ٧٦)

أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلاَءِ، حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ، عَنْ مُجَالِدٍ عَنْ عَامِرٍ، عَنْ جَابِرٍ، رَضِيَ اللهُ عنه: أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رضوان اللّٰه عليه أَتَى رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم بِنُسْخَةٍ مِنَ التَّوْرَاةِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ هَذِهِ نُسْخَةٌ مِنَ التَّوْرَاةِ، فَسَكَتَ فَجَعَلَ يَقْرَأُ وَوَجْهُ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَتَغَيَّرُ، فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: رحمة الله عليه ثَكِلَتْكَ الثَّوَاكِلُ، مَا تَرَى بِوَجْهِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم، فَنَظَرَ عُمَرُ إِلَى وَجْهِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم، فَقَالَ: أَعُوذُ بِاللهِ مِنْ غَضَبِ اللهِ وَمِنْ غَضَبِ رَسُولِهِ، رَضِينَا بِاللهِ رَبًّا، وَبِالإِسْلاَمِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَوْ بَدَا لَكُمْ مُوسَى فَاتَّبَعْتُمُوهُ وَتَرَكْتُمُونِي لَضَلَلْتُمْ عَنْ سَوَاءِ السَّبِيلِ وَلَوْ كَانَ حَيًّا وَأَدْرَكَ نُبُوَّتِي لاَتَّبَعَنِي (١)

حضرت عمر رضی اللہ عنہ د تورات پانړی راغستی وی لوستی نی او صحابه ناست دی او رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم هم تشریف فرما دی د نبی علیہ السلام مخ مبارک د غصی نه سور شو ناسپاه د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ خیال شو عمر رضی اللہ عنہ ته وائی:

فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: رحمة الله عليه ثَكِلَتْكَ الثَّوَاكِلُ، مَا تَرَى بِوَجْهِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم

ترجمه مور دربانديې بوره شه ته نه ګورې چې نبی علیہ السلام باندې څه وشو؟

---

١ مسند الدارمي جلد ١ صفحه ٤٠٢ باب كراهية الفتيا

عمر رضی الله عنه چې اوکتل نو د تورات پاڼې ئې وغورځولې
أعُوذُ بِاللّٰه مِنْ غَضَبِ اللّٰه وَمِنْ غَضَبِ رَسُوله. رَضِينَا بِاللّٰهِ رَبًّا.
وَبِالإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا.

ترجمه: زه د الله تعالی نه پناه غواړم چې په هغی باندې الله تعالی او د الله تعالی رسول ما نه خفه شی ده نبی علیه السلام غصه کیناسته او عمر رضی الله عنه ته وائی:

فَقَالَ رَسُولُ اللّٰه صلی الله علیه وسلم وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِه لَوْ بَدَا لَكُمْ مُوسَى فَاتَّبَعْتُمُوهُ وَتَرَكْتُمُونِي لَضَلَلْتُمْ عَنْ سَوَاءِ السَّبِيلِ وَلَوْ كَانَ حَيًّا وَأَدْرَكَ نُبُوَّتِي لَاتَّبَعَنِي

ترجمه: نبي صلي الله وفرمائيل که موسی علیه السلام ژوندي وي نو د قرآن نه بغیر د موسی علیه السلام کار نه کیده د نبی علیه السلام غصه په قرآن وه.

په ښارونو کې د ټولونه معزز ښار هغه مکه ده ځکه قرآن پکې راغلی دی او په ژبو کې د ټولونه بهترینه ژبه عربی ده ځکه قرآن کریم پکې راغلی دی اوپه ملائکو کې د ټولونه معززه ملائکه هغه جبرائیل علیه السلام دی ځکه قرآن ئی راوړی دی د چاسره چې د قرآن نسبت راغلی دی په الله تعالی قسم هغه کې غوره والی پیدا کړی اشرف الکتب چې په چاباندې راغلی دی اشرف الرسل چې په کومه زمکه باندې راغلی دی هغه دی اشرف البقاع او په کومه ژبه کې چې راغلی دی اشرف اللغات د چا په توسط باندې چې راغلی دی ؟

بتوسط اشرف الملائکه فی اشرف الشهور واشرف اللیالی

څه خیال دی دي چې سړی د قرآن استاذ او چې د قرآن طالب وی؟ نبی علیه السلام ده ژوند مقصد هغه د قرآن رسول وو

د دین اوله جامعه او د هغې ضروریات

حضرت ابراهیم علیه السلام چې د الله تعالی ده دین اوله جامعه جوړوله بیت الله.

د مدرسی لپاره څلور څیزونه پکار دی-۱. آبادی ۲. نصاب ۳. د مدرسی معلم ۴. مدرسی متعلم.

حضرت ابراهیم علیه السلام چې کله مرکز جوړو الله تعالی فرمائی:

وَاِذْ یَرْفَعُ اِبْرَاهِیمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَیْتِ وَاِسْمَاعِیلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِیعُ الْعَلِیمُ (۱)

ترجمه: کله چې پورته کول ابراهیم او اسماعیل علیهم السلام بنیادونه دبیت الله دعا ئی کوله چې الله دا ابادی قبول کی زمونږ نه د آبادی بنیاد په اخلاص دی د ابادي د دي لپاره نه ده چې زه به پري چند د جمع کوم او ګاډي به پري اخلم او یا راجمع کوم به ئي او جیب کې به ئي ږدم او بیا دا هم نه وائی چې دا زما او زما دا اولاد جاګیر دی

رَبَّنَا وَابْعَثْ فِیهِمْ رَسُولًا مِنْهُمْ یَتْلُو عَلَیْهِمْ آیَاتِكَ وَیُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَیُزَكِّیهِمْ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِیزُ الْحَكِیمُ (۲)

---

۱ - سورة البقرة (۱۲۷)

۲ سورة البقرة (۱۲۹)

الله تعالی آبادی ما جوړ کړه او معلم ورلره ته راولیږي او چالره نی را ولیګی ده دی علاقی خلقو لره ئی راولیږي نصاب ئی څه دی ؟ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ

ورمبی یونیورستی چې جوړه کړی ده د هغی نصاب قرآن کریم ؤو وَهُمْ يَكْفُرُونَ بِالرَّحْمَنِ په داسی حال کې چې خلق به د مهربان بادشاه نه انکار کوی خو د مهربان بادشاه سره جوړ چې رازی هغه په قرآن کریم رازی چې کله قرآن کې ورمبی خبره کوی د خالق او د مخلوق جوړ پیدا کوی نبی علیه السلام فرمائی

قُلْ هُوَ رَبِّي لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَاِلَيْهِ مَتَابِ (١)

ده یو سړی چې عقل صحیح وی دی چری شرك نه کوی هر سړی چې بابا له زی آواز ورته کوی چې رامدد شی ده نصیحت په ځائی باندې هغه په مینټل هسپتال کې داخلول غواړی ځکه نبی علیه السلام وائی ده ده عقل خراب دی هرمشرك لیونی دی

د صحابي تېروس او د رسول الله صلی الله علیه وسلم جواب

ابن تیمیه رحمه الله هغه په یو ځائی کې لیکلی چې یو صحابی د نبی علیه السلام نه تېروس اوکړو.

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ. قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ. عَنْ وَاصِلٍ. عَنْ اَبِي وَائِلٍ. عَنْ عَمْرِو بْنِ شُرَحْبِيلَ. عَنْ عَبْدِ اللهِ. قَالَ: قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ. اَيُّ الذَّنْبِ اَعْظَمُ؟ قَالَ: اَنْ تَجْعَلَ لِلّٰهِ نِدًّا وَهُوَ

١ سورة الرعد (٣٠).

خَلقَكَ. قَالَ قُلتُ ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ أَنْ تَقتُلَ وَلَدَكَ خَشيَةَ أَنْ يَطعَمَ مَعَكَ.
قَالَ قُلتُ ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ أَنْ تُزنِيَ بِحَلِيلَةِ جَارِكَ. هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ (۱)

چې په ګناهونو کې لوئی ګناه کوم یوی دی ؟ وی شرک دوئم لوئی ګناه؟
چې بچي قتل کړی او درئم چې ګاونډی د ښځی سره زنا اوکړی

حافظ ابن تیمیه رحمه الله وائی په انسان کې دری طاقته دی چې دا دری طاقتـه پـه اعتـدال وی داپـوره انـسان دی (۱) عقـل ئـی صحیح وی (۲) قـوت غـضبی صحیح وی (۳) چې قوت شهوانی یې صحیح وی

چې عقـل خـراب شـی دی مـشرك شـی او چې قـوت غـضبی ئـې خراب شی د خپل او پردی فرق نه کوی او چې قـوت شـهوانی ئـی خراب شی بیا هم د خپل او پردی فرق نه کوی

دعا

الله تبارک و تعالی دي مونږ او تاسو لکه څنګه چې په دې ځای کې د مؤمن کامل صاحب د وینا مطابق څو ځله قرآن کریم ختم شو بیا دي الله رب العزت ده له او تاسو له توفیق درکړي چې دا قرآن کریم یواځي په دې ځای کې نه بلکه په ټوله دنیا کې دا ستاسو او زمونږ د لاسه خور شي

الله رب العزت دې مونږ او تاسو په حقیقي معانو خادمان کړي
الله رب العزت دي زمونږ په زړه کې هغه اخلاص پیدا کړي په کوم اخلاص باندې چې جناب رسول الله صلی الله علیه و سلم او د هغه صحابو دا قرآن په لاس کې اخستي ؤو او د دنیا د یو ګوټ

---

۱ سنن الترمذي طبع بشار جلد ۵ صفحه ۱۸۹

نه ئي بل ګوټ ته رسولي ؤو هغه عزم دي الله رب العزت په مونږ کې پيدا کړي چې کوم عزم د هغي مقابله سمندرونو نه ده کړي

دشت تو دشت ہیں دریا بھی نہ چھوڑے ہم نے
بحر ظلمات میں دوڑا دئے گھوڑے ہم نے

او هغه صحابي ابوالعلاء الجضرمي چې په کوم عزم په سمندر کې وردانګلي ؤو اوپه ټاپو کې هغه شعر وئيلي وو

دعونا الذي شق البحار فجاءنا باعظم من فلق البحار الاوائل

هغه عزم دي الله مونږ له راکړي چې زمونږ ته سمندرونه او غرونه هغه و نه دريکي لوئي لوئي مکرونه د خلقو هغه دي الله رب العزت زمونږ عزم ته نه ټينګوي الله دي زمونږ عزم د چا په پيسو او د چا په دولت باندې نه ماتوي او الله رب العزت دي زمونږ تر ژونده د اشاعت التوحيد و السنة خدمت نصيب کړي او اشاعة التوحيدوالسنة هغه جماعت چې زما شيخ او زمونږ د ټولو شيخ شيخ القرآن والحديث شيخ العرب و العجم حضرت مولانا محمد طاهر رحمه الله هغه چې د کوم جماعت بنياد ايخودي ؤو اوس په هغه نوم ګنړ جماعتونه جوړ شوي دي او ګنړ خلق دي خو مونږ دي الله رب العزت د شيخ القرآن د جماعت خادمان ټول عمر وساتي الله دي د اشاعت التوحيد د جهنډي لاندي مونږ له د قرآن او سنت د خدمت توفيق راکړي الله تعالى دى زمونږ ته ترمرګه پورى د جماعت اشاعت التوحيد والسنة خدمت نصيب کړى الله رب العزت دى تر عمره پورى دده دغى جماعت خادمان کړى

وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيزٍ (وآخر دعواهم ان الحمد لله رب العالمين)

بسم الله الرحمن الرحيم

(موضوع توحيد ابراهيمي)

الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونستهديه ونؤمن به ونتوكل عليه ونعوذ بالله من شرور انفسنا ومن سيات اعمالنامن يهده الله فلامضلله ومن يضلله فلاهادي له ونشهدان لا اله الا لله وحده لاشريك له ونشهدان سيدناوسندناومولانامحمداعبده ورسوله اللهم صلى وسلم على عبد ك ورسولك محمدوعلى اله واصحابه ومن اقتفى آثارهم الى يوم الدين امابعد

أَعُوذُ بِاللّٰهِ السَّمِيعِ الْعَلِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا وَلَٰكِنْ كَانَ حَنِيفًا مُسْلِمًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ

إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِإِبْرَاهِيمَ لَلَّذِينَ اتَّبَعُوهُ وَهَٰذَا النَّبِيُّ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاللّٰهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِينَ (۱)

لوئی اختر او د ابراهیم علیه السلام ذکر

زما عزت مندو مسلمانانو وروڼو په هر لوئی اختر کې د ټولی دنیا چې سومره علماء دی هغوی خامخواه په خپلو خطبو کې د خلیل الرحمن جناب ابراهیم علیه السلام ذکر کوی د دی ذکر د مناسبت ډیر اسباب دی.

---

۱ - سورة آل عمران (٦٧) (٦٨)

(۱) سبب دا دی چې ابراهیم علیه السلام په دی ورځ باندې د الله تعالی په حضور کې ډیره لویه قربانی ورکړی وه

(۲) سبب دا دی چې دالله تعالی هغه کور چې په دنیا کې وړمبی کور دی چې جوړ شوی دی د الله تعالی عبادت لپاره د هغی تجدید ابراهیم علیه السلام او اسماعیل علیه السلام کړی وو.

(۳) سبب دادی ده دغې کور د آبادی نه پس حضرت ابراهیم علیه السلام ته الله رب العزت وئیلی وو یو آواز وکړه او هغه آواز دا دی وَأَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ (۱)

او د هغه هغه آواز دنیا ته رسیدلی وو په دی ورځ باندې خلق هغه کور ته ځی

مقام ابراهیم علیه السلام

ابراهیم علیه السلام هغه مقتدره هستی وه چې هغه د هر ظالم خلاف آواز پورته کړی که هغه ظالم د کور وو او که د کلی وو او که د ملك وو د هغی خلاف آواز پورته کړی ؤو د ابراهیم علیه السلام شخصیت هغه یو ډیر لوئی شخصیت وو عامه ده دنیا قاعده دا ده چې یو ښه سړی وی خلق ئی زان ته منسوب کوی دا زمونږ مقتداء وو او مونږ ده ده تابعداریو یهود هم دعوی کوی چې ابراهیم علیه السلام زمونږ وو او نصاری هم دعوی کوی چې ابراهیم علیه السلام زمونږه وو او مونږه مسلمانان هم وایو چې

---

۱ سورة الحج (۲۷)

ابراهیم علیه السلام زمونږه وو خو حقیقت به ده څه نه واضح کیږی چې ابراهیم علیه السلام د چاوو؟

دین لپاره د ابراهیم علیه السلام د وه کارونه

ابراهیم علیه السلام په خپله زندگی کې یو دوه کارونه ده دی نه علاوه نور هم کړی وو په هغی کې اول کار دا وو چې ابراهیم علیه السلام خپله عقیده هغه ډیره صافه سرگنده کړی ده دنیا ته او ده دی عقیدی ده دفاع لپاره هغه د پلار مقابله کړی وه د قوم مقابله ئی کړی وه او د بادشاه مقابله ئی کړی وه د بنځی او د بچو د مینی مقابله ئی کړی وه او د وطن د مینی مقابله ئی کړی وه کومه خبره چې هغی لپاره ابراهیم علیه السلام د پلار مقابله کوله د هغی لپاره ابراهیم علیه السلام دوه طریقی اختیار کړی وی یو طریقه ابراهیم علیه السلام دا اختیار کړی وه چې د الله تعالی ټول صفات ئی الله تعالی له ثابتول او دویمه طریقه هغه دا اختیار کړی وه چې دالله تعالی صفات دا ئی د الله تعالی نه علاوه د نورو نه نفی کول نو قرآن هم په دغه انداز باندې لګیادی

د ابراهیم علیه السلام ذکر په قرآن کې

په سورة الشعراء کې چې کله الله رب العزت د ابراهیم علیه السلام ذکر کوی په هغی کې الله رب العزت د ابراهیم علیه السلام بیان چې کوی دا فرمائی چې ابراهیم علیه السلام چې د الله رب العزت چې څه صفات وو هغه ئی د قوم په مخکې الله تعالی له ثابتول او بل چاله ئی نه ثابتول الله تعالی فرمائی

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ ابْرَاهِيمَ (١) په دی خلقو باندې د ابراهیم علیه السلام خبر اولوله کله چې خپل پلار ته او خپل قوم ته ئی اووی دا ده څه بندګی تاسو کوی؟ نو هغوئ وی مونږه ده نیکانو بندیانو د شکلونو عبادت کوو او د هغې منجوران یو.

مشرکانو د چا عبادت کولو ؟

دایو خبره څوځله ستاسو په دی محفلونو کې ما او زما دی ملګرو ټولو کړی ده هغه داچې په دنیا کې داسی یوسړی نه شته چې په خپل لاس باندې ګټه او لرګی اتوګی او بیا ده هغی عبادت کوی دا خبره یوازی زما او زما د ملګرونه ده بلکه ده شپګمی ٦ صدئی مشهور عالم امام فخرالدین رازی رحمه الله هغه په خپل تفسیر کې لیکلی چې:

أنهم وضعوا هذه الأصنام والأوثان على صور أنبيائهم وأكابرهم وزعموا أنهم متى اشتغلوا بعبادة هذه التماثيل فإن أولئك الأكابر تكون شفعاء لهم عند الله تعالى ونظيره في هذا الزمان اشتغال كثير من الخلق بتعظيم قبور الأكابر على اعتقاد أنهم إذا عظموا قبورهم فإنهم يكونون شفعاء لهم عند الله. (٢)

ترجمه: کومو خلقو چې ده بوتانو تعظیم کوو هغوئ دا شکلونه دا ده خپلو نیکانو او خپلو انبیاء شکلونه جوړ کړی وو دهغوئ ګمان داوو چې مونږ داشکلونه او ده دی تماثیل عبادت شروع کړو هغه

---

١ سورة الشعراء (٦٩)

٢ تفسیرالرازي اومفاتیح الغیب جلد ١٧ صفحه ٤٩ تفسیر سورة یونس

خلق چې مونږ ده هغوی شکلونه جوړ کړی دی هغوی به مونږ ته
ګوری او خوشحالیږی به د هغی مشرکانو مثال که په اوس زمانه
کې ګوری ګنږ خلق د اولیاء الله د قبورنو دا تعظیم په دی خیال
باندې کوی چې کله مونږه ده دوی د قبرونو تعظیم اوکړو دغه
نیکان بندیان دوی به دخدائی په در کې زمونږه سفارش کوي
دامام فخرالدین الرازی رحمه الله نه مخکې یو مشهور عالم دی
محمدبن عبدالکریم شهرستانی دهغه کتاب دی (الملل والنحل)
په هغی کې لیکلی دی چې

فَوَضْعُ الصَّنَمِ إِنَّمَا كَانَ فِي الْأَصْلِ عَلَى شَكْلِ مَعْبُودٍ غَائِبٍ فَجَعَلُوا
الصَّنَمَ على شكله وهيئته وصُورته: لِيَكُونَ نَائِبًا مَنَابَهُ وَقَائِمًا
مَقَامَهُ. وَإِلَّا فَمِنَ الْمَعْلُومِ أَنَّ عَاقِلًا لَا يَنْحِتُ خَشَبَةً أَوْ حَجَرًا بِيَدِهِ ثُمَّ
يَعْتَقِدُ أَنَّهُ إِلَهُهُ وَمَعْبُودُهُ.

ترجمه: خلقو چې شکلونه جوړ کړی دا ئي د معبود غائب شکل جوړ
کړي وو دا خبره معلومه ده چې یو عاقل په دنیا کې داسی نه شته
چې هغه په خپل لاس باندې ګټه اوتوګی او بیا ورته خدائی وائی
ده اتمی ۸ صدئی یوعالم دی شیخ الاسلام امام ابن قیم رحمه الله
دغه الفاظ هغه لیکلی دی په اغاثة اللهفان کې

فَوَضْعُ الصَّنَمِ انَّما كان في الْأَصْلِ على شَكْلِ مَعْبُودٍ غَائِبٍ فَجَعَلُوا
الصَّنَمَ على شكله وهيئته وَصُورته: لِيَكُونَ نَائِبًا مَنَابَهُ وَقَائِمًا

مَقَامَهُ، وَإِلَّا فَمِنَ الْمَعْلُومِ أَنَّ عَاقِلًا لَا يَنْحِتُ خَشَبَةً أَوْ حَجَرًا بِيَدِهِ ثُمَّ يَعْتَقِدُ أَنَّهُ إِلَهُهُ وَمَعْبُودُهُ (۱)

ابراهیم علیه السلام خپل قوم ته وائی د چا عبادت کوی هغوئی ورته وائی:

قَالُوا نَعْبُدُ أَصْنَامًا فَنَظَلُّ لَهَا عَاكِفِينَ سورة: (۲)

دا نه وائی چې مونږ دگټو عبادت کوو

صنم چا ته وائي ؟

صنم هغه چاته وائی چې د نیك بنده شکل جوړ شوی وی د دی وجي نه زمونږه د هندوستان او پاکستان د ټولو علماء سند چې په چا باندې اودریگی امام شاه ولی الله الدهلوی رحمه الله المتوفی (۱۱۷۶هـ) هغه په خپل کتاب تفهیمات الهیه کې لیکلی دی:

کل من ذهب الی بلدة اجمیر اوالی قبرسالار مسعود اوما ضاهاها لاجل حاجة یطلبها ثم فقد اثم اثما اکبر من القتل والزناء کمثل من کان یعبد المصنوعات او مثل من کان ید لات والعزی.

ترجمه: هر سړی چې هغه چې هغه د خواجه صاحب قبر ته لاړو اجمیر ته او یا ده سالار صاحب قبر له لاړو یا د هغی په شان نور قبرونه لکه د پیربابا قبر د لوئی خوان قبرنو ده ده قتل او ده زنانه لوئی گناه اوکړه.

---

۱ اغاثة اللهفان من مصائد الشیطان جلد ۲ صفحه ۲۲٤ فصل وطائفة اخری اتخذت للقمر صنما وزعموا انه یستحق التعظیم

۲ الشعراء (۷۱)

او بیا هغه وائی ده مثال داسې دی یو سړی چې هغه په خپل لاس باندې بت جوړ کړي او عبادت یی کوي او د ده مثال د هغه چا دي چا چې د لات او عزي عبادت کوو د نن نه پنځه سوه کاله مخکې امام ولی الله رحمه الله په خپل کتاب تفهیمات الهیه کې لیکلی دی

تبلیغ د ابراهیم علیه السلام خپل قوم ته

ابراهیم علیه السلام وائی خپل قوم ته تاسو د چابند گی کوی.

قَالُوا نَعْبُدُ أَصْنَامًا فَنَظَلُّ لَهَا عَاكِفِينَ (۱)

هغوئ ورته وائی مونږ ده درگاهونو عبادت کوو.

ابراهیم علیه السلام ورته وائی قَالَ هَلْ يَسْمَعُونَكُمْ إِذْ تَدْعُونَ (۲) کله چې ستاسو دوی ته آواز اوکړی د دی ستاسو آواز اوری أَوْ يَنْفَعُونَكُمْ أَوْ يَضُرُّونَ (۳) دوی ستاسو لره فائده درکولی شی او یا نقصان درکولی شی هغوئ ورته په جواب کښې څه وائی؟

جواب ورسره هیڅ هغه نه شته یوم قسم جواب دي ورسره چې ده دغه خلقو ده دغه جماعت یو مشترکه جواب دی په هره زمانه کې او هغه جواب دادی.

قَالُوا بَلْ وَجَدْنَا آبَاءَنَا كَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ (۴)

دغه یو جواب ورسره وو چې مونږ خپل پلار او نیکه په دی طریقه باندې موندلی دی ابراهیم علیه السلام هغوئ ته وائی.

قَالَ أَفَرَأَيْتُم مَّا كُنتُمْ تَعْبُدُونَ (۵) ستاسو چې د چا بند گی کوئ؟

أَنتُمْ وَآبَاؤُكُمُ الْأَقْدَمُونَ (۶)

---

۱ سورة الشعراء (۷۱)
۲ سورة الشعراء (۷۲)
۳ سورة الشعراء (۷۳)
٤ سورة الشعراء (۷٤)
٥ سورة الشعراء (۷٥)
٦ سورة الشعراء (۷٦)

ستاسو او ستاسو هغه پخوانی مشران فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِي إِلَّا رَبَّ الْعَالَمِينَ (۱) دا ټول زما دشمنان دی سیوا رب العالمین نه.

صفات رب العالمین

ابراهیم علیه السلام د رب العالمین صفات ذکر کوی الَّذِي خَلَقَنِي فَهُوَ يَهْدِينِ (۲)

رب العالمین هغه ذات دی چې زه ئی پیداوکړی ئم او ماته لار ښائی هدایت په قرآن کې په ګنړو معنو سره رازی یوه معنی د هدایت ده د خوراك طریقه خودل الله تعالی زه پیداکړم نو ده خوراك طریقه ئی راته خودلی ده.

خوراك بیا دوه قسمه دی یو د روح خوراك او بل ده بدن خوراك د روح خوراك دبدن د خوراك نه وروستي وو اول ورته د خوراك طریقه خودلی وه په کوم چې بدن صحیح کیږی او بیائی ورته د هغه خوراك طریقه خودلی وه چې روحانیت پری صحیح کیږی.

وَالَّذِي هُوَ يُطْعِمُنِي وَيَسْقِينِ (۳) الله تعالی هغه ذات دی چې ماله ډوډی راکوی او اوبه راکوی او وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ (۴) او چې کله بیمارشم ما لره شفاء راکوی

وَالَّذِي أَطْمَعُ أَنْ يَغْفِرَ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ (۵)

---

۱ سورة الشعراء (۷۷)
۲ سورة الشعراء (۷۸)
۳ سورة الشعراء (۷۹)
٤ سورة الشعراء (۸۰)
۵ سورة الشعراء (۸۲)

زما امید دی چې زما ګناهونه به ماته په قیامت کې بخې نو ابراهیم علیه السلام د الله صفات الله له ثابت کړل

دعوت د ابراهیم علیه السلام خپل پلار ته

ابراهیم علیه السلام چې کله خپل پلار ته بیان کوی نو پلار ته څه وائی؟

إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِي عَنْكَ شَيْئًا (۱)

ترجمه: ای بابا د هغه چابندګی ولی کوی؟ چې هغه ستا خبری نه اوری او نه وینی او نه ستا بچ کولی شی.

عزت منډو دا یاد اساتی د الله رب العزت صفات دی او د بندیانو صفات دی چا چې الله تعالی لره د بنده صفات ثابت کړه دې ته تشبیه وائی دا کفر دی

د مکې والو د کفر اسباب

د مکی خلق چې کافر شوي وو د هغوئ کفر یوه وجه هغه تشبیه وه الله رب العزت ئې د بندیانو په شان ګڼلو او د هغوئی عقیده دا وه لکه څنګه چې یو بادشاه ته سړي بغیر د واسطې نه نه شی رسیدلې دغسې الله له هم واسطه پکار ده نو الله رب العزت بعضې بندیان د خدائتوب په جامه باندې ملبوس کړي دي د هغوئی رضا د الله رضا ده او د هغوئی غصه د الله غصه ده او تر څو چې مونږ دوئ الله ته وسیله کړي نه وي نو زمونږ کار نه

---

۱ سورۂ مریم (٤٢)

کېږي دا عقیده د هغوی د کفر عقیده وه کنې د مکه خلق د الله د خالقیت او مالکیت قایل ؤو

الله په قرآن کې فرمائي

قُلْ لِمَنِ الْأَرْضُ وَمَنْ فِيهَا إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ (١)

ترجمه: که تپوس تري وکړي چې خمکه د چا ده او د خمکې والا د چا دي ؟ که تاسو پوهیږئ

د ارنګه بیا الله فرمائي

وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّى يُؤْفَكُونَ (٢)

ترجمه: که تپوس تري وکړي چې تاسو چا پیدا کړي ئی نو خامخواه یقیناً هغوئی به وائي چې مونږ الله پیدا کړي یو

د مکې خلق داسې کافر نه ؤو چې هغوئ کنړ خدایان منل بلکه هغوئ خدائي یو ګڼلو او چې کله به ئي د بیت الله نه طواف کولو نو آواز به ئي کولو

واخرج ابن جرير. وابن المنذر عن الضحاك رضي الله عنه في قوله {وما يومن أكثرهم بالله الا وهم مشركون}قال: كانوا يشركون به في تلبيتهم يقولون: لبيك اللهم لبيك لبيك لا شريك لك الا شريكا هو لك تملكه وما ملك

الله زه حاضر نم زه حاضر یم ستا شریک نه شته ستا که څوک شریک شته نو ته د هغه مالک ئې هغه د څه مالک نه دی بلکه

---

١ سورة المومنون (٨٤)

٢ سورة الزخرف (٨٧)

شریک په دي اعتبار باندې دي چې مونږ د هغه په واسطه باندې تاته ځان درسوو

زمونږ خلق څه وائی چې فلانی بابا وئیلی دی چې من دانه په چا باندې راوختله او ماله رانغی او مړشو نو خون ئی په خپله غاړه خدائی شته دا عقیده د ابوجهل هم نه وه

د ابراهیم علیه السلام اوله خبره چې هغه دنیا ته کړی هغه ئی دا کړی وه او ده دی لپاره ابراهیم علیه السلام اصول پیش کړی وو دنیا ته

د ابراهیم علیه السلام بیان کول او د پلار اوند قوم ئې ورسره مقابله کول

د دی مقابلی له اول د هغه پلار راوتلو تاسوته پته شته چې پلار ته څه وائی ؟ وړه خبره ئی نه وه کړی پلار ده ډیر احترام وړ دی نبی علیه السلام وائی د الله تعالی رضا دا ده پلار په رضا کې ده او هغه پلار چې د هغه رضادا ده الله تعالی رضا ده او غصه د پلار دا ده الله تعالی غصه ده هغه ته ده توحید په باره کې ابراهیم علیه السلام څه وائی ؟

سورة انعام کې ورته الله تعالی فرمائی:

وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لِأَبِيهِ آزَرَ أَتَتَّخِذُ أَصْنَامًا آلِهَةً إِنِّي أَرَاكَ وَقَوْمَكَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ (۱)

۱ سورة الأنعام (۷٤)

عام مفسرین نحاس ابوالسعود تفسیرابن کثیر لیکې چې آزر دا د ابراهیم علیه السلام د پلار نوم نه وو دا د عبرانی ژبی یو ټکی دی او ده آزر معنی ده المعوج آزر ای چې خلق دی د الله تعالی ده دین نه اړوی ده الله تعالی ده دین نه اوړیدونکیه

حافظ ابن کثیر ده دی آیت لاندی لیکی:

كَانَ اسْمُ أَبِيهِ آزَرَ. وَقَالَ سُلَيْمَانُ التَّيْمِيُّ: هُوَ سَبٌّ وَعَيْبٌ. وَمَعْنَاهُ فِي كَلَامِهِمُ: الْمُعْوَجُّ. وَرَوَى الْمُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: بَلَغَنِي أَنَّهَا أَعْوَجُ. وَهِيَ أَشَدُّ كَلِمَةٍ قَالَهَا إِبْرَاهِيمُ لِأَبِيهِ. وَقَالَ الضَّحَّاكُ: مَعْنَى آزَرَ الشَّيْخُ الْهِمَ بِالْفَارِسِيَّةِ. وَقَالَ الْفَرَّاءُ: هِيَ صِفَةُ ذَمٍّ بِلُغَتِهِمْ. كَأَنَّ قَالَ يَا مُخْطِئُ. فِيمَنْ رَفَعَهُ أَوْ كَأَنَّهُ قَالَ: وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لِأَبِيهِ الْمُخْطِئِ. فِيمَنْ خَفَضَ. وَلَا يَنْصَرِفُ لِأَنَّهُ عَلَى أَفْعَلَ. قَالَ النَّحَّاسُ: (۱)

دا سخته خبره ده چې ابراهیم علیه السلام خپل پلار ته کړی ده او دا سخته خبره ئې ولې کوله؟یو طرف ته پلار و د خو بل طرف ته الله تعالی وو دا خبره ئې څکه کړی وه د الله تعالی ده توحید دفاع چې ئې کوله پلار ئې مخی ته راغلی وو پلار ته وائي آزر الله تعالی مونږ ته وائی:

وَاتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَاتَّخَذَ اللَّهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا: (۲)

ده ابراهیم علیه السلام په دین پسې روان شه هغه په توحید باندې ډیر کلك وو:

---

۱ - تفسیرقرطبي جلد۷ صفحه۷٤ سورة انعام ایت ۷۴

۲ - سورة النساء (۱۲۵)

د توحید لپاره ئی د پلار مقابله کړی ده پلار ته څه وائی آزر یا اعوج ای د الله تعالی ده دین نه اوړیدونکي (یامعوج) ای ده الله تعالی ده دین اړونکیه

أَتَتَّخِذُ أَصْنَامًا آلِهَةً إِنِّي أَرَاكَ وَقَوْمَكَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ (١)

دغه ابراهیم علیه السلام چې کله دا مسئله په مخکې بوتله د پلار نه پس ورله قوم مخې ته راغی قوم ته ئی یو سخته خبره کړی ده ابراهیم علیه السلام یو نرم سړی چې کله قوم ته خیری کوی په دا سی انداز باندې کوی الله تعالی که پری رحم کوی ته بخونکی مهربان ئی او که ته ورله عذاب ورکوی ستا نو بندیان دی.

بیان د ابراهیم علیه السلام خپل قوم ته

ابراهیم علیه السلام چې کله قوم سره خبره کوی په سورة انبیاء کې الله رب العزت دا ابراهیم علیه السلام واقعه پیش کوی الله تعالی فرمائی:

وَلَقَدْ آتَيْنَا إِبْرَاهِيمَ رُشْدَهُ مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا بِهِ عَالِمِينَ (٢)

ترجمه: ابراهیم علیه السلام ته ما ده دین اصلاح د ایمان اصلاح د نوح علیه السلام نه پس او د محمد رسول الله صلی الله علیه و سلم نه مخکې ورکړی وه او زه پری پوهه وو مِنْ قَبْلُ دا معنی هم ده چې ابراهیم لا دعوت نه وو شروع کړی چې هغه ما د دین په مسائلو باندې پوهه کړی وو

---

١ سورة الانعام (٧٤)

٢ سورة الانبیاء (٥١)

وَلَقَدْ آتَيْنَا إِبْرَاهِيمَ رُشْدَهُ مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا بِهِ عَالِمِينَ (١)

دا ایت د هغه ظالمانو او گمراهانو د رد لپاره یو کافی آیت دی کوم کسان چې ده نوی نبوت دعوه کوی مرزا غلام محمد قادیانی هغوئ وائی ابراهیم علیه السلام د نبوت نه مخکې کفر کړی وو.

الله تعالی وائی د نبوت نه مخکې ما هغه د قوم د مسئلی لپاره چې کړی وو.

إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَا هَذِهِ التَّمَاثِيلُ الَّتِي أَنْتُمْ لَهَا عَاكِفُونَ (٢)

ترجمه: پلار او قوم ته ئې وی دا څه ده خلقو شکلونه مو جوړ کړی دی او د هغې نه گیرچاپیره ناست ئی.

قَالُوا وَجَدْنَا آبَاءَنَا لَهَا عَابِدِينَ قَالَ لَقَدْ كُنْتُمْ أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمْ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ (٣)

ترجمه: هغوئ وائی مونږ خپل پلاران ده دی عبادت کونکی موندلی دی ابراهیم علیه السلام ورته څه وائی دا ورته نه وائی چې تاسو خطا ئی قربان شم د ابراهیم علیه السلام نه هغه ورته وائی لام چې په قدراشی او قدپه ماضی راشی دا معنی د قسم ورکوی بیا چې ورسره ضمیر راشی دا نهایت تاکید ابراهیم علیه السلام قوم ته وائی چې زما دی په رب العالمین باندې قسم دی ستاسو او مشران ستاسو په گمراهئ خکاره کې ئی انبیاء علیهم

---

١ سورة الانبیاء (٥١)
٢ سورة الانبیاء (٥٢)
٣ سورة الانبیاء (٥٢ ٥٤)

السلام چرته نرمه خبره نه ده کړی دا ده الله تعالی طریقه ده په دنیا کې چې کله یوسړی په یو علاقه کې د الله تعالیٰ د توحید د اشاعت لپاره پیدا کوی هغه له الله تعالی زړه غټ ورکوی ابراهیم علیه السلام دی هیس څوک ئی نه شته په دنیا کی یه بچي باندې پلار خفه کیږی پلار ئی هم مخالف دی بیاهم آواز کوی. قَالَ لَقَدْ كُنْتُمْ أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمْ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ (۱)

د نوح علیه السلام د بیان طریقه

نوح علیه السلام یو پیغمبر دی توله دنیا ئی مخالف ده هغه چې کله خپل قوم ته خبره کوی

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ نُوحٍ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ إِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكُمْ مَقَامِي وَتَذْكِيرِي بِآيَاتِ اللَّهِ فَعَلَى اللَّهِ تَوَكَّلْتُ فَأَجْمِعُوا أَمْرَكُمْ وَشُرَكَاءَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُنْ أَمْرُكُمْ عَلَيْكُمْ غُمَّةً ثُمَّ اقْضُوا إِلَيَّ وَلَا تُنْظِرُونِ (۲)

ای زما قوم که زما ده ودریدل په تاسو کې بد لګی دا زه چې کوم دین بیانوم دا په تاسو باندې بد لګي نو زما په الله تعالی توکل دی خپلی مشوری راپسی تول اوکړی تاسو چې چاته خدایان وائی هغوی ته ده رامدد شی آوازهم اوکړی بیا خپله رائی زمانه مه پټوی بیا ماته واوروی بیاماته مهلت مه راکوی

---

۱ سورة الانبیاء (٥٤)
۲ سورة یونس (٧١)

علماء لیکی یکلم الواحد قوما عطاشاًعلی دمه یوسړی دی ټول قوم ته خبره کوی او کوم قوم ته ؟ هغه قوم ته چې ټول قوم د هغه ده وینو تګی ناست دی.

ابراهیم علیه السلام او د بادشاه مقابله

ده باد شاه مقابله کوی او د باد شاه مقابله چې کوی هغه هم په سخت انداز باندې بادشاه ته دلیل خائی او ورته وائی تاته چا خدائی وئیلی دی زما رب هغه ذات دی یُحْیِي وَیُمِیتُ (۱) چې ژوندی کول او مړه کول کوی بادشاه دوه سړی راوسته یوئی مړکړو او بل ئی پریخوده ابراهیم علیه السلام وی دی ده دلیل په ټوله محتوی نه دی پوهه شوی ده دلیل په یوشق پوهه شوی اوبل شق باندې نه دی پوهه شوی الله رب العزت په جاندارو کې حیاة اچوی ده دی نه خوته پوه نه شوی کله کله الله تعالی د ژوند والو د حرکت انتظام کوی زما رب نور ده مشرق نه راخیجوی او په مغرب کې ډوبوی زه ته ئی ده مغرب نه راوخیجوه او په مشرق کې ډوب کړه.

فَبُهِتَ الَّذِي كَفَرَ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (۲)

بادشاه ئی لاجواب کړه د ابراهیم علیه السلام دی صلابت ته چې خلقو کتلی دی هر یو سړی وائی ابراهیم علیه السلام زمونږه دی او ده دی دعوه ولی کوی؟ داخکه کوی چې دوئ ملک ورانوی

---

۱ سورة البقرة (۲۵۸)

۲ سورة البقرة (۲۵۸)

چې کله ابراهیم علیه السلام زمونږه شو چې مونږ څه کوو دغه دین دی نصاری وائی مونږ چې څه کوو دغه دین دی الله تعالی وائی نه ابراهیم علیه السلام د چا دی؟ ابراهیم علیه السلام زه ستاسو ته خائم چې د چا دی داخو ئی د عقیدی لپاره دا کارونه کړی وو.

ابراهیم علیه السلام دوئم کارځه کړی وو؟ دوئم کار ابراهیم علیه السلام دا کړی وو چې سر تن من دن دا ئی د الله تعالی نه قربان کړی وو یو شاعر وائی:

ترك مال وترك جان وترك سر درطریق عشق اول منزلست

ترجمه: سر ورکول روح ورکول او مال ورکول دا ده عشق د لاری اول قدم دی.

ابراهیم علیه السلام چې د بادشاه مقابله کوله د سرخطره ئی نه وه؟ د قوم مخکې چې مسئله بیانوله د سر خطره ئی نه وه؟

د ابراهیم علیه السلام د الله د دین لپاره ښځه او بچي پریخودل

ابراهیم علیه السلام خپله ښځه او خپل بچي راروان کړل د الله تعالی حکم مطابق د مکې په وادی کې په هغه زمانه کې د بیت الله ابادی هم نه وو صرف د بیت الله د آبادی آثار قدری وو په دغه ځائی کې خپله ښځه او خپل اك یو ځوی هغه ئی هلته پریخوده چې ده یوسړی ښځه او بچي وي او په یو خوشې بیابان

کې پریګدی او زی تری چرته ؟ زی تری شام ته بیا چې ابراهیم علیه السلام تری زی هغه ښځه ورته وائی:

روی سعیدُ بنُ جبیرعن ابن عباس رضي الله عنهم أنه علیه الصلاة والسلام لما أسکنَ إسمعیلَ وهاجَر هناك وعادَ متوجهاً إلی الشام تَبعتْه هاجرُ فجعلتْ تقول إلی من تَکلُنا في هذا البلقَعِ وهو لا یَرُدُّ علیها جواباً حتی قالت آلله أمرك بهذا فقال نعمْ قالت إذنْ لا یُضیِّعُنا: (١)

ترجمه: ابراهیمه چرته زی او مونږ مخاته پریږدي؟ دری زله ورته ښځه آواز کوی إلی من تَکلُنا ابراهیم علیه السلام شاته نه گوری آخری آواز چې کله ابراهیم علیه السلام پناه کیدو ښځي ورته اواز وکړه آلله أمرك بهذا ابراهیم علیه السلام مخ راواړوو فقال نعمْ آو دا ماته زما رب وئیلی دی ښځه ورته وائی إذنْ لا یُضیِّعُنا زه زه بیا به الله مونګ نه زایه کوي.

د ابراهیم علیه السلام خپل ځوئي له حلالول

هغه ځوی چې کله غټ شوی دي الله تعالی ابراهیم علیه السلام ته وائی لاړشه هغه ځوی چې دی پریخودی وو حلال کړه خوب وینی او ده نبی خوب وحې وی ابراهیم علیه السلام راغی او زوی ئی روان کړه په دری ځایونو کې ورته شیطان مخی ته راغلی دي او ابراهیم علیه السلام شیطان په کانو باندې ویشتلي دي نن هغه دین مونږ اداکو رسم نه دی تاسوته پته شته زمونږه دشمنان برطانیه او امریکه سړی چې د برطانیی او امریکی سره مینه لری

١ تفسیرابی سعود جلد ١ صفحه ٢٠١

الله تعالی دی په هغه سړی لعنت ولیږي د برطانیه او امري کې
دروغجنه میډیا بي بي سي هغوئی وي مسلمانان تلی وو

شیطان پر پتھر مارنے کا رسم ادا کر رہے تھے

دا رسم نه دی دا دین دی هغوئ چې تاسو دین کوی اوګیره
پریګدئی نو هغوئی وائی دا دهشت ګرد دی زه تاسو ته یو خبره
کوم تاسو مسلمانان ئی اوکنه ؟ الحمدالله ستاسو ټول مسلمانان
ئی ده نن نه پس به تاسو د امریکی خلاف دهشت ګرد د ځان نه
جوړوئ او کنه ؟ د دهشتګردي نخه دا ده چې ګیره به پریګدئی
اوکنه ؟ تاسو مسلمانان ئي دومره بی غیرته مسلمانان چې
هغوئ ستاسو په دین باندې طعن کوی او تاسو د هغوئ رسمونه
کوی تاسو له حیا نه درځي حیاء او غیرت دا دی چې ستاسو ده
انګریز خلاف اوکړئ چې یو سړی ګیره پریږدی او د نبی صلی الله
علیه وسلم د سنتو تابعداری کوی او پنځه وخته مونځ کوی
امریکنیان وائی دا دهشت ګرد دی تاسو دهشت ګردئی د
امریکی خلاف او کنه ؟تاسو د کفر خلاف دهشت ګردئی اوکنه ؟
ستاسو دا ملك او دا ټول ملکو نه دا امریکه په خپله اشاره باندې
چلوئی د قرآن فیصله ده قرآن وائی

وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ
وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِنْ دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ
شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تُظْلَمُونَ (۱)

۱ سورة الانفال (٦٠)

الله تعالی وائی ستاسو چې سومره وس کیږی د کافرخلاف به داسلحی تیاری کوی په دی قرآن باندې زمونږه ایمان دی زمونږ دی ملك د کافر خلاف یوه اسلحه تیاره کړی ده هغی ته (ایتم بم) وائی ستاسو ته پته شته چې کله کافر هر قسم عمل کړی دی جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم مسلمانان تیار کړی دی چې دغه قسم عمل تاسو هم اوکړئ نن هغه خلق چې هغوئ د اسلام نه ده دفاع لپاره (ایتم بم) تیار کړی ده امریکی په اشاره نن هغه په جیلونو کې پراته دی دا ستاسو ایمان منی د دی خلاف اواز پورته کړی دا ستاسو آواز چې (پرویز مشرف) وا نه وري الله رب العزت ئې اوری او وینی او فرشتی ئی لیکی الله رب العزت فرمائی: إِنَّا كُنَّا نَسْتَنْسِخُ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ (۱).

ستاسو چې کوم عمل کوی زه ئی لیکم دا یو عمل خو به ستاسو ولیکلي شی کنه ابراهیم علیه السلام صفت چې الله تعالی کوی الله تعالی فرمائی په قرآن کې

مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا وَلَكِنْ كَانَ حَنِيفًا مُسْلِمًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ (۲)

په ابراهیم علیه السلام کښې نه یهود ی خویونه وو او نه پکښې نصرانی خویونه وو مونږ ته الله تعالی حکم کوی زمونږ پیغمبر علیه السلام ته الله کوي

وَاتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَاتَّخَذَ اللَّهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا (۳)

---

۱ سورة الجاثیة (۲۹)
۲ سورة آل عمران (٦٧)
۳ سورة النساء (۱۲۵)

ده ابراهیم علیه السلام ده دین تابع شه هغه په دین باندې کلك
وو په توحید باندې کلك وو

تاسو مسلمانان ئی تاسو شکلونه د یهودیانو په شان دی او کورونه او طریقی د یهودو او نصاری په شان دی اخرته څنګه مسلمان ئی؟ هندوستان کې یوشاعر تیرشوی اګرچې هغه هرڅنګه چې وو یوشعرئي وئیلی دی:

کعبہ کس منہ سے جاؤگے غالب شرم تم کو مگر نہیں آتی

ترجمه: ته به په کوم مخ د الله سره ملاویکي ناله شرم نه درزي تاله حیا نه درزي.

ستا دشمنان هغه چاته دهشت ګرد وائی چې کوم کسان چې هغوئ د اسلام او د ایمان چغه اوباسئ افغانستان کې ملاعمر کومه ګناه کړی وه یو اسلام ئی به ملك کې راوستی وو امریکه راغله او هغه ئی د خپو لاندی کړو زما دا سیاسی خبری نه دی سیاسیان خلق هغه وو چې کله د وتونو زمانه وه منډی او تړی به ئی وهلی وی طالبان داسی او طالبان هغه سی او چې کله ئي وتونه واخستل نو بیا ئي وئیل مونږ د طالبانو په شان نظام نه راولو مونږ اوس هم د طالبانو د نظام حمایت کوو او طالبان هر څنګه چې وو خو نظام ئی ښه وو الله تعالی چې مونږ په دنیا کې پیداکړی یو ده دی کتاب د قائمولو لپاره ئي پیداکړی یو یاد ساتی تر څو پوری چې قرآن زمونږ کتاب وو نو مونږ به مسلمانان یو.

گرتو مین خواهی مسلمان زیستن نیست ممکن جز به قران زیستن

ترجمه: که چری ته وائی ما دی ژوند د مسلمان تیر کړی د قرآن نه بغیر نه شی تیرولی.

عزت مندو لګ سوچ وکی مونږ تباه شو برباد شو زمونږ قوم خراب شو وجه څه ده؟ مونږ په هرقدم کې د امریکی تابعداری کوو زمونږ معاشره د امریکی ده تاسو ته پته شته چې تاسو پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم چې کله وفات کیدو نو هغه په آخیري وخت کې څه وئیلي وو؟ معلوم دي درته؟ هغه وئیلي وو. «لَعَنَ اللّٰهُ الیَهُودَ وَالنَصارَی اتَخَذُوا قُبُورَ أَنْبِیَائِهِمْ مَسَاجِدَ»

ترجمه: الله تعالی دی په یهوداو نصاری باندې لعنت اوکړی د انبیاء د قبرونو نه ئی جماعتونه جوړ کړی او دین ئی وران کړی او تاسو دهغوئ طریقی کوئی.

جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم چې وصیتونه کول اخری وصیت ئی څه کړی وو؟ هغه ویئلی وو.

وَحَدَّثَنَاهُ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ شَبِیبٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا إِسْمَاعِیلُ بْنُ أَبِي أُوَیْسٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِیلَ، قَالَ: حَدَّثَنَا إِسْمَاعِیلُ بْنُ إِبْرَاهِیمَ بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ عَمِّهِ مُوسَی بْنِ عُقْبَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي الزُّبَیْرِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنْ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صلی الله علیه وسلم، أَنَّهُ قَالَ: أَخْرِجُوا الْیَهُودَ وَالنَّصَارَی مِنْ جَزِیرَةِ الْعَرَبِ

قَالَ أَبُو بَكْرٍ: وَهَذَا الْحَدِیثُ قَدْ رَوَاهُ أَیْضًا ابْنُ جُرَیْجٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَیْرِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنْ عُمَرَ: (۱)

۱ - مسند البزار جلد ۱ صفحه ۵۹ مسند عمر بن الخطاب رضي الله عنه

د مسلمانانو د ملك نه د یهود او نصاری وو ثقافت اوباسئ یهود او نصاری ئی نه یادول د هغوئ تهذیب او ثقافت څوك چې ده دی تهذیب داعیان دی هغوئ لری کړی.

الله مونږ پیدا کړی یو دی لپاره چې مونږ ده الله تعالی بندگی اوکړو دی لپاره الله تعالی نه یو پیدا کړی چې مونږ دی مخلوق ته سرښکته کړو.

شیخ احمد سرهندي او د ظالم بادشاه خلاف کول

په هندوستان کې یوولی تیرشوی دی (شیخ احمد سرهندی) هغه په زمانه کې یو بادشاه وو اکبرنوم ئې وو او اکبر ځان له خپل دین جوړي کړي وو (دین اکبري) شیخ احمدسرهندی ده هغه بادشاه خلاف اوکړو اکبر هغه په خپل دین کې بادشاه ته سجده کوله خلقو ورته وی که دا پیر دی راوستو او ده تا ته سجده وکړه ټوله دنیا به تا ته سجده کوی.

پیرصاحب ئی په زنځیرونو کې ترلي راوستو او یو وړه غوندی ئی کړکی جوړه کړه خیال ئی دا وو چې پیرصاحب به خکته شی پیر صاحب چې راغی حدیث کې رازی نبی علیه السلام وائی

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، قَالَ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي الطَّيِّبِ، قَالَ حَدَّثَنَا مُصْعَبُ بْنُ سَلاَّمٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ قَيْسٍ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اتَّقُوا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ فَإِنَّهُ يَنْظُرُ بِنُورِ اللَّهِ (۱)

د مومن دفراست نه ویریگی دی ده الله تعالی په رنړا باندې لیدل کوی هغه خپی مخکې کړی اولاس ئی شاته کړو او ورتوپ ئی کړه بادشاه ورته وی سجده دی ولی اونکړه؟ هغه ورته وائی بادشاه دا تندی چې چا پیدا کړی دا ده هغه نه بغیر چاته نه خکته کیږی ستاسو تندی ولی امریکی ته خکته شوی؟ او برطانیه ته ولی خکته شوی؟ که تاسو وائی نه دئ دروغجن ئی یو سړی د

۱ - اضواء البیان فی ایضاح القرآن جلد ۲ صفحه ۲۸۷

مسلمان په کور کې پیدا دی او ګیره نه شته او د مسلمان په کور کې پیدا دي او مونځ نه کوي کوم سړی چې یو مونځ قضا کړي مستدرك د حاکم کې صحیح حدیث دی داسړی کافر دی خو هغه کفر ی په یوه مرتبه کې دی خودی کافر دا فتوی ده دری مذهبونو ده (حنبلی، مالکی، شافعی) او حنفي مذهب چې ورسره ملګري کړي نو د دوو او دریو هغه ته دوئ هم کافر وائي تاسو په ایماندارئ اوو ائی ستاسو بچي دی په کور کې تاسوچې سحر راپاسی هغوئ ته تاسو د مونځ وائی؟ کم ازکم دومره خو پکار ده.

د ابراهیم علیه السلام تابعدار څوك وو ؟

داخبره مي تاسو ته اوکړی ابراهیم علیه السلام نه یهودی وو او نه نصرانی هغه څوك وو ؟ الله تعالی فرمائی

إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِإِبْرَاهِيمَ لَلَّذِينَ اتَّبَعُوهُ وَهَذَا النَّبِيُّ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاللَّهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِينَ (۱)

الله تعالی وائی ابراهیم علیه السلام د اتباع او دعوی کولو هغه څوك دی چې دابراهیم علیه السلام ملګری وو

او دونمه مرتبه کې وَهَذَا النَّبِيُّ وَالَّذِينَ آمَنُوا دا پیغمبر اومومنان ستاسو ټول ابراهیمیان ئی ستاسو نیکه څه کار کړی وو؟ ماته د پښتنو د نسب سلسله معلومه ده (اسحاق علیه السلام) په واسطه باندې ستاسو د ټولو سلسله د ابراهیم علیه السلام سره

---

۱ سورة آل عمران (٦٨)

میلا و شوی ده ستاسو د ابراهیم علیه السلام بچې ئی خو بچي چې دپلار په شان نه وی کار نه کیږی.

اقبال یو شعر دی هغه وائی:

یہ دور اپنی براہیم کی تلاش میں ہیں — صنم کدہ ہیں جہان لاالہ الااللہ

پښتون او د میراث حفاظت

پښتون همیشه د جائیداد حفاظت کوی ستاسو نیکه ابراهیم علیه السلام وو ابراهیم علیه السلام تاسو ته پتی نه دی پریخودی ابراهیم علیه السلام یوه عقیده پریخودی وه یو عمل ئی پریخودی وو ابراهیم علیه السلام دنیا ته یو شخصیت پریخودی هغه شخصیت برقرار کړی دامال په الله تعالی قسم که ستا وی.

واقعه

په غازی بابا کې یو حاجی صاحب وو هرسحر به روان وو اوته به تحصیل ته چې مړشو جنازه ئی ماوکړی وه په قبرئی مابیان کوو خلقوته مې وي دی حاجی صاحب به وي چې دافلانی پتی زما دی او فلانی پری دعوی کړی ده هغه ټولی خبری دروغ شوي هغه حاجی صاحب د پتی شو.

پتی ستا نه دي دا ستا د پلار وو هغه هم دروغجن وو او ستا نیکه وو هغه هم دروغجن وو ټولو دعوی کوله چې دا پتي زما دي هغه ده هغی پتی شواو د چا په هغه پتي کې هم خای و نه شو ستاسو د ابراهیم علیه السلام بچې ئی ابراهیم علیه السلام

شکل او صورت اختیار کړی ابراهیم علیه السلام چې څه کړی هغه اوکړی ابراهیم علیه السلام همیشه د الله تعالی ده دشمنانو مقابله کړی وه

د یهودو سره دشمني

الله رب العزت فرمائی:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (۱)

دالله تعالی دوستانو یهود او نصاری ته دوستان او نه وائی گوری الله تعالی دی زمونږ زړونه دایمان نه ډک کړی یو دعا په زړه کې اوکړئ ده دی لپاره چې امریکه دی الله تعالی تباه کړی دامریکی وسله دی الله تعالی د هغوئ په خلاف استعمال کړی الله تعالی دی ده هغوئ تدبیر د هغوئ د هلاکت سبب اگرزوی په هرملك کې چې ده امریکی ملگری وی الله تعالی دی تباه کړی امریکه او برطانیه دا د الله تعالی دشمنان دی جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغوئی ملگرو ورته ابناء القردة والخنازیر د شادوگانو بچي وئیلی دی

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ يَزِيدَ، وَيُونُسُ، قَالَا: حَدَّثَنَا دَاوُدُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ أَبِي الْأَعْيَنِ الْعَبْدِيِّ، عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ الْجُشَمِيِّ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: سَأَلْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْقِرَدَةِ وَالْخَنَازِيرِ، أَهِيَ مِنْ نَسْلِ الْيَهُودِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ لَمْ يَلْعَنْ

۱ - سورة المائدة (۵۱)

قَوْمًا قَطُّ. فَمَسَخَهُمْ، فَكَانَ لَهُمْ نَسْلٌ حِينَ يُهْلِكُهُمْ. وَلَكِنْ هَذَا خَلْقٌ كَانَ، فَلَمَّا غَضِبَ اللّٰهُ عَلَى الْيَهُودِ، مَسَخَهُمْ فَجَعَلَهُمْ مِثْلَهُمْ. (۱)

داده شادوگانو بچې دی الله تعالی په خپل قهر او غضب باندې ګرفتار کی الله تعالی دی د مسلمانان په زړونو کې د بدرد صحابو په شان جذبه پیدا کړی.

قربانې او یو څو خبرې

ابراهیم علیه السلام یو بل کار کړی چې ورته قربانی وائی د قربانی لپاره یو څوخبری.

(۱) د قربانی لپاره حلال مال پکار دی.

(۲) دوئم قربانی چې کوی نهایت په اخلاص باندې به ئی کوی د قربانی غوښه د هغی لپاره طریقه دا وه د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم چې ځان له ئې تري مه پریږدي ځکه خلق غریبانان وو د قربانی غوښه به دری حصی کړئ

یو حصه به زان ته پریږدي او بله حصه به غریبانو ته ورکړی او بله حصه رشته داران له.

نبي علیه السلام یو زمانه کې د وچولو نه منع کړې وه ځکه مسلمانان غریبانان وو کله چې مالداره شو نو نبيَ علیه السلام بیا اجازت وکړو.

جائز طریقه دا ده چې ټوله غوښه ځان له ساتلې شي خو بهتره طریقه دا ده چې دري ځایه به ئې کړي کما مر.

---

۱ مسند لامام احمد بن حنبل جلد ۱ صفحه ۳۹۵

د قربانئ هډوکي خرڅ شو نو د هغي پيسي واجب التصدق دي
صدقه به ئې کړي د قربانی څرمن په باره کې مفتی رشید
احمد صاحب فرمائی اولوئی دفقهی کتابونو فتوی دا ده چې دا په
هغه مصرف کې ورکول پکار دی چې هغه ځائی د وجوبی صدقی د
لګیدو وی که په خپل استعمال کې راولي نو هم راوستي شي
الله تعالی دی عالم اسلام بالاکړی او الله تعالی دی ظالمان د
ظلم نه منع کړی او الله تعالی دی دشمنی په دوستو بدلي کړي او
الله تعالی زمونږ زړو نه په اسلام باندې قائم او دائم لری

واخردعوانا ان الحمدلله رب العالمين

بسم الله الرحمن الرحیم

((موضوع ـ شان قرآن))

أعُوذُ بِاللّه منَ الشّيْطَان الرّجِيم

بِسْمِ اللّه الرّحْمَنِ الرّحِيم

قُلْ أعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ (١) منْ شَرّمَا خَلَقَ (٢) وَمِنْ شَرّ غَاسِقٍ إذَا وَقَبَ (٣) وَمِنْ شَرّ النّفَاثَاتِ فِي الْعُقَدِ (٤) وَمِنْ شَرّ حَاسِدٍ إذَا حَسَدَ (٥) (١)

قُلْ أعُوذُ بِرَبِّ النّاسِ (١) مَلِكِ النّاسِ (٢) إلَهِ النّاسِ (٣) منْ شَرّ الْوَسْوَاسِ الْخَنّاسِ (٤) الّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النّاسِ (٥) مِنَ الْجِنّةِ وَالنّاسِ (٦) (٢)

دقرآن کریم ۱۱۲ سورتونه تاسو اوریدلی دی او داد.دوه سورتونه دی الله تعالی دی مالره توفیق راوکړی چې د دی موقعی مناسب بیان اوکړم.

اشاعة التوحید او د نورو جماعتونو فرق

په دی ملک کښ گنړ جماعتونه دی او قسم قسم علماء دی په هغې کې زمونږ جماعت اشاعة التوحید والسنة او د هغی علماء هغوی له الله تعالی یوخاص امتیاز ورکړی دی په هغی امتیازاتو کې یو امتیاز دا دی چې دقرآن درس الله تعالی ده دی جماعت په نصیب کړی دی او ده دی نه علاوه چې په دنیا کی یو

۱- (سورة الفلق)
۲- (سورة الناس)

سړی بیان کی که هغه د ووټ بیان کی خلق وائی داڅوک سیاسی ملا دی او د پلانی او پلانی جماعت سره ئې تعلق دی چې کله هغه مسائل بیانوی که په مسائلو کې د اسقاط بیان او کړی خلق وائی داده پخوانو مولیانو نه دی که چرته دلاس خکته کولو او پورته کولو مسائل بیان کړی خلق وائی دا وهابي دي او دا د الله احسان دي چې کله څوک توحید بیان کړي هغه د هر جماعت سره چې وي نو خلق وائي داخو پنځ پیری دی دا د الله تعالی په مونږ باندې احسان کړی.

شان قرآن

قرآن عظیم دا یو لوئی شان لری د قرآن لګ غونده کې شان بیانوم نور الحمد لله د فاتحی نه واله والناس پوری قرآن کریم مولانا شازمین صاحب بیان کړی او تاسو اوریدلی دی زه یو څو خاص خبری ستاسو مخکې کوم قرآن کریم دا یو داسی کتاب دی چې ده دی چا سره نسبت پیدا شوی هغه ئې غوږ کړي دی او چا چې ده دی قرآن نه مخ اړولی دی هغه الله تعالی ختم کړی دی دا مشهوره خبره ده او ټول خلق پری پوهیګی چې ټولو انبیاؤ کې بهترین جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم دی دشمنان که په ډاګه اقرار نه کوی په پټه باندې هغوئ هم منی بیاعام مسلمانان هغه ده دی قائل دی چې مکه مکرمه د هغه په ټولو ښارونو کې بهترین ښار دی دوئم نمبر ده مدینی منوری دي داخو عام خلق منی چې جبرائیل علیه السلام هغه په ټولو ملائکو کې غوره دی

او رمضان میاشت په ټولو میاشتو کې غوره ده دا هم خلق منی
چې په رمضان کې یوه شپه ده هغه د زرو میاشتو نه غوره ده او
دا هم منې چې عربي ژبه د ټولو ژبو نه غوره ده مسلمانان دا هم منی
چې اصحاب د رسول الله صلی الله علیه وسلم ده ټولو بندیانو نه
غوره ؤو د انبیاء نه پس ده دی اسباب څه دی ؟ جناب رسول الله
صلی الله علیه وسلم هغه پیغمبر دی چې هغې باندې قرآن راغلی
دی د قرآن د وجی نه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په ټولو
انبیاء کې بهتر دی مکه مکرمه هغه ښار دی چې په هغی کې د قرآن
کریم نزول ابتداء شوی ده مکه مکرمه په ټولو ښارونو کې
بهتر ښار دی دویم نمبر پسی د مدینی منوری دی ځکه مدې نه
منوره د قرآن کریم د اختتام ځای دی ډیر ملائك دی پکې جبرائیل
علیه السلام ځکه غوره دی چې قرآن ئی راوړی دی ژبی ډیری ژبی
دی خو عربی ژبی ته په ټولو کې فوقیت حاصل دی سبب ئی دادی
چې قرآن کریم په عربی کې دی میاشتې ټولې د الله میاشتې دې
خو رمضان میاشت دا ده دخیر او د برکت میاشت ده او نبی علیه
السلام دی ته وائی شهر عظیم یولویه میاشت د خیر او د برکت
میاشت ده سبب ئی دادی چې قرآن په دی میاشت کی راغلی دی او
بیا په دې کې یوه شپه ده لیلة القدر چې په هغی کې د لوح محفوظ
نه قرآن اسمان ته او د اسمان نه بیا دنیا ته ټول قرآن راغلی دی نو د
هغی مقام په ټولۀ زمانه کې بهتر دی او الله تعالی فرمائی چې دغه
شپه د زرو (۱۰۰۰) میاشتو نه غوره ده د قرآن کریم اولین
مخاطبین هغه اصحاب د رسول الله صلی الله علیه وسلم وو او

هغوئ ترې فائده اغستی ده نو هغه په ټوله دنیا کې د انبیاء علیهم السلام نه پس غوره دی.

دا داسی بهترین کتاب دی چې د چاسره ده ده نسبت راغلی دی هغه ئی غوړ کړی دی دا خو د قرآن د نسبت شان وو

جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم په ټولو بنده ګانو کې اوچت دی لوئی مرتبی والـه خوپـه اولـه ورځ چې د قرآن دعـوت ورکړو خپل ترۀ ورته کنځل شروع کړه.

قَالَ أَبُو لَهَبٍ تَبًّا لَكَ سَائِرَ الْيَوْمِ، أَلِهَذَا جَمَعْتَنَا؟: (۱)

بیـا دعکـاز او ذی المجـاز پـه میلـو کې نبی علیـه السلام ګټی خورې او ویشتی کیدو دا ده دی قرآن لپاره نو د قرآن شان اوچت دی او کنه ؟

د قرآن دشمني او د هغې انجام

ده دی قرآن نه چې څوك ډډی ته شوی دی الله رب العزت هغـه لره سزا ورکړی ده او جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ئی په دې باندې ماموره کړی دی چې پیغمبره ستا د زندګی مقصد هغـه د قرآن اشاعت دی په دنیا کې سورة الرعد کې الله تعالی فرمائی:

كَذَلِكَ أَرْسَلْنَاكَ فِي أُمَّةٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهَا أُمَمٌ لِتَتْلُوَ عَلَيْهِمُ الَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَهُمْ يَكْفُرُونَ بِالرَّحْمَنِ قُلْ هُوَ رَبِّي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ مَتَابِ (۲)

---

۱ - السنن الکبری للنسائی جلد ۱۰ صفحه ۲۲۷

۲ - سورة الرعد (۳۰)

ترجمه: زما پیغمبره دازما کمال دی چې ما تـۀ په داسی ډله کې رالیږلی ئی چې د هغی نه مخکې ډیری ډلی تیری شوی دی خو نه می دی لپاره نه ئی رالیږلی چې مال اوګټی دی لپاره می رالیږلی چې اولولی په دی خلقو باندې هغه کتاب چې ما تا ته رالیږلی دی او په داسی وخت کې به ئی لولی چې خلق به د قرآن دشمنان وی ده دی کتاب په وجه باندې به ته ده خالق او مخلوق ترون راولی.

د جناب رسول الله صلی الله علیه و سلم منصب

جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله خپل منصب بیانوی نو دا وائی چې ما ته الله تعالی وائی چې شرك به نه کوی او بل ئی راته دا وئیلی: وَأَنْ أَتْلُوَا الْقُرْآنَ (۱)

ترجمه: زما ذمه داری دا ده چې زه به قرآن لولم

قرآن لوستل دا ده جناب نبی کریم صلی الله علیه وسلم اصل ذمه داری وه او زه به یو خبره وکم شائد چې تاسو راسره خلاف و نه کی چې جناب نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه د قرآن مرتبه ډیره اوچته وه الله تعالی نبی علیه السلام ته وائی:

يَاأَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ (۲)

---

۱ سورة النمل (۹۲)

۲ سورة المائدة (٦٧)

ترجمه: اي زما رالیږلی شوی په کوم کتاب چې تاته د رب د طرف نه رالیږلی شوی هغه خلقوته اورسوه که چری دا کار دی انکړونو گوری د الله تعالی ډیوتی دی پوره نه کړه.

تفسیر ابی سعود دی ایت لاندی لیکی:

فإذا لم تؤدِّ بعضها فكأنك أغفلتَ أداءَها جميعاً كما أن من لم يؤمن ببعضها كان كمن لم يؤمن بكلها: (۱)

ترجمه: کوم سړی چې د قرآن یوه مسئله دا اونه رسوله د ټول قرآن اونه رسوو.

دا مولیان صاحبان وائی چې د جز انتفاء دا د کل انتفاء لره مستلزمه ده بیا نبی علیه السلام ته الله تعالی وائی:

وَلَوْلَا أَنْ ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدْتَ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيلًا إِذًا لَأَذَقْنَاكَ ضِعْفَ الْحَيَاةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا: (۲)

ترجمه: زما پیغمبره که ته ما په دی قرآن مضبوط کړی نه وي نوکیدی شوه چې تا څه معمولي غوندی میلان دی خلقوته کړی وي مابه تالره په مرګ او په ژوند باندی دوچند عذاب درکړی وی.

معلومه دا شوه چې نبی علیه السلام ده دی قرآن نه یو انچ اوړیدلی وي د هغه هم خیر نه وو.

الله تعالی وائی: ای پیغمبره که تا په ماباندې ده ځان نه څه جوړ کړه او دا کتاب دی خلقو ته او نه رسوو بیا دی هم خیر نه شته.

---

۱ - تفسیرابی سعود جلد ۲ صفحه ۲۶۷

۲ - سورة الاسراء (۷۴ - ۷۵)

وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْأَقَاوِيلِ لَأَخَذْنَا مِنْهُ بِالْيَمِينِ ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِينَ (۱)

ترجمه: که چری دی پیغمبر په ماباندې ده ځان نه څه خبری جوړی کړی وی ما به دی مضبوط نیولي وؤ او د مرئ رګونه به مي ورله کټ کړي وي

تاسو سوچ اوکړی چې شان د چا اوچت شو؟ د قرآن ډیر لوئی اوچت شان دی بیا په دی باندې سوچ اوکړی چې جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم لوئی شان والا نبی انور شاه صاحب یو ځائی کې لیکلی دی قصیده ئی لیکلی ده هغی کی هغه لیکی:

آدم بصف محشر ذریت آدم در زیر لوایت تو امیری تو امیری

ترجمه: آدم او د آدم اولادا به په قیامت کې ټول ستا د جهنډی لاندی ولاړ وی او ته به د ټولو امیر او بادشاه ئی.

لوئی شان دی د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم

رومبی وحي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته

رومبی وحي چې نبی علیه السلام ته کیده اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ (۲) پاسه د الله تعالی نوم واخله هغه الله تعالی چې ته ئی پیدا کړی او د هغه نوم واخله (اقْرَأْ) د خدائی کتاب لوله بخاری کې هغه خدیث راځی نبی علیه السلام وائی زه په حراء کې ووم

---

۱ - سورة الحاقة (٤٤) (٤٥) (٤٦)

۲ سورة العلق (۱)

فَجَاءَهُ الْمَلَكُ، فَقَالَ: اقْرَأْ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا أَنَا بِقَارِئٍ». قَالَ: "فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجُهْدَ، ثُمَّ أَرْسَلَنِي. فَقَالَ اقْرَأْ، قُلْتُ: مَا أَنَا بِقَارِئٍ، فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّانِيَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجُهْدَ. ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَقَالَ: اقْرَأْ، قُلْتُ: مَا أَنَا بِقَارِئٍ، فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّالِثَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجُهْدَ، ثُمَّ أَرْسَلَنِي، فَقَالَ: {اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ، خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ، اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ}: (۱)

هغه ملك راغی اوزه ئی راونیولم فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجُهْدَ او زه ئی ځان ته رانزدی کړم او زور ئي راکړه ماته ئي اووئیل: فَقَالَ اقْرَأْ لوله د الله تعالی کتاب لوله ماورته اوئیل چې د الله تعالی کتاب څنګه اولولم مَا أَنَا بِقَارِئٍ وی هغه دوباره ځان ته رانزدی کړم اوماته ئی وی لوله ماورته بیاوئی مَا أَنَا بِقَارِئٍ نو په درئم ځل نبی علیه السلام وائی فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّانِيَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجُهْدَ زه ئي ځان سره کلك اونیولم او وئي وئیل راته اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ (۲) د الله تعالی کتاب اولوله هغه رب نوم واخله چې ته ئي پیدا کړي ئي جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم راغی او هغی نه پس د قرآن دعوت هغه شروع کړو.

۱ - احکام القرآن لابن العربی جلد ۸ صفحه ۸۵

۲ - سورة العلق (۱)

د قرآن لپاره کور او ملک پریخودل

جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل کور نه مهاجر شوی دی او هغه کور او جائیداد هغه ئی پریخودي اخیري حج کې چې راتلو صحابی تری تپوس اوکړو صبا به کوم ځائی کې پرې او کوو نبی علیه السلام هغه صحابی ته وی چې مونږ په په خیف د بنی کنانه کې یو ځائی کیګو په هغه ځائی کې به یو ځائی کیګو چې په کوم ځائی کې کافر رایوځائی شوی وو او په کفر باندې قسمونه کړی وو

حَدَّثَنَا أَبُو اليَمَانِ، أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ، أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ أَرَادَ قُدُومَ مَكَّةَ «مَنْزِلُنَا غَدًا، إِنْ شَاءَ اللَّهُ، بِخَيْفِ بَنِي كِنَانَةَ، حَيْثُ تَقَاسَمُوا عَلَى الكُفْرِ»: (۱)

نبی علیه السلام ورته وی بِخَيْفِ بَنِي كِنَانَةَ ده بنی کنانو چې کوم خوړ دی په هغی کې به مونږ کوزیګو د دی لپاره یوسړ په دې حدیث کې راځی او یوپه بل حدیث کې راځی نبی علیه السلام په هغه حدیث کې وائی:

قال: وهل ترك لنا عقيل منزلا، ثم قال: نحن نازلون غدا إن شاء الله بخيف بني كنانة يعني المحصب حيث قاسمت قريشا على الكفر: (۲)

زمونږ ده تره خوی هغه زمونږ ټول جائیداد خرڅ کړی او یو کورنی نه دی پریخودی

دنبی علیه السلام ټول جائیداد هغه د قرآن نه قربان کړه.

۱- صحیح البخاری (الطبعة الهندية) جلد ۱ صفحه ۷۳۲ كِتَابُ الْجُمُعَةِ

۲- سنن ابی داود محقق وبتعليق الالباني جلد ۳ صفحه ۸٤ باب هَلْ يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ

سنت طریقه دا ده چې کوم زائی کې د الله تعالی د شمنان یو جرګه اوکړی او بیا د الله تعالی دوستانو زور راشی د موحدینو نو هغوئ لره په هغه ځائی باندې غونډه پکاره ده حدیث کې صاف رازی.

بخیف بني کنانة یعني المحصب حیث قاسمت قریشا علی الکفر

بیا د بدر جنګ د قرآن دعظمت لپاره شوی وو د احد جنګ چې په هغی کې نبی علیه السلام زخمی وو هغه ده قرآن ده عظمت لپاره وو سوچ اوکړی چې د چا شان لوئی دی؟ قرآن عظیم الشان ده ډیرلوئی شان کتاب دی.

د اشاعت په علماؤ د الله احسان

هڅې سړی چې سوچ کوی نو د اشاعت علماء باندې الله ربّ العزت خاص احسان کړی دی چې هغوئ لره ئی دا کتاب په لاس کې ورکړی دی او دا په دنیا کې وحید جماعت دُی مثل ده دوی نه شته چې هغوئ قرآن راغستی او خلقو ته ئی بیانوی او دا ده الله تعالی خصوصی احسان دی.

اللّٰهُ یَجْتَبِي إِلَیْهِ مَنْ یَشَاءُ وَیَهْدِي إِلَیْهِ مَنْ یُنِیبُ (۱)

او چې په چا کې ځائی وی الله تعالی ئی دي قرآن لره راولی ستاسو علماء چې په دی ځائی کې د قرآن درس کوی د هغوئ د خۀ والی لپاره دایوه خبره کافی ده چې الله تعالی دا خلق قرآن لره خاص کړی دی.

---

۱ سورة الشوری (۱۳)

د پیغمبر سره د خلقو دشمني د قرآن د وجي نه وه

د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دخلقو عامه دشمنی هغه د قرآن په سر باندې وه.

سورة یونس کې الله رب العزت د کافرو او د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د مقابلې ذکر کوی نو مقابله دنبی علیه السلام ده ذات او د وجود ده وجی نه نه ده ځکه د نبی علیه السلام ذات هغه خلقو ډیرمعزز او معظم ګنړو مشهوره واقعه ده چې کله بیت الله وران شوی وو خلقو د یو بل پسی سوری راو اغستی نو د هغی فیصله جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم کړی وه او د مکی خلق پری ډیر خوشحاله وو او یو پیره د مکی خلقو نبی علیه السلام ته وی

حَدَّثَنَا ابْنُ وَكِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ نَاجِيَةَ بْنِ كَعْبٍ، أَنَّ أَبَا جَهْلٍ قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّا لَا نُكَذِّبُكَ، وَلَكِنْ نُكَذِّبُ الَّذِي جِئْتَ بِهِ: (۱)

ترجمه: اي محمدصلی الله علیه وسلم تاته مونږ دروغجن نه وایو خو دا کتاب ستانبنه نه دی مونږه د دغی کتاب د وجی نه تا سره مقابله کوو الله رب العزت فرمائی:

وَإِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَذَا أَوْ بَدِّلْهُ قُلْ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أُبَدِّلَهُ مِنْ تِلْقَاءِ نَفْسِي إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَى إِلَيَّ إِنِّي أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ: (۲)

---

۱ - تفسیر طبری (دارهجرة) جلد ۹ صفحه ۲۲۲

۲ - سورة یونس (۱۵)

ترجمه: کله چې په دوی باندې زما واضحه دلائل اولوستلی شی نوکوم کسان چې هغوئ زما ده پیشی نه نه یریگی هغوئ وائی ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَذَا دا قرآن پریږده او ده دی په ځائ باندې څه بل کتاب اووایه مونږ ئي درسره منوالله تعالی وائی چې کله زما دلائل واضحه اولوستی شی.

قَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَذَا

کوم کسان چې زما د پیشئ یقین نه ساتی یریگی نه هغوئ وائی دا قرآن پریگده او بل راوړه او کنی نو په دې کې څه ترمیم وکړه؟ نبی علیه السلام ته الله تعالی وائي:

قُلْ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أُبَدِّلَهُ مِنْ تِلْقَاءِ نَفْسِي إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَى إِلَيَّ إِنِّي أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ (۱)

ترجمه: ورته او وایه اي پیغمبره چې زما طاقت نه کیږی ماله نه دی مناسب چې زه د خپل طرف نه په دي کی ردو بدل اکړم ځکه الله تعالی ورته وئیلی وو که ردو بدل دی پکې اوکړو نو.

إِذًا لَأَذَقْنَاكَ ضِعْفَ الْحَيَاةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ (۲)

ترجمه: دوچند عذاب په ژوند کې او دوچند عذاب په اخرت کې به درلره درکړم.

إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَى إِلَيَّ

ترجمه: زما بله لار نه شته زه به صرف د قرآن تابعداري کوم چې کله نبی علیه السلام د قرآن تابعداري کوی نو په ما او په تاسو

---

۱ - سورة یونس (۱۵)

۲ - سورة الاسراء (۷۵)

باندې هم تابعداری ده کله چې معاشرتی زندګی جوړو په قرآن باندې جوړو او که اقتصادی زندګی جوړو په قرآن باندې به جوړو اوکه مونږ خپل اخلاق جوړو په قرآن باندې به جوړو اوداټول چې راجمع کړی نو سیاسی ژوندچې مونږه جوړو هغه د قرآن نه بغیر نه جوړیګی

قرآن دایو داسی جامع کتاب دی چې ده ژوند یوطرف ئی نه دی پریخودی په هرطرف باندې ده څه ناڅه رنړا غورزولی ده.

شیخ القرآن سره د خلقو دشمني د قرآن د وجې نه وه

زمونږ شیخ رحمه الله چې الله رب العزت په دی ملك کې پیدا کړواو بیا الله تعالی هغه لره د قرآن د خدمت توفیق ورکړو نو په ګنړو ځایونو کې به چې کله مناظری وی نو په هغی مناظرو کې به زمونږ هغه مهربانان چې هغه زمونږ د شیخ مخالفین وو هغوئ به صلاحګانی په دی باندې کولی چې ګوری چرته قرآن درنه او نه وائی دشمنی د هغوئ د قرآن سره وه

واقعه

په هوسی کې یو مناظره وه اودا ډیرپخوانی خبره ده حضرت شیخ رحمه الله وی هغه خان وی چې دا کسان د شپی راجمع شو نویو بل ته ئې وئیل چې خیال کوئی چې قرآن درنه او نه وائي او چې کله بحث شروع شو نو حضرت شیخ وی

هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ (١)

نو هغوئ چغې کړې چې قرآن ئې درنه ووي

دشمنی ده دی خلقو هم دقرآن سره وه او ده مکی د خلقو دشمنی هم د قرآن سره وه

١ - سورة البقرة (١١١)

د کافرو مطالبه

دا ده پخوانو کافرو مطالبه هم وه اس هم چې کله د کفر زور شوی دی تاسو ته پته شته چې په امریکه کې خلق او د امریکی حکومت هغوئ وائی چې په دی قرآن کې بعضی د شر سورتونه دی لکه انفال مائده توبه محمد دا تری لري کول غواړی.

هندوان راپاسیدل هغوئ وائی چې مونږ هندوان او مسلمانان په شریکه باندې راجمع کوو هندوانو په کتاب کې خو دومره غلطی خبری نه شته خو د مسلمانانو په کتاب کې د غیر قومونو ډیره بی عزتي ده چې داتری لری کړو

د دنیا نظامونه

زمونږ نه مخکې په دنیا کی یو څونظامونه وو یونظام په روس کی وو هغې ته به ئی سوشلزم وی یو نظام په چین کی دی او هغی ته کمیونزم وائی یونظام هغه د دنیا په بعضی حطو کې لګ لګ وو چې هغی ته اسلام او قرآن وائی اویو نظام دی چې هغه تقریبا ټوله دنیا ئی قبلوي هغی ته جمهوریت وائی جمهوریت اسلام قرآن کیمونزم او شوشلزم دا ټولی متضاد نظریي دی.

امریکی د روس خلاف کوو خو چې کله ئی روس توتی کړو او جمهوریت ئی پکې راوستو نن تاسو وینی چې امریکه د هغوئ امداد کوی

په افغانستان کی یو اسلامی حکومت راغلی وو امریکه په دی باندې نه پوهیګی چې په مسلمانانو کې دا کومه فرقه ده هغوئ

د اسلام د نوم خلاف دی هغوئ اولګیدل اوسوچ ئی وکړو چې دا نظام په دنیا کې کامیاب شو د هغوئ مخکې نمونی وی حضرت عمررضی الله عنه دا نظام قائم کړی وو او په دنیا کې امن راوستی وو هغوئ وائی که دانظام په دی ملك کې قائم شو نو مونږ نه پاتې کیږو نو هغوئ اولګیدل او افغانستان ئی دړی وړی کړو او جمهوریت ئې پکې راوستو اوس ورلره امداد ورکوی په چین کې چې کوم کسان د چین د حکومت په دی حیث باندې مخالف شی چې مونږ جمهوریت غواړو او چې هغو کله د چین نه وتختی نو پناه ورلره څوك ورکوی؟ امریکه ورلره پنا ورکوی اسلام دا یو داسی نظام دی چې دامونږ ته دنیاهم خائی او دین هم راته خائی اسلام دا یواځی د روژی او دمونځ نوم نه دی او دغه رنګی قرآن هم یواځې د مونځ د روژې او د اودس نوم نه دي قرآن اول د انسانانو عقیده هغه صحیح کوی او دعقیدی نه پس چې کله یوه معاشره جوړه شی بیا دهغه معاشری اصلاح کوی.

بخاری شریف کې او په نورو کتابونو کې صحیح احادیث دی نبی علیه السلام وائی د بنی اسرائیلو قیادت چې وو هغه د انبیاء په لاس کی وو.

حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ فُرَاتٍ القَزَّازِ، قَالَ سَمِعْتُ أَبَا حَازِمٍ، قَالَ قَاعَدْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ خَمْسَ سِنِينَ، فَسَمِعْتُهُ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ «كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمُ الأَنْبِيَاءُ، كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ، وَإِنَّهُ لاَ نَبِيَّ

بَعْدِي. وَسَيَكُونُ خُلَفَاءُ فَيَكْثُرُونَ» قَالُوا: فَمَا تَأْمُرُنَا؟ قَالَ «فُوا بِبَيْعَةِ الأَوَّلِ فَالأَوَّلِ. أَعْطُوهُمْ حَقَّهُمْ. فَإِنَّ اللَّهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُمْ»: (۱)

او سیاست دا د دي ټولو مجموعی ته وائی دعقیدی او معاشری اقتصاد او اخلاق او د دی ټولو مجموعی ته سیاست وائي د اسلام خپله سیاسی نظریه ده.

دارنګي ده قرآن هم خپله سیاسي نظریه ده نو نبی علیه السلام وائی إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَى إِلَيَّ (۲)

زه د هیڅ شي نه منم زه که منم نو ده قرآن به منم او د قرآن حکومت هغه ډیر پائیدار حکومت وي.

زما خپله داعقیده ده او انشاء الله العزیز چې په دې کې به ما سره ګنړ ملګری هم دی چې قرآن کومه نظریه پیش کړی ده او نبی علیه السلام کومه نظریه سیاسی عملی کړی ده د هغی نه بغیر د بندیګانو کامیابی نه شته.

د ابو بکر رضي الله عنه د انتخاب طریقه

د نبی علیه السلام په زمانه کې انتخابونه شوی وو خو سنګ شوی وو؟ چې نبی علیه السلام وفات کیدو.

حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ، قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي، قَالَ حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الأَسْوَدِ، قَالَ كُنَّا عِنْدَ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، فَذَكَرْنَا المُوَاظَبَةَ عَلَى الصَّلاَةِ وَالتَّعْظِيمَ لَهَا، قَالَتْ لَمَّا مَرِضَ

۱- صحیح البخاری (الطبعة الهندیة) جلد ۱ صفحه ۱۶۷۵ کتاب الوصایا
۲- سورة الأنعام(۵۰)

رَسُولُ اللّٰه صَلّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلّمَ مَرَضَهُ الّذي مَاتَ فيه فَحَضَرَ الصّلاَةُ، فَأُذّنَ فَقَالَ: «مُرُوا أَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلّ بالنّاس» فَقيلَ لَهُ إنّ أَبَا بَكْرٍ رَجُلٌ أَسيفٌ إذَا قَامَ في مَقَامكَ لَمْ يَسْتَطعْ أَنْ يُصَلّيَ بالنّاس، وَأَعَادَ فَأَعَادُوا لَهُ، فَأَعَادَ الثّالثَةَ، فَقَالَ: «إنّكُنّ صَوَاحبُ يُوسُفَ مُرُوا أَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلّ بالنّاس»، فَخَرَجَ أَبُو بَكْرٍ فَصَلّى فَوَجَدَ النّبيُّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلّمَ منْ نَفْسه خفّةً، فَخَرَجَ يُهَادَى بَيْنَ رَجُلَيْن، كَأَنّي أَنْظُرُ رجْلَيْه تَخُطّان منَ الوَجَع، فَأَرَادَ أَبُو بَكْرٍ أَنْ يَتَأَخّرَ، فَأَوْمَأَ إلَيْه النّبيُّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلّمَ أَنْ مَكَانَكَ، ثُمّ أُتيَ به حَتّى جَلَسَ إلَى جَنْبه. قيلَ للْأَعْمَش: وَكَانَ النّبيُّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلّمَ يُصَلّي وَأَبُوبَكْرٍ يُصَلّي بصَلاَته، وَالنّاسُ يُصَلّونَ بصَلاَة أَبي بَكْرٍ، فَقَالَ برَأْسه نَعَمْ رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ بَعْضَهُ، وَزَادَ أَبُو مُعَاوِيَةَ جَلَسَ عَنْ يَسَارِ أَبي بَكْرٍ، فَكَانَ أَبُو بَكْرٍ يُصَلّي قَائمًا: (۱)

د ابوبکررضی الله عنه په باره کې هغی اشارات اوکړه.

«مُرُوا أَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلّ بالنّاس»

د هغی نه پس په سقیفه دبنوساعده کې ټول انصار راجمع شوی وو ابوبکررضی الله تقریر اوکړو اوعمر رضی الله عنه پاسیدو او ورته ئی اووی

فَقُلْتُ ابْسُطْ يَدَكَ يَاأَبَابَكْرٍ فَبَسَطَهَا. فَبَايَعْتُهُ، وَبَايَعَهُ الْمُهَاجِرُونَ وَالْأَنْصَارُ.

لاس را اوگد کړه چې بیعت درسره اوکړم یوتن بیعت کړی وو او علماء ناست دی ټول زمونږ علماء لیکی که د حضرت عمر رضي

---

۱ - صحیح البخاری (الطبعة الهندیة) جلد ۱ صفحه ۲۰۶ کتاب بدء الوحي

الله عنه د دي فعل نه چا خلاف کړي وي نو هغه واجب القتل وو
یوتن انتخاب کړی ووخو که چا ئي خلاف کړي وي نو هغه واجب
القتل وو

د حضرت عمر رضي الله عنه د انتخاب طریقه

حضرت عمررضی الله عنه چې کله خلیفه کیدو هغی لپاره څه
طریقه وه ؟

حضرت ابو بکر رضي الله عنه د وفات په وخت کې ووئیل تاسو
باندې مي عمر خلیفه کړو حضرت ابوبکررضی الله عنه قول د
ټول امت لپاره دلیل وو عمر رضی الله عنه خلیفه شو چاپکې
خلاف نه دی کړی

عمر رضی الله عنه چې وفات کیدو نو په عشره مبشرو کې اتهـ ۸
کسان پاتی وو د هغوئی کمیټی ئی جوړه کړه او ورته وئي وئیل
چې خپل مینځ کې به یو تن اصلح اوګورئ او هغه به حاکم کړی
او امیر المومنین به ئی کړی اوکه دویم کس پاسیدو چې دی نه
زه نو فَاقْتُلُوهُ دحضرت عمر رضی الله عنه په دې کې یو خاص راز
وو چې هغه کسان چې نبی علیه السلام ورته په دنیا کې د جنت
زیري ورکړی دی که هغه هم دمسلمانانو دخلیفه خلاف وکړی
اوپاسی نو داواجب القتل دی

زه وایم علماء دی ده دین کتابونه ټول راواخلي او طبعی طریقی
ده دریو نه علاوه نوری په اسلام کې نه شته د انتخاب دپاره او

څلورم طریقه ده تفسیر قرطبی ذکر کړی ده او احکام سلطانی د ماوردی هم ذکر کړي ده.

امام غزالی دهغه یونری غوندی کتاب دی قواعد العقائد هغوی ذکر کړی دی چې څلورمه طریقه قصری چې یوسړی دی او هغه د خلافت او امارت اهل دی او په چاباندې حمله وکړه هغه سره بیعت کول واجب دی ده دی څلورو طریقو نه علاوه په اسلام کې نوری نه شته.

مونږ داسلام طریقی پریخودی او نن مونږ دکفرتابع شوی یو نبی علیه السلام ته الله تعالی وائی په شیأ قلیلا کې تا نورو قومونو ته میلان قدری وکړو په دنیابه هم دوچند عذاب او په مرګ هم دوچند عذاب درکړم او خلافت نصب وامام دا داهمومسائلو نه دي په دې کې مونږه ده نورو خلقو تابع یو د دي وجه څه ده؟ زمونږ سره دقرآن اهمیت نه شته.

قرآن د عزت کتاب دي

چې کوم سړی ذلیله وی او دا قرآن واخلی نو دا قرآن هغه لره عزت ورکوی سورة ابراهیم کې الله تعالی فرمائی

كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَى صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ: (۱)

ترجمه: یو عظیم کتاب دی تنوین د تعظیم پاره دي د د عظمت اول دلیل ماتاته رالیږلی دی خط ده دی قدر دایاپه اعتبارد

---

۱ - سورة ابراهیم (۱)

لیکونکی سره وی او یاپه اعتبار دمرسل الیه سره وی چالره چې خط لیکی:

گورنر سړی څه خط راولیږي هغه په مجلس کې چې کینی وائی یره ماته گورنر صاحب داخط رالیږلی دی خلکو ته داخائی چې زه لوئی سړی یم کله کله یو سړی گورنرته خط ولیکی نو چې په مجلس کې کینی نو وائی گورنر ته می داخط لیکلی دی خپله لوئی بیانوی پری الله رب العزت وائی دا داسی خط دی أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ رالیږلی رب العالمین او رالیږلی ئی رحمت للعلمین ته او بیا داسی کتاب چې د ټول عالم دپاره دی:

شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ (۱)

دټولی دنیا هدایت هغه په دی کتاب کې دی او جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم کړی چې دا قرآن دنیا ته اورسوئ کار یی دادی چې:

لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ (۲) خلق به اوباسئ د تیرو نه رنړاته.

حدیث کې رازی:

أَخْبَرَنَا الْحَكَمُ بْنُ نَافِعٍ. عَنْ شُعَيْبِ بْنِ أَبِي حَمْزَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ. حَدَّثَنِي عَامِرُ بْنُ وَاثِلَةَ أَنَّ نَافِعَ بْنَ عَبْدِ الْحَارِثِ لَقِيَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ بِعُسْفَانَ، وَكَانَ عُمَرُ اسْتَعْمَلَهُ عَلَى أَهْلِ مَكَّةَ، فَسَلَّمَ عَلَى عُمَرَ،

---

۱ سورة البقرة (۱۸۵)

۲ سورة ابراهیم (۱)

فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: مَنِ اسْتَخْلَفْتَ عَلَى أَهْلِ الْوَادِي؟ فَقَالَ نَافِعٌ: اسْتَخْلَفْتُ عَلَيْهِمْ ابْنَ أَبْزَى. فَقَالَ عُمَرُ: وَمَنْ ابْنُ أَبْزَى؟ فَقَالَ: مَوْلًى مِنْ مَوَالِينَا. فَقَالَ عُمَرُ: فَاسْتَخْلَفْتَ عَلَيْهِمْ مَوْلًى؟ فَقَالَ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ إِنَّهُ قَارِئٌ لِكِتَابِ اللَّهِ، عَالِمٌ بِالْفَرَائِضِ. فَقَالَ عُمَرُ: أَمَا إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ قَالَ: «إِنَّ اللَّهَ يَرْفَعُ بِهَذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا، وَيَضَعُ بِهِ آخَرِينَ» [تعليق المحقق] إسناده صحيح. (۱)

عمر رضی الله عنه حج لره راغلی وو کوفه کې دهغه څوك گورنر وو هغه ئی اولیدو تپوس ئی تری وکړو څوك دی هلته نائب کړي دي؟ هغه ورته ووئیل زما یو غلام دي هغه ورته غصه شو چې غلام په اصحابو باندې حاکم کول؟ هغه ورته په معصومانه انداز کې وائی چې جناب هغه سړی په قرآن ښه پوهیدو عمر رضی الله عنه ورته وائی:

خبردار ستاسو پیغمبر صلی الله علیه وسلم وئیلي دی په دی قرآن باندې الله تعالی ډیر قومونه معزز کوی او ډیر قومونه چې د دی قرآن نه مخ واړوی هغه ذلیل کوی:

يُضِلُّ بِهِ كَثِيرًا وَيَهْدِي بِهِ كَثِيرًا وَمَا يُضِلُّ بِهِ إِلَّا الْفَاسِقِينَ. (۲)

د مسلمانانو ده دعوت کتاب هغه هم قرآن دی

اقبال وائی:

تونمي دانی که آئینی تو چیست زیر گردد و سرتمکین توچیست

---

۱ - السنن الکبری للبیهقی جلد ۲ صفحه ۸۹ باب إمامة الموالی

۲ - سورة البقرة (۲٦)

ترجمه: ستا ته پته شته چې ستا قانون څه دی ؟ او د اسمان لاندی چې الله تعالی ته آباد کړی ستا ده دی آبادولو مقصد څه دی ؟

آن کتاب زنده قرآن حکیم

حکمت اولایزال است قدیم

ترجمه: هغه کتاب چې هغه ژوندی کتاب دی چې په خلقو کې ژوند راولی ده دی حکمت به همیشه وی او انقلاب سنګه راولی؟

رهزنا از حفظ او رهبرشدن

واز کتاب صاحب دفترشدن

ترجمه: غلو چې کله دا کتاب لاس ته کړی دی غله ده دی کتاب دوجی نه ده دنیا راهبران جوړ شوی

هغه حدیث به ستاسو اوریدلی وی چې نبی علیه السلام د اسلام برکات بیان ول وئې فرمائیل:

حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا بَيَانٌ وَإِسْمَاعِيلُ قَالَا سَمِعْنَا قَيْسًا يَقُولُ سَمِعْتُ خَبَّابًا يَقُولُ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُتَوَسِّدٌ بُرْدَةً (بُرْدَهُ) وَهُوَ فِي ظِلِّ الْكَعْبَةِ وَقَدْ لَقِينَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ شِدَّةً فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلَا تَدْعُو اللَّهَ فَقَعَدَ وَهُوَ مُحْمَرٌّ وَجْهُهُ فَقَالَ لَقَدْ كَانَ مَنْ قَبْلَكُمْ لَيُمْشَطُ بِمِشَاطِ (بِأَمْشَاطِ) الْحَدِيدِ مَا دُونَ عِظَامِهِ مِنْ لَحْمٍ أَوْ عَصَبٍ مَا يَصْرِفُهُ (يَصْرِفُ) ذَلِكَ عَنْ دِينِهِ وَيُوضَعُ الْمِنْشَارُ عَلَى مَفْرِقِ رَأْسِهِ فَيُشَقُّ بِاثْنَيْنِ مَا يَصْرِفُهُ ذَلِكَ عَنْ دِينِهِ وَلَيُتِمَّنَّ اللَّهُ هَذَا الْأَمْرَ حَتَّى يَسِيرَ الرَّاكِبُ مِنْ صَنْعَاءَ إِلَى حَضْرَمَوْتَ مَا يَخَافُ إِلَّا اللَّهَ زَادَ بَيَانٌ وَالذِّئْبَ عَلَى غَنَمِهِ: (۱)

۱ صحیح البخاری (الطبعة الهندیة) جلد ۱ صفحه ۱۸۶۹ کتاب فضائل أصحاب النبی صلی الله علیه وسلم

چې کله قرآن خلق اومنی نو د صفا د یمن نه به یوه جینئ رارواته وي او د کالو به ډکه وی اوك یوازی به وی او مکی ته به رازی او هیڅ څوك به هغی ته نه گوری.

عدی بن حاتم پاسی او وائی یارسول الله چې ده طئ قبیلی هغه ډاکوان به چرته وی ؟ نبی علیه السلام ورته وئی هغه ډاکوان په الله تعالی د خلقو محافظین جوړ کړی وی او عدی ابن حاتم وائی چې یوه زنانه رارواته وه د عمر رضی الله عنه دور وو په اوښ باندې سوره وه او د کالو ډکه وه زه لاړم مائی اوښ انیوماورته وئی من این جئت ؟ دکوم ځائی نه راغلی هغی راته وئی من صنعاء ماورته وی این تریدین ؟چرته ځی هغی راته وی الی مکة المکرمه هغه بنځه را روا نه شوی وه چا ورته پورته نه شو کتلی دا ده قرآن برکات دی علامه وائی

رهزنا ازحفظ او رهبر شدن و از کتاب صاحب دفتر شدن

ترجمه: غله ده دی قرآن د وجی نه د دنیاراهبران جوړ شوی او د ي کتاب د وجی نه هغوئی ده دنیاکتابونه لیکلی دی.

گرتو می خواهی مسلمان زیستن نیست ممکن جز به قرآن زیستن

ترجمه: که چری دادی خوخه وی چې ما ژوند د مسلمان تیر کړی نو د قرآن نه بغیر د اسلام ژوند نه شی تیرولی

پیش قرآن بنده و مولی یکیست بوریا و مسند دیبا یکیست

ترجمه: د قرآن په وړاندی مال څه قدر نه شته د قرآن په وړاندی د مولی او آقا یو حیثیت دی دا عظیم کتاب دی

د طالب او د عالم مقام

الله تعالی ستاسو په دی کلی باندې عظیم رحمت دی سوچ وکړئ چې چا سره د قرآن مناسبت راغلی دی هغی کې څه غورواله راوستی دی د قرآن ده استاذ په باره کې ډی څه خیال دی ؟ او دطالب په باره کې دی څه خیال دی ؟

د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روایت دی هغه فرمائی

وفي رواية في الجامع الكبير من غير عزو بلفظ أغد عالما أو متعلما أو مستمعا ولا تكن الرابعة فتهلك والمشهور على الألسنة كن عالما أو متعلما أو مستمعا ولا تكن الرابعة فتهلك (۱)

یا د قرآن استاذ شه او یا دقرآن طالب شه او یا د قرآن د استاذ او د طالب امدادی شه او که څلورم شوی نو تباه به شی.

د قرآن داستاذ او دطالب په باره کې نبی علیه السلام فرمائی:

حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَد حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰه بْنُ دَاوُدَ سَمِعْتُ عَاصِمَ بْنَ رَجَاء بْنِ حَيْوَةَ يُحَدِّثُ عَنْ دَاوُدَ بْنِ جَمِيل عَنْ كَثِيرِ بْنِ قَيْس قَالَ كُنْتُ جَالِسًا مَعَ أَبِي الدَّرْدَاء فِي مَسْجِد دِمَشْقَ فَجَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ يَا أَبَا الدَّرْدَاء إِنِّي جِئْتُكَ مِنْ مَدِينَةِ الرَّسُولِ صلى الله عليه وسلم لِحَدِيثٍ بَلَغَنِي أَنَّكَ تُحَدِّثُهُ عَنْ رَسُولِ اللّٰه صلى الله عليه وسلم مَا جِئْتُ لِحَاجَةٍ قَالَ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰه صلى الله عليه وسلم يَقُولُ « مَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَطْلُبُ فِيهِ عِلْمًا سَلَكَ اللّٰهُ بِهِ طَرِيقًا مِنْ طُرُقِ الْجَنَّةِ وَإِنَّ الْمَلاَئِكَةَ لَتَضَعُ أَجْنِحَتَهَا رِضًا لِطَالِبِ الْعِلْمِ وَإِنَّ الْعَالِمَ لَيَسْتَغْفِرُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَوَاتِ وَمَنْ فِي الأَرْضِ وَالْحِيتَانُ فِي جَوْفِ الْمَاءِ وَإِنَّ فَضْلَ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ عَلَى

۱- کشف الخفاء ومزیل الالتباس جلد ۱ صفحه ۲۴۹

سَائِرِ الْكَوَاكِبِ وَإِنَّ الْعُلَمَاءَ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ وَإِنَّ الْأَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوا دِينَارًا وَلَا دِرْهَمًا وَرَّثُوا الْعِلْمَ فَمَنْ أَخَذَهُ أَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ»: (۱)

د قرآن ده طالب لپاره ملا ئکی خپلی وزری غوړوی دقرآن د استاذ لپاره اسمانونو واله او زمکی واله بخنه غواړی تردی پوری چې دسمندر مهیان هم هغی له بخنه غواړی

پنځهٔ عقیدې

دوه سورتونه چې دی دادحفاظت سورتونه دی اوده دی نه مخکې چې د دي لپاره کوم سورت دي په دی کې الله پنځه عقیدی بیان کړی دی الله تعالی فرمائی:

قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ (۱) اووایه زما پیغمبره الله تعالی یو دی یو خوزه هم یم او دی هم دی سنګه یو دي الله دویمه عقیده اللّٰهُ الصَّمَدُ (۲) الله تعالی داسی یو دی چې هرچا حاجتونه پوره کوی او زه داسی یو یم چې ټول عمر محتاجه یم کله کله دیوسړی کورته سړی لاړشی او هغه ورته څه پیسی ورکړی الله تعالی وائی لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ (۳) زه ګوری داسی حاجت سرکونکی نه یم چې ځامنو ته محتاجه نه یم دا دریمه عقیده کله کله یوسړی مال په خپله نه وی ګټلی د پلار نه ورته پاتی شوی وی الله تعالی وائی وَلَمْ يُولَدْ (۳) زه ګوري د چا څوئ نه یم او نه راته مال د چانه پاتی شوی او کله کله یو سړی داسی یو وي چې په دنیا کې د هغه مثال وی الله تعالی وائی وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ (٤) الله تعالی وائی زما مثل

۱ سنن ابی داود محقق وبتعلیق الالبانی جلد ۲ صفحه ۳۵٤ باب الحث علی طلب العلم

سَائِرِ الْكَوَاكِبِ وَإِنَّ الْعُلَمَاءَ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ وَإِنَّ الْأَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوا دِينَارًا وَلَا دِرْهَمًا وَرَّثُوا الْعِلْمَ فَمَنْ أَخَذَهُ أَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ»: (۱)

د قرآن ده طالب لپاره ملا ئکی خپلی وزری غوړوی دقرآن د استاذ لپاره اسمانونو واله او زمکی واله بخنه غواړی تردی پوری چې دسمندر مهیان هم هغی له بخنه غواړی

پنځهٔ عقیدې

دوه سورتونه چې دی دادحفاظت سورتونه دی اوده دی نه مخکې چې د دي لپاره کوم سورت دي په دی کې الله پنځه عقیدی بیان کړی دی الله تعالی فرمائی:

قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ (۱) اووایه زما پیغمبره الله تعالی یو دی یو خوزه هم یم او دی هم دی سنګه یو دي الله دویمه عقیده اللّٰهُ الصَّمَدُ (۲) الله تعالی داسی یو دی چې هرچا حاجتونه پوره کوی او زه داسی یو یم چې ټول عمر محتاجه یم کله کله دیوسړی کورته سړی لاړشی او هغه ورته څه پیسی ورکړی الله تعالی وائی لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ (۳) زه ګوری داسی حاجت سرکونکی نه یم چې ځامنو ته محتاجه نه یم دا دریمه عقیده کله کله یوسړی مال په خپله نه وی ګټلی د پلار نه ورته پاتی شوی وی الله تعالی وائی وَلَمْ يُولَدْ (۳) زه ګوري د چا څوئ نه یم او نه راته مال د چانه پاتی شوی او کله کله یو سړی داسی یو وي چې په دنیا کې د هغه مثال وی الله تعالی وائی وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ (٤) الله تعالی وائی زما مثل

۱ سنن ابی داود محقق وبتعلیق الالبانی جلد ۲ صفحه ۳۵٤ باب الحث علی طلب العلم

نه شته دغسی یو یم الله رب العزت یو دی خو سنگه یو دی
داسی یودی چې ده ټولی دنیا حاجتونه سرکوی.

انبیاء ټول الله ته محتاج وو

د نوح علیه السلام حاجت پیښ شوی وو په طوفان کې کشتی روا
نه وه الله تعالی وائی:

وَنُوحًا إِذْ نَادَى مِنْ قَبْلُ فَاسْتَجَبْنَا لَهُ فَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ (۱)

نوح علیه السلام الله تعالی ته آواز وکړو الله تعالی وائی ما
خلاص کړو.

ده ایوب علیه السلام حاجت پیښ شوی وو ټول بدن ئی دانه شوی
وو الله تعالی وائی:

وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَى رَبَّهُ أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ (۲)

ترجمه: ایوب علیه السلام چې کله الله تعالی ته عاجزی وکړه وې الله
تعالی مرض راباندې دی جوړ می کړی الله تعالی وائی ماجوړ کړو.

یونس علیه السلام ده هغه حاجت پیښ شوی وو دسمندر په ویخ کې
د مهی گیډه کې پروت ووالله تعالی وائی چې کله ئی ماته چغه کړه:

وَذَا النُّونِ إِذْ ذَهَبَ مُغَاضِبًا فَظَنَّ أَنْ لَنْ نَقْدِرَ عَلَيْهِ فَنَادَى فِي الظُّلُمَاتِ أَنْ
لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَنَجَّيْنَاهُ
مِنَ الْغَمِّ وَكَذَلِكَ نُنْجِي الْمُؤْمِنِينَ (۳)

---

۱ سورة الأنبياء (۷۶)
۲ سورة الأنبياء (۸۳)
۳ سورة الأنبياء (۸۷) (۸۸)

د هغهٔ دعا می قبوله کړه او د مصیبت نه می خلاص کو سورهٔ الانبیاء اوګورئ دغه ځائی مطلق دی سوال پیدا کیږي چې الله تعالی یونس علیه السلام دی پیغمبروو هغه دی خلاص کړو او که نه ټول به خلاصوی؟

الله تعالی وائی وَكَذَٰلِكَ نُنْجِي الْمُؤْمِنِينَ په ماباندې د چاایمان وی هغه به خلاصوم

حضرت زکریا علیه السلام د هغه حاجت پیخ شوی وو ځوئی ته الله تعالی وائی ما ورلره زوئی ورکړو

اللّٰهُ الصَّمَدُ الله تعالی وائی زه حاجتونه سرکوم اوسنګه حاجتونه سرکوم

قُلِ اللّٰهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَاءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ إِنَّكَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ: (۱)

ووایه الله تعالی ته ده ټول کائنات بادشاه ئی چالره بادشاهی وکړی اوده چانه ئی اخلی وَتُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ څوك په کلی کې ډیر د لوئی عزت واله وی او چې کله الله تعالی یو مؤحد راولی او د هغی هغه عزت ختم کړی او الله تعالی ده لره عزت ورکړی

شیخ القرآن پیندئ او بیان د توحید

زمونږ شیخ غلام الله خان تقریر وو ملیانو وی ده لره ده توحید نه بغیر بله مسئله نه ورځی هغه لره موضوع ورکړه په ختم نبوت باندې شیخ غلام الله خان دری ګهنټی په ختم نبوت باندې بیان وکړو بیائی وی تھوڑاسا توحید پر بھی بولے دو دا توحید الله تعالی زمونږ

۱ سورهٔ آل عمران (۲۶)

نصیب کړي ده بیا ئی په توحید باندې ګهنټه تقریر اوکړو بیائی خلقو ته ئي ووئیل دا مه وائی چې غلام الله لره بغیرد توحید نه نور سۀ نه ورزی

عزت او ذلت د الله په لاس کې دي

الله رب العزت عزت ورکوی او ذلت ورکوی او الله تعالی وائی بِيَدِكَ الْخَيْرُ تاسو دا کوم بوډاګان بوډاګان چې پکې دي د طالبانو نه علاوه ستاسو مشرانو چې به تاسو ته مونځ اوښودو نو د مانځه نه پس به ئي درته وئي د خپو دعا هم زده کې نو د خپو په دعا کې تاسو ته خودلي وو:

والقدر خیره وشره من الله تعالی والبعث بعدالموت

تقدیر که تاته خیر در رسي او که شر در رسي دا د الله د طرف نه دي بیامولیان راغله او امیان شیطان دوکه کړه نو امیانو وي دا مړ ولی چې دی دی سړی لره بچی ورکوی او د فلانی په قبرکه دي توپك په اوږه باندې ورو نو د راغوزوي ئي درنه اوفلانی ځائی که دی لخته را ماته کړه نو دشپی دي وجنی او دا خبره تری هیره وه چې

«اَلْاِيْمَانُ اَنْ تُؤْمِنَ بِاللّٰهِ وَمَلَائِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْقَدَرِ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ»

حدیث جبرئیل علیه السلام تفصیل

چې کله قرآن مکمل شو الله تعالی جبرائیل علیه السلام راولیږو خو په دغه موقع کې جبرائیل علیه السلام نبی علیه السلام نه

وو پیژندلی تقریبا ډېر پنځه صحابو نه دا روایت نقل دی په نسائی کې چې د ابوسعید خدری رضی الله عنه کوم روایت دی دغه حدیث د جبرائیل علیه السلام هغه وائی:

أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْحَافِظُ، أنبأ أَبُو بَكْرِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَمْدَانَ الصَّيْرَفِيُّ بِمَرْوٍ، ثنا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ الْفَضْلِ الْبَلْخِيُّ، ثنا عَبْدُ اللهِ بْنُ يَزِيدَ الْمُقْرِئُ، ثنا كَهْمَسُ بْنُ الْحَسَنِ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ بُرَيْدَةَ يُحَدِّثُ عَنْ يَحْيَى بْنِ يَعْمَرَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عنه قَالَ حَدَّثَنِي عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عنه قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ إِذْ طَلَعَ رَجُلٌ شَدِيدُ بَيَاضِ الثِّيَابِ شَدِيدُ سَوَادِ الشَّعْرِ لَا يُرَى عَلَيْهِ أَثَرُ السَّفَرِ وَلَا نَعْرِفُهُ حَتَّى جَلَسَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْنَدَ رُكْبَتَهُ إِلَى رُكْبَتِهِ وَوَضَعَ كَفَّيْهِ عَلَى فَخِذَيْهِ ثُمَّ قَالَ: يَا مُحَمَّدُ أَخْبِرْنِي عَنِ الْإِسْلَامِ، مَا الْإِسْلَامُ؟ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْإِسْلَامُ أَنْ تَشْهَدَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ وَتُقِيمَ الصَّلَاةَ وَتُؤْتِيَ الزَّكَاةَ وَتَصُومَ رَمَضَانَ وَتَحُجَّ الْبَيْتَ إِنِ اسْتَطَعْتَ السَّبِيلَ، فَقَالَ الرَّجُلُ: صَدَقْتَ" فَذَكَرَ الْحَدِيثَ بِطُولِهِ، قَالَ: ثُمَّ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا عُمَرُ أَتَدْرِي مَنِ السَّائِلُ؟" قُلْتُ: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: "ذَاكَ جِبْرَائِيلُ أَتَاكُمْ يُعَلِّمُكُمْ دِينَكُمْ": (۱)

دغه سړی راغی دوه سلامه ئی اوکړه یو ئی عام سلام اوکه او بل ئې په نبی علیه السلام باندې اوکړه او بیا راغی د نبی علیه السلام په خوا کې کیناسته او تپوسونه ئی اوکړه اورد حدیث دی

۱ - السنن الکبری للبیهقی جلد ۱ صفحه ۳۲۴ باب إثبات فرض الحج علی من استطاع إلیه سبیلا

خو په تپوسونو کې یوتپوس ئې دا کړی وو چې ایمان څه ته وائی؟ د ایمان تفصیلات ورته نبی علیه السلام بیان کړل ورته ئې وی ایمان دې ته وائی چې خیر اوشر به دا الله تعالی نه گنې معلومه دا شوه چې کوم سړی خپل خیراو شر د الله نه علاوه د بل چانه اوګنړو دامسلمان نه دی داد قرآن د ختمیدو نه وروستو دا ده نبی علیه السلام په اخری عمر کې راغلی وو جبرائیل او بیا د عمر رضی الله عنه هغه روایت دی نبی علیه السلام یو څو ورځی پس د عمر نه تپوس اوکړو "يَا عُمَرُ أَتَدْرِي مَنِ السَّائِلُ؟ وی ورته پته درته شته دا سړی څوك وو؟ هغه ورته وی "اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ نبی علیه السلام ورته وی "ذَاكَ جَبْرَائِيلُ أَتَاكُمْ يُعَلِّمُكُمْ دِينَكُمْ" دا جبرائیل علیه السلام وو.

د ابو سعید خدری روایت دی په هغی کې نبی علیه السلام وائی چې دی زمانه چری نه وو خطاء شوی په دی پیره زمانه خطاء شوی وو داولی؟ ځکه الله تعالی دنیا ته دا خودله چې نبی په غیب باندې نه پوهیگی جبرئیل علیه السلام مخامخ راځي او جناب رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې پیژني نه.

جبرائیل علیه السلام دا خبره کړی وه په آخری پیره باندې کله چې د قرآن هغه نچوړ او خلاصه هغه ئې پیش کوله:

أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ (۱)

۱- مسند احمد بن حنبل جلد ۱ صفحه ۲۸ (مسند عمر بن الخطاب رضي الله عنه)

د غير الله نه نفع او نقصان ګڼل دا کفر دي مونږ وايو چې څوك ده غير الله نه خپل خير اوشرګڼي دا ده سره مسلمان نه دی دا مونږ نه وايو دا خو زړه عقيده د څوارلس سوه کالو او د دی خلقو هم عقيده وه خودوی پټه کړه په خولی باندې وائی چې وَالْقَدَرِ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ مِنَ اللّٰهِ خو مني ئي نه يو سړی طوطيان ساتلی وه او ورته ئی دا خودلی وو چې: ہم اڑھنے والے پرندے ہیں شکاری کی جال میں نہیں آئیں گے

مونږ الوتونکي مرغئ يو د ښکاري په جال کې به نه نخلو او چې کله ئی پريخودی نو د ښکاري په جال کې انختي وي او چغي ئي وهلي چې مونږ ازادي مرغئ يو د ښکاري په جال کی به نه انخلو او بيا هم دغه الفاظ ئی وی:

دوئ وَالْقَدَرِ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ مِنَ اللّٰهِ وائي او مني ئي نه.

د نيو ټاون واقعه

زه کراچي ته تلي وم د نيو ټاون مدرسي ته دوره حديث کې ځما يو شاګرد وو زه چې لاړم نو هغه شاګرد ماته وئيل چې دا طالبان څه ټپوسونه کول غواړي ما ورته ووئيل صحيح ده طالبان چې کله راجمع شو نو د هغوئی دوه ټپوسونه وو وئيل ئی د نبي عليه السلام د ژوند په باره کې تاسو څه وائي؟ ما ورته وئيل دا خبره يوي مقدمي ته مختاجه ده هغه مقدمه ستاسو حل کړئ اومسئله به درته زه حل کړم نو هغوئ وي صحيح ده نو ما ورته وي چې نبي عليه السلام ته نبوت څو کاله پس ملاو شوي وو؟ نو هغوئ وئيل څلويښت کاله پس ما ورته وئيل د نبوت نه پس ئي په مکه

کې سومره وخت تیر کړي وو؟ وئیل دیارلس کاله ما ورته ووئیل
ټول سومره شول ؟ وئیل دري پنځوس ما ورته ووئیل بیا څه چل
وشو ؟ وئیل بیا ئي مدیني ته هجرت وکړو ما ورته وئیل مدینی
کې ئی سومره عمر تیر کړي وو؟ وئیل لس کاله ما ورته ووئیل
ټول سومره عمر شو؟ وئیل دري شپیته کاله ما ورته ووئیل بیا
څه چل وشو؟ وئیل مړ شو نو ما ورته وئیل زمونږ هم دغه عقیده
ده بیا ورته ما وئیل چې تاسو پاؤ کم مولیان ئي ځکه چې اخیري
کال مو دي کال پس به د قوم مقتدا ګان جوړیږئ چې د قرآن د یو
ایت نه څوک منکر شي کافر دي که مسلمان ؟ وئیل ئي کافر دي
نو ما ورته ووئیل قرآن کې الله وائي:

وَمَا جَعَلْنَاهُمْ جَسَدًا لَا يَأْكُلُونَ الطَّعَامَ وَمَا كَانُوا خَالِدِينَ: (۱)

نو په دي کې مي ورته یوه نکته بیان کړه چې الله وائي
وَمَا جَعَلْنَاهُمْ جَسَدًا نو معلومه دا شوه چې جسد دوه قسمه دي یو
هغه جسد دي چې لَا يَأْكُلُونَ الطَّعَامَ دویمه هغه جسد دي چې
يَأْكُلُونَ الطَّعَامَ نو چې کوم جسد ډوډئ نه خوري نو ظاهر لباده د
بنده وي خو دننه نور وي لکه فرشتي ځکه ابراهیم علیه السلام
له فرشتي راغلي وي د بندیانو په شکل کې هغه ورله سخي
وریت کړي راوړو خو هغوئي نه خوړو.
نو معلومه دا شوه چې کوم بنده هغه خوراک نه کوي هغه په شکل
د بنده وي خو حقیقت کې بنده نه وي دننه نور وي خو د
پیغمبرانو باره کې الله فرمائي چې:

۱- سورة الانبیاء (۸)

وَمَا جَعَلْنَاهُمْ جَسَدًا لَا يَأْكُلُونَ الطَّعَامَ وَمَا كَانُوا خَالِدِينَ: (١)
ځکه دوه ځایه الله فرمائي چې سومره انبیاء راليږلي وو نو
وَمَا أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنَ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا إِنَّهُمْ لَيَأْكُلُونَ الطَّعَامَ وَيَمْشُونَ فِي الْأَسْوَاقِ
وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ لِبَعْضٍ فِتْنَةً أَتَصْبِرُونَ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيرًا: (٢)
نو قرآن صافه دا خبره وکړه چې انبیاء نور نه دي بلکه بشر دي
ځکه نور خوراک نه کوي اوانبیاو خوراک کوو بیا ورته ما وئیل
تاسو به په ترمذي کې د حضرت عکراش رضي الله عنه حدیث
لوستلي وي نبي علیه السلام ناست دي ډوډئ خوري د خپلي
مخي نه او حضرت عکراش کله د یو ځائ نه او کله د بل ځائ نه
الخ ـ نو نبي خوراک کړي و بیا ورته ما وئیل تاسو هم د نور او د
بشر رد کوئ او مونږ ئي هم کوو.
الله وائي عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ: (٣)
داځکه وائي چې کله کله انبیاء په مشاهده باندې هم نه پوهیږي
په سترګو ملائک ویني او پیژني ئي نه.

د عقیدې خلاصت

عقیده چې کله بیان شوه چې خیر او شر د الله تعالی په لاس کې
دي اولاد ورکول د الله په لاس کې دي:
يَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ إِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ الذُّكُورَ أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَاثًا
وَيَجْعَلُ مَنْ يَشَاءُ عَقِيمًا إِنَّهُ عَلِيمٌ قَدِيرٌ: (٤)

---

١ ـ سورة الأنبياء (٨)
٢ ـ سورة الفرقان (٢٠)
٣ ـ سورة الأنعام (٧٣)
٤ ـ سورة الشورى (٤٩ ـ ٥٠)

چا له لونړه ورکوي چاله ځامن ورکوي او چا له برغ برغ ورکوي او ده چا نه د فوما توت جوړ کړي یو هم نه ورکوي دا کار د الله رب العزت دي دا عقیده د حفاظت عقیده ده دا عقیده به ستا څوك بدلوئی؟ دا چې سحر پاسی خلق به درپسی راشی اوستادا عقیده به بدلوئی قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ته پناه اوغواړه چې الله تعالی ته د صبا رب ئی او صبا کی چې دا خلق زما پسی راځی او عقیده رالره بدلوئی الله تعالی زه ستا په پناه کې راځم هسی نه دا خلق می چرته دهوکه نه کړی او الله تعالی چې څوك راپسی راځی دا ټول ستا پیدا کړی او ته په دی ټولو باندې زوره ور ئی مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ او الله کله کله خلق په تیاره کې په سړی پسی ځی وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ تیاره چې کله خوره شی الله ده هغی د شر نه مو وساتي او ځما د پنج پیري عقیده ده ځکه دلته پنځه عقیدي ذکر کله کله به خلق په تا پسی غوتې کوی وَمِن شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ هغه څوك چې په غوټو کې پوکی کوی الله د هغوئ د شر نه می اوساتی وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ کله کله به خپل ملګری وی خو ستاسره به په دی باندې حسد کوی چې د شاه زمین مولانا صاحب دادومره لویه مدرسه ولی ده الله تعالی د حسد ګر د حسد نه می اوساتی:

انسان چې کله یو شی جوړ کړی نو کله کله چې ئې جوړ کړي نو ساتلی ئې د ځان سره نه شي جاپان ګاړی جوړ کړی دی خو ساتلی ئې نه شی او په خپل کارئی نه راولی الله تعالی به دویم سورة کې

وائی سورة الناس کې قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ اووایه زه په هغه رب باندې پناه غواړم چې هغه دټولو خلقو رب دی:
الله انسانان پیدا کړی دی او تربیت ئی کوی الله تعالی وائی مَلِكِ النَّاسِ خلق می پیدا کړی دی خودا په چاباندې خرڅوم نه ده دی خلقو بادشاه زه یم إِلَهِ النَّاسِ داخلق دوی زمانه بغیرهم څه کار نه شی کولی زه ده دوی اله یم ته ووایه ده هغه رب پناه غواړم چې په پیداکولو کې هغی ته محتاج په بقاء کې هغه ته محتاج او په پناه کې هغه ته محتاج مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ د شر د وسوسی اچونکی نه او هغه وسوسی اچونکی چې هغه پټ رازی کله بنده وي او کله پیری (جن) الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ وی او بیا د خلقو په سینو کې وسوسه اچوی ځکه عقیده په سینه کې وی څوك وی مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ یاپیری وی او یا بنده داده دی عقیدی د حفاظت دپاره الله تعالی د حرز یعني د پناه ځای اخودو.

پنځ پیرئ عقیده

په قرآن کې دا پنځ پیرئ عقیده ډیري زیاتي دي یو عقیده پنځ پیرئ دلته ذکرشوه یو عقیده پنځ پیرئ درته بله ښایم سورة آل عمران کې الله رب العزت مونږ ته یوه عقیده ښائي پنځه اوصاف ذکر کوي الله فرمائي:

الصَّابِرِينَ وَالصَّادِقِينَ وَالْقَانِتِينَ وَالْمُنْفِقِينَ وَالْمُسْتَغْفِرِينَ بِالْأَسْحَارِ: (۱)

---

۱ سورة آل عمران (۱۷)

د الله د نیکانو بندیانو صفت دا دي چې هغوئ به صبر کوي الصّابرینَ د الله تعالی د نیکانو بندیانو صفت دا دی چې هغوئ به صبر کوی وَالصّادِقِینَ او کاری دا دی چې دروغ به نه وائی (والصادقین عند البیان) کله چې مسئله بیانوي صافه خبره کوی د چا نه نه یریگی وَالْقَانِتِینَ اوپه خپله هم په مسئله باندې عمل کوی د الله تابعدار وي وَالْمُنْفِقِینَ او بیا دی په دی مسئله باندې خرچ هم کوی.

انشاء الله کوم کسان چې د بیان واله دی هغوئ به بیان کوی او څوك چې خرچ واله دی هغوئ به خرچ کوی.

وَالْمُسْتَغْفِرِینَ بِالْأَسْحَارِ او پنځم دادی چې صبا په وخت کې پاسی او د الله تعالی نه بخنه غواړی.

قاعده دا ده چې کله یو کار ختمیگی په هغی کې استغفاروئیل پکار وي مونځ چې ختم شي نو سنت طریقه د پیغمبر دا ده چې استغفار به ئي وئیلو دري ځله به ئي ځکه وئیلو چې زماني دري دي اوچې کله وفات کیدو الله رب العزت ورته وائی:

فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنه كَانَ تَوَّابًا: (۱)

د صبر اقسام

صبرپه دوه قسمه دی یو هغه چې سړی ته ناسپی تکلیف راشی او صبر پری اوکړی الله تعالی ورلره اجر ورکوی خولوئی اجر الله تعالی په دی با ندی ورکوی چې ته دالله تعالی دین بیان کړی او

---

۱ سورة النصر (۳)

تاته پری تکلیفونه در اورسی اوته پری صبر اوکړی دغه ورمبی قسم صبر چې سړی اوکړی الله تعالی ورلره دکور مشری ورکوی یوسف علیه السلام په دی ورمبی قسم باندی صبر کړی وو مصر بادشاه ئی کړو او په دوئم قسم باندې صبراوکړی دې الله د عالم مقتداء کړی ابراهیم علیه السلام ته اوګوره.

وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِي قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ (۱)

د ټولی دنیا مقتداء ئی کړو زمونږ شیخ ته اګوره چې چرته څوک دتوحید مسئله بیان کړی خلق وائی داپینچ پیري دی.

د الله او د بنده صفات

زمونږ دعلماء عامه طریقه داده چې کله قرآن اووائی هغه حال او مرتحل چې ورته وائی یو ځای باندې اودریدو دی زائی نه بیا شروع شي په فاتحه کې الله تعالی د بندیانو پنځه او خپل پنځه صفتونه ذکر کوی خپل پنځه صفتونه ذکر کوی.

۱- الله. ۲- رب. ۳- رحمن. ۴- رحیم. ۵- مالك. الله دا د الله یو خاص نوم دی.

پنځه صفات د بنده.

۱- عبادت کول. ۲-امداد غوختل. ۳- هدایت غوختل. ۴- مضبوطیا غوختل. ۵- نعمت غوختل.

---

۱ - سورة البقرة (۱۲٤)

د الرحمن د لفظ تشریح

دالله رب العزت په اسماء کې بعضی نومونه دی چې هغه یا د اسم په اعتبار باندی خاص دی او یا د وصف په اعتبار باندې خاص دی هغه دوه دی یو دی الله تعالی دا نوم د بل چانه شته او بل دی الرحمن فعلان وزن دا په هغه ځائی کې راځی چې دفعلان په ماده کې دغه موصوف انتهاء ته رسیدلی وی لکه غضبان د فعلان وزن دی ده دی ماده ده د غضب چې یوسړی په غضب کې انتهاء ته اورسی هغه ته غضبان وائی سکران داه ده نشی نه دی سکر نه چې کله یو سړی په نشه کې انتهاء ته اورسی سکران ورته وائی نو (رحمن) چاته وائی هغه ذات ته وائی چې په رحم کې انتهاء ته ورسی مولیان ئې معنی کوي څوک وائي بالفعل رحم کونکې دي او څوک وائي رحم ئې صفت دي څوک وائي عام مهربا نه دي دا ټولي غلطي معاني دي صحیح معنی ئې دا ده چې رحمن دا فعلان وزن دي او د دي موصوف په دي خپل صفت کې انتهاء ته رسیدلي دي او دا د ابن جني کتاب دي التصریف هغي کې ابن جني دا بحث کړي دي.

بحث الاسماء والصفات

زمونږ څه نوی ملګری پیدا شوی دی هغو زمونږ په اشاعت باندې وائی چې د وی دالله تعالی اسماء او صفات نه منی کله چې حضرت شیخ دسورة المائده تفسیر به کوو نو (بَلْ يَدَاهُ

مَبْسُوطَتَانِ) تفصیل به ئې کوو هغه به وی ید تاویل په قدرت سره ناروا دی ځکه قدرت دالله تعالی یو صفت دی.

منهج أهل السنة في الأسماء والصفات باختصار: أننا نثبت لله ما أثبته لنفسه، وننفي عنه ما نفاه عن نفسه سبحانه وتعالى، ونثبت لله ما أثبته له رسوله صلى الله عليه وسلم، وننفي عنه ما نفاه عنه رسوله محمد صلى الله عليه وسلم، وإذا أثبتنا شيئاً لله تنفى المماثلة والمشابهة، لقوله تعالى: {لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ} [الشورى:١١] هذا بإيجاز واختصار شديد كالمضمن في قولنا: لا إله إلا الله، فـ(لا إله) نفي الألهة، (إلا الله) إثبات الألوهية لله سبحانه وتعالى: (١)

زمونږ د شیخ عقیده داده او زمونږ هم دغه عقیده ده دا عبارت ماته د شیخ د خولی نه یاد دی الله تعالی مچې زان له کوم صفتونه ثابت کړی مونږه ئی ثابتو او الله تعالی چې د زان نه کوم صفتونه نفی کړی مونږه تری هغه نفی کوو او دالله هیر نه وو خو چې کوم نوم ئې ځان ته نه دي وئیلي دي او نه ئي نفي کړي دي نه ئي ورته وایو او نه ئي تري نفي کو دازمونږه داشاعت التوحید والسنت عقیده ده هغه وائي چې رحمان دا د فعلان وزن دي او رحمان د دي ماده رحمت دي او د رحمان اطلاق په هغه چا باندې کېږي چې هغه د رحم په ماده کې انتهاء ته رسیدلي وي دا بغیر د الله تعالی نه بل څوك نه شی کېدي او رحیم دې ته وائي چې رحم کوي او دا هر څوک کېدي شي داڅو پیغمبر هم کیدی شی ته هم او زه هم کیدی شم دا دوه دالله تعالی خاص صفتونه دی او زمونږ

---

١ - سلسلة التفسير لمصطفى العدوي جلد٨٩ صفحه ١٠

مشائخو به وی الله تعالی خاص صفت او خاص نوم الله تعالی دی او خالقیت په عنوان باندې ټولو پیژندلي دی دی نه مراد خالق دې او خالق دکل عالم الله تعالی دی دویم صفت دی رَبّ العَالَمِینَ د رب اضافت ئی عالمین ته اوکړو ټول عالم دا محتاج دي الله ته الله ده ټولو حاجتونه سر کوی او دریم صفت الرَّحْمَنِ په رحم کې انتهاء ته رسیدلی دی او الرَّحِیمُ بالفعل رحم کونکی دا پنځه صفتونه دالله رب العزت دی.

او په دې کې پنځه صفتونه د بنده دی:

یو صفت دی إِیَّاكَ نَعْبُدُ وإِیَّاكَ نَسْتَعِینُ عبادت د بنده صفت دی.

دویم صفت دی وإِیَّاكَ نَسْتَعِینُ امداد غوختل دبنده صفت دی او چې کله تا اووی چې فلانی زما امداد کوی دا خو تری ستاخدائی جوړ کړو چې کله یو سړی مخلوق ته خدائی اووائی کافر کیږی دریم صفت اهدِنَا الصِّرَاطَ المُستَقِیمَ (۵) هدایت غوختل د چا صفت دی داده بنده صفت دی.

څلورم صفت المُستَقِیمَ مضبوطیاطلب کول داد بنده صفت دی پنځم صفت دی صِرَاطَ الَّذِینَ أَنعَمتَ عَلَیهِمْ غَیرِالمَغضُوبِ عَلَیهِمْ وَلَاالضَّالِّینَ دالله تعالی نه نعمتونه غوختل داده بنده صفت دی پنځه صفتونه په دی سورة کې دالله تعالی او پنځه صفتونه د بنده دي.

لطیفه

ابن جني وائي چې عام مولیان په صرف او په لغت کې فرق نه شی کولي ضرَبَ یضرِبُ ضربًا وائي دي ته دوئ صرف وائي دا لغت

دي صرف دي ته وائي چې د ضرب نه مثلًا ته باب افعلال څنګه جوړوي ؟ انفعال به تري څنګه جوړوي؟ و غیره و غیره

سورة فاتحه کې رد په فرق باطلو

دا سورة په باطلو فرقو باندې رد کوی په مشرکانو باندې رد اوکړو الله رب رحمن او مالک دا صفتونه ئي راواخستل او د شرک رد ئي وکړو د شفاعت قهري رد ئي وکړو د شفاعت دپاره پنځه شرطه دي:

(۱) سفارش کونکي به مسلمان وي (۲) د چا دپاره چې سفارش کوي هغه به مسلمان وي (۳) سفارش کونکي ته به د هغه د ایمان پته وي (۴) د قیامت ورځ به وي (۵) د الله اذن به وي

د دي پنځو شرطونو نه بغیر شفاعت نه کیږي او په دي پنځو شرطونو مشروط شفاعت دا به اول جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم کوي نبي علیه السلام فرمائي:

حَدَّثَنَا أَبُو خَيْثَمَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عن الْمُخْتَارِ بْنِ فُلْفُلٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنَا أَوَّلُ مَنْ يَشْفَعُ فِي الْجَنَّةِ، وَأَنَا أَكْثَرُ الْأَنْبِيَاءِ تَبَعًا»: (۱)

په دی سورة کې دالله رب العزت نه علاوه چې دپاره نظرونه پیش کوی په إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ سره دهغی رد اوکړو څوك چې ځان لره په دین کې نوی لاری جوړوی د جنازی نه پس دعا او سنتو نه پس دعا خلق وائی دافلانی سړی دعا نه منی هلکه زه

---

۱ - مسند ابی یعلی الموصلی مشکول جلد ٤ صفحه ۱۰۱

ستاسو نه یو تپوس کوم یو سړی نورخاته طرف ته مونځ کوی او نه ورته وائی چې مونځ داسی مهٔ کوه نو دا ته مونځ نه منی ؟ او که هغه ئې نه منی؟ مونځ چې په شروط باندې نه وی هغه مونځ نه دی دغه رنګی یوسړی په رکوع کې دری سپاری قرآن وائی مولاورته وائی مونځ دی نه کیږی دا سړی قرآن نه منی او که ملا ئې نه منی عبدالله استاذ وائی:

د هر شی او د هرکار دپاره ځائی وی
څوك دغم په ځائی کې نه وائی سندری

دعا نه څوك منکر دی خو دعا دپاره طریقه ده د پیغمبر په طریقه به ئې کوي ته چې کوم ته دعا وائی دا دعا نه ده او چې کومه ده هغه ته نه کوی اهدِنَا الصِّرَاطَ المُستَقِيمَ الله د هغه چا لار راته وښائی چې تاپری انعام کړي دی.

یو فاتحه نه وئیل دی او بل فاتحه نه منل دی په دې کې لوئی ګناه فاتحه نه منل دی الله وائي اهدِنَا الصِّرَاطَ المُستَقِيمَ الله مونږ ته نیغه لار اوښائي هغه نیغه لار کومه ده دائي نه دي وئیلي چې صراطَ القرآن والحدیث بلکه صِرَاطَ الَّذِينَ أَنعَمتَ عَلَيهِمْ غَيرِ المَغضُوبِ عَلَيهِمْ وَلاَ الضَّالِّينَ چې تقلید نه کوي نو دا ته فاتحه نه مني وائي تقلید شخصي نو الله وائي صِرَاطَ الَّذِينَ لار د هغه کسانو نو دا شخص دي او که نه ؟ ته د شخص خبره کوي نو او زه درته اشخاص نه بنایم په قرآن کې غَيرِ المَغضُوبِ عَلَيهِمْ وَلاَ الضَّالِّينَ او نه لار د هغه کسانو چې غضب پری کړی شوی او یهودو باندې الله ولي غضب کړي وو؟ ځکه د قرآن نه ئې انکار کړي وو چې د

فاتحي نه انکار وکړي نو دا مغضوب علیهم دي او که نه ؟ ولا الضالین الله تعالی دګمراهو خلقو لار راته او نه ښائی

د اشاعت د علماؤ کار د د شمن خیر غوښتل

الله تعالی دی مونږه او تاسو په قرآن باندې پوهه کړی او الله تعالی دی قرآن زمونږه کړی اومونږ دی الله تعالی دقرآن کړئ په دی ځائی کې چې چا د قرآن درس شروع کړی وو انتها ته ئی رسولی الله تعالی دی د هغه په مال اولاد کې برکت واچوی او کوم کسان چې ده دی نه مستفید شوی دی اویا دې ته ناست وو اویا ئی په کور اوریدلی دی الله تعالی دی د هغوئ ټول شرعی حاجات ترسره کړی الله تعالی دی هغوئ په مال او لاد کې خیراو برکت واچوی او کوم کسان چې هغوئ دی قرآن ته غوګ نه دی ایخودی د څه وجی نه الله تعالی دی هغوئ لره توفیق ورکړی او الله تعالی دی هغوئ هم خیر طرف ته را اوبلی د اشاعت خلق چې کوم صحیح علماء دی لکه مولانا شازمین خپل بیان کې ووي چې زمونږ کارڅه دی د دشمن خیرغوختل حضرت شیخ د مولانا عبد الحی صاحب یو کتاب راوړي وو په هغي کې د ملا عبد المؤمن یو کتاب ؤو (کچکول نامه) په هغی کې هغۀ د رسول معنی کوله چې رسول چاته وائی خیرخواه دشمنان رسول چاته وائی چې ده دشمن خیر غواړی الله تعالی دی زمونږ کورونه په قرآن باندې منور کړی او الله تعالی دی مونږ لره په دنیا او آخرت باندې عزتو نه راوکړی (وآخردعونا ان الحمد لله رب العالمین)

بسم الله الرحمن الرحیم

موضوع نفی سماع الصوتی بمقام جلسی

الحمد لله الذی ارسل رسوله بالهدی ودین الحق لیظهره علی الدین کله وکفی بالله شهیدا واشهد ان الا الله وحده لا شریك له اقرارا به وتوحیدا واشهد ان سیدنا ومولانا محمدا عبده ورسوله صلی الله تعالی علیه وعلی اله و اصحابه وسلم تسلیما مزیدا وبعد

أَعُوذُ بِاللّٰه مِنَ الشَّیْطَانِ الرَّجِیمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِیمِ

قُلْ هذه سبیلی أَدْعُو إلی اللّٰه علی بَصِیرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتبعنی وَسُبْحَانَ اللّٰه وَمَا أَنَا مِنَ المشرکین (۱)

د بیان کولو مقصد

عزت مندو مسلمانانو ورنړو په دی دنیا کې هریو شخص هغه چې ده چا مخی ته و دریدلي نو دهغه څه مقصد وی څه مدعا وی اوڅه مراد وی بعضی خلق دقوم مخي ته د دی دپاره ودریدلی چې ماله ووټ راکړئ څه به مخکې لاړ شم ستاسوممبربه ئم ستاسوله به نالی پخوم ستاسولره به ابه راولم بعضی خلق هغه ده دی دپاره خلقو ته اودریدلی چې څه به خپله خو ووټ نه غواړم خو زما د پارټی یو سړی دی دا کامیابول غواړی بعضی خلق د څه غوختو لپاره خلقوته ودریږي کوربه کورباندې ګرځی داکار چې

۱ - سورۃیوسف (۱۰۸)

څه رنګه ده اشخاصو دي دغه رنګی بعض جماعتونه هم داکار کوی الله تعالی فضل او احسان دی زمونږ جماعت اشاعت التوحید والسنة دا په دی باندې ممتاز دی چې دا ابتداء نه زمونږ دعوت هغه دا دی چې:

قُل لاَّ أَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْراً إلاَّ المودة فِی القربیٰ (۱)

مونږ ده چانه څه غواړ و نه صرف دا غواړو چې خلق زمونږ سره یوځائی شی او مونږ الله تعالی ته ځان نزدی کړو الله تعالی ځان نزدی کول ده الله تعالیٰ رضا غوختل زمونږ مقصد دی.

د انبیاء علیهم السلام مقصد

دا مقصد ده نوح علیه السلام نه راوخله تر ده جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم پوری ده ټولو انبیاء مقصدوو.

داکوم آیت چې ماد استشهاد په طریقه باندې ولوستو مفسرین ده دی آیت لاندی لیکی چې نبی علیه السلام خلقو ته وی.

اي خلقو زه ستاسو نه تنخواه نه غواړم او اجرت درنه نه غواړم مال هم درنه نه غواړم.

إلاَّ المودة فِی القربیٰ یعنیٰ الان تواد وني في التقرب الی الله تعالی تاسو زما سره یوځائی شی او زما دا تحریك مضبوط کړئ چې الله تعالی نږدی شئ زمونږ مقصد هغه خلق الله تعالی ته نزدی کول دی اوپه اتفاق باندې الله تعالی سره خپله رابطه او جوړ جوړول دا زمونږ مقصد دی په دی نزدی زمانه کې زمونږ په

---

۱ - سورة الشوری (۲۳)

اکابرینو کې مولانا حسین علی رحمه الله هغه دخپلو شاگردانو تربیت په دی طریقه باندې کړی وو په سرحد پنجاب سنده بلوچستان هندوستان ټولو کې چې ده هغه شاگردانو خلق خالص توحیدته راوبلل او شیطان چې کومی شبهی ده خلقو په زړونو کې اچولې وی ده حضرت صاحب شاگردان هغوئ په احسن طریقی سره هغه شبهی ده خلقو نه لری کړی اوپه یوزمانه کې چې ده توحیدآواز دایو غریب آوازګنړلی کیدو نن په هغه علاقو کې ده توحید آواز دایو مانوس آواز دی او کوم چې د عقل او پوهی خاوندان دی هغوئ په دی خبره کې جحك نه محسوسوی چې راشی او د توحیدیانو سره او د اشاعت التوحید والسنة والو سره حضرت صاحب او ده هغه ده شاگردانو سره هم سفرشی.

په پښتنو د الله احسان

بیا زمونږ د پښتنو په علاقه کې دا ده الله تعالی په مونږ باندې یو لوئی احسان وو او ده دی احسان چې مونږ سومره شکریه اداکړو هغه کمه ده هغه یوشاعر وائی:

ولوکان لی فی کل منبت شعرة لسان لمستوفیت واجب حمده

دا په بدن کې چې سومره ویخته دی که ده دی هرویخته په ځائی باندې یو ژبه وی اوپه هغی باندې مونږ دالله تعالی حمد ادا کوو مونږ ده دی نعمت شکریه نه شو پوره کولی.

چې الله رب العزة په دی وطن کې ده حق آواز کونکی ده حضرت شیخ القرآن مولانا محمد طاهر رحمه الله رحمة واسعةً هغه په

شکل کې الله پاك مونږ له یو حق ګو سړی راولیږلو او دی دنیا ده حضرت شیخ ده هغه تاریخ کتلی دی ده هغه عمل ئې لیدلی دی چې هغه ده ګرمئ او ده یخنئ پرواه نه ده ساتلی ده آمن او ده یرې پرواه ئې نه ده ساتلی او په هرځائی کې ده الله تعالی توحید هغه بالکل بربنډ بیان کړی دی.

نن که ستاسو په دی کلی کې ده الله تعالی ده توحید آواز کیږي دا ده هغه ځوان ده سعی برکت نتیجه ده او ده توحید یانو تحریك ته په بدنظر باندې کتل دا اسمان ته لاړی توکل دی خپل مخ پرې ده سړی ګنده کیږی.

اذا ذُکر اللهُ ذکرتُ تشریح ۔

پروسکال زمونږ په علاقه کې یوجلسه وه اوهغه جلسه زمونږ یو ذیلي تنظیم دی نوجوانان توحید والسنة ده هغوئ ده نګرانئ لاندی وه او زمونږ ده جماعت اکابرین علماء هغی ته راغلی وو لوند خوړ کې داجلسه وه زمونږ ده تحصیل په سطح باندې په هغی کې زه فقیرهم ورغلی وم ما هغه ملګرو ته تربیتی یوبیان کوو هغوئ ته مې وی جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی چې الله تعالی ماله یوځوعزتو نه راوکړی دی په هغی کې یو دا دی چې اذا ذکر الله ذکرت مولیان ده دی هرځه ترجمه چې کوی زه ده مولیانو سره اختلاف نه کوم البته زما په خپل ذهن کې ده دی حدیث معنی داده چې کله خلق دا خبره وکړی چې یره الله تعالی یودی الله هرځه کوی الله تعالی عزت ورکوی او الله

تعالی ذلت ورکوی الله تعالی بچې ورکوی اوبل څوك نه شی ورکولی خلق وائی هلکه دا خو ده محمدصلی الله علیه وسلم مسئله ده کله چې ده الله تعالی توحید یادشی خلق مایادوی چې دا خوهغه بیان کړی ده.

دا په مونږ باندې ده الله تعالی ډیرلوئی احسان دی چې ده هغه ده نبی علیه السلام هغه سنت مونږته پاتی دی په کوم ځائی کې چې ده الله تعالی ده توحید آواز څوك وکړی که د هرجماعت سړی وی خو چې کله ده الله تعالی توحید بیان کړی خلق وائی دا پنج پیرې دی:

این سعادت بزور بازو نیست تانه بحشد خدائي بخشنده

دا د الله تعالی یوخاص احسان دی اوخاصه عطاء ده خاصه مهربانی ده دالله تعالی اودائي زمونږ په جماعت باندې کړی.

د اشاعت مشن د انبیاؤ مشن دی

زمونږ جماعت زمونږ څه مرکزی اصولی خبری دی او هغه خپلی اصولی خبری هغه مونږ داول نه نه دی پریخودی زمونږ شیخ رحمه الله چې په اوله ورځ باندې کومه خبره کړی وه نوکله چې بیمار وو او شاگردان ئی راجمع کړی وو او په هغه الفاظو باندې چې د هغه ده خلی نه خبری هم نه ختی هغه مسئله چې په اوله ورځ باندې کړی وه هغه ئی بیا کوله اوداده انبیاء او خاص کر د سید المرسلین امام النبیین جناب محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم طریقه ده تاسو به اوریدلی وی چې جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ده خپل بعثت په اوله ورځ باندې ده صفا په

غر باندې خلقوته آواز کړی وو اول ئې په خلقو باندې خپل حیثیت مناؤ کړ ورته ئې وی خلقو

لبست فیکم عمرا من قبله فهل وجدتمونی صادقا اوکاذبا جربتمونا مرارا فما وجدنا فیك الا صدقكَ

ډیره زمانه پخوا ستاسو کې تیره کړی وه زه څنګه وم ریشتنی وم او که دروغجن ؟ خلقو ورته وی مونږ په تاډیرځله تجربه کړی خومونږ په تا کې ریشتاؤ نه بغیرځه نه دی موندلي نبي علیه السلام ورته ووئیل که چرې زه دا ووائم چې ده صفا د غر په دې ویخ کې یو عظیم لښکر ناست دي تاسو به ئې ځما سره ومنئ ؟ هغوئ ورته ووئیل آو زمونږ ستر ګي غلط لیدلي شي خو ستا ژبه نه غلطیږي نو نبي علیه السلام چې کله دا اقرار ده هغه خلقو نه واخستو نو ورته ئې ووئیل:

کلمة واحدة تاتونها تملکون بها العرب تدین لکم بها العجم ماهی یامحمد ان تقولوا لا اله الا الله و تخلعوا غیره

یو عقیده ده ځما سره به ئې ومنئ د دغه عقیدي په وجه عرب به ستاسو شي او عجم به د دغه عقیدي په وجه ستاسو تابعدار شي خلقو ورته وی اي محمدصلی الله علیه وسلم دا کومه عقیده ده ؟ نبی علیه السلام ورته اعلان وکړوهغه عقیده دا ده چې ستاسو دا اقرار وکړئ چې د الله رب العزت نه علاوه بل څوک اله نه شته بل څوک د زمکې او د اسمان خالق نه شته بل څوک ونې راتوکونکې نه شته بل څوک دمصیبت په وخت کې رارسیدونکې نه شته بل څوک عزت ورکونکې نه شته او بل څوک ذلت ورکونکې نه شته بل

څوک بیماري جوړونکې نه شته بل څوک اولاد ورکونکې نه شته او
ده هغهٔ نه بغیر چې د چا سره تاسو دا واسطي او دا ربطونه ټرلي دي
هغو ټولو سره بائیکاټ وکړئ دغه اواز ئي هلته وکړه دا اواز د
نرمئ په حالت کې ووخلق ساړه وو بیا چې هر کله خلق ګرم شود
جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم په هره خبره ئي د هغه مقابله
کوله بیابه هم دمکی په چوك کې ولاړوو او خلقو ته به ئي اواز کوو:
یا ایها الناس قولوا لا اله الله تفلحوا

اي خلقو یوالله تعالی ته یو ووائي دالله تعالی صفتونه الله تعالی
لره ثابت کړی نوکامیاب به شی اوخلق څه کوی څوك دهغه په مخ
باندی لاړی توکی څوك پری خاوری ورنولی خوجناب رسول الله
صلی الله علیه وسلم دا چغه نه ده پریخودی کله د ذو المجاز په
میله کې روان دی او نبی علیه السلام یوی یوی خیمی ته سر
ښکاره کوی او آواز کوی تره ئي په پسی ر اراوان دی چې دی آواز
وکړی هغه ئي په کانړی با ندی وولی او چې کله مدینه منوره کې
نبی علیه السلام وفات کیدو او ټول د مسلمانانو ملک هغه یو
وو مسلمانان هغه یو موتي وو د مسلمانانو یو قوت پیداشوی وو
باطل قوتونه هغې په مخ نه شو اودریدی اوجناب رسول الله صلی
الله علیه وسلم خپل مشن پوره کړو کله چې ده دنیا نه تلو آخری
وصیت ئی هم داوکړی وو

حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدِ بْنِ مَيْمُونٍ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ عُمَرَ
بْنِ سَعِيدٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ، أَنَّ أَبَا عَمْرٍو ذَكْوَانَ مَوْلَى
عَائِشَةَ، أَخْبَرَهُ أَنَّ عَائِشَةَ، رَضِيَ اللَّهُ عنها، كَانَتْ تَقُولُ: إِنَّ رَسُولَ

اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ كَانَ بَيْنَ يَدَيْه رَكْوَةٌ أَوْ عُلْبَةٌ فيهَا مَاءٌ، يَشُكُّ عُمَرُ فَجَعَلَ يُدْخلُ يَدَيْه في المَاء، فَيَمْسَحُ بهمَا وَجْهَهُ، وَيَقُولُ «لاَ إلَهَ إلَّا اللّٰهُ، إنَّ للْمَوْتِ سَكَرَاتٍ» ثُمَّ نَصَبَ يَده فَجَعَلَ يَقُولُ «في الرَّفيقِ الأَعْلَى»: (۱)

گوری ده الله تعالی نه سوا بل حاجت رواه نه شته کومه خبره چې ماپه مکه کې په اوله ورځ باندې کړی وه هغه نن هم کوم دغه رنګی زمونږ اکابرینو هغوئ چې په اوله ورځ باندې کومه خبره کړی وه زمونږ بیانو نه بدلیږی رابدلیږی نه ده دی خلقو نه تپوس وکړه ده دوی هره خبره ادله بدله ده په خلی باندې یوځه وائی اوپه کتاب کې بل څه لیکی.

د داعي او د مدعي فرق

مونږ د الله تعالی په فضل او احسان باندې کومه خبره چې کوو په دلیل باندې کوو او مونږ په هغی کې مدعیان نه یو مونږ دهغی داعیان یو مدعی خپله خبره پریخودی شی اوداعی خپله خبره نه شی پریخودی مونږ څه خبری مدعیان نه یو او داخلق مدعیان دی مدعی روغه کولی شي اوداعی روغه نه شی کولی مونږ خو صاحبه د الله رب العزت دین ته داعیان یو مونږ هغی مدعیان نه یو او داخلق مدعیان دی زمونږ کلی کې یو ملا وو اس وفات شوی دي یوپیره ماته وائي مولوئی صاحب یوخبره کوو څه لږ ته راکوزشه څه لږ به مونږ دروخیجو ما ورته وخندل ما وویل جی

---

۱ - صحیح البخاری (الطبعة الهندیة) جلد ۱ صفحه ۳۶۲۵ کتاب الأدب

ستاسو دا خو کوره دین دی په دې کې تاسو ختل هم کولی شی او راکوزیدل هم کولی شئ او زمونږ دا خو دالله تعالی دین دی خدائی شته مونږ پکې رقیدی نه شو زمونږ پیغمبر علیه السلام ته الله تعالی وی:

وَلَوْلَا أَنْ ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدْتَ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيلًا إِذًا لَأَذَقْنَاكَ ضِعْفَ الْحَيَاةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا: (۱)

زما پیغمبره که ته ما کلک کړي نه وي او ته ما داعي نه وي جوړ کړي نو تا به دي خلقو ته څه میلان کړي وو نو که چرې تا میلان کړي وي نو تاله به ما مرګ او په ژوند دوچند عذاب درکړي وي مونږ په دی ملك کې هیڅ د چانه نه غواړو زمونږ بعضی ملګری په هغوئ باندې داسی وختو نه راغلی دی چې ډیر لوئی لوئی تکلیفو نه ئی برداشت کړی.

زهٔ په درته خپله یوه ذاتی خبره وکمه یو زمانه وه په ما باندې دري دري ورځې نهاري تیري شوي دي ځما په کور کې پیسه نه وه زما په کور کې اوړه نه وو په څلورمه ورځ زه په کټ کې ناست وم او د ولګي د لاسه مي نظر نه لګیدو او د سترګو نه مي اوښکې روانې وي کورواله مي راته ووئیل چې ولي ژاړې ؟ ما ورته ووئیل څکه ژاړم چې پیسې نه شته ډوډئ نه شته نو هغې راته ووئیل چې ماته وائي چې په الله یقین کوه او خپله دي په یقین نه شته رابه کړي راله کنه په دغه زمانه کې یعني په دي دري ورځو کې زمونږ په کلي کې پرله پسې مړي وشو خلقو ته به ئې روپئ ورکوله په هغه

---

۱ - سورة الإسراء (۷٤) (۷۵)

زمانه کې او ماته به ئي لس روپئ راکولي خو ما نه دي اخستي
او دا هغه زمانه وه چې په څلور روپئ من غنم چې زه يو شي نه
ناروا وائم نو ولي ئي واخلم زمونږ ګڼ ملګري داسي دي.

د مولانا عبد الرؤف واقعه

د حضرت مولانا حسين علي نور الله مرقده په شاګردانو کې يو شاګرد وو د بوچال کلان مولانا عبد الرؤف نوم ئي ووهغه په خپل کلي کې ايک يواځي وويو ئي ځوئي وو يوه ئي کور والاوه او يوه ئي مور وه د توحيد مسئله ئي کوله او د حضرت صاحب شاګردان وائي چې مولانا عبد الرؤوف ته به فرشتو په غوږ کې اوازو نه کول چې عبد الرؤف (اثبت) کلک شه.

د هغه مور مړه شوه کله چې ئي مور مړه شوه نو د ټول کلي خلق هغه ته راغلل او مولانا ته وائي که چري د وهابيت نه توبه کوي نو مونږ به تاله قبر وکنو نو هغه ورته وخاندل او ورته ئي ووئيل که د شرک نه توبه کوئ چې قبر ته مو پريدم کور والائي د مړي سره پريخوده او پلار او ځوئ راغلل قبر ئي وکنستو د قبر نه پس چې لاړه ده ورته طريقه اوخودله او بنځي ئې ورله غسل ورکړو کفن ئي ورته واچوو خلق بيا راغلل او ورته ئي ووئيل که د وهابيت نه توبه کوي نو مونږ ستا جنازه وړو نو هغه ورته ووئيل که د شرک نه توبه کوئ چې جنازي ته مو پريدم

مولانا د جنازي کټ د مخي نه ونيوو او کوروالە او ځوئي ئي کټ د وروستو نه ونيوو او په دري کڅه ئي ورله جنازه وکړه.

داسي استقامت زمونږ ملګرو لـه الله ورکړي وو او دغسي استقامت زمونږ په ټولو ملګرو کې دي.

الحمد لله مونږ چري دا پروا نه ده ساتلي چې مونږ وږي يو تږي يو مونږ دي چاته څه ميلان وکړو او هغه خپله خبره دا که مونګه په خوشحالي کې کړی ده مونګه ده غم په حالت کې هم کړی ده مونږ په داسي ځائي کې کړي چې ګير چاپيره زمونږ نه زمونږ مداحين ناست دي نو دا مونږ په داسي ځائي کې هم کړي چې ګير چاپيره زمونږ نه مخالفين د کلاشنکوفونو په لاس ولاړ وواو زمونږ د قتل فيصله ئي کوله.

د شيخ جانه د بيان واقعه

ځما په شيخ جا نه کې تقرير وو کله چې ما بيان شروع کړو نو په ټول کلي کې اعلانات وشو خدائ مو اوبخښه پنج پيريان راغلي دي او چا چې يو پنج پيري مړ کړو نو د سلو شهيدانو هومره اجر دي ورله او لګ ساعت پس ده جماعت نه ګير چاپيره خلق د کلاشنکوفونو په لاس ودريدل مولانا امداد الحق صاحب د شيوي هغه په محراب کې ناست وو وئي ملګري دا خلق خو به تختي خو زه نه شم تختيدي ځکه خپي مي کار نه کوي او ته ځکه نه شی تختيدي چې بيان کوي بس دواړه به پاتي يو ما هم په زړه کې دا سوچ کوه چې ځما ده ژوند دا اخيري تقرير دي ما هم د توحيد مسئله په يو ښه انداز کې شروع کړه او په زړه کې مي وئيل چې ده الله سره ملاويږم چې کلک توحيد مي بيان کړي وي

د الله رب العزت د خلقو په زړه باندې اثر وکړو او ټوپکې ئې کېخودي او بیان ته کیناستل او زه چې بیا راوتم د جماعت نو خدائی شته د برو کړو نه زه نه شوم خلاصیدي حق همیشه حق دي او حق همیشه لپاره اوچت دي.

د پیغمبر او د پیغمبرانو د تابعدارو لار

کله چې یو مقرر بیان کوي نو هغه ځان له څه تیاري کوي خو زه چې دلته کیناستم نو دا آیت زما زړه ته راغي چې:

قُلْ هَذِهِ سَبِيلِي يعني هذه السبيلُ سبيلي

دا د قرآن او د توحید لار دا زما لار ده او یواځي ځما لار نه ده وَمَنِ اتَّبَعَنِي څوک چې زما تابعدار دي د هغوئی لار هم دا ده.

یعقوب علیه السلام چې وفات کیدو نو خپلو بچو ته ئې وصیت کړي وو مَا تَعْبُدُونَ مِنْ بَعْدِي زما نه پس چاته چغه وهئ نو بچو ورته جواب ورکړو:

قَالُوا نَعْبُدُ إِلَهَكَ وَإِلَهَ آبَائِكَ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ إِلَهًا وَاحِدًا وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ (۱)

مونږ به ستاخدائی اوستاده نیکونو خدائي چې ابراهیم اسماعیل او اسحاق علیهم السلام دي او هغه اک یو خدائی ده هغه عبادت به کوو مونږ به ده هغه تابعدار یو او ده بل چا به نه یو هغه تپوس کړي وو او نبي علیه السلام خلقوته خبر ورکوی.

---

۱ - سورة البقرة (۱۳۳)

د آیت تشریح

اوله معنی د دي ایت:

قُلْ هَذِهِ سَبِيلِي عني هذه السبيلُ سبيلي

دا د قرآن او د توحید لار دا زما لار ده او یواځي ځما لار نه ده وَمَنِ اتَّبَعَنِي څوک چې زما تابعدار دي د هغوئی لار هم دا ده

دوئمه معنی د دي ایت:

قُلْ هَذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ عَلَى بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ (۱)

پیغمبره دي خلقو ته ووایه چې توحید ته رابلل دا زما لار ده زه او زما تابعدار زمونږ سره دلیل دي مونږ بي دلیله نه یو لګیا.

دریمه معنی د دي ایت:

قُلْ هَذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ عَلَى بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ: (۲)

پیغمبره دي خلقو ته ووایه چې زما لار دا ده کومه (ادعوا الی الله) چې زه خلق الله ته رابلم.

قرآن کریم کې دا یوه طریقه ده چې یو مقصد وي مخکې په یو اشاره یا په ضمیر سره ذکر کړي لکه سورة یوسف

فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِي نَفْسِهِ وَلَمْ يُبْدِهَا لَهُمْ قَالَ أَنْتُمْ شَرٌّ مَكَانًا وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَصِفُونَ (۳)

---

۱ - سورة یوسف (۱۰۸)

۲ - سورة یوسف (۱۰۸)

۳ - سورة یوسف (۷۷)

یوسف علیه السلام دغه خبره په زړه کې پټه کړه دوئ ته ئې
ښکاره نه کړه کومه خبره؟ دا خبره وه قَالَ أَنْتُمْ شَرٌّ مَكَانًا دا خبره
ئې وروستو ذکر کړي ده.

قُلْ هَذِهِ سَبِيلِي زما او زما د تابعدارو لار څه ده؟ أَدْعُو إِلَى اللَّهِ زۀ
خلق الله ته رابلم او زۀ یواځي نه أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي زۀ او زما تابعدار
زمونږ طریقه دا ده چې مونږ خلق الله ته رابلو.

عزتمندو الله ته د رابللو مقصد څه دي ؟ د الله رب العزت ذات او
د هغه صفات څنګه چې الله په خپل ذات کې یو دي دارنګه الله
پاک په خپلو صفاتو کې هم یو دي معنی دا چې یکتا دي څنګه
چې د الله رب العزت د ذات په شان بل ذات نه شته دغه رنګه د
الله د صفاتو په شان د بل چا صفات نه شته زه هم اوریدون کې او
الله هم اوریدون کې دي دغه شان زه هم لیدونکې او الله هم
لیدونکې دي خو په دي دواړو کې فرق دي.

امام الهند او د مشرکینو د شرک بیان

ده هندوستان مشهور عالم ده دی ټولو علماء استاذ هغه عالم
چې دهندوستان دهرمکتب فکر خلق هغه څان ته راکاګی امام
الهندشاه ولی الله رحمه الله غیرمقلدین وائی دازمونږ وو بریلیان
وائی زمونږه وو او دا نامنهاد دیوبندیان وائي دا زمونږه وو او
حقیقي دیوبندیان هم وائي دا زمونږه وو خو وو ده چا ؟

إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِإِبْرَاهِيمَ لَلَّذِينَ اتَّبَعُوهُ وَهَذَا النَّبِيُّ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاللَّهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِينَ (۱)

په ابراهیم علیه السلام باندې هم دغسی دعوی کیدی یهودو وی زمونږه دی نصاری ووی زمونږه دی مشرکینو وی زمونږه دی مسلمانانو وی زمونږه دی الله تعالی وائی ابراهیم علیه السلام او ده هغه ده اتباع زیات لائق ده دی خبری چې خلق هغه ځان ته منسوب کړی او په خپل صف کې وشماری یو ده هغه امتیان وو او یو دا پیغمبر او دا امت.

نو شاه صاحب گورو چې چاسره دی ده شاه صاحب وائی مشرکینو چې شرك کوو او هغوئ چې دکفر دی مدارجو ته رسیدلی وو هغوئ به وی:

کما ان ملکًا من الملوك عظیم القدر یرسل عبیده الی نواح المملکة ویجعلهم متصرفین فی بعض الامور الخاصة کذالك الملك علی الاطلاق جل مجده شرف بعض العباد بحلعة الالولهیة فیؤثرو رضاهم في رضاه وسخطهم في سخطه.

ترجمه: لکه څنګ چې یو بادشاه خپل څه خاص خلق هغه د مملکت اطرافوته ولیږي او هغوئي له په خاص خاص امرونو کې تصرف ورکړی دغه رنګی خالق کائنات بعضی بندیګان هغوئي له ده خدائتوب لباس ورکړی دی هغوئي لره ئي برخی ورکړی دی د هغوئ رضا دا ده خدائي رضاده او ده هغوئ غصه هغه د الله

۱- سورة آل عمران (٦٨)

تعالی غصه ده هغوئ چې رضا کوی الله تعالی رضا کیږی او هغوئ چې خفه کوی الله تعالی پری خفه کیږي.

شاه صاحب وائی داده هغوئي د کفر وجه وه هغوئي د الله تعالی لپاره تشبیه بیانوله لکه څنګه چې یو بادشاه دا کار کوی دغه رنګی الله تعالی هم داکار کوی.

اوس هم زمونږ دا یاران وائی ګوره سړی بادشاه ته ده وزیر د واسطی نه بغیر رسیدی شی ؟ چې بادشاه ته بغیر د واسطی نه نه شی رسیدلي نو الله تعالی ته به بغیر د واسطی نه څنګه ورسی؟ او دا ناپوهه دی دوی الله تعالی او بادشاه د ایو شان ګڼی.

مشرکینو ته د الله اعلان

الله تعالی ورته اعلان کوی اوکمبختو:

فَلَا تَضْرِبُوا لِلّٰهِ الْأَمْثَالَ إِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ (۱)

الله تعالی وائی ماله دغه مثالونه مه بیانوئ الله تعالی لره دغه مثالونه مه بیانوئ ولي ؟ إِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ الله تعالی ستاسو د حال نه خبر دی او تاسو د یو بل د حال نه نه ئي خبر که تاسو یوبل ته واسطی نیسئ او وسیلی نیسئ خو د خپل حال نه به بل سړی خبروی او الله تعالی خو ستا د حال نه خبردار دی نو د الله تعالی واسطو او وسیلو ته څه ضرورت دی.

کله کله به دوئی وائی چې سړی کوتی ته خیجی بغیر ده اندرپائی نه ختلی شی ؟ دا د خدائی سادګان دي الله تعالی دی دوئي ته لار وښائی.

---

۱ - سورة النحل (۷٤)

د زیدي د بابا واقعه

بعضی خلق الله تعالی کنزلو له پیدا کړی چې کینی بغیر د کنزلو نه ئې بل کار نه وی.

شیخ رحمه الله به یوه قیصه کوله په دی زیده کې په دی لار کې به یوسړی ناست وو چا به وی بابا السلام علیکم هغه به وی بچیه وعلیکم السلام ډوډی کورخورم او دعاستابچوته کوم

زمونږ مخالفین مونږ ته بدی ردی وائی الله تعالی به دوی لره بدله ورکوی مونږ به دوی ته دعا کوو مونږ وایو د الله تعالی لوئی جنت دی راځی چې الله تعالی ته ځان نزدی کړو چې ستا څوپکې هم ځائی اوشی مونږ کنځل نه کو چاته اوده کنزلو په چل هم نه پوهیګو چرته به مو خولۀ خطاء شی ده دوی په ځائی باندې به ځان ته کنځل وکړو اومونږ ته دی خدائی دغه چل نه خائی او دوی دی الله تعالی ده دی بدعمل نه واړوی دا ډیر بد عادت دی پاکه خبره دا ده چې کومه خبره په دلیل باندې مبرهنه وی په هغی باندې سړی عمل وکړی.

د الله نه د لرې کیدو اسباب

د الله تعالی نه د لرې کیدو سبب هغه تشبیه ده چې الله تعالی د بندیانو په شان وګڼړی او بل دالله تعالی نه ده لرې کیدو سبب هغه شرک دی دا دواړه داسی سببونه دی چې دا دی اختیارکړل که ډیر خیراتو نه دی کړی وو ډیر جماعتونه دی جوړ کړی وو خدائی شته که یو هم قبول او منظور شی او چا چې دا ډوه

صفتونه اختیار کړی وو او ده خدائی کور ئې جوړ کړی وو بیت الله شریف الله ورته وائی:

أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَجَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَوُونَ عِنْدَ اللَّهِ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (۱)

حاجیانو ته اوبۀ ورکول ده بیت الله تعمیر کول دا تاسو نیکی ګڼئ ده ایمان واله ده ایمان په شان ؟ اصل شی ایمان دی اصل ده الله تعالی سره تعلق دی.

مسئله: نفي سماع الموتی

عرض می داکوو چې الله تعالی اوریدنکی دی او زۀ هم اوریدونکی یم خو که چری یو سړی ماته ده الله تعالی په شان اوریدونکی ووائي دا مسلمان پاتي کیږی که کافر؟ او که الله تعالی ته ئي زما په شان اوریدونکی ووي نو دا مسلمان دي او که کافر؟

مونږ ده دی خلقو نه تپوس کوو چې ا ی روره ستاسو چې دا لګیائی سماع الموتي ده اول خو دی الله تعالی تاسو ته لار اوښائی چې مړي شو نو اوری به ده کومې او بله دا ده چې بی اسبابو او ریدل دا ده الله تعالی صفت دي ته چې دا بی اسبابو صفت ده اوریدلو دا مړی له ثابت کړی مونږ درباندې هیڅ فتوی نه لګوو تۀ په خپله ځان سره حساب اوکړه چې دا ستا څه اوکړل ؟

۱ - سورة التوبة (۱۹)

سماع الموتی دی ثابتوله خکری دی پکې بیلی ده الله تعالی نه ویریږئ دا یو قطعی خبره ده چې الله تعالی ده بندیانو په شان نه دی او بندیان ده الله تعالی په شان نه دی یو سړی چې بندیان د الله تعالی په شان حساب کړی الله تعالی په اوریدو کې غوګوته نه دی محتاج په زوره وینا ته نه دی محتاج

الله تعالی فرمائی وَاِنْ تَجْهَرْ بِالْقَوْلِ فَاِنَّهُ يَعْلَمُ السِّرَّ وَاَخْفَى: (۱)

که په زوره ویناکوی او که په پټه باندې الله تعالی ته سر او اخفاء داوړه معلوم دی.

مفسرین وائی سرماتحدث به نفسك سر هغی ته وائی چې خپل زړه کې ستا تیر شی او اخفاء مالم تحدث به نفسك چې داسی اوریدل ته مړی لره ثابت کړی صاحبه تا ځان له خیر ولټوو او که شر؟

مونږ تاسو ته صرف دا دعوت درکوو لګ سوچ اوکړئي چې دا تاسو کوئي څه ؟ الله رب العزت لیدونکی دی سترګوته نه دی محتاج رڼا ته نه دی محتاج ما او تا سترګو او رڼا دواړو ته محتاج یو که زما په دی سترګو باندې دی برسټن واچوله خدائی شته که تاسو راته خکارئی او چې لا بیا پری ګټی کیدئ او بیا پری خاوری واچوی بیا لیدل سړی کولی شی؟ بغیر د اسبابو نه لیدل دا ده الله تعالی کار دی او دي وائی مړی چې دی وینی دا داسی خبري دی خدائی شته چې ده غره نه ګوجر راکوز شی هغه پری هم پوهیږی مولا خو مولا دی ده دی خلقو عقل هغه ده غره ګوجر نه هم کم دي زه هم ژوندی یم تاسو هم ژوندی ئی او الله

۱- سورة طه (۷)

تعالی هم ژوندی دی الله تعالی وائی الْحَيُّ الله تعالی وائی زه ژوندی یم زما په ژوند او دالله تعالی په ژوند او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ژوند کې فرق دی ده الله تعالی ژوند څنګه ژوند دی؟ داسی زمانه نه ده راغلی چې الله تعالی نه ووا و زما څه ژوند دی یوزمانه وه چې زما چرته پته هم نه وه او یوزمانه ده چې زه به هډویمه هم نه سعدی بابا وائی:

بس نامور بز یرزمین دفن کرداند
هشت پشت روئ زمین بر نشان نماند

ډیر نامتو خلق ده دی زمکی لاندی شوی دی نن ئي هډو څوك نوم هم نه اخلی

کراچې کې یو ورځی یو ملا پسی می مونځ کوو هغه یو شعر ووی:

ظہور تا نمود تھی ہٹو بچوں کی تھی سدا — اورآج تم سے کیا کہوں لحد کا بھی پتہ نہیں

خلق به وائی لری شئ فلانی راغی لری شئ فلانی راغی نن دهغه د قبرستان پته هم نه شته چې قبرئی کوم ځائې دی؟

لیدل او ژوند دا داسی څیزونه دی چې دا مختلف کیږي په اختلاف دموصوف سره الله ژوندی دی او زه هم ژوندی ئم په الله تعالی باندې مرګ نه راځی الله تعالی فرمائی:

وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِي لَا يَمُوتُ (۱)

توکل وکړه خو په هغه ژوندی وکړه چې په هغه باندې مرګ نه راځی هلکه که په دی کائنات کې بل هم داسی څوك وی چې په

۱- سورة الفرقان (۵۸)

هغه باندې مړک نه راځی نو د هغه او د الله فرق راته وښایه ؟ نبی علیه السلام یو پیړه صحابو ته اووی:

حَدَّثَنَا الحُمَيْدِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، قَالَ: سَمِعْتُ الزُّهْرِيَّ، يَقُولُ: أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، سَمِعَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ عَلَى المِنْبَرِ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لاَ تُطْرُونِي، كَمَا أَطْرَتْ النَّصَارَى ابْنَ مَرْيَمَ، فَإِنَّمَا أَنَا عَبْدُهُ، فَقُولُوا عَبْدُ اللَّهِ، وَرَسُولُهُ»: (۱)

هسی نه چې زما داسی صفتونه وکړئ لکه څنګه چې نصاری وو د عیسی علیه السلام کول نصاری څه وئیل؟ دوه ډلی وی چا به وې إِنَّ اللَّهَ ثَالِثُ ثَلَاثَةٍ (۲) الله تعالی په دریو کې دریم دی یو پکې عیسی دی او چا به وی نه إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ (۳) عیسی علیه السلام د مریم څوئی دی دغه خدائی دی اوس هم یاران وائی:

وہی جو مستوی عرش تھا خدا ہوکر — اتر کے آیا مدینے میں مصطفیٰ ہوکر

څوک چې په عرش باندې د خدائی په شکل باندې ناست ووشکل ورته دوی ثابتوی وائی هغه مدینی ته د مصطفی په شکل باندې راغی او د الله تعالی بندیانو څان سره لګ حساب وکړئ نبی علیه السلام وائي: هو ښیار سړی پیژنئ څوک دی؟

حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ (ح) وحَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ: أَخْبَرَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، قَالَ: أَخْبَرَنَا ابْنُ المُبَارَكِ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ، عَنْ

---

۱ - صحیح البخاری (الطبعة الهندیة) جلد ۱ صفحه ۱۶۷۰ کتاب الوصایا

۲ - سورة المائدة (۷۳)

۳ - سورة المائدة (۱۷)

ضَمْرَةَ بْنِ حَبِيبٍ، عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: الْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ، وَالْعَاجِزُ مَنْ أَتْبَعَ نَفْسَهُ هَوَاهَا وَتَمَنَّى عَلَى اللَّهِ. هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ (۱)

هوښیار سړی هغه دی چې ځان سره حساب وکړی او د مړی نه ورسته دهغی لپاره تیاری وکړی.

احمد رضا بریلوي او د دیوبند علماء بدنامول

احمد رضا خان بریلوی کله چې ده د یوبند د علماء دنوم نه ویریدو نو هغه یو مخضر تیارکړو او په هغی کې د یوبندیانو ته غلطی عقیدی منسوب کړی او بیا لاړ د شریف زمانه وه دحلان ژوندي وواو دعربو دعلماو نه هغه فتوی واغسته په دغه عقیدو واله باندې چې دا کافر دی او چې دلته راغی هغه کتاب ئی چهاپ کړو د هغه کتاب نوم دی حسام الحرمین هغه حسام الحرمین چې کله چهاپ شو په هندوستان کې یوه لویه بلوه جوړه شو لکه نن صبا چې دی خلقو دا بلوه جوړه کړی ده نو مولانا خلیل احمد سهارنپوری ده شیخ الهند په اشاره باندې یو دفع الوقتی کتاب اولیکه په هغی کې ۲۲ نقطی دی په هغه ۲۲ نقطو کې ۲ عقیدی دی نور ټولی څه فقهی مسئلی دی څه اعتراضات دی او څه د هغی جوابات دی او دوی ورله نوم کیخوده عقائد علماء دیوبند په هغی کې دالله تعالی دتوحید مسئله نه شته په هغی کې د جنت مسئله نه شته او په هغی کې

۱ - سنن ترمذي طبع بشار جلد ٤ صفحه ٢١٩

ده دوزخ مسئله نه شته په هغی کې د قبر مسئله نه شته د حساب او کتاب مسئله پکې نه شته او بیابه هغی کې داسی خبری هم دی چې زمونږ اکابرین ده دیوبند د هغی مخالف دی لکه مثلا د هغی دولسمه نقطه د محمد بن عبدالوهاب نجدی په باره کې ده چې محمد بن عبدالوهاب نجدی په باره کې زمونږ دا عقیده ده چې هغه خارجی وو او الله تعالی دي دوي ته لار وښائي لیکلی دی عبد الوهاب النجدی محرک شیخ محمد وو عبدالوهاب نه وو خو شامی د لری وطن سړي وو د شام هغه په دی نوم کې خطا شوی وو نو دوئي هم هغه عبد الوهاب لیکلي دي

د حضرت ګنګوهي نه چا تپوس کړي دي چې محمد بن عبد الوهاب النجدي څنګه سړي وو؟ هغه جواب ورکړي دي:

نیک آدمی تھا اور متبع سنت تھا اور حنبلی مذہب کے تابع تھے البتہ زبان میں ذرا شدت تھی

ګنګوهي ته تاسو څه وائي دیوبندي دي او که نه؟ بیا هغه پریږده د بریلویت په قلعه کې چې اول ضرب چا لګولي دي مولانا محمد منظورنعماني صاحب هغه د بریلویت په رد کې کتاب لیکلي دي سیف یماني بر مکائد فرقه رضاخاني مشهوره مناظره چې په سیلاں والی کې شوي وه د مناظري دعوت زمونږ د استاذانو استاذ مولانا حسین علي رحمه الله ته شوي وواو د مولانا حسین علي په خپلو شاګردانو کې مولانا محمد منظور نعماني راوستو او بریلیانو د طرف نه مولانا حشمت علی وو او سیلاں والی مناظره دا یو کاری ضرب وو په بریلویت باندې نن هم د سیلاں

والی مناظره چهاپ ده دا مولانا محمد منظور نعمانی کړی وه هغه یو کتاب لیکلی دی: شیخ محمد بن عبدالوہاب اور ہندستان کے علماء حق

د شیخ محمد بن عبد الوهاب حقیقت

د د یوبند مشر عالم قاری محمد طیب صاحب دهغی کتاب باندې لیکلی دی چې زمونږ اکابرین د دی سړي د حال نه بالکل ناخبره وو او الله تعالی دی اجر جزیل ورکړی محمد منظور نعمانی ته چې هغه اصل حقیقت معلوم کړو او ده شیخ محمد بن عبدالوهاب النجدی دهغه خدمات ئې خلقو ته پیش کړه.

مولانا منظور نعماني اور مولانا قاري محمد طیب صاحب دیوبندیان وو او که نه ؟

لګ عقل پکار دی سوچ پکار دي کومه خبره چې کوی پهلے تولواور پر بولوالله رب العزت د تول کتاب رالیږلی دی بی توله مه جوړیګی چې هرخبره بی توله کوی.

مولانا محمد زکریا د محمد بن عبد الوهاب رحمه الله سره محبت

کله چې دغه کتاب چهاپ شو شیخ محمد بن عبدالوہاب اور ہندستان کے علماء حق مولانا زکریاصاحب چا چې د مؤطا شرح لیکلی ده څوک چې ده تبلیغی جماعت مشر عالم وو مدینی منوره کې وو هغه وئیل الله تعالی دی ده لره اجر ورکړی ده ده یو داسی لعل نه دوړی لری کړی چې هغه په ایرو کې پټ شوی وو او مالره ده دی کتاب

۵۰۰ نسخی راکړی ۲۵۰ مدینی ته راولیګئ او ۲۵۰ سهانپور ته ولیګئ هغه په خپل خاص خرچ باندې ۲۵۰ نسخی په مدینی منوره کې مفت تقسیم کړی دی او ۲۵۰ په سهارنپور کې څه تاسو نه تپوس کوم مولانا زکریا ته څه وائی؟ •

کیا فرماتے ہیں علماء دین کہ یہ لوگ دیوبندیت سے خارج ہیں کہ دیوبندت میں داخل ہیں

که ګنګوهي ده د یوبندیت نه خارج شی ستا سو دي د یوبندیت ته زمونږ سلام دي مولانا دا څه د یوبندیت دی چې ګنګوهی پکې نه وی او که چری مولانا زکریا تری خارج شی او که مولانا محمد منظور نعمانی تری خارج شی دا څه دیوبندیت دی؟

د کراچئ واقعه او د طالبانو تپوسونه

زه یوه پیره کراچئ ته تلی وم مفتی نظام الدین شامزي الله دی پری رحم وکړی هغه ژوندي وو اوهغه زما د طالبئ ملګری وو لاړم د هغه ملاقات لره او زما یو شاګرد وو څه زمانه په دي مردان کې استاذ وو عزیزاحمد نوم ئی وو اوس په فوج کې ننوتی دی په تیمرګره کې دي هغه هلته طالب وو په هغه کال باندې زه چې لاړم چرته سابقه به ئي زمونږ دجماعت تعارف کړی وو هغه به ئي زما په واسطه باندې کړی وي هغه ملګروته ئي ووئیل زما استاذ راغلی دی که تاسو تری څه تپوسونه کوئ هغوئي ورسره متفق شو ماپسی راغی چې ده دوره حدیث طالبان وائی مونږ ده ده نه څه تپوسونه کوو څه لاړم کیناستم اوده دوره حدیث طالبانوته مې ووئیل زه دومره پوهه نه ئم خو که د کومی خبری جواب راتلو

درکوم به ئی او که نه راتلو نو بخاری باب ترلی دی باب قول المحدث والله اعلم نو زه به هم درنه ځان په والله اعلم خلاصوم هغوئی اول تپوس زما نه دا وکړو چې ده نبی علیه السلام د ژوند په باره کې ته څه وائی ؟ نو ماهغوئ ته وی تاسو انشاء الله پاؤکم مولیان ئی هسی ستاسونه یوتپوس کوم چې نبی علیه السلام کوم ځائی پیداشوی ووهغوئ وی په مکه کې بیا په مکه مکرمه کې څوکاله پس هغه ته نبوت میلاؤ شوی وو هغوئ وی څلویښت کاله پس ما ورته ووئیل قول واحد دي؟ هغوئ ووئیل آو قول واحد دي بیا نبی علیه السلام په مکه مکرمه کې څوکاله تیر کړي وو؟ هغوئ وی چې دیارلس کاله دنبوت نه پس تیر کړی وو ما ورته وی ټول څوکاله شو؟ هغوئ ووی چې دري پنځوس کاله شو ما ورته ووئیل ستاسو په دي یقین دي هغوئ وي آو زمونږ په دي یقین دي ما ورته وی بیا ئی څه چل وکړو وئیل جی بیا ئي مدینی منوری ته هجرت وکړو ما ورته وی په مدینی منوری کې څوکاله تیرکړه ؟ وی هلته ئی لس ۱۰ کاله تیرکړه ټول سومره شو؟ وی دری شپیته کاله ما وی بیا څه چل وشو؟ وی مړ شو ماورته وی دغه زمونږ عقیده ده.

که نبی علیه السلام وفات شوی نه وی د هغه به دری شپیته کاله عمر نه وی بخاری لیکلی دی.

حَدَّثَنَا مَطَرُ بْنُ الفَضْلِ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: «بُعِثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَرْبَعِينَ سَنَةً، فَمَكُثَ بِمَكَّةَ ثَلاَثَ عَشْرَةَ

سَنَةً يُوحَى إِلَيْهِ، ثُمَّ أُمِرَ بِالهِجْرَةِ فَهَاجَرَ عَشْرَ سِنِينَ، وَمَاتَ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ» [تعليق مصطفى البغا]: (۱)

چې نبی علیه السلام وفات شو دری شپیته کاله عمر ئې وو نو که چیری هغه په قبر کې ژوندي وي په حیات دنیاوی سره نو دومره عمر به ئې بیا نه وو.

بیامی ورته وی ای د الله تعالی سادګانو ستاسو ده دوره حدیث طالبان ئی صباله به ستاسو د قوم مخی ته زئی او تاسو به مقتداګان جوړیګئ مائي لګ یو څو آیاتونه درته وائم غوږ ورته کیدئ کلمه مي ووي او بیا مي ورته ووئیل.

أَمْ كُنْتُمْ شُهَدَاءَ إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ الْمَوْتُ إِذْ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعْبُدُونَ مِنْ بَعْدِي قَالُوا نَعْبُدُ إِلَهَكَ وَإِلَهَ آبَائِكَ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ إِلَهًا وَاحِدًا وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ (۲)

تاسو حاضر وئي چې په یعقوب علیهم السلام باندې مرګ راغی أَوْ كَالَّذِي مَرَّ عَلَى قَرْيَةٍ وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَى عُرُوشِهَا قَالَ أَنَّى يُحْيِي هَذِهِ اللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَا فَأَمَاتَهُ اللَّهُ مِائَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُ قَالَ كَمْ لَبِثْتَ قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ قَالَ بَلْ لَبِثْتَ مِائَةَ عَامٍ فَانْظُرْ إِلَى طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ وَانْظُرْ إِلَى حِمَارِكَ وَلِنَجْعَلَكَ آيَةً لِلنَّاسِ وَانْظُرْ إِلَى الْعِظَامِ كَيْفَ نُنْشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوهَا لَحْمًا فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ قَالَ أَعْلَمُ أَنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (۳)

---

۱ صحیح البخاری (الطبعة الهندیة) جلد ۱ صفحه ۱۸۹۶ بابُ فضائل أصحاب النبيّ صلّى اللهُ علیه وسلّم

۲ سورة البقرة (۱۳۳)

۳ سورة البقرة (۲۵۹)

الله پاك عزیر علیه السلام سل ۱۰۰ کاله مړ کړی وو روح ئې ترې ویستلی وو او بیائي ورته واپس کړو.

وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِنْ مَاتَ أَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ وَمَنْ يَنْقَلِبْ عَلَى عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَضُرَّ اللَّهَ شَيْئًا وَسَيَجْزِي اللَّهُ الشَّاكِرِينَ: (۱)

که چرې هغه مړ شو او یا ووژلي شو لوئی نه دي وئیلي څکه لو په ممتنعاتو راځي ان ئي راوړي دي الله تعالی فرمائی:

وَمَا جَعَلْنَاهُمْ جَسَدًا لَا يَأْكُلُونَ الطَّعَامَ وَمَا كَانُوا خَالِدِينَ (۲)

انبیاء علیهم السلام داسی جوثي نه وی چې ډوډئ نه خوړه. بیا می هغوئي ته وی تاسو ته پته شته جوثی دوه قسمه دی یو هغه ده چې شکل شکل ده بنده وی خو دوډئي نه خوری دې ته وائی نور او چې شکل شکل د بنده وي او ډوډئي خوري نو هغه بشر وي نو الله فرمائي:

وَمَا جَعَلْنَاهُمْ جَسَدًا لَا يَأْكُلُونَ الطَّعَامَ وَمَا كَانُوا خَالِدِينَ

انبیاء علیهم السلام داسی جوثی نه وی چې ډوډی نه خوړه بلکه هغه جوسی وی چې ډوډی خوړه هغوئي ته می وی ستاسو پنجابیان وائي چې نبی علیه السلام چې وو:

ظاہر سے تو بشر تھے لیکن وچوں وچوں نور تھے

الله تعالی فرمائی چې دننه نور وی نو هغه ډوډی نه خوری ابراهیم علیهم السلام له بندیان راغلی وو بهر بندیان وو خو دننه

---

۱ - سورة آل عمران (۱٤٤)

۲ - سورة الأنبياء (۸)

نوروو هغه چې ورته ډوډی کیخوده هغوئ نه خوړه ابراهیم علیه السلام ورته وی:

إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلَامًا قَالَ إِنَّا مِنْكُمْ وَجِلُونَ: (۱)

زه خو ستاسونه ویریدم ډوډئی نه خوری.

هغوئي ورته وئیل لَا تَوْجَلْ ویریږه مه مونږه فرشتی یو.

الله تعالی وائی:

وَمَا جَعَلْنَاهُمْ جَسَدًا لَا يَأْكُلُونَ الطَّعَامَ وَمَا كَانُوا خَالِدِينَ: (۲)

انبیاء علیهم السلام داسی اجساد نه وو چې ډوډئی نه خوړله هغوئي نور نه وو هغوئي بشر وواو هغوئي په دنیا کې همیشه نه دی پاتی شوی.

مَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِنْ قَبْلِكَ الْخُلْدَ أَفَإِنْ مِتَّ فَهُمُ الْخَالِدُونَ: (۳)

جعلنا علماء پري پوهیږي او هغه طالبانو ته هم ما وئیل مَا جَعَلْنَا نفي ده لِبَشَرٍ نکره په سیاق د نفي کې واقع شوي ده عموم پیدا کوي هیڅ یوبشر له ستانه مخکې ماپه دی دنیا کې د همیشه ژوند نه دی ورکړی آسمانونو کې نه ځمکه کي په اسمانونو کې ژوندي شته خو په دي دنیا کې څوک ژوندي نه شته.

أَفَإِنْ مِتَّ فَهُمُ الْخَالِدُونَ: (۴) ولی که ته مړشی داخلق به همیشه وی بیا می ورته وی وی چې د سلیمان علیه السلام په باره کې وائی

---

۱ - سورة الحجر (۵۲)

۲ - سورة الأنبياء (۸)

۳ - سورة الأنبياء (۳٤)

٤ - سورة الأنبياء (۳٤)

فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ عَلَى مَوْتِهِ إِلَّا دَابَّةُ الْأَرْضِ تَأْكُلُ مِنْسَأَتَهُ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ أَنْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ الْغَيْبَ مَا لَبِثُوا فِي الْعَذَابِ الْمُهِينِ (۱)

کله چې مادهغه دمرګ فیصله وکړه دیوسف علیه السلام په باره کې فرمائي:

وَلَقَدْ جَاءَكُمْ يُوسُفُ مِنْ قَبْلُ بِالْبَيِّنَاتِ فَمَا زِلْتُمْ فِي شَكٍّ مِمَّا جَاءَكُمْ بِهِ حَتَّى إِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَنْ يَبْعَثَ اللَّهُ مِنْ بَعْدِهِ رَسُولًا كَذَلِكَ يُضِلُّ اللَّهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُرْتَابٌ (۲)

بیا می ورته داعمومی آیاتونه راوړول بیا مي ورته ووئیل چې تاسو د دوري طالبان ئي چې دیوآیت نه سړی منکر شی هغه څه وی نو هغوئي ووئیل کافر دی اوچې دا ټول نه منی بیا به ورته څه وائی ؟ زما دا ایمان دی چې ده د یوبند علماؤ هغوئي دا ټول آیاتونه منل او دغه وجه ده مفتی کفایت الله مفتی اعظم هند هغه په خپله فتاوی کې یوځل نه دوه ځله نه ګڼ ځایونه لیکلی دی چې انبیاء علیه السلام په خپلو قبرونو کې ژوندی دی خو دا ژوند دا برزخی ژوند دی او ده دنیا ژوند ختم دی اوده دنیا د ژوند نه مختلف دی او زمونږ ده اکابرینو هم داعقیده ده چې انبیاء علیهم السلام لره الله تعالی ده دنیا ژوند نه وي ورکړی هغوئي لره اعلی ژوند ورکړی دی چې ده دنیا ژوند د هغی سلمه حصه هم نه ده الله تعالی فرمائي: كَلَّا بَلْ تُحِبُّونَ الْعَاجِلَةَ (۳)

٤- سورة سبأ (١٤)

٢ - سورة غافر (٣٤)

٣ - سورة القيامة (٢٠)

ستاسو ده دنیا سره محبت دی او

وَمَا هَذِهِ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا لَهْوٌ وَلَعِبٌ وَإِنَّ الدَّارَ الْآخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ : (۱)

دا معمولی ژوند دا لوبی او تبوقی دی هسی چې یوسړی په پیغمبرانو پوری لوبی او تبوقی کوي او ده دنیا ژوند ورپوري ترعمره تړی داخۀ خلق دی اوکنه مونږ وایو د آخرت ژوند ارفع اعلی دي چې د هغی مثل نه شته داسی ژوند ئي انبیاء له ورکړی دی کوم یو سړی خۀ دی ای د الله نه لګ ویریږئ (اتق الله)

د کراچۍ د طالبانو تپوسونه کول د سماع الموتی په باره کې

ماچې کله داخبری هغه طالبانو ته وکړی هغوئي ووئیل چې ستاسو دا خبري بلکل رشتیا دي خو ده دی مړو اوریدو په باره کې څه وائی ماورته وی عجیبه خلق ئی چې مړی شی نوځه به واوری ؟ ماورته وی ګوری ډاکټران ده یوسړی ترهغی پوری د مرګ تصدیق نه کوی ترڅو پوری چې د هغه هراندام کار نه وی پریخودی چې یو رګ هم رقیږي هغوئ وائی ده کې لاساه شته چې سترګي او غوږونه ئي کار کوي دا مړي دي که ژوندي بیا می ورته وی قرآن کې الله تعالی وائی:

إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَى وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ (۲)

---

۱ - سورة العنكبوت (٦٤)

۲ - سورة النمل (٨٠)

ته مړ وته نه شی اورولی هغوئي ووئیل جي په دی کې خو د اسماع رد دی ماورته وی ښه ده چې هغه سماع راته اوښائی چې بغیر د اسماع نه وی ؟

اسماع وائی اورولو ته او سماع وائی اوریدو ته ما ورته وی داسی سماع راته اوښائی چې بغیر د اسماع نه وی ؟

سوچ ئي کوو ما ورته ووئیل داسی سماع خو نه شته الله تعالی وائی چې ته ورته اسماع نه شی کولی او اسماع ورته ځکه نه شی کولی ځکه چې هغوئي کې د سماع قوت نه شته.

إِنَّ اللَّهَ يُسْمِعُ مَنْ يَشَاءُ وَمَا أَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَنْ فِي الْقُبُورِ: (۱)

او بیا دی صاحبانوته وائم چې کوکب الدری واخلئ کوکب الدري د چا کتاب دي ؟ دا د مولانا رشید احمد ګنګوهي کتاب دي د پنج پیریانو کتاب نه دي د هندوستان چهاپ اول جلد ص ۳۱۹ حضرت ګنګوهی وائی والحق عدم السماع هغه وائی حق چې دی د مړو نه اوریدل دی چا ورته وئیل جي:

إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَى وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ: (۲)

دا خو د قبیلی ده وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ رَمَى نه دی معنی دا اثرمرتبه نفی شوی دی.

حضرت ګنګوهی باندې دالله تعالی کرورها رحمتونه وکړی هغه وائی وما قیل انه من قبیل ومارمیت اذرمیت فغیرتام څوك چې وائی داده قبلیی ده ومارمیت اذرمیت نه دی دا خبره درست نه ده ځکه

---

۱ - سورة فاطر (۲۲)

۲ - سورة النمل (۸۰)

چې دغه آیت کې راځی إِنْ تُسْمِعُ إِلَّا مَنْ يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا فَهُمْ مُسْلِمُونَ (۱) دا بیا نه صحیح کیږي ځکه اثر مرتبه د الله تعالی کار دی نو إِنْ تُسْمِعُ پیمغبر له څنګه ثابتوي ؟

د امام مالك رحمه الله وینا د بدعتي باره کې

الله تعالی دی رحم اوکړی په امام مالك رحمه الله باندې هغه وائی هر مبتدع چې هغه کله یو بدعت وکړی د هغه داخیال وی چې نبی علیه السلام دا دین نیمګړی پریخودی دی او دین لا پوره شوی نه دی هرمبتدع هرنوی قول او فعل چې سړی کوی دهغه داګمان دی چې دا دین نه دی پوره او د وحی دعوي کوی مونږ خدائی شتی په دی باندې خفه یو چې زمونږ دا وروښه دا یا د جهل د وجی نه یا ده تجاهل د وجی نه یا خو نه پوهیږی یا ئي په زوره باندې ځان ناپوهه کړی دی یا جاهلان دي یا متجاهلین دي او دوی په دی غلطه روان دی خدائی شتئ مونږ درباندې خفه یو زمونږ درباندې زړه درد کوی او مونږ ستاسو نه څه نه غواړو مونږ وایو إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَى راځی چې الله تعالی ته ځان نزدی کړو قُلْ هَذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ .

---

۱ سورة الروم (۵۲)

اصل عقیده ده

اصل حیاة د الله تعالی دی او اصل سمیع څوك دی ؟ الله تعالی دی هغه بي اسبابو چې اوري بي اسبابو پوهه څوك دي؟ الله تعالی دی بی اسبابو لیدونکی څوك دی؟ الله تعالی دی داخبری په خپل ذهن کی کیدئ شیطان تاسو دهوکه کوی کله یوطرف ته بوزی او کله بل طرف ته بوزی غم کې او په بنادی کښي ډمامې وهلی کیږی هلته ډوډئ خوړل څنګه دي ؟ دا خبري وروستئ خبري دي خواصل شی عقیده ده عقیده برابر کړی.

پیغمبر په غیبو نه پوهیږي

عرض می داکو چې مونږ دا وایو نو بي اسبابو پوهه څوك دي؟ پیغمبر په غیب باندې نه پوهیږی چې پیغمبر نه پوهیږی نو بل سوك هډو پوهیږي نه دی باره کې د قرآن آیاتونه ستاسو اوریدلی دی بار بار مو اوریدلي دي عزیر علیه السلام سل کاله مړ وو پته ورته نه وه اصحاب کهف نهه دپاڅه دري سوه کاله مړه وو پته ورته نه وه یعقوب علیه السلام ته دخپل څوئی پته نه وه حذیفه بن یمان وائی:

عن حذیفة قال اتیت رسول الله صلی الله علیه و سلم وهو یصلي فصلیت بصلاته من ورائه وهو لا یعلم فاستفتح فقرأ منها حتی ظننت انه سیرکع ثم مضی قال سنان لا اعلمه الا قال صلی اربع رکعات کان رکوعه مثل قیامه قال فذکرت ذلك للنبي صلی الله علیه و

سلم فقال الا اعلمتني قال حذيفة والذي بعثك بالحق نبيا اني لاجده في ظهري حتى الساعة فقال لو اعلم انك ورائي لخففت لم يرو هذا الحديث عن عبد الملك بن عمير الا سنان بن هارون تفرد به زحمويه (۱)

چې زه ده نبی علیه السلام پسی ولاړوم دشپی مونځ هغه کوو او زه راغلم او ورپسی ودریدم سورة البقره ئی شروع کړی وه چې خلاصه ئي کړه ماووی رکوع کوی نو آل عمران ئي شروع کړو ما ووی دا دی رکوع کوی نو سورة النساء ئي شروع کړه چې سورة النساء ئي خلاصوله نو ما وي وائي تکلیف غوندی می ظاهر کړو نبی علیه السلام فوراً رکوع له لاړو او دوئم رکعت ئي ډیر مختصر وکړو او بیا ئي ماته ووئیل:

لو کنت اعلم انك وراني لخففت

که چری ماته پته وی چې ته په ماپسی ولاړ ئي مابه مونځ سپك کړی وی پیغمبر پسی شاته سړی ولاړ دی او نه ئي پیژني

نبی علیه السلام یو ځلی خپله وسله پاکوله مشقص کرچ یاځپاړه اویو سړی په دروازه کې اشاره وکړه نو نبي علیه د هغه پسی ورمنډی کړی سړی ئي او نه پیژنده او ورته ئي وی که چیري ماته لیدلی وی ستانه به ماسترګی ویستی وی پیغمبر په غیب څه ښکاره باندې نه پوهیدو

مشهور حدیث دی:

---

۱ - المعجم الاوسط جلد ٤ صفحه ۳۲۱

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ وَاقِد . قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْد ، عَنْ ثَابِت ، عَنْ أَبِي رَافِع ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ امْرَأَةً - أَوْ رَجُلًا أَنْتَ تَقُمُّ الْمَسْجِدَ وَلَا أُرَاهُ إِلَّا امْرَأَةً فَذَكَرَ حَدِيثَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «أَنَّهُ صَلَّى عَلَى قَبْرِهَا»: (۱)

هغه بنځه چې مړه وه اوصحابو د شپې خخه کړی وه سحر چې نبی علیه السلام بقیع ته لاړو او نوی قبرئي اولیدو نو تپوس ئې وکړو دا ده چا قبردی؟ خلقو ورته ووئیل هغه بنځه چې ده جماعت حفاظت ئي کو که نبی علیه السلام ته پته وی نو ده دی سوال څه ضرورت وو ؟

د دعا کولو طریقه

دعا دابه د الله تعالی نه کوی خو دعا به ده دعا په طریقه باندې کوي نبی علیه السلام وائی

وحَدَّثَنِي أَبُو كُرَيْب مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاء ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ ، حَدَّثَنَا فُضَيْلُ بْنُ مَرْزُوق ، حَدَّثَنِي عَدِيُّ بْنُ ثَابِت ، عَنْ أَبِي حَازِم ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " أَيُّهَا النَّاسُ ، إِنَّ اللهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا ، وَإِنَّ اللهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِينَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِينَ ، فَقَالَ {يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا ، إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ} [المؤمنون: ۵۱] وَقَالَ {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ} [البقرة: ۱۷۲] ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ ،

---

۱ صحیح البخاري (الطبعة الهندية) جلد ۱ صفحه ۲۲۶ كتاب بدء الوحي

يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ، يَا رَبِّ، يَا رَبِّ، وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ، وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ، وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ، وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ، فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ؟ ": (۱)

چې يوسړی دشپې پاسی اولاس ئې پورته کړی وی او وائی وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ دهغه تربیت په حرامو باندې شوی وی د مړوپه مال باندې ئې تربیت شوی وی او په اسقاطونو باندې تربیت شوی وی د زیارت په شکر انو باندې تربیت شوی دی ده ده دعا الله تعالی نه قبلوی وَمَلْبَسه حَرَامٌ د کفنونو نه ئې غلاګانی کړی وی او د هغی نه ئې جامی جوړی کړی وی اوبه ئې حرامی وی ده ده دعا به الله تعالی څه قبوله کړی.

مونږ خوتاسو ته دادعوت درکو حلال خوري خلال اغوندي او حلال څکئ کوم شی ته چې پیغمبر حرام وئیلي دی هغی ته حرام وائی او بیا دعاچې کوی لوبی به نه کوی نبی علیه السلام وائی:

أخبرنا عبدان بن يزيد الدقاق بهمدان، حدثنا إبراهيم بن الحسين بن ديزيل، حدثنا عفان بن مسلم، وموسى بن إسماعيل، قالا: حدثنا صالح المري، عن هشام بن حسان، عن محمد بن سيرين، عن أبي هريرة رضي الله عنه، عن النبي صلى الله عليه وسلم، قال: ادعوا الله وأنتم موقنون بالإجابة، واعلموا أن الله لا يقبل دعاء من قلب غافل لاه: (۲)

کوم زړه چې هغه ناخبره وی لوبی کوی داده لوبو واله دعا الله تعالی نه قبلوی.

---

۱ صحيح مسلم مشكول وموافقا للمطبوع جلد ۲ صفحه ۸۵ باب قبول الصدقة من الكسب الطيب وتربيتها

۲- المستدرك للحاكم جلد ۱ صفحه ۴۹۳

زه خو په خپله علاقه کې خلقو ته دا وائم چې زمونږ د دې
دعاګانو نور هیڅ مطلب نه دي خو چې د چا غم شوي وي هغه ته
وائم هلکه ما وینه زه راغلي یم صبا چې زما مړي وشي ماله به
راځي یو اواز وکړي دعا به وکړو بل د بل ځائي نه اواز وکړي دعا
به وکړو بنه طریقه دا ده چې ګڼ خلق راشي او یو دعا په اخلاص
باندې وکړي هله چې ثابته شي د نبي علیه السلام خو عامه
طریقه دا وه چې چا کره به مړي شوي وو نو نبي علیه السلام به
ورته وئیل: غَفَرَاللّٰهُ لمَیِّتك وَأَحْسَنَ اللّٰهُ عَزَاءَك .
خلق وائی پنج پیریان دعا نه منی مونږ وایو چې دعا نه مني هغه
خو لعنتی وی خو تاسوئي نه منی او که مونږ ئي نه منو ؟ دوئي
دعا د فرضو نه پس او د سنتو نه پس دې ته دعا وائي:
مونږ وایو نه چې کورته زی دعا به کوی:
حَدَّثَنَا ابْنُ عَوْف، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، قَالَ
ابْنُ عَوْف، وَرَأَيْتُ فِي أَصْلِ إِسْمَاعِيلَ، قَالَ: حَدَّثَنِي ضَمْضَمٌ، عَنْ
شُرَيْحٍ، عَنْ أَبِي مَالِك الْأَشْعَرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ: " إِذَا وَلَجَ الرَّجُلُ بَيْتَهُ، فَلْيَقُلْ: اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلَجِ،
وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ، بِسْمِ اللّٰهِ وَلَجْنَا، وَبِسْمِ اللّٰهِ خَرَجْنَا، وَعَلَى اللّٰهِ رَبِّنَا
تَوَكَّلْنَا، ثُمَّ لِيُسَلِّمْ عَلَى أَهْلِهِ ": (۱)
چې بازار ته ځي دعا به کوی په کټ کې څملی دعا به کوی:
حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: كُنْتُ
قَاعِدًا عِنْدَ عَمَّارٍ فَأَتَاهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: أَلَا أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ، قَالَ: كَأَنَّهُ

۱ - سنن ابی داود جلد ٤ صفحه ۲۲۵ کتاب الطب

يَرْفَعُهُنَّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "إِذَا أَخَذْتَ مَضْجَعَكَ مِنَ اللَّيْلِ، فَقُلِ: اللَّهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِي إِلَيْكَ، وَوَجَّهْتُ وَجْهِي إِلَيْكَ، وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ، وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ، آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ، وَنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ، نَفْسِي خَلَقْتَهَا، لَكَ مَحْيَاهَا وَمَمَاتُهَا، فَإِنْ تَوَفَّيْتَهَا فَارْحَمْهَا، وَإِنْ أَحْرَزْتَهَا فَاحْفَظْهَا بِحِفْظِ الْإِيمَانِ": (۱)

چې د کټ نه پاڅی دعا به وائی:

حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ رِبْعِيٍّ، عَنْ حُذَيْفَةَ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم إِذَا نَامَ قَالَ: اللَّهُمَّ بِاسْمِكَ أَحْيَا وَأَمُوتُ وَإِذَا اسْتَيْقَظَ قَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَمَا أَمَاتَنَا، وَإِلَيْهِ النُّشُورُ: (۲)

او چې په کور کې خپل انسانی خواهشات پوره کوی هم دعا به کوی:

حدّثنا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ، عَنْ كُرَيْبٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "لَوْ أَنَّ أَحَدَهُمْ إِذَا جَامَعَ قَالَ: اللَّهُمَّ، جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ، وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا، فَقُضِيَ بَيْنَهُمَا وَلَدٌ، لَمْ يَضُرَّهُ الشَّيْطَانُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ": (۳)

تپوس تری وکړه ورته وایه تاته دا دعا ګانی یادی دی؟ او ته ئی کوی؟ مونږ هم دعا کوو او هم ئې منو او دوی نه دعا کوی او نه ئی منی دوی ټوله دعا راغستی ده او د سنتو په سپګمو پوري ترلي ده او هغه دعا چې هغه پیغمبر په خپله زندګی کې هم چرته نه ده کړی.

۱- مصنف ابن ابی شیبة جلد ۹ صفحه ۷۱ ما یقول الرّجل إذا نام وإذا استیقظ

۲- سنن ابی داود جلد ٤ صفحه ۳۱۱ کتاب الطّبّ

۳- مصنف عبدالرزاق جلد ٦ صفحه ۱۹٤ (القول عند الجماع وکیف یصنع وفضل الجماع)

د خپلی فقهی کتاب البدائع و الصنائع فی ترتیب الشرائع اول جلد ۱۵۹ هغه وائی چې کله یو سړی مونځ وکړو که داسی مونځ وو چې په هغی پسی سنت وو نوده اذکارو نه پس به مولا صاحب خپل ځائی پریږدی او ده قوم نه وروستو به هغه مونځ اوکړی او بهتره دا ده چې هغه کورته لاړ شی او نبی علیه السلام د سنتو د مونځ په باره کې فرمائي:

حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنْ طَارِقٍ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عَمْرٍو. أَنَّ نَفَرًا مِنْ أَهْلِ الْعِرَاقِ قَدِمُوا عَلَى عُمَرَ فَسَأَلُوهُ عَنْ صَلَاةِ الرَّجُلِ فِي بَيْتِهِ، فَقَالَ عُمَرُ: مَا سَأَلَنِي عَنْهَا أَحَدٌ مُنْذُ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْهَا فَقَالَ «صَلَاةُ الرَّجُلِ فِي بَيْتِهِ نُورٌ، فَنَوِّرُوا بُيُوتَكُمْ»: (۱)

کله کله دوی وائی چې په قبر کې فلانی پیغمبر مونځ کوو بله ورځ به ورته وائی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمائی چې لَا تَجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ قُبُورًا دکور نه به قبر نه جوړوی او مونځ به پکې کوی معنی څه؟ معنی دا چې په قبر کې مونځ نه وی دغه سړی به وی بله ورځ به په ممبرباندې مسئله کوی وائی چې عمررضی الله عنه ده تورات پانړی راوړی وی او هغه ئې لوستی اوده نبی علیه السلام رنګ مبارك متغیر کیدو بیانبی علیه السلام عمر رضی الله عنه ته ئې وی

حَيْثُ قَالَ لِعُمَرَ لَوْ كَانَ مُوسَى حَيًّا مَا وَسِعَهُ إِلَّا اتِّبَاعِي که چرې موسی علیه السلام ژوندی وی بغیر زما ده اتباع نه ئې کار نه کیدو.

---

۱ - مصنف ابن ابي شيبة جلد ۲ صفحه ۲۵۶ في الصف المقدم

خلقو ته وائی موسی علیه السلام مړ دي او ژوندي نه دی چې بل ځائي کې اودریږي وائی حیاة الانبیاء حیاة الانبیاء

په حیاة الانبیاء کې د مبتدعینو اساس او بنیاد

په حیاة الانبیاء کې تاسو ته پته شته ده دوی اساس او بنیاد څه دي؟ ده دوی نه چې کله لاړ ورکه شی دوی هربوتی ته ګټي ته لاس اچوی امام شافعی صاحب په مذهب کښ یو سړی دی جلال الدین سیوطی نوم ئي دی هغه یوکتاب لیکلی دی انباء الاذکیاء او دا کتاب هغه راغستی دی د خپل استاذ سبکی په روایت باندې سیوطی په باره کې ده دوی مشر استاذ مولوي سرفرازخان صفدر هغه دوی چې پری ناز کوی هغه لیکلي دي چې سیوطی هغه خو جامع الرطب و الیابس وو اوچ او لامده یوځائی راجمع کوی او د امام انور شاه کشمیری د هغه ده استاذ په باره کې لیکی چې د هغه استاذ هغه یوکتاب لیکلی دی دادوی چې پری ناز کوی.

فیه شیئًا جدیدا او طریا الا انه تصدی الی تقویة الضعاف

په هغی کې نوی اوتازه خبره نه شته ضعیف روایتونه ئي قوی کړی عرف الشذی کې داخبره هغه لیکلی ده.

د خیرات طریقه

مونږ کله وئیلی دی چې خیرات مه کوئي خیرات خوته نه منی خیرات وائی ده نیکی کارته په اوله او دوئمه او درئمه ورځ باندې څه شی ورکول دا ده نیکئ کار نه دی خو دوئ وائی په دی دری

ورځو کې دا سړی په ځان باندې نه یو هیرې نو په ګرمه کښې وهل پکاردی.

مونږ وایو دخدائی خاطر وکړئ په ګرمه کې سړی څله وهئ ؟ دا ستا رور نه دی؟

په مړی پسی چې دعا کوی الله تعالی پری اجر ورکوی نبی علیه السلام وائی سړی چې مړ شی عمل ئې ختم شی کوم عملو نه چې پاتې کیږی په هغی کې یوعمل دی وَلَد صَالِح يَدْعُو لَهُ.

أَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، قَالَ: حَدَّثَنَا الْعَلاَءُ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِذَا مَاتَ الإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلاَّ مِنْ ثَلاَثَةٍ: مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ، أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ، أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ: (١)

دخثعم قبیلی یو جینئ راغلی وه او نبی علیه السلام ته ئې وی پلار می مړ دی او په هغه باندې حج وو نو حج تری کولی شم هغه وی آو کولی شی ستا په پلار که قرض وي نو تا به نه شو ورکولي څه ؟ که ثواب نه رسیدلي نو نبي علیه السلام به ولي اجازه ورکوله.

عذاب القبر حق

وائی چې دا خلق د قبر عذاب نه منی مونږ د قبر عذاب په دویشتو ۲۲ آیاتونو ثابتوو

الله تعالی وائی:

١. السنن الكبرى للنسائي جلد ٦ صفحه ١٦٢

مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ: (۱)

چې چانيك عمل وكړو نارينه وو او كه زنانه خو شرط دادی چې دی ايمان واله وي ده لره به زه ښائسته ژوند وركوم نو خائسته ژوند د قبر تری مراد دی او

وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى: (۲)

د ابو هريره رضي الله عنه حديث دی په مسند ابی يعلی كې چې دی نه دقبر عذاب مراد دی.

خو دوی وائی داثواب او عذاب په دی قبر كې دی هندوله عذاب شته اوك نه ؟ كه ټول مسلمان له دی صرف؟ ده هندو قبر نه وی هغه خو سوزوی ده ته وايه هغه لره به كوم ځائی عذاب ملاويږي؟ ياخو به دعذاب نه منی اوياخوبه يو بل قبر منی چې كوم سړی په قبر كې كيخودی شو هغه لره خودلته عذاب شو خوده هندو باره كې دی څه خيال دی؟ اوپه سمندر كې چې مهيانو وخوړو هغه باره كې دی څه خيال دی؟ اوكه به نن وخت كې په بم باندې والوتو دهغه باره كې دی څه خيال دی؟ وائي قبر محفور فی الارض ته وائی قبر هغی ځائی ته وائی چې مړی پكې ږدی دلته بياده دوی سوچ نه وي وائی زِيَارَةِ قَبْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

---

۱ سورة النحل (۹۷)
۲ سورة طه (۱۲٤)

قبر کوم ځائی ته وائی؟ چې څه پکې وي؟ مړی او دوی وائی
ژوندی پکې پروت دی.
پخوا به طالبانو وی العقل بنه شئ ولوکان په چا کې وی عقل بنه
شی د ی خو چې په چا کې وی یو طرف ته وائی چې قبر هغی
ځائی ته وائی چې مړی پکې وي او بل طرف ته وائی چې پیغمبر
ژوندي دی او بل طرف ته وائی چې ده نبی علیه السلام قبرله لاړ
شی اوس ئې کتاب لیکلی دی په هغی کې تشریح کړی ده
اوبیاوائی چې نبی علیه السلام په خپل قبر کښې ژوندي دی.
عزتمندو ورونو مونږ هرهغه عمل چې هغه ده سنتو په معیار
باندې پوره وی مونږ هغی ته بنه عمل وایو او که ده سنتو په
معیار باندې پوره نه وی که خلق ورته ډیر خیر دی خیر دی وائی
مونږ ورته خیردی خیر دي نه شو وئیلي.
مونږ عمل هغه عمل ته وایو چې کوم د نبي علیه السلام د سنتو
په میزان باندې پوره وی.
حافظ ابن کثیر لیکلی چې ده اهل سنت والجماعت مسلك دا دی:
وأما أهل السنة والجماعة فيقولون في كل فعل وقول لم يثبت عن
الصحابة هو بدعة؛ لأنه لو كان خيرا لسبقونا إليه، لأنه م لم
يتركوا خصلة من خصال الخير إلا وقد بادروا إليها: (۱)
چې هرقول او فعل چې د صحابونه ثابت نه وی هغی ته مونږ بدعت
وایو که چری داخیر وی نو صحابه به دی ته وړاندی شوی وو.

۱ - تفسیر ابن کثیر جلد ۷ صفحه ۲۸۷

غیر مقلدین او د تقلید اثبات

دوه قسمه خلق دی یو دغه خلق صحابه نه منی او بل یو قسم خلق راپیدا شوی دی چې عثمان رضی الله عنه کوم عمل کړی دی نو وائی چې داده عثمان رضی الله عنه بدعت دی وه د بدبخته بچیه چې عثمان رضی الله عنه بدعتی شو ستاپلار سنتو والاشو هغه خو په سنت باندې ډیرخه پوهه وو.

تراویح ته وائی دا ده د عمر رضی الله عنه بدعت دی او ددی د الله تعالی دبندګانو نه که تپوس وکړی وائی جې مونږه تقلید نه کوو تقلید نه بغیر ستا ګذاره کیږي؟ ستا پلار تقلید کوی ستانیکه تقلید کوی تول تقلید کوی خوفرق دا دی چې مذهبیان د یو تن تقلید کوی اوته د هرچا تقلید کوی

د ریاض د درس واقعه

ریاض کې زما درس وو اوهغه ځائی کې یوملا په ماباندې رپورټ وکړو وی صاحبه دی وائی چې تاسو د بخاری اومسلم تقلید کوئی که چری تقلید شرك وی ستا سو ډیر لوئی مشرکان ئی اوکه چری دا تقلید نبه وی توحید وی څه د موحدینو امام یم ما ته ئې وی داخبره تا کړی؟ ماورته ووئیل چې کړی می هم ده او اوس ئې هم کوم که تاسونه تپوس وکړو دا خبره ولی کوئی؟ دوئ وائی جې چې بخاری نے فرمایاہے قرآن کې الله تعالی نه دی وئیلی چې بخاری منی شته په قرآن کې دا ؟ چې آمنو بالبخاری قرآن کې دا شته چې په مسلم باندې ایمان راوړئ ؟

دوی وائی چې دا خدائی چرته وئیلی چې په امام صاحب باندې ایمان راوړی مونږ وایو چې داخدائی چرته وئیلی دی چې په بخاری او مسلم باندې ایمان راوړئ چې ته ده هغوئ منی اوخه ده امام صاحب ومنم په دی کې کومه قبح ده؟ ته د لسو کسانو مقلد ئې زه ده یو تن او بیا د تقلید نه بغیر چاره نه شته.

تقلید شخصي

الله تعالی فرمائی داسی سوال کوه اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ الله تعالیٰ مونږ ته نیغه لار اوښائي ورپسی وائی صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ نو داتقلید نه دی نو څه شی دی ؟ د کسانو د اشخاصو لار راته اوښائی وائی جي مونږه تقلید شخصی نه منو او که نه دی منلی الله تعالی به په قرآن کې داسی وئیلي وو چې داسي ووایه اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ صراط القرآن والحديث یو فاتحه نه وئیل دی اوبل فاتحه نه منل دی دوئ ی نه منی.

امین بالجهر

ابوهریره رضی الله عنه وائی:

حدثنا عبد الله حدثني أبي حدثنا أبو سعد الصاغاني محمد بن ميسر حدثنا محمد بن عجلان عن أبيه عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال: إنما الإمام ليؤتم به فإذا كبر فكبروا وإذا قرأ فأنصتوا وإذا قال { ولا الضالين } فقولوا آمين وإذا ركع فاركعوا وإذا

قال سمع الله لمن حمده فقولوا ربنا ولك الحمد واذا صلى جالسا فصلوا جلوسا أجمعون.

تعليق شعيب الأرنؤوط: صحيح وهذا إسناد ضعيف لضعف محمد بن ميسر الصاغاني لكنه متابع: (۱)

د ضالين پوري ئي د امام وظيفه کړه او امين ئي د دواړو وظيفه کړه نو دوی ته شيطان وسوځه په غوږ کې وغورځوله فقولوا آمين آمين په زوره باندې وايه کنه هغه وائی چې واذا قال سمع الله لمن حمده فقولوا ربنا ولك الحمد که د قولوا نه دي جهر ثابت کړو ټول جماعت به دی په غږمباری اغستی وی عقل نښه شی دی خوچې چا کې وی.

دغه ده ابوهريره رضی الله عنه روايت دی مسلم راغستی دی هغه وائی واذا قرأ فأنصتوا چې کله امام قراءت وائی تاسو به‌چې پاتی شی دغه رنګه دوئم روايت دی:

حدثنا عبد الله حدثني أبي ثنا إسماعيل انا سعيد عن قتادة عن يونس بن جبير عن حطان بن عبد الله الرقاشي عن أبي موسى الأشعري قال: علمنا رسول الله صلى الله عليه و سلم صلاتنا وسنتنا فقال إنما الإمام ليؤتم به فإذا كبر فكبروا واذا قال { غير المغضوب عليهم ولا الضالين } فقولوا آمين يجبكم الله تعالى واذا ركع فاركعوا واذا رفع فارفعوا واذا قال سمع الله لمن حمده فقولوا اللهم ربنا لك الحمد يسمع الله لكم واذا سجد فاسجدوا واذا رفع فارفعوا فان الإمام يسجد

---

۱ - مسند امام احمد بن حنبل جلد ۲ صفحه ۳۷۶ مسند ابي هريره رضی الله عنه.

قبلكم ويرفع قبلكم قال رسول الله صلى الله عليه وسلم تلك بتلك تعليق شعيب الأرنؤوط: إسناده صحيح على شرط مسلم (۱)

دريم روايت دی:

حدثنا عبد الله حدثني أبي ثنا محمد بن عبيد قال ثنا الأعمش عن أبي صالح عن أبي هريرة كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يعلمنا أن لا نبادر الإمام بالركوع والسجود وإذا كبر فكبروا وإذا سجد فاسجدوا وإذا قال { غير المغضوب عليهم ولا الضالين } فقولوا آمين فإذا وافق كلام الملائكة غفر لمن في المسجد وإذا قال سمع الله لمن حمده فقولوا ربنا لك الحمد

تعليق شعيب الأرنؤوط: إسناده صحيح على شرط الشيخين: (۲)

د ریاض واقعه

ریاض کې مولادی عمر خطاب نوم ئي دي د دی خلقو مشر مقتدا دی یوزمانه کې زه ئي نه پیژندم راغلی وو تبلیغیان ملګری وو هغه ئي راحصار کړه هغوئ ورته وی زمونږ یوبل تبلیغی ملګری دی هغه راولو هغه ته دا چل اوښایه زه چې راغلم سلام می ورسره وکړوما ورته وی څنګه راغلی ئي؟ وی ستاسو دا مونځونه خطادی مونځ درته ښائم ما ووی الله دی ستا ایمان ته خیر پیښ کړی مونږ خو دغي مونځونو پسي ګرځو چې مونځو نه مو صحیح شي

---

۱ - مسند امام احمد بن حنبل جلد ٤ صفحه ٤٠٥

۲ - مسند امام احمد بن حنبل جلد ۲ صفحه ٤٤٠ مسند ابي هريره رضی الله عنه

وی چې په امام پسی فاتحه نه وائی مونځ ئې نه کیږی ما ورته وئیل بلکل به ئې وایو چې مونځ مونه کیږی بیا څه کوو چې نه ئې وایوماورته وئیل چې مولوي صاحب داحدیث به راته ولیکی ته خو مولاسړی ئې ځان به د خلقو نه خلاص کړی خومونږ ته دا حدیث اولیکه نو هغه ولیکل:

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللهِ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ عَنْ مَحْمُودِ بْنِ الرَّبِيعِ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ (۱)

نو ما ورته وئیل چې لاندې د پښتو ترجمه ئې ورته هم ولیکه نو هغه ولیکل: چې عباده بن صامت وائی چې نبی علیه السلام فرمائیلی دی چې په امام پسی فاتحه اونه وائی مونځ ئې نه کیږی ما ورته وئیل چې د یوتکی تکی معنی راته هم وکړه ځکه امی سړی یم ځان پوهه کوم ما ورته وي جي چې د لَا صَلَاةَ ده دی څه معنی ده ؟ معنی ئې وکړه لا معنی نه شته او صَلَاةَ معنی مونځ لِمَنْ څه معنی ؟ وی د هغه چا او لَمْ يَقْرَأْ څه معنی ؟ چې اونه لولی بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ ما ئې د دي معنی امام ده ؟ نو وي نه د دي نه مراد سورة الفاتحه ده څه معنی فاتحه دکتاب نه ما ورته وئیل چې امام پکې د کوم تکی معنی ده ؟ هغه تکی خوراته پکې لګ اوښایه مولا وائی دائی معنی ده ما ورته وئیل ته خو مولاسړی ئی ته خوپه ځان خلاص کړی خوکه ماته چاووی چې امام دکوم تکی معنی ده ؟ بیا به ورته څه وائم ماته خوپکې امام تکی اوښایه په

۱- صحیح البخاری (الطبعة الهندیة) جلد ۱ صفحه ۲۴۸ کتاب بدء الوحي

تندی باندې خوله راغله ما ورته وئیل مولوی صاحب ماده یو مولا
نه مسئله اوریده نو هغه وئیل چې خاصه دعوه وی خاصه مدعا وی
ده هغی لپاره خاص دلیل پکار وی هغه په خاص دلیل ثابتیږی او
چې عامه مدعا وی د هغی لپاره عام دلیل پکار وی.
ما ورته وئیل ستا دا مدعا راته لګه خاصه بنکاري نو په دی باندې
ما ته څه خاص دلیل اوښایه ؟ نو هیڅ جواب ورسره بیا نه وو.

مولوي عبدالسلام رستمي مناظره د عمر د خطاب سره

مولوي عبدالسلام رستمي راغلی وو ریاض ته او داقیصه ده ته
معلومه ده او د ده پخوانی کیستی چې دی په هغی کې ده دا
قیصه کړی هم ده هغه مولا ده ته دمناظری چیلنج ورکړو ما دته
وی په قلا رتری کینه او د دی خلقو سره څه پوهیږم ماورته وئیل
راځه چې مناظره وکړو څه پاسیدم او خلقو ته می وئیل ایماندارو
د فاتحی وئیل او نه وئیل دا فقهی خلافی مسئله ده چاته چې
څنګه ښه بنکاری هغسی دی کوی.
مونږ ته نه وئیل ښه بنکاري او اوس د دی مولا نه تپوس کوم چې
څوك د امام پسی فاتحه نه وائی مونږ ئې کیږی او که نه ؟ که دی
وائی کیږی خبره خلاصه ده او که دی وائی چې نه کیږی.
دوئمه خبره ورسره څه کوم هغه چې پاسیدو رپیدو هغه ملګروته ئې
وئیل زه په ولاړی بیان نه شم کولې ما وئیل کرسی ورته راوړئ چې
کرسئ ورته راوړه قرآن مې په لاس کې دي او په جماعت کې د

ممبر د پاڅه ناست ئم دروغ نه وائم هغه څه کړې ډیر وکړل خو څه خبره تری جوړه نه شوه د دوئ یومولادی هغه پاسیدو چې لاس ئې کړو ټول لاس ئی لوند شو د هغه نه میتازی تلی وی

عزت مندو ده دی خلقو سره هم څه دلیل نه شته دوی هم د صحابو بد وائی او هغوئي هم د صحابو بد وائی دا دواړه د یو دا یو مسلك خلق دی دوی هم وائی د صحابو قول اوفعل حجت نه دی اوهغوئي هم د عثمان رضي الله عنه هغی ته بدعت عثمانی وائی او عمر رضی الله عنه هغی ته بدعت عمری وائی اوهغه لا څه کی په کتابونو کې دوی ډیری غټی غټی خبری لیکلي دی

د نواب صدیق حسن خان ځوئی نور الحسن خان دی نورالحسن خان هغه په خپله او نواب صدیق حسن خان په خپله د شوکانی د یوکتاب شرح کړی ده او په هغی کې لیکلی دی چې هر مؤمن له یولس ښځی کول جائز دی او څوك چې وائی دا ده پیغمبر خصوصیت وو د دوي سره هیڅ دلیل نه شته او ده غیلان ثقفی کوم حدیث چې راځی هغه وائی د هغی سند کمزوری دی هرسړی له د پیغمبر هومره ښځی کول جائز دی

صحابه معیار حق دي

مونږ دی دنیا ته دا دعوت ورکو چې د پیغمبر ځان له شان دی د صحابی ځان له شان دی او ده الله تعالی ځان له شان دی هر چا لره به دهغه حق ورکوی

اصحاب د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا زمونږ ګلونه دی او زمونږ ایمان دا ده هغوئي په ایمان چې وتلو هله به ښه کیږی.

فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوْا وَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا هُمْ فِي شِقَاقٍ فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللَّهُ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ (۱)

او خپل عمل چې مونږ صحابو په عمل باندې وتلو هله به ښه کیږی.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا كَمَا آمَنَ النَّاسُ قَالُوا أَنُؤْمِنُ كَمَا آمَنَ السُّفَهَاءُ أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَاءُ وَلَكِنْ لَا يَعْلَمُونَ (۲)

نبی علیه السلام نه چا تپوس وکړو هغه چې وی دری اویا ډلی به جوړ یږی یوه به جنتی وی ۷۲ به دوزخ ته ځي.

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الْحَفَرِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ زِيَادٍ الْأَفْرِيقِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيَأْتِيَنَّ عَلَى أُمَّتِي مَا أَتَى عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ حَذْوَ النَّعْلِ بِالنَّعْلِ، حَتَّى إِنْ كَانَ مِنْهُمْ مَنْ أَتَى أُمَّهُ عَلَانِيَةً لَكَانَ فِي أُمَّتِي مَنْ يَصْنَعُ ذَلِكَ، وَإِنَّ بَنِي إِسْرَائِيلَ تَفَرَّقَتْ عَلَى ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِينَ مِلَّةً، وَتَفْتَرِقُ أُمَّتِي عَلَى ثَلَاثٍ وَسَبْعِينَ مِلَّةً، كُلُّهُمْ فِي النَّارِ إِلَّا مِلَّةً وَاحِدَةً»، قَالُوا: وَمَنْ هِيَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «مَا أَنَا عَلَيْهِ وَأَصْحَابِي»: «هَذَا حَدِيثٌ مُفَسَّرٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ مِثْلَ هَذَا إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ» [حكم الألباني] حسن: (۳)

---

۱ - سورة البقرة (۱۳۷)

۲-سورة البقرة (۱۳)

۳ - سنن الترمذی تحقیق شاکر. البانی جلد ۵ صفحه ۲۶ باب ما جاء في افتراق الأمة

صحابه تری تپوس کوی چې د اجنتیان څوك دی یارسول الله؟ نبی علیه السلام ورته وی «مَا أَنَا عَلَيْهِ وَأَصْحَابِي» هغه خلق چې په کومه لارځه او ځما صحابه روان دی.

عزتمندو دلیل قرآن دي او دلیل حدیث دی دلیل د امت اجماع ده مونږ چې کومه مسئله کو که هغه دعلم غیب ده که هغه د حاضرناظر ده که هغه ده دی ده چې عزت او ذلت بادشاهی اغستل او ورکول اولاد ورکول او نه ورکول دا ټول د الله تعالی صفتونه دی په دی ټولوباندې مونږ قرآن پیش کوو او په دی ټولو باندې مونږ سنت پیش کوو.

قرآن او سنت مونږ له کافي دي

زمونږ دا یاران چې لګیا دی ده دوی سره بغیرده ډګوسلو نه هیڅ نه شته دوی سره څه دی؟ چرته کې کتاب راغستی دی په هغی کې حکایات اولیاء دی خو په حکایات اولیاء باندې دین نه ثابتیږی. چرته ئي کتاب راغستی دی نوم ئی دی ارواح ثلاثه مونږ د مولانا اشرف علی رحمه الله قدر کوو خو د اکابرو تعظیم جداشی دی اودا کابرو عبادت جداشی دی مونږه ئي عبادت نه کوو.

مونږ دنیا ته دا دعوت ورکوو چې قرآن د بسم الله ده ب نه شروع دی او د والناس په سین باندې ختم دی ب او سین چې یو ځائی کړی بس تری جوړیږی قرآن مونږ لره کافی کتاب دی او سنت دا ده قرآن تشریح ده سنت چې د قرآن مونږ ته کومه تشریح کړی مونږ په هغه تشریح پسی روان یو.

جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم چې مونږ ته کوم اعمال خودلی دی هغه اعمال زمونږ عمل دی په فقهی خلافی مسئلو کې زمونږ د امام ابوحنیفه رحمه الله علیه مسلك دا زمونږ مسلك دی سره ده دی نه مونږ ده نورو علماء اوده نورو ائمو قدر کړو چاته په بدنظر نه ګورو اوچې څوك ده دین مشرانو ته په بدنظر ګوری هغه سړی ته هم مونږ په بدنظر ګورو.

الله تعالی دی مونږ او تاسوله توفیق راوکړی چې مونږ خپل ژوند د الله تعالی د کتاب او د پیغمبرصلی الله علیه وسلم د سنتو مطابق تیرکړو.

الله تعالی دي مونږ له دا توفیق راوکړی چې مونږ د توحید جهنډه اوچته کړو او دا په دی دنیا کې خوره کړو الله تعالی دی مونږ له دا توفیق راکړی چې مونږ سنت د جناب رسول الله علیه وسلم اوچت کړو او په دنیا کې ئې خواره کړو او خپل رسمونه او رواجونه هغه ختم کړو دا ده نجات لار ده په دی باندې سړی الله تعالی ته رسی

د جنید بغدادي رحمه الله قول

مشهور صوفی جنیدبغدادی رحمه الله د هغه قول وو:

الطرق کلها مسدودة الا طریق من اقتفی آثارالنبی صلی الله علیه وسلم فان الله عزوجل یقول وعزتی وجلالی لو اتوني من کل طریق واستفتحوا من کل باب لما فتحت لهم حتی یدخل خلفك.

ترجمه: الله تعالی ته ده رسیدو ډیری لاری وی ټولی بندی شوی دی یوه لار ازاده ده او هغه لار هغه ده چې سړي د نبی علیه

السلام په طریقه باندې روان شو الله تعالی فرمائی زما دی په خپل عزت او په خپل جلال او په لوئی باندې دی قسم وي که دا خلق ماته په هری لار باندې راغلل او هره دروازه ئې راته وتنګوله چې په تا پسی نه رازی پیغمبره زه ورته خپله لار نه کولاوهم.

بدعت څه شي دي ؟

په چلاس بابا باندې دی الله تعالی رحم اوکړی هغه یو پیر خکلی تعریف کړی دی هغه وائی:

اگر پرسی زمن تفسیر بدعت　　بلائي در لباس دلبری هست

ترجمه: که د بدعت تفسیر رانه تپوس کوي چې بدعت څه شي دي؟ نو دا جامه ئي د یار اغوستي ده خو دا پیر لوئی مصیبت دي.

وياء بینی تواري راعصاني　　ویا بوبکرنام کافری هست

ترجمه: ماردی اوږد پروت دی ته وائی دا امساده که د سر نه دی او نیوله تك به درکوی او یا یو کافر دی ته ورلره نوم ابوبکر کیدی د ابوبکر په نوم باندې کافر نه مسلمانیږي.

که هندو لره ته ګل محمد نوم کیدی هغه مسلمانیږی؟ بدعت څه شی دی؟ دا چې تا کافر له د ابوبکر نوم کیخودی مونږ د بدعت نه متنفره یو زمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم وئیلی دی.

فقال عرباض صلی بنا رسول الله صلی الله علیه و سلم الصبح ذات یوم ثم أقبل علینا فوعظنا موعظة بلیغة ذرفت منها العیون ووجلت منها القلوب فقال قائل یا رسول الله کان هذه موعظة مودع فماذا تعهد إلینا فقال اوصیکم بتقوی الله والسمع والطاعة وان کان عبدا حبشیا فإنه من یعش منکم بعدي فسیری اختلافا کثیرا

فعليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين فتمسكوا بها وعضوا عليها بالنواجذ وإياكم ومحدثات الأمور فان كل محدثة بدعة وكل بدعة ضلالة (۱)

چې نوی کارونه پیدا شی ځان تری ساتی هرنوی کارچې جوړ شی په دین کې هغه بدعت دی دوی وائی نه جی په بدعت کې حسنه هم شته او سیئه هم شته.

دوی وائی جی مونږ دیوبندیان چې یومونږ طریقی منو د طریقومشر حضرت مجدد الف ثانی د هغه نه چا تپوس کړی دی چې بدعت کې حسنه شته؟ هغه ورته وائی:

این فقیر هیچ بدعت راحسنه نمي داند وجز ظلمت وکدورت را احساس نمي یاید اگرفرزند عمل مبتدَع را امروز بنظارت وتراود بینند فرداء که حدید البصرگردن دانند که بجز خسارت و ندامت نتیجه نه داشتن

ترجمه: ما ته یوبدعت حسنه نه ښکاري اوماته په بدعت کې د خړوالی او تور والی نه بغیر هیڅ نه ښکاری که چری تا ته هغه خپل د ځان نه جوړشوی عمل ترو تازه ښکاري صبا چې کله ته قیامت کې دي نظر اولږی تاته به پته اولږی چې بغیر ده تاوان نه پکې څه نه شته.

بدعت په هغی کې نو رانیت که وی په بدعت کې حسن نه وی دا داسی خبره ده چې خلق وائی چې زنا په دوه قسمه ده یو ښه زنا ده او بل بده زناده ښه زنا کومه ده ؟ چې سړی ئي ده امت د ډیرولو

---

۱ - مسند احمد بن حنبل جلد ٤ صفحه ۱۲٦

لپاره وکړی سومره خکلی دلیل دی خو زنا پری نه بنه کیږی زنا خو گناه ده.

بدعت دی گناه جی غلا هم په دوه قسمه ده یوکه مولا د کتاب غلا وکړی دوی وائی ده کتاب غلا جائز ده خو دوی چې کوی مولاصاحب هرڅه چې وکړل ده ده نه مه خفه کیږه.

منم ملا اگر کردم گناهي مشوحیران کفرم هم معاف است

ترجمه: زه مولائم که ما گناه وکړه خفه کیگه مه زه که کفر وکړم ماته هم معاف دی

باچه صاحب گیله کوی چې زړی مسئلی ختمی شوی اونوی شروع شوی.

اقبال رحمه الله فرمائي چې مولاصاحب فرمائي:

مدار ازمن امید اتحاد که شرط اول من اختلاف است

ترجمه: زما نه به دیووالی طمعه چری نه کړی زما اولنی شرط دا دی چې زه به اختلاف کوم.

پخواه به طالبانو وی چې: اتفق العلماءعلی ان لایتفقوا

مولیانو په هیڅ شی باندې اتفاق نه دی راغلی خو په دي خبره ئي اتفاق راغلی چې مونږ به چری یوځائی کیږونه دا د دوی فطرت دی مونږ بیا هم ده دوی د سلامتیا لپاره دعا کوو او د دعا سره سره زمونږ سره چې څه دي هغه ورته وړاندي کوو او مونږ ورته وایو ستاسو نه مونږ هیڅ نه غواړو إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَى راځی چې الله تعالی ته ځان نزدی کړو.

الله تعالی دی مونږ ځان ته نزدی کړی او داخلق دی الله تعالی په
صحیح لارباندې راوړی.
الله تعالی دی دوی د جنت مستحق کړی مونږ کې بخل نه شته
او الله تعالی دی دوی ته دلیل او نه دلیل کې فرق اوښائی چې
دوی دلیل او نه دلیل وپیژني.

واخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین

موضوع: اتحاد او اتفاق مقام دوديهير

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله الذي ارسل رسوله بالهدى ودين الحق ليظهره على الدين كله وكفى بالله شهيدا واشهدان لااله الاالله وحده لاشريك له اقرارا به وتوحيدا واشهد ان سيدنا ومولانامحمداعبده ورسوله صلى الله تعالى عليه وعلى اله وسلم واصحابه وسلم تسليمامزيدا اما بعد

أَعُوذُ بِاللَّهِ السَّمِيعِ الْعَلِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

كَذَلِكَ أَرْسَلْنَاكَ فِي أُمَّةٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهَا أُمَمٌ لِتَتْلُوَ عَلَيْهِمُ الَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَهُمْ يَكْفُرُونَ بِالرَّحْمَنِ قُلْ هُوَ رَبِّي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ مَتَابِ (۱)

د جمع كيدو مقصد

زما عزت مندو مسلمانانو وروښو چونكه مونږ چې راجمع شوى يو د قرآن عظيم الشان د ختم په تقريب كې راجمع شوى يو د هغى په مناسبت باندې د قرآن كريم د سورة الرعد نه ما يوآيت تلاوت كړو.

د مسلمانانو جماعت

تاسو ته دامعلومه ده چې په قرن اول كې مسلمانان هغه يوجماعت وو اوكه چرته د هغوئ نومونه بيل شوى وود هغوئ د

۱- سورة الرعد (۳۰)

نومونو د بیل والی سبب دا دی هغوئ عمل وو صرف لکه د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم په دور کې صحابه په دوو مختلفو نومونو باندې یادیدل یوته به ئې مهاجر وی اوبل ته به ئې انصار وی خودا نصرت او هجرت داده هغوئي د عملونو نومونه وو دا ده هغوئي د تفرق او د بیل والی نومونه نه وو او قرآن عظیم الشان چې کله دهغه خلقو ذکر کوی د هغوئي دا عمل را اخلی او دا عمل د هغوئی د صفت سبب ګرځی په سورة توبه کې الله تعالی فرمائی:

لَقَدْ تَابَ اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ إِنَّهُ بِهِمْ رَءُوفٌ رَحِيمٌ (۱)

الله تعالی وائی زما دی قسم وی د عربی قاعده ده لام چې په قدراشی او قد چې په ماضی دا معنی د قسم ورکوی.

دکافیه مشهوره شرح ده رضی هغی دا قاعده لیکلی ده الله تعالی قسم کوی وائی زمادی قسم وی چې زه د مهاجرین او د انصارو او د پیغمبر دری واړو نه راضی ئم او بیا د هغوئي عمل خائی.

الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ: هغه کسان چې هغوئي ده تنګسیا په وخت کې د پیغمبر تابعداري کړی وه.

مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِنْهُمْ (۲)

۱- سورة التوبة (۱۱۷)

۲- سورة التوبة (۱۱۷)

داسی سخت وخت وو چې د خلقو زړونه په دین باندې نه ټینګیده په هغه وخت کې بعضی کسانو خپل ملك پریخودی د الله تعالی دتوحید دپاره نو د مهاجرنوم ئې اغستی وو او چا د هغه خلقو نصرت کړی وو د انصار نوم ئې اغستی وو خوټول صحابه هغه یوخلق وو دانومونه داده طریقه کارنومونه وو او دا ده تفرق او تحزب نومونه نه وو.

مسلمانان او بهر د نیا ته تلپ

روره چې کله مسلمانان بهردنیا ته اوته د جزیرة العرب نه او اسلامی دنیا هغه لویه شوه د مختلفوخلقو سره مسلمانانو معاشرت راغی اود هغی نه مسلمانانو څه داسی نومونه زده کړل چې هغه نومونه په ابتداء کې د عمل نوم ووخو رو رو هغه په مسلمانانو کې تفریقی جوړی شوی.

د نفرت د نوم نه څان ساتل

په اول قرن کې الله رب العزت دغه دوه نومونه چې الله تعالی ئی مدحه کوی او د مدحی او د صفت سبب ئی ګرځوی.

لَقَدْ تَابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ إِنَّهُ بِهِمْ رَءُوفٌ رَحِيمٌ (۱)

۱- سورة التوبة (۱۱۷)

په یو جنګ کې دا دواړه نومونه د یوفرقی په طور باندې استعمال شوی وو نبی علیه السلام دی نوم ته بدبویه نوم وئیلی وو.

أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ قَالَ: أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، وَابْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزَاةٍ فَكَسَعَ رَجُلٌ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ، فَقَالَ الْأَنْصَارِيُّ: يَا لَلْأَنْصَارِ وَقَالَ الْمُهَاجِرِيُّ: يَا لَلْمُهَاجِرِينَ فَسَمِعَ ذَلِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «مَا بَالُ دَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ فَأَخْبَرُوهُ بِالَّذِي كَانَ»، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «دَعُوهَا فَإِنَّهَا مُنْتِنَةٌ» قَالَ وَكَانَ الْمُهَاجِرُونَ لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ أَقَلَّ مِنَ الْأَنْصَارِ، ثُمَّ إِنَّ الْمُهَاجِرِينَ كَثُرُوا بَعْدُ، فَسَمِعَ بِذَلِكَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أُبَيٍّ قَالَ: قَدْ فَعَلُوهَا وَاللَّهِ لَئِنْ رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ قَالَ: فَقَالَ عُمَرُ: دَعْنِي يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَأَضْرِبْ عُنُقَ هَذَا الْمُنَافِقِ، فَقَالَ: «دَعْهُ لَا يَتَحَدَّثُ النَّاسُ أَنَّ مُحَمَّدًا يَقْتُلُ أَصْحَابَهُ»: (۱)

یو جنګ وو او صحابه روان وو یو انصاری دی د هغه اوخه مخکې اوبوته ورسیده او د هغه نه مهاجر مخکې ناست وو په هغې باندې څه جنګ د هغوئ جوړ شو.

انصاری چغه کړه: یَا لَلْأَنْصَارِ او مهاجر چغه کړه: یَا لَلْمُهَاجِرِينَ نبی علیه السلام او فرمائیل «دَعُوهَا فَإِنَّهَا مُنْتِنَةٌ» دا تکی پریږدئي دا د نصرت او د هجرت دغه تکی ده دی نه بدبوئی خیژی خو ګوری چې کله داده عمل دپاره نوم وو نو قرآن د هغې صفت کوی او هغه مدار د توبی ګرځوی.

---

۱ مصنف عبدالرزاق جلد ۹ صفحه ٤٦٨ (باب قود النبي صلى الله عليه وسلم من نفسه)

لَقَدْ تَابَ اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ إِنَّهُ بِهِمْ رَءُوفٌ رَحِيمٌ (۱)

او چې کله داده تفرق اوده تحزب اوده ډله بازئ نوم شونو نبی علیه السلام وائی دَعُوهَا فَإِنَّهَا مُنْتِنَةٌ

اسلام انسان ته د اتفاق او اتحاد درس ورکوي

اسلام دا یو داسی دین دی چې دامونږه ته درس راکوی د اتحاد او د اتفاق او الله تعالی چې مونږ ته حکم کوی الله تعالی فرمائی چې: وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا (۲)

ستاسو دالله تعالی په دین باندې به جمع باندې منګولی او لګوئ او ډلی ډلی کیږئ مه اسلام داده ډله بازی نوم نه دی

تشریح د حدیث د تفرق د امت

نبی علیه السلام مونږ ده ډله بازی نه ویرولي یو حدیث دی په کتاب السنة کې امام ابو نصر مروزي په ګڼو روایاتو باندې ئې دا حدیث پیش کړي دي حدیث د تفرق د امت:

نبی علیه السلام فرمائیلی وو:

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الْحَفَرِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ زِيَادٍ الْأَفْرِيقِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيَأْتِيَنَّ

۱- سورة التوبة (۱۱۷)

۲- سورة آل عمران (۱۰۳)

عَلَى أُمَّتِي مَا أَتَى عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ حَذْوَ النَّعْلِ بِالنَّعْلِ، حَتَّى إِنْ كَانَ مِنْهُمْ مَنْ أَتَى أُمَّهُ عَلَانِيَةً لَكَانَ فِي أُمَّتِي مَنْ يَصْنَعُ ذَلِكَ، وَإِنَّ بَنِي إِسْرَائِيلَ تَفَرَّقَتْ عَلَى ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِينَ مِلَّةً، وَتَفْتَرِقُ أُمَّتِي عَلَى ثَلَاثٍ وَسَبْعِينَ مِلَّةً، كُلُّهُمْ فِي النَّارِ إِلَّا مِلَّةً وَاحِدَةً»، قَالُوا: وَمَنْ هِيَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «مَا أَنَا عَلَيْهِ وَأَصْحَابِي»:

«هَذَا حَدِيثٌ مُفَسَّرٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ مِثْلَ هَذَا إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ» [حكم الألباني] حسن: (۱)

چې يهود دا په يو اويا ډلو کې تقسيم شوی وو او نصاری په دوه اويا ډلو کې تقسيم شوی وو او زما امت به په دري اويا ډلو کې تقسيم کيږی ګوری دری اويانومونه دی چې هغه دعمل نومونه دی دی ته ډله بازی نه وائی په قرن اول کې ما تاسو ته ثبوت اوخوده مهاجراو انصار دادواړه نومونه استعمال شوی دی خو دا ده فرقه بازئي لپاره نه دی استعمال شوی داده عمل نوم وو خو چې کله د فرقه بازی په نوم باندې جماعتونه جوړ شو نو نبی علیه السلام دی فرقوته د لعنت فرقی وائی او نبی علیه السلام فرمائی زما امت به په دری اويا ډلو کې تقسميږی اوده دی ټولو باره کې نبی علیه السلام فیصله کوی فرمائی دابه ټول جهنم ته ځي صحابه تپوس کوی د الله تعالی پیغمبره دايوه ډله څوك ده ؟ ګنې ډلی په حصر کې نه راځی نبی علیه السلام اوفرمائیل چې کومه لار زما او زما د صحابو ده دايوه ډله هغه ده.

---

۱ - سنن الترمذي تحقيق شاكر. البانی جلد ۵ صفحه ۲۶ باب ما جاء في افتراق الأمة

د ملك ډلي او د هغوئي اوازونه

نن هم په دی ملك کې ډلی شته څوك اواز کوی چې د الله تعالی په احکامو منلو او د پیغمبرصلی الله علیه وسلم په سنتو کې کامیابي ده مونږ وایو ډیرخه آواز دی بهترین اواز دي غوږ باندې چې ولګي زړه ترینه سرور حاصلوي یو کافر به د دي نه منکر وي مسلمان د دي نه نه شي منکر کېدي.

بله ډله ده هغه اواز کوی او وائی چې مونږه په دی خپل ملك کې د الله تعالی په بندیګانو د الله تعالی نظام غواړو دا خو ډیره خوږه چغه ده نبی علیه السلام ټول عمر کوشش کړی او قرآن ئی حاکم کړي دي.

دغه رنګی مختلفی ډلی مختلف آوازونه کوی خو مونږ ګورو چې کومه ډله کوم آواز کوی چې دا ده هغه د عمل نوم دی او کنه؟ دا د هغه د متمیز شخصیت نوم دي که چری د عمل نوم وی چې دا عمل څوك کوی هغه په دی کې داخل دی اوکه چری داده ډله بازی نوم دی نو دا نوم مذموم نوم دی او ممدوح نوم نه دی چې ته ئي په خوله کې سومره خوږی.

د الله تعالی احکام په څه کې دي ؟

د الله تعالی احکام هغه د الله تعالی په کتاب کې دی د الله تعالی احکام کوم قرآن چې بسم الله د ب نه شروع شوی او د والناس په سین باندې ختم شوي.

ب او سین چې یوځائی کړی بس تری جوړیږی دایو کافی کتاب دی اوپه دې کې د انسان د ژوند او د هغه ده عقیدی اود هغه دمعاشری اودهغه داخلاقو د هغه دانفرادی او اجتماعی ژوند ده دی ټولو اصول او قاعدی پکې شته.

او جناب رسول الله علیه وسلم دهغه په طریقت کې او دهغه په لار کې کامیابی ده هغه ده دی تشریح کړی ده اود نبی علیه السلام طریقه څه وه؟ هغه دقرآن تشریح وه که ده دغه آواز دامعنی وی داډیر ښه آواز دی اوکه ده دغه آواز معنی دا نه وی صرف عنوان وي او دننه هغه معنون چې څه ته وائی هغه نه وی عزتمندو داسی قسم نومونه ده دی نه پیغمبرصلی الله علیه وسلم منع کړی ده.

د نجات او د فلاح لار

جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه د فلاح او ده نجات لار هغه ئي متعینه کړی ده اودا ئي وئیلی دی که ایمان صحیح غواړی نوزما ایمان او زما د صحابو ایمان دا ستاسو لپاره صحیح لار ده:

فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوْا وَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا هُمْ فِي شِقَاقٍ فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللَّهُ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ (۱)

که چری ده دی خلقو ایمان د صحابو دایمان په شان وو نو دا لار مندونکی خلق دی نو که چری دوی دصحابو دایمان نه واوړیدل دغه لار د شقاق لاړده شقاق داده فعال وزن دي اومادہ ئي شق ده اوشق وائی جدا کیدو ته نوکه چری د صحابو په ایمان دی ایمان

۱ - سورة البقرة (۱۳۷)

ونه تللو هغه ایمان چې هغه هغوئي د جناب رسول الله صلی الله علیه و سلم نه اغستي دي نو ته د صحابواو دجناب رسول الله صلی الله علیه وسلم نه جدا شوي دغه رنګه د عمل په میدان کې قرآن هم وئیلی دی:

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا كَمَا آمَنَ النَّاسُ قَالُوا أَنُؤْمِنُ كَمَا آمَنَ السُّفَهَاءُ أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَاءُ وَلَٰكِن لَّا يَعْلَمُونَ (۱)

دی خلقوته چې کله اووئیلی شی د صحابو په شان ایمان راوړی نو قرآن د صحابو ایمان دازمونږ دایمان لپاره معیارکړو او د هغوئ عمل ئي زمونږ دعمل دپاره معیار کړو.

نبی علیه السلام وائی هغه بهتره ډله په هغه ۷۳ ډلو کې چې هغه نجات مندونکی ډله ده هغه خلق دی څوك چې زما او زما د صحابو په طریقه باندې روان دی یو ډیر ښکلي تعین دي د جناب رسول الله صلی الله د طرف نه داسي تعین چې بغیر د شک نه که چرې یو سړي په هغي باندې سوچ کوي په هغي باندې تلي شي زه به د قبر سرد څه سلوك کوم؟ طواف به تري نه کوم څه به تري نه غواړم څه به پري ږدم څه به ورله ورکوم هیڅ کتاب ته ضرورت نه شته.

د جناب رسول الله صلی الله علیه و سلم د صحابو سیرت اوګوره چې هغوئ څه وئیلي دي؟ څوك چې د هغوئي په طریقه باندې روان دغه په هغه فرقه کې دي چې کومه فرقه ناجیه ده.

---

۱ - سورة البقرة (۱۳)

او کنه تا داسي خبري وکړي چې هغه ستا پلار ته ستا نیکه ته ستا استاذ ته ستا پیر ته ستا شیخ ته منسوب وي او ته ئې کوي او که چیري ستا نه څوک تپوس وکړي چې سنت د پیغمبرصلی الله علیه وسلم سنت د صحابو په دي کې څه دی؟ ستاسره هیڅ دلیل نه وی نو کاکادا لار دي غلطه ده سعدی بابا وئیلی دی

تر سم که نه رسی بکعبه اي اعرابی
که این راه که تومیروی بترکستان است

ترجمه: گوجره ته کعبی ته روان ئې خویقین می دا دی چې کعبی ته نه شی رسیدی ځکه لار دې ترکستان نیولی ده اوده ترکستان په لاربانديې کعبی ته نه شی رسیدی.

زما مړی شوی دی او څه په دی مړي کې څه وکړم ؟ کتې کې ورسره قرآن کیدم بیا چې کله کتې کیخودی شی دغه قرآن راواخلم او اصحاب العمائم علماء صاحبان هغه راجمع کړم هغوئ پری هغه ګول میز کانفرس وکړي اودغه پیسی په جیبونو کې کیدی او د جنازی نه پس دري دري او څلور څلور دعاګاني وکړو؟ او کنه څه طریقه وکړم؟

زما محترم تاته نبی علیه السلام یوه لارخودلی ده اوهغه تاته وئیلی دی چې ده کامیابئ لار هغه ده: مَا أَنَا عَلَيْهِ وَأَصْحَابِي په کومه لار چې زه اوځما صحابه روان دی داخولنډه خبره ده راځه تپوس به وکړو او داحادیثو ذخیری به اوګورو نه جامع الرموز ته ضرورت شته؟ نه پکې نورالهدی ته ضرورت شته؟ نه پکې شامي ته ضرورت شته ؟ نه پکې بل ته او نه بل ته ؟

خبره د کتابونو نه ده خبره د اشخاصو ده چې کوم کسان تقلید نه
کې هغه ټري هم لري کړه خبره د اشخاصو ده مونږ ته نبی علیه
السلام اشخاص خودلی دی: مَا أنَا عَلَيْهِ وَأصْحَابِي هغه لار چې څه
ښه ټري نو راځئ چې اوګورو چې پیغمبر صلی الله علیه و سلم او
د هغه صحابو څه کړي دي؟

زمونږ دا مهربانان چې په اوچتو اوچتو اوازونو باندې لوئی لوئی
دعوی کوي اومونږ وایو دادعوی دی خدائی ستاسو نصیب کړی
نو لاړځو وپیژ نه دعا کوم چې ده دعا څه طریقه ده ؟ ده دی باره
کې پیغمبر صلی الله علیه وسلم او صحابو نه ثبوت څه دی؟ هغه
ورځ مي یو ځائی کې بیان کو خلقو ته می وی چې زه پنج پیري یم
او ځما دا عقیده ده چې دعا نه منی دا سړی قطعی کافر دی الله
تعالی رب العزت وائی مانه غواړی چې یوسړی نه منی کافر نه
دی ؟ قرآن نه ئي انکار ونه کړو.

هسی ستاسو نه تپوس کوم چې تاسو دعاکوی نو منئ اوکنه ؟ دا
ستاسو چې کومه دعا کوئي دا خو دعا نه ده ځکه پیغمبراو
صحابو په خپله ټوله زندګئ کې چرته نه ده کړی اوچې کومی
دعاګانی هغوئي کړی دی هغه نه تاځوکوئي او نه ئي منی
نبی علیه السلام چې ده شپی سملاستلي نو دعا ئي کړی ده او
چې پاسیدونو دعا ئي کړی ده چې کورته راغلی دعا ئي په هر
ځائي کې پیغمبر دعا کړي ده څوک د دعا نه منکر دي ؟ نو دا ته
چې کوم شی ته دعا وائی دا چرته صحابو کړی ده ؟

عزت مندو غرض مې دا وو چې اوازو نه خو ډیر خوارېده خوارېده
زمونږ غوږونوته رارسي.
یو تن آواز وکړي چې جي که مونږه تاسو برسر اقتدار راوستو
ستاسو لره په مونږ اسلامي قانون راوالو دا اواز ډیر خوږ اواز دي
اسلامي قانون واه د سړي ورته سینه روښانه شي خو چې هغه
سړی پاس شی د اسلامی قانون په ځائی باندې هغه وړه
تقسیموی د اسلامی قانون په ځائی باندې هغه نالی پخوی د
اسلامی قانون په ځائی باندې هغه سړکو نه جوړوی.
دا څیزونه خومونږ له نیشنل پارټی واله هم کول دا خومسلم لیګ
واله هم کول دا تا چې دومره اوږده ګیره پریخودي وه او دا دومره
غټي غټي دعوي دي کولي دا صرف نومونه دی ده دی حقیقت
هیڅ نه شته.
یوډله ده هغوئي وائی د الله په احکامو او د پیغمبرپه طریقو کې
کامیابی ده مونږ وایوبیشکه دا ډیره خکلی خبره ده څوك ده دی
نه انکار کوی ؟ خود الله تعالی احکام په څه کې دی ؟ او د
پیغمبر طریقه په څه کې ده؟ داده بنده په کتاب کښې دی اوکه د
خدائی په کتاب کښې ؟

د پیغمبر طریقه

کوم ایت چې می لوستی دی په دی کې الله ده پیغمبرصلی الله
علیه وسلم طریقه خائی چې ده پیغمبرطریقه څه ده ؟

الحمد لله نن چې مونږه راجمع شوی یوددغه پیغمبردطریقی د
احیاء لپاره راجمع شوی یو او دا طریقه داسی طریقه نه ده
پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته الله تعالی وائی که دا طریقه دی
پریخوده بیا ستا هیڅ حیثیت نه شته الله تعالی فرمائی:
كَذَٰلِكَ أَرْسَلْنَاكَ فِي أُمَّةٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهَا أُمَمٌ لِتَتْلُوَ عَلَيْهِمُ الَّذِي
أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَهُمْ يَكْفُرُونَ بِالرَّحْمَٰنِ قُلْ هُوَ رَبِّي لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ
تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ مَتَابِ (۱)

زمونږ د پلار ی شیخ رحمه الله تعالی به وی کاف دا په دری قسمه
دی یوکاف د تشبیه لپاره دی یوکاف د تعلیل لپاره دی او یو
کاف لبیان الکمال لپاره دی.
كَذَٰلِكَ الله تعالی وائي دا زما کمال دی چې ته ما په یوډله کې
رالیږلی ئی څنګه ډله؟ د هغی نه مخکې ډیری ډلی تیری شوی دی
جنید بغدادی په یوځائی کښ وائي:
الطرق كلها مسدودة الا طريقَ من اقتفى آثارالنبي صلى الله عليه و
سلم فان الله عزوجل يقول وعزتي وجلالي لواتوني من كل طريق
واستفتحوا من كل بابٍ لما فتحت لهم حتى يدخلواخلفك
وائی الله تعالی ته ده رسیدو ډیری لاري دی دا ټولی لاری چې
کومی الله تعالی ته رسیدلي دی هغه ټولی لاری بندی شوی دی
یوه لار ازاده ده او هغه لار دا ده چې کوم سړی د پیغمبرصلی الله
علیه وسلم قدم باندې قدم کیخودوو او په هغه پسی روان شو
دغه سړی کامیاب دی.

---

۱ سورة الرعد (۳۰)

ځکه جنید بغدادي وائي الله رب العزت فرمائي زما دي په خپله
لوئی باندې او په خپل جلال باندې قسم وي قسم څوک کوي؟
الله قسم په خلق کوي د تا کېدد کلام لپاره او الله چې خبره وکړي
هغه هسي هم متاکده ده او چې کله قسم پري وکړي که دا خلق په
هره لار باندې راشي ډيره ښکلي لار وي د پيرو ډيره ښکلي لار وي
د استاذ ډيره ښکلي لار وي د شيخ خو د پيغمبر لار نه ئي ده ته
ډيره ښکلي ښکاري او هره دروازه راته وټکوي نو زما پيغمبره
چې ستا په قدم ئي قدم نه وي ايخي نو زه ورته خپل د رحمت
دروازه نه پرانځم

زمونږ په دي علاقو کې يوه ډله ده هغه وائي چې:

قدم د باچا خان په قدم نه ږدي
هغه تن به څه ښښتون وي څه افغان

خو زه وائم نه دا خبره بلکل غلطه ده اصل خبره داسي ده:

چې قدم د محمد (ص) په قدم نه ږدي
هغه تن به څه بنده ئي او څه مسلمان

قدم د جناب رسول الله صلى الله عليه و سلم په قدم باندې کېښودل پکار دي.

ذکر شیخ القرآن او زما مقام

زمونږ شيخ الله دي پري کروړها رحمتونه وکړي او الله دي د هغه قبر د نور نه ډک کړي کله نا کله زه سوچ کوم د الله په کور کې ناست يم او د الله کتاب مي مخي ته دي او په داسي ځائ کې چې

سړي دروغ وائي الله پري لعنت کوي چې زه ځان ته سوچ وکړم والله العظیم زما دا خیال ئي چې زه هیڅ نه ئم خو چې کله د ملګرو مجلس ته راشم او ملګري څه قدر وکړي زه پوهه شم چې دا قدر د حضرت شیخ القرآن د فیوضاتو نتیجه ده.

او دا د الله احسان دي چې د حضرت شیخ سره د تلمذ نه پس مونږ نه چاته ښکته شوي یو او نه چا اخستي یو او الله شته چې کله د شیخ القرآن هغه مینه را یاده شي نو زړه مي ټکړي ټکړي شي الله دي پري رحم وکړي الله دي د هغه قبر د نور نه ډک کړي.

په دي ملک کې د الله رب العزت طرف ته تلل دا د انبیاؤ هغه اقصی مقصد وواو قرآن ته رابلل چې دا د جناب رسول الله صلی الله هغه اعلی ذمه داري وه او زه اوس تاسو ته ښائم چې الله رب العزت جناب رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمائي:

که قرآن دي پریخوده نو پیغمبره تا به پریږدم که ټوله دنیا درسره وي او قرآن درسره نه وي نو زه ستا نه یم او ټوله دنیا دي ستا مخالف وي خو چې قرآن درسره وي نو زه درسره یم.

الله فرمائي دا ځما کمال دي چې ته مي په داسي ډله کې رالیږلي ئي چې د هغي نه مخکې ډیري ډلي تیري شوي دي.

د شیخ عبد القادر جیلاني اقوال په باره د توحید کې

د جنید بغدادي رحمه الله قول تاسو واوریده اوس د شیخ عبد القادر جیلاني وینا واوره خلق چې ورته لوئی ځوان وائي لوئی ځوان په خپل کتاب فتح الرباني کې فرمائي:

دا کتاب به حضرت شیخ څان سره هر بیان ته وړه هغه فرمائي
کل من لم یاخذالکتاب في یدٍ والسنة في أخری یهلكُ ویُهلك
والکتاب المنزل علیه في الید الاخرَی ولایاتلِ في طریقه الی الله
عزوجل یهلك ویهلك یضل ویُضل کلُ من لم یتبع النبي صلی الله
علیه وسلم و یاخذ شریعته في یده

ترجمه: هر هغه سړي چې د هغه په یو لاس کې قرآن نه وي او په بل لاس کې سنت نه وو دا خپله هم تباه دي او خلق ئي هم تباه کړه

هر هغه سړي چې هغه د جناب رسول الله صلی الله علیه و سلم خبره و نه منله په هغه پسي روان نه شو د هغه په قدم ئي قدم کښخود او د هغه شریعت ئي په لاس کې وانغستو او کوم کتاب چې په هغه باندې نازل شوي وو هغه ئي په بل لاس کې و نه نیوه او د ده مقصد په دي لاړه کې الله ته وصول نه وو په خپله هم تباه دي هلاک دي او د خلقو د هلاکت سبب هم جوړ شو خپله هم ګمراه دي او خلق ئي هم ګمراه کړل.

حضرت شیخ به کله نا کله یو شعر وي او ځني ملګرو ته به یاد وي هغه به وئیل.

وهل افسد الدینَ الا الملوك واخبار سوءٍ و رهبانها

ترجمه: دین دا بادشاهانو تباه کړي دي مولیانو تباه کړي دي نوم ئي د دین اغستي دي بنکار ئي پري کړي دي وتونه ئي پری اغستی دی اوبیا ده هغه او ده دین ده لری مناسبت هم نه شته داسړی هلاک دی اوداسړی ګمراه دی

بیا شیخ عبد القادر وائی هما دلیلان الی الحق عزوجل دا قرآن او سنت دا ښتا رسونکی دی الله تعالی ته.

د انبیاء ژوند اصل مقصد هغه د الله تعالی معرفت دی خلقو ته

یو حدیث کې راځی چې بهترین سړی په دنیا کښ هغه دی او بهترین جماعت په دنیا کې هغه دی چې هغه خلقو ته خدائی خائی.

چې دقبرلار ورته ښائی او یا ورته د حکومت لارخائی دا سړی سړی نه دی سړی هغه دی چې هغه خلقو ته لار اوښائي چې الله تعالی ته به څنګه رسی.

قرآن کې یو آیت راځی مفسرین او علماء دهغی ګنړی توجیح ګاني کوي زماناقص رائی کښ هم د هغی یوتوجیح ده الله تعالی فرمائ پیغمبره ته وائي ته دي خلقوته.

لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَىٰ (۱)

اي خلقو په دی قرآن باندې پیسی نه غواړم دا زماده دنیا ذریعه نه ده إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَىٰ معنی الا ان تؤادوني فی التقرب الی الله تعالی ستاسو زماسره مینه وکړی او زما سره راروان شئ چې تول الله تعالی ته هیر باندې لارشو.

الله تعالی ته رسیدل داده انبیاء علیهم السلام مقصد وو او تش په نوم باندې تش په نوم که ځان ته مسلمان وائی په دی باندې کار نه کیږی ده دی نه مخکې صفحه باندې شیخ صاحب لیکلی:

واما بقولك انا من امته من غیرمتابعة لا ینفعك

---

۱ سورة الشوری (۲۳)

که ته په خولی باندې وائی چې زه د پیغمبر امتی یم اومنی ئې نه
نو دا تاله هیڅ فائده نه درکوي فتح الرباني ۹۰ فائده به تاله هلته
درکوی چې ته وائی زه ده پیغمبر امتی یم اوده پیغمبر خبری خوته
اومنی کنه.

د پیغمبر لارڅه وه ؟

عزتمندو محمدرسول الله لارڅه وه؟ قرآن اود هغه طریقه قرآن وه
قرآن کې الله تعالی فرمائی كَذَٰلِكَ أَرْسَلْنَاكَ فِي أُمَّةٍ الله تعالی
فرمائی دا زما کمال دی چې ته ماپه داسی ډله کې راولیږلی قَدْ
خَلَتْ مِنْ قَبْلِهَا أُمَمٌ د هغی نه مخکې نوری ډیری ډلی تیری شوی
دی خوته می څه له رالیږلی ئي؟ ستا ذمه داری څه ده؟ او
ستاطریقه به څه وی ؟

چې دعلم سره ئې نږدې رابطه هم وی هغه په دی باندې پوهیږی:
لِتَتْلُوَ عَلَيْهِمُ الَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ دی دپاره می رالیږلی یي چې دغه
خلقوته ته هغه کتاب ولولي چې مادرته رالیږلی دی او مادرته
وحی کړی دی وَهُمْ يَكْفُرُونَ بِالرَّحْمَٰنِ او هغه به ستا ټول دشمنان
وی دمهربان خدائی نه به انکار کوی ده دشمن په مخکې د الله
تعالی کتاب لوستل دا کار د پیغمبر وو او ده دوستانو په مخکې
د الله تعالی کتاب نه لوستل دا ده شیطان طریقه ده.

زما په نظر کې یقینی دا د شیطان لار ده د رحمن لار دا ده د
مهربان خدائی چې خلق به د خدائی نه انکار کوی دخدائی
دشمنان به وی اوته به قرآن بیانوی

چې قران بيانوي نو الله به سټا ملګري وي

وروره چې دا قرآن دی بيان کړو او دا ټول خلق دی دشمنان شی الله تعالی وائی چې قرآن درسره وی خيردی که دنيادی دشمنان شی څه دی نه پريږدم فرمائی:

يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ (۱)

اې چې مارالیږلی ئی يا محمد ورته نه وائي بلکه رسول ورته وائي ته می څه له رالیږلی ئی؟ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ کوم کتاب چې تاته ستادرب د طرف نه رالیږلی شوی خلقو ته ئی اورسوه هميشه ئي ورسوه بَلِّغْ زمونږ مشائخوبه وی شيخ القرآن د پنج پير او شيخ القرآن ده پنډئی هغوئي به وی امر د استمرار دپاره دی رسوه هميشه اې پيغمبره ستارب چې تاته کوم کتاب رالیږلی دی داخلقوته رسوه او هميشه ئي رسوه او بياځان له په خپل زړه کې مبارکی ورکړئ او مبارکی په دی باندې ورکړئی چې او پنج پيريانو چې الله رب العزت ستاسو په دی باندې خاص کړی ئي او دا ډيوټی ستاسوته حواله کړی ده اوکه نورخلق دعوی کوی خدائی شته غلطی دعوی کوی

وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ اې زما پيغمبره که دالله تعالی دا ډيوټی دی و نه رسوله کومه ډيوټی؟ داکوم کتاب چې تاته راغلی دی دالله دطرف نه فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ نو د الله تعالی ډيوټی

---

۱ - سورة المائدة (٦٧)

دی پور نه کړه دخپل حنفی مسلك تفسیر به راواخلئ تفسیر مدارك او د دغه آیت لاندی به ئي اوګورئ هغه لیکلی دی:

وان لم تؤدّ بعضها فکأنك أغفلت أداءها جمیعا، کما أن من لم یؤمن ببعضها کان کمن لم یؤمن بکلها: (۱)

وائی چاچې یوخبړه دقرآن پټه کړه نو ده ټول قرآن پټ کړو او علماء وائي انتفاء د جزء مستلزم وي انتفاء د کل لره نو یوه مسئله چې دي پټه کړه نو ټول قرآن دي پټ کړواوکه ته وائی چې زه ئي په واشګاف الفاظو کې بیانوم دنیا به می مخالف شی الله تعالی وائی پرواه مه کوه ځه خودرسره یم وَاللّٰهُ یَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ الله تعالی وائی ځه به دی ده خلقونه بچ کوم خوقرآن به بیانوی که قرآن دي بیان نه کړو نو خپله ډیوتي دي سره ته و نه رسوله او چې قران بیان کړوده ټولي دنیا کفیل دي زه ئمه زه پوهه او دنیا پوهه اي چې ته بیان کوي او ټوپک د بل په لاس کې وي سومره د امن خبره ده او کنه ؟ الله ورته وائي ته قرآن بیانوه او خلق ماته پریده وَاللّٰهُ یَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ نبی علیه السلام باندې دا آیت چې راغی ده ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی وی دځرمنی یوخیمه وه په هغی کې ناست وواو سرئي رابهر کړو وی اي خلقو ځئ ځئ الله تعالی زه په خپل حفاظت کې واغستم

ځه کله کله یوځائی ته زم زما په زړه کې ډیرسوچونه وی ځه وایم ځه به دابیان کوم وغیره او په هغه ځائی کې چرته یوملګری او دریږی او یو خبره وکړی او زما هغه ټولی خبری بدلی کړی نبی

---

۱ - تفسیر الکشاف جلد ۱ صفحه ۶۵۹ تفسیرسورة المائده

علیه السلام ته الله تعالی وائی څه به دی بچ کوم دخلقو پرواه مه ساته او په تشو نومونوباندې مه دهوکه کیږه خلق به چغی وهی چې څه اسلام جاري کوم او په اصل کې اسلام جارو کوي او څه په ملك کې فلانی کارکوم دالله تعالی احکام او پیغمبر طریقو منلو کې کامیابی ده په دی باندې مه خوشحالیږه عمل کوه او عمل څه دی؟ او ستاکار څه دی؟ ته ما دي له رالیږلي ئي بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ که دی و نه رسو نو دالله تعالی ډیوتی دی پوره نه کړه او که دی ورسوه او چې ته وائی خلق ؟ الله تعالی وائی وَاللّٰهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ الله تعالی وائی زه به دی بچ کوم.

واقعه د شیخ القرآن

که د قرآن په بیانولوباندې مرګ وی شیخ القرآن به ده چا د لاسه مړ وو سوات کې یوملګری وو هغه جلسه جوړه کړه شیخ پسی راغی وی جی ماله به تقریر له راځی شیخ ورته وی څه سپین ګیري شوی یم او ځان له خپل تقریرونه کوئی څه نه شم درتلی اود هغه مقابلی له ډاګی مولااو مته مولاداټول راغلی وو ملګری مالا راغی په جړا باندې اس هم هغه ملګري ژوندی دی ماته ئي وی څه چل وکړه ما ورته وی ماله چل راځی ما ورته وی شیخ ته دچا ده طرف نه خط اولیکه او ورته ووایه که باندې ئی ته راغلی خیردی نه شته زه په چارباغ کې طالب وم شیخ ماته سوال جواب وکړو چې مولوي عبد الودود ته ووایه چې زه به په خپل ټائم بیان ته درځم شیخ صاحب راغی هغوئي وی زما په ایمان کې دا نه شته

چې مابه څوک وژني هغه وی ماته الله تعالی وئیلی دی چې وَاللّٰهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ هغه یوداسی سړی ووهغه په الله تعالی باندې کامل یقین ووکامل.

الله تعالی وائی زما پیغمبره قرآن به رسوی اوکه یومسئله دی پټه کړه ګوری زما قرآن دي و نه رسولو.

حضرت شیخ الله دی پری رحم وکړی کله کله به ئي یو شعر وی:

لیت الذی بینی وبینك عامر وبینی وبین العالمین خراب

ترجمه: کاش اي زما خدایه چې ستا اوځما په منځ کې تعلق جوړ وی خیردی که ده ټولی دنیا سره می تعلق خراب وی.

لیتك تحلو والانام مریرة ولیتك ترضی والانام غضاب: (۱)

ترجمه: الله چې ته راته خوږ ئي او ټوله دنیا راته ترخه وي او الله چې ته رانه راضي ئي خیر دي که ټوله دنیا رانه خفه وي.

چې قرآن دي پریخودو الله به دي پریدي

دوه دعوي ما کړي وي (۱) چې قرآن بیانوي الله به دي بچ کوي (۲) چې قرآن دي پریخودو الله به دي پریدي

بل ځائی کې ورته الله تعالی وائی:

وَلَوْلَا أَنْ ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدْتَ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيلًا: (۲)

---

۱. التفسیر المظهری موافقا للمطبوع جلد ۱۱ صفحه ۱٦٦۰ تفسیر سورة المائده

۲. سورة الإسراء (۷٤)

پیغمبره که خما امداد درسره نه وی او ماپه دی قرآن باندې نه وی مضبوط ګړی کیدي شی ستانری غوندی میلان هم ګړی وی دی خلقوته دا نری میلان ؟

اوس زمونږ په دی ملګرو کې ډیرشوی دی ده الیکشن ورځی وی پروسکال ماخلقوته اعلان کړی وو چې په دی دنیا کې دوه نظامه چالودی یو نظام دمکی دی اوبل د امریکی دی د مکی په نظام کې ووټ نه وو او د امریکی په نظام کې شته.

څه سخت مخالف ووم زمونږ په علاقه کې چې کوم سړی ولاړ وو اوس ده ابوخورو وزیردی وزیرآب پاشی ده هغه یو جلوس اووته او د خدائی سادګان دی جلوس په عربی کې کیناستو ته وائی چې دوئي ګرځی نو دوی هغوئي ته جلوس وائی داسی ئی عقل خراب شوی دی او دا خلق ورسره هم خراب شوی دی دوی هم نه پوهیږی چې دا مولیان څه کوی؟ هغه ګوره ګرځیدوته جلوس وائی او دوی ورسره منی اومونږه ګرځیدوته ګرځیده وائو او ناستی ته ناسته وائو قرآن ته قرآن وائو او دهوکی ته دهوکه وائو خلق وائی نه دا پنج پیری دی.

څه مولیان پیداشو دی وائی نبوت ختم دی او تنظیم ختم نبوت هلکه چې نبوت ختم شوخو محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دی په ابو باندې لاهوکړو ظالمه نبوت نه دی ختم نبیان ختم دی ګرځیدو ته دوئي جلوس وائی نو د هغه هغه جلوس اووته زما د علاقی ملګری په ماپښی راغلل وی ده دی سړی ډیر لوئی زور دی او صبا له به مونږ مړی نو ماورته وی ما ده دوی پلاران او

یکونه ډیر مړلی دی او که ما اومړی ایله خپل بدل به رانه واخلی
ته گوری مړلی مو نه شی.
نما شیخ هغه به وی چې باطل راځی دا ډیر زور او شور باندې
راځی خو د هغی قرار او بقا نه وي حق چې راځی دا ډیرپه قلاره
اندې راځی خو دا پاتی وی.
ه نتائجو اعلان چې اوشو سړی پاس شو ملګرو ماته وی
مبارکی له ؟ ما ورته وی مبارکی دې ته وائی چې دا کار دی نبه
ړی او ما ورته تر اوڅه بد وي اوس مبارکی څنګه ورکړم؟ ځه په
اکاره کاربانديې مبارکی نه ورکوم وزیرشو بیا هم ملګرو وی
مبارکی ما ورته وی خدائی شته که ورکړم.
ملګروته مي وی مفتی محمود صاحب چې کله وزیر شو چاشیخ
ه وی چې دمفتی مبارکی له نه ځی؟ هغه ورته وی ده دوه ورځو
زیر دی او زما خو د ټول عمر وزارت دی ټول عمر بادشاه ئم
ادشاهان مونږه یو د ټول عمر بادشاهی ده.
ما ورته وي مبارکې ورله نه ورکوم ځه لازم سعودی ته او چې
اپس راغلم چې کومو خلقو د هغه صفتونه کول هغه ته ئي بیا
ننځل کول ماورته وی هلکه کنځل ورته مه کوئي ستاسو مولا
ی وی یره مولوی صاحب وی ته پوهیدی او مونږ نه پوهیدو ما
رته وی ټول عمر تاسو نه پوهیږئي هغوئي ګرځیدو ته جلوس
ائی او تاسو پری نه پوهیږئ.

عزت مند و ستاسو بختور خلق ئی ځان ته مبارکی ورکړی چې تاسو الله تعالی قرآن واله کړی ئی اوستاسو بختور خلق ئی چې توحید څوك یادکړی خلق وائی پنج پیری دی

الله تعالی پیغمبرصلی الله علیه وسلم ته وائی یادساته که چری ته مانه وی مضبوط کړی معمولی غوندی میلان دی هم کړی وی په مرګ او ژوند به می دوچند عذاب درکړی وو

چې قرآن دی پریخود الله تعالی به دی پریږدی او چې قرآن دی او نیو مخلوق ستاهیڅ هم نه شی کولی اوده پیغمبرصلی الله علیه وسلم طریقه څه وه ؟ لِتَتْلُوَ عَلَيْهِمُ الَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ ته به دی خلقو ته دالله تعالی کتاب لولی هغه کتاب چې ما تاته وحي کړي دي کتاب د الله تعالی ئي او نه وی ځکه هرسړی دا دعوی کوی چې زما دا کتاب د الله تعالی کتاب دی

د ګوجرو فیصله

زمونږ کلی کې پخواه دګوجرو فیصله وه زماهغه استاذ ماته وی قرآن راوړه قرآن ورلره ورکوو څه چې دجماعت دی منیځ ته شوم هغی ته می وی جی هغه زور قرآن راوړم او که هغه نوی قرآن ؟ هغه وی بچی هغه زور ورپسی راوړه هغه ګوجروی زه په زور قرآن باندې قسم نه کوم

زمونږ خودا زور قرآن دی هغه قرآن چې په نبي علیه السلام باندې راغلی وو مونږ سره نوی کتابونه نه شته دوی نوی جوړ

کړی دی هغی ته وائی جی دا ده خدائی کتاب دی دالله تعالی په
احکامو منلو کې د پیغمبر په طریقو کې کامیابی ده.
عزت مندو دالله تعالی حکم په قرآن کې دی او د پیغمبر طریقه
قرآن دی صرف قرآن نه قرآن بیانول په هغه وخت کې چې خلق د
خدائی منکر وی وَهُمْ يَكْفُرُونَ بِالرَّحْمٰنِ خلق به د مهربان خدای
نه انکار کوی چې په رحم کې انتهاء ته رسیدلی دی هغه د انکار
لائق وی اوکه ده اطاعت؟ هغه ده اطاعت لائق وی خودهغه
خدائی انکار به کوی خلق خو ته به خلق الله تعالی ته رابلی ادْعُ
اِلٰى سَبِيلِ رَبِّكَ خلق دالله تعالی دین ته رابله قرآن ته خلق رابله
اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ په تشریحاتو کې زمونږ شیخ مونږ ته یوه
تشریح داوکړی چې صراط مستقیم معنی قرآن دی
نبی علیه السلام ته الله رب العزت وائي دی خلقوته خپله ډیوتی
اوخایه وَاَنْ اَتْلُوا الْقُرْآنَ ځما ډیوتی داده چې څه به قرآن لولم
زمونږ دشیخ پخوانی مهروو دهغی دپاسه آیت دا لیکلی ووواَنْ
اَتْلُوا الْقُرْآنَ
زمونږ دشیخ په زور کور باندې دهغی په تولو دروازو باندې
لیکلی ووواَنْ اَتْلُوا الْقُرْآنَ ستا ذمه داری داده چې ته به قرآن لولی
په کوم حالت کې وَهُمْ يَكْفُرُونَ بِالرَّحْمٰنِ چې خلق به خدائي نه
منکر وی چې په رحم کې انتهاء ته رسیدلی دی

د رحمن معنی

درحمن معنی څه ده؟ ابن جنی یوکتاب لیکلی دی په هغی کې هغه لیکلی دی چې داده فعلان وزن دی او په عربی ژبه کې د فعلان وزن داپه هغه ځائی کې صادقیږي چې د فعلان موصوف ده فعلان په ماده کې انتهاء ته رسیدلی وی سکران معنی چې په نشه کې انتها ته رسیدلی وی عطشان چې په تنده کې انتهاء ته رسیدلی وی د رحمن معنی چې په رحم کې انتها ته رسیدلی وی ځکه چې ده دی اطلاق په بل چاباندې نه شته الله او رحمن دا دواړه دالله تعالی داسی اسماء دی چې په بل چاباندې اطلاق نه کیږي.

د رب تشریح

قُلْ هُوَ رَبِّي ته به څنګه قرآن بیانوی ؟ ته به وائی چې زما رب الله تعالی دی دا رب ئې ولی اووی دا نه وائی چې هو خالقی هو رازقي داخو کافرهم وائی چې خالق الله تعالی دی دا کافرو هم منل چې دبره اوخکته نه رزق هم الله تعالی ورکوی خورب ئې نه منو قبر کې هم تپوس کیږي

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلاَنَ. قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ. قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي عَلْقَمَةُ بْنُ مَرْثَدٍ. قَالَ سَمِعْتُ سَعْدَ بْنَ عُبَيْدَةَ. يُحَدِّثُ عَنِ الْبَرَاءِ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الآخِرَةِ} قَالَ: فِي الْقَبْرِ إِذَا قِيلَ لَهُ: مَنْ رَبُّكَ. وَمَا دِينُكَ. وَمَنْ نَبِيُّكَ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ (۱)

---

۱ سنن الترمذی (طبعه بشار) جلد ۵ صفحه ۱۴۷

رب دي ته وائی چې ته ئي پيدا کړی ستا خيراوشر دهغه په لاس کې دی اوهرڅه ئي درله بغيرد پيسو نه درکړه بغيردڅه نه ئي درلره درکړه ستاعمل هغه هيڅ عمل نه دی دغسی ويړيائي تالره درکړی دي

قُلْ هُوَ رَبِّي دا اعلان به کوی چې الله تعالی ځما رب دی د رب معنی هغه صفاتو والا چې دهغه مناسب څوك نه شته هغه ذات چې هغه ماله نفع راکوی.

ستانه به په قبر کې اول تپوس کيږي چې من ربك هلته ټول پنج پيريان دی ګوری اول تپوس به درنه ده توحيد کوی چې هميشه ژوندي څوك وو؟

د بنې اسرائيلو د زاهد واقعه

مستدرك دحاکم کې يو حديث راځی وائی بنی اسرائيلو کې يو سړي وو په يو غر کې يوغاروو او دا غرده سمندرپه مينځ کې وو په هغی کې ناست وو او عبادتونه ئي کول صحيح حديث دی

أَخْبَرَنِي أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّد بْنِ سَلَمَةَ الْعَنَزِيُّ. حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ سَعِيد الدَّارِمِيُّ. حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّه بْنُ صَالِح الْمُقْرِئُ. حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ هَرِم الْقُرَشِيُّ (ح) وَحَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حَمْشَاذَ الْعَدْلُ. حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ شَرِيك. حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْر. حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْد. عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ هَرِم. عَنْ مُحَمَّد بْنِ الْمُنْكَدِر. عَنْ جَابِر بْنِ عَبْد اللَّه. رَضِيَ اللَّهُ عنهمَا قَالَ: خَرَجَ عَلَيْنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ. فَقَالَ: خَرَجَ مِنْ عِنْدِي خَلِيلِي جِبْرِيلُ آنِفًا فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ. وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ إِنَّ لِلَّه عَبْدًا مِنْ عَبِيده

عبد الله تعالى خمس مائة سنة على رأس جبل في البحر عرضه وطوله ثلاثون ذراعا في ثلاثين ذراعا والبحر محيط به أربعة آلاف فرسخ من كل ناحية وأخرج الله تعالى له عينا عذبة بعرض الاصبع تبض بماء عذب فتستنقع في أسفل الجبل وشجرة رمان تخرج له كل ليلة رمانة فتغذيه يومه. فإذا أمسى نزل فأصاب من الوضوء وأخذ تلك الرمانة فأكلها ثم قام لصلاته. فسأل ربه عز وجل عند وقت الأجل أن يقبضه ساجدا وأن لا يجعل للأرض ولا لشيء يفسده عليه سبيلا حتى بعثه وهو ساجد قال: ففعل فنحن نمر عليه إذا هبطنا وإذا عرجنا فنجد له في العلم أنه يبعث يوم القيامة فيوقف بين يدي الله عز وجل فيقول له الرب: ادخلوا عبدي الجنة برحمتي. فيقول: رب بل بعملي. فيقول الرب: ادخلوا عبدي الجنة برحمتي. فيقول: يا رب. بل بعملي. فيقول الرب: ادخلوا عبدي الجنة برحمتي. فيقول: رب بل بعملي. فيقول الله عز وجل للملائكة: قايسوا عبدي بنعمتي عليه وبعمله فتوجد نعمة البصر قد أحاطت بعبادة خمس مائة سنة وبقيت نعمة الجسد فضلا عليه فيقول: ادخلوا عبدي النار قال: فيجر إلى النار فينادي: رب برحمتك أدخلني الجنة. فيقول: ردوه فيوقف بين يديه فيقول: يا عبدي، من خلقك ولم تك شيئا؟ فيقول: أنت يا رب. فيقول: كان ذلك من قبلك أو برحمتي؟ فيقول: بل برحمتك. فيقول: من قواك لعبادة خمس مائة عام؟ فيقول: أنت يا رب. فيقول: من أنزلك في جبل وسط اللجة وأخرج لك الماء العذب من الماء المالح وأخرج لك كل ليلة رمانة وإنما تخرج مرة في السنة. وسألتني أن أقبضك ساجدا ففعلت ذلك بك؟ فيقول: أنت يا رب. فقال الله عز وجل: فذلك

بِرَحْمَتِي وَبِرَحْمَتِي أُدْخِلُكَ الْجَنَّةَ، أَدْخِلُوا عَبْدِي الْجَنَّةَ فَنِعْمَ الْعَبْدُ كُنْتَ يَا عَبْدِي فَيُدْخِلُهُ اللّٰهُ الْجَنَّةَ، قَالَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ إِنَّمَا الْأَشْيَاءُ بِرَحْمَةِ اللّٰهِ تَعَالَى يَا مُحَمَّدُ.

هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ، فَإِنَّ سُلَيْمَانَ بْنَ هَرِمٍ الْعَابِدَ مِنْ زُهَّادِ أَهْلِ الشَّامِ، وَاللَّيْثَ بْنَ سَعْدٍ لَا يَرْوِي عَنِ الْمَجْهُولِينَ (۱)

هغه به عبادت کولو هلته او یوپیره هغه بیمارشو د الله تعالی نه ئې دعا وکړه وی أَنْ يَقْبِضَهُ سَاجِدًا الله په سجده کې مرګ راکړی په سجده کې ورله مرګ ورکړو چې کله مړ شو نو د مرګ نه پس چې الله دربارته پیش شو الله رب العزت ملا ئکو ته وی داځما بنده ځمادرحمت ده تقاضامطابق جنت ته بوزئي هغی سړی وی بَلْ بِعَمَلِي په دی بل کې چل دی دغه مخکې خبره دغه نه ده بنه ما په خپل عمل باندې بوزی.

غیرمقلدین وائی چې داحنفیان وائی چې مونږ قرآن او حدیث نه منو دا چرته هلکه یو حنفي وئیلي دي او ایت په استدلال کې پیش کوي:

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنْزَلَ اللّٰهُ

او مونږ وایو چې قرآن او حدیث نه منی هغه خو کافر وی.

هغه وی بَلْ بِعَمَلِي نه نه الله رحمت خوستا په خپل ځائی باندې دی ماپه خپل عمل باندې بوزه ټول عمر می ستا عبادتونه کړی دی الله تعالی ملا ئکوته بیا وي داسړی ځما درحمت د تقاضا مطابق جنت ته بوزی داځما بنده ناپوهه دی هغه سړی وی بَلْ

---

۱ - المستدرك للحاكم جلد ٤ صفحه ۲۵۰

بعَمَلي الله تعالی نه نه ماپه خپل عمل بوزی په دریم ځل باندې
الله ملائکوته وائی
فَادخُلوا عَبْدي بِنعْمَتي عَلَيْه وَبِعَمَله خما د بنده دا عمل او ځما دا
رحمت ده دی دواړو موازنه وکړئ چې کله ئی موازنه اوکړه نوده
نیمی سترګي برابر دهغه هغه عبادت ټول نه وو
الله تعالی اعلان وکړو ملائکوته ئي ووی
أدْخلُوا عَبْدي النَّارَ زما انصاف دا دی چې داسړی جهنم ته بوزئي
فرشتی ولاړی وی هغوئي ونیو او روان ئي کړو او ده شاته مخ کړو
او وی رَبِّ بِرَحْمَتِكَ أَدْخِلْنِي الْجَنَّةَ الله تعالی په خپل رحمت باندې
می جنت ته بوزی الله تعالی وی راواپس ئي کړئ الله تعالی ورته
وی ګوره ته نشت وی او ماشته کړی الله تعالی ورته وی ستا
دعمل پکې څه دخل وو؟ بیاورته الله تعالی وی ته کمزوری وی
تاله قوت چا درکړی وو؟ هغی وی الله تا راکړی وو الله ورته وی
ستا دعمل پکې څه دخل وو؟ هغی وی نه بیاټول خلق هغه لګیا
وو ناروا ئي کول اوتالره ماتوفیق درکړی وو د عبادت ستادعمل
پکې څه دخل وو؟ هغی وی نه نو الله ورته وي ستا عمل کوم دي؟
چې ته وائي ما په خپل عمل باندې جنت ته بوځي؟ تاله چې الله
تعالی څه درکړی دائي بی عمله درکړی

د ګني د ملا واقعه

زمونږ کلي کې یو ملا مسئله کوله په قبر باندې وي خلقو دا مړي
چې دي د ده نظر لګي او لیدل کولي شي هغه چې کله خبره ختمه

کړه نو زه پاسیدم ما ورته وې ایماندارو تاسو یو دوه منټه کښنی
ماته هم یوه مسئله یاده ده
ما ورته وې زه اول تاسو ته یو قصه کوم او بیا درته یوه مسئله
کوم چې قصې او مسئلې دواړه یو ځای شي ما ورته وې یو مولانا
وو د هغه نوم نصیر الدین هغه په کور کې یوه پیشو ساتلې وه یوه
ورځ د هغه میلمانه راتله نو کور ته ئې نیم کېلو غوښه راوړه او
ښځې ئې ته ووئیل چې ځما میلمانه راروان دي او مانښام له به د
دي غوښې نه تیکې پخې کړي ښځې چې ئې مانښام تیکې
پخولې نو څکنې دپاره ترینه ئې یو پوټې وخوړو نو خوږې پرې
ولګیدې نو دیخوا به ئې پخولې او دیخوا به ئې خوړلې اخیر کې
یو سیخ پاتې شو نو هغه ئې هم ورپسې اوخوړ مانښام چې مولا
کورته راغې ښځې ته ئې ووئیل هغه تیکې؟ نو ښځې ورته ووئیل
چې دا پیشو دي په کور کې ساتلې او هغه غوښه هغې اوخوړه
مولا ښځې ته غګ ونه کړو بهر لاړو دکاندار ته ئې ووئیل چې یوه
تله راکړه او یو نیم کېلو راکړه دکاندار ورله ورکړه مولا راغې او
پیشو ته ئې اواز وکړو پیشو خو د هغه عادت پیشو وه د مولا
خوا له راغله مولا په تله کې کښوله نو پیشو پوره نیم کېلو وختله
نو مولا ښځې ته ووئیل که دا پیشو ئې نو ځما غوښه څه شوه ؟ او
که دا غوښه وې نو ځما پیشو څه شوه ؟
نو ما ورته ووئیل زه د دي مولانا نه تپوس کوم چې د دي مړي په
مخ باندې دا کفن پروت دي د څلور طرف نه که د دي کفن نه د ده
نظر اوځي نو تاسو چې کومې جامې اغوستې دي د دي نه خو به

بیا په طریقه اولی سره اوخي نو بیا ورته ماوي چې د دي مولانا په تړد باندې دا مړي او تاسو لعنتیان ئې ځکه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي چې:

أَخْبَرَنَا أَبُو زَكَرِيَّا بْنُ أَبِي إِسْحَاقَ حَدَّثَنَا أَبُو الْعَبَّاسِ الأَصَمُّ حَدَّثَنَا بَحْرُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ أَخْبَرَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ سَلْمَانَ عَنْ عَمْرٍو مَوْلَى الْمُطَّلِبِ عَنِ الْحَسَنِ قَالَ بَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ: « لَعَنَ اللَّهُ النَّاظِرَ وَالْمَنْظُورَ إِلَيْهِ ». هَذَا مُرْسَلٌ (۱)

نو خلقو مولاته بدي ردي وئیل شروع کړه د دي خلقو سره تول نه شته دا تول بي توله لګیا دي کار ساز یو الله دي حاجت روا یو اله دي غریب نواز د هغه نه بغیر بل څوک نه شته مشکل کشا د هغه نه بغیر بل څوک نه شته

وہی مالک وہی داتا وہی مشکل کشا سب کا　　وہی ایک غوث اعظم ہے یہیں للکار دیتا جا

او د دوئ ځان له غوثان جوړ کړي دي دا د سیدو غوث دي او دا د بونیر غوث دي او غیره و غیره.

زمونږ یو ملګري وو هغه پخوا یو کتاب لیکلي وو ۱۹۲۷ کې د هغي نوم (حضرت غوث اعظم جل جلاله) د هغي په اول کې هغه څه اشعار لیکلي وو

ہمارا فقط ہے خدا غوث اعظم　　نہیں کوئی اُسکے سوا غوث اعظم

په دي عالم کې خلق ډیر چغي اوباسي د خپل جماعت د زیاتیدو دپاره څوک یو قسم اواز کوي او څوک بل قسم زمونږ شیخ رحمه

---

۱ السنن الکبریٰ للبیهقی وفی ذیله الجوهر النقی جلد ۷ صفحه ۹۹
باب ما جاء فی الرجل ینظر إلی عورة الرجل والمرأة تنظر إلی عورة المرأة أو یفضی کل واحد منهما إلی صاحبه

الله به د ابن بطه یو قول پیش کوو او د شیخ په حواله ئې څکه وایم چې ما د شیخ رحمه الله نه اوریدلي کنه د ابن بطه کتاب الابانة ما سره شته او ما مطالعه کړي دي هغي کې ابن بطه لیکلي دي چې هر سړي کومه چغه وهي د هغه نه دا تپوس مه کوه چې دا عمل ته ولي کوي ؟ بلکه د هغه نه دا تپوس کوه چې دا عمل په قرآن او حدیث کې شته او که نه ؟ که ته تري تپوس کوي چې ولي ئې کوي نو زر به درپسي نور الهدی راواخلي او د دوئ نه چې خر ورک شي نو هم ئې په شامي کې ګوري.

الله تعالی دې مونږ په دی خبرو د عمل کولو توفیق راکړی الله تعالی دی زمونږ دنیا او اخرت دواړه خائسته کړی

((واخر دعوانا ان الحمدلله رب العالمین))

بسم الله الرحمن الرحيم

پښاور هشتنګرۍ کنبې ملګرو ته خطاب

الحمدلله نحمده ونستعينه ونستغفره ونؤمن به ونتوكل عليه ونعوذ بالله من شرورانفسنا ومن سيآت اعمالنا من يهده الله فلامضل له ومن يضلله فلاهادى له ونشهد ان لااله الاالله وحده لا شريك له ونشهد ان سيدنا وسندنا وحبيبنا وشفيعنا ومحبوبنا ونبينا محمدا عبده ورسوله صلى الله عليه تعالى عليه وعلى اله واصحابه الذين هم خلاصة العرب العرباء وخيرالخلا ئق بعدالانبياء امابعد

أَعُوذُ بِاللّٰهِ السَّمِيعِ الْعَلِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَأُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ (۱)

د اشاعت تاریخ

ده جماعت اشاعت التوحيد والسنة طالب علمانو او د جماعت اشاعة التوحيد والسنة نورو خادمانو او پتنګانو او ځما عامو مسلمانانو ورونو تاسو ته دامعلومه ده چې په دنيا کې اوخاص کر زمونږ په دې ملک کې مختلف قسم جماعتونه کارکوی بعضې جماعتونه په يونوم باندې راوتې دې بعضې په بل نوم او بعضې په بل نوم باندې خو چې کله په مجموعي حيثيت باندې

۱- سورة آل عمران (۱۰۵)

دي ټولو جماعتونو ته مونږ نظر وکړو هغوئ د ټولو یو مقصد دی
او هغه دی دنیاحاصلول بفضل الله تعالی وکرمه صرف جماعت
اشاعت التوحید والسنة هغه جماعت دی چې دیوم تاسیس نه
واخله تراوسه پوری د جماعت اکابرین هغه نه چاته خکته شوی
دی او نه په چاباندې خرڅ شوی دی او کوم کسان که خکته شوی
او خرس شوی دی د هغوئی زړه کې ایمان نه وو ځکه به خکته
شوی او خرڅ شوي به وي
زمونږ شیخ الله تعالی دی په هغه کروړها رحمتونه وکړی په هغه
زمانه کې چې کله ډیرلوئی تکلیفونه وو او مختلف قسم مصائب
وو او هغه ایك یواحی وواو په هغه زمانه کې چې هغه کوم ثبات
خودلی دی نوده دنیا په یو جماعت کې څوك داسی مشر نه شی
پیش کوی ده متنبی هغه شعر دی:

مَضَتِ الدهورُ وَمَا أَتَیْنَ بِمِثْلِهِ وَلَقَدْ أَتَی فَعَجَزْنَ عَنْ نُظَرائِهِ

مخکې هم وختونه تیرشوی دی خولیکن دحضرت شیخ الله
تعالی دی په هغی باندې کروړها رحمتونه وکړی دهغه په شان یو
فولادی انسان او مرد مجاهد دامونږ چرته هم نه دی لیدلی او نن
هم په دی پاکستان کې نه بلکه په دنیا کې داسی یو کلك سړی
هغه مونږته نه دی معلوم اوده متبنی هغه شعر چې دحضرت شیخ
په مدح کې چې سړی ووائي نوخه دی.
زمونږ شیخ الله تعالی دی په هغه باندې کروړها رحمتونه وکړی
هغه د اول وخت نه یومسئله شروع کړی وه او الحمدلله ترمرګه

پوری حضرت شیخ نه چا ته خکته شوی او نه په چاباندې خرڅ شوی دی نه ده د هغه په زړه کې ده چا نه یره راتله.

یوزمانه وه چې کله به مونږ پنج پیرته راتلو په هغه زمانه کې د مردان نه صوابی ته دولس انی ټیکټ وواو صوابی ته چې به مونږ راغلومونږ به دا نه شو وئیلي چې مونږ پنج پیرته څو ټانګی واله به څلور انی اغستی د شاه منصور پوری په ټانګه کښې چې به مونږ کیناستو ده پنج پیر په لار کې به کوځ شو ټانګي وال به راته یو دوه دری کنځل هم وکړه.

په هغه زمانه کې حضرت شیخ نوراللہ مرقده هغه چری کمزوری نه وه کړی او تاسوهم د هغه سړی روحانی بچی ئې چې هغه نه چا ته خکته شوی دی او نه په چاباندې خرڅ شوی دی.

زمونږ د مستقبل ده راتلونکی زمانی لپاره د قوم رهنماګان او هدایت کونکی به انشاء اللہ تاسو ئې.

زمونږ په پشتو کې یومتل دی وائی چې مال خاوند ته لار نه شی هغه حرامی وی که چری ستاسو د خپل شیخ او د شیخ المشائخ په نقش قدم باندې لانړی په تاسو کې روغان الثعالب پیدا شو او ده ګیدړ په شان کله یو طرف ته ننوتئ او کله بل طرف ته ننوتئ نو بیا ستاسو حلالیان به نه ئی.

حلالیان خلق هغه دی چې هغه داول نه واخله تر آخره پوری کلك وی او بیا ده هغه د مشر هغه مشر چې هغه ده قرآن او سنت په اصولو باندې روان وی دی هغه باره کې چې څوك څه اووائی چې په هغه باندې سرقربانولوته تیار وي

د حضرت خبیب رضي الله عنه واقعه

تاسو ته پته ده چې حضرت خبیب رضی الله عنه چې ئې کله پهانسی کوو مخکې تری تپوس اوکړو یره که ستاپه ځائی باندې محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم پهانسی کړو اوته بچ شی څنګه به وی؟

حضرت خبیب رضی الله عنه ورته وائي چې قسم په خدائی د نبی علیه السلام په پونده کې ازغی نتوزی داپه ما باندې شاق لګي ده دی نه چې زما سر پري کړي شي اوکله چې هغه دخپل مشن ده کامیابی دپاره قربانی ورکوله حضرت خبیب رضی الله عنه وائی

وَلَسْتُ أُبَالِي حِينَ أُقْتَلُ مُسْلِمًا عَلَى أَيِّ شِقٍّ كَانَ لِلَّهِ مَصْرَعِي

وَذَلِكَ فِي ذَاتِ الْإِلَهِ وَإِنْ يَشَأْ يُبَارِكْ عَلَى أَوْصَالِ شِلْوٍ مُمَزَّعِ (۱)

هغوئ ته خپل مشن داده هرچانه خوږ وو زمونږ ستاسونه انشاء الله داطمعه ده چې په تاځو کې به استقامت وی او ستاسوبه په خپل مسلك باندې کلك ولاړئي لکه څنګه چې ستاسو استاذانو استاذ ده علماء استاذ څنګه چې هغه کلك وو په خپله مسئله باندې زمونږ د خپلوطالب علمانونه د جماعت اشاعت التوحید والسنة د پتنګانونه انشاء الله دغه توقع ده او زمونږ یقین کامل دی مونږ ته داپته ده چې یوسړی حلالی وی نو هغه همیشه ده

۱- تفسیر قرطبي جلد ۱۱ صفحه ۲۱

حلالیانو کار کوی او چې غیرذالك وی نو ده هغه کارونه هم غیر ذلك وی.

اشاعت او قربانی

جماعت اشاعت التوحید والسنة داول وخت نه چې کومه مسئله شروع کړي ده هغه مسئله ده الله تعالی ده توحید د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنت هغه تر اوڅه پوری د هغوئی مقصد دی

کوم خلق چې د جماعت اشاعت التوحید والسنة ته په دی لار کې حائل واقع شوی دی نو بحمد الله وکرمه مونږ د هغوی غابنونه مات کړی دی

په دی ملك کې زمونږ مقابلین ډیرخلق وواو هغه خلق هم وو چې ده هغوئ په لاس کې قوت ووخو چې کله ئې ده دی جماعت سره ټکر کړی دی نو الله رب العزت هغوئ په خپله شرمولی د پیرانو زور وو په دې ملک باندې خو کله چې شیخ د هغوی مقابله شروع کړه تر اوسه پوری هغه خلق سر نه شی پورته کولې.

پرون په کوهاټ کې په یو ځائی کې جلسه وه چې په ټول کوهاټ کې د ټولونه لویه ګدی کربوغه شریف ورته خلق وائې او هلته د امیر جماعت او د نورو ملګرو د تقریرونو نه پس پنځوس شپیته کسان هغوئې راغلل او اعلان ئې وکړو چې مونږ ته جماعت اشاعت التوحید والسنة حقانیت معلوم شو او د نن نه پس به زمونږ مال او جان دا به د اشاعت التوحید والسنة لپاره قربانی کیږی

په کربوغه کښې چې کربوغه دا ده شرک یو لویه اډه وه او هغه مولیان چې هغوئي په محرابونو کې ناست وو او زمونږ خلاف ئې فتوی کولی یو زمانه داسی وه چې مونږ به جماعت ته راغلو مونږ به د جماعت نه په وهلو باندې ویستی کیدو او الحمدلله اوس داسی زمانه ده چې کله مونږ جماعت ته راشو نو جماعت هغه امام د جماعت نه اوځی مونږ به په وهلو نه وتو او دوی بغیر د وهلونه اوځی

مونږ چې پرون کربوغی ته تلو نو هغه ملګری په جذ به کې راغلل ډزی ئې کولی ما مولنا صاحب ته وی چې یو زمانه داسې وه چې خلقو به په مونږ باندې ډزی کولی او اوس هغه زمانه ده چې هغه ګولئ زمونږ ده خوشحالئ لپاره چلیږي.

ذَلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ (۱)

زمونږ ده دی جماعت په مقابله کې که حکومت راغلی دی الحمدلله ځمونږ اکابرینو د حکومت سره هم تکرکړی دی.

یو زمانه وه چې حضرت شیخ د حکومت خلقو ده ابو ډنډونو ته په یخ جمی کې غورځولې وو اوهغه مرد مجاهد لکه څنګه چې امام مالك هغه خپله خبره ټینګه نیولی وه امام احمد بن حنبل په مسئله د خلق القرآن کې کله چې هغه وهلی کیدو ذهبی لیکلی دی اتیا دوری نې ووهه په روژه کې که چرې هغه دوری دې هاتی ته هم راچولی وی نو هغه به هم چغې ویستلی وې امام احمدبن حنبل به یوه خبره کوله

۱ - سورة المائدة (٥٤)

ایتونی بشیٔ من کتاب الله وسنة نبیه حتی اقول به
قرآن او سنت راوړی چې ستاسو خبره اومنم
یخو ډډونو ته غورځولی شوی تکلیفونه پری تیرشوی دی خو
الحمد لله چاته نه دی خکته شوی نه دنیاته خکته شوی او نه دنیا
والو ته خکته شوی همیشه د هغه سرکه خکته شوی هغه دالله
رب العزت په دربار کښ خکته شوی او دالله د دربار نه علاوه د
هغه سر بل چاته نه دی خکته شوي

د چارباغ واقعه

یو زمانه وه څه په چارباغ کې طالب ووم اوهغه زمانه وه چې
حضرت شیخ سوات ته به ډیر نه راتلوملګری ډیرکم وو په باندې
کې زمونږ یوملګری وو مولوی صاحب عبدالودود هغه شیخ ته
دعوت ورکړوشیخ ورته وی څه بیمارئم څه نه شم تلی یو مقابل
وو هغه دباندې نه شیخ ته خط اولیکه او ورته ئې لیکلی وو چې
څه تا ته نصیحت کوم او ستاخیرخواهی کوم چې ته دی کلی ته را
نه شی اوکه ته راغلی ستا ته به نقصان دراورسی
څه سوات کې ووم شیخ ماته خط راولیږو او ماته ئې وې لاړشه
مولوی عبدالودود ته اوایه چې فلانئ ورځ باندې به څه راځمه څه
لازم مولوی عبدالودود صاحب ته می وی چې حضرت شیخ خط
رالیږلی دی او وائی چې څه به راځم هغه ډیرخوشحاله شو
پروګرام جوړشو زما داسی یاد شی لکه داوخت حضرت شیخ چې
پاسیدو نوده جیبه ئې خط راویستو وی څه خو معذوره وم نه

شوم راتلی خوستاسوده دی کلی نه ماته یو سړی خط رالیږلی دی او ما ته ئي لیکلی دی که ته راغلی ستاته به نقصان در اورسی هغه خط ئي ټول وسپړدو لاندی هغی سړی لیکلی وو آپ کا خیرخواه نوم ئي نه وو لیکلی حضرت شیخ وی خیرخواه نوم وی اوکنه ؟ بیا ئي وی چې نوم خود هغه چا ووی چې پلار ئي معلوم وی نو چې نوم ئي نوی نو هغه حرامی وی د هغه به څه پلار معلوم وی ډیر سخت سړی وو.

مونږ دخپل طالب علمی په زمانه کې چې کله به په چاباندې رد کول غوختومونږ به حضرت شیخ ته وی چې شیخ صاحب دی کلی کې فلانی خلق ډیر دي په هغوئي باندې رد اونه کړی.

شیخ به بله مسئله هډو کوله نه یره د حضرت شیخ په زړه کې بالکل نه وه.

د اشاعت سره مینه ټول دا ایمان دي

انشاء الله زمونږ ستاسونه دا توقعات وابسته دی چې هرڅوك هغه چې د دی جماعت سړی وی ستاسو به ده هغه خادمان ئی او څوك چې د دي جماعت نه یو طرف ته اوبل طرف ته اوړی او را اوړی استقامت یکې نه وی د عمر رضی الله عنه نه چاتپوس اوکړو.

إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا (۱) معنی څه ده ؟ هغه ورته وي چې لا یروغون روغانَ الثعالب

ده ګیدړ په شان کله په یوه سوړه او کله په بله سوړه باندې نه نتوزی.

---

۱ - سورة فصلت (۳۰)

چې په چا کې استقامت وو انشاء الله هغه زمونږ دی او مونږه د هغه یو او څوک چې زمونږ جماعت ته په بده ستر ږوباندې ګوری زمونږ ایمان دادی:

لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ (۱)

داسی قوم به پیدا نه کړی چې دهغه په زړه کې دی دوه څیزونه جمع شی ایمان بالله او ایمان بالیوم آلاخر او دایوصفت او بیادی دوستی کوی دهغه چاسره چې هغه دالله تعالی او دالله د پیغمبر سره مخالفت کړی وی ده الله تعالی ده دین نه اوختی وی

زمونږ تنظیم دامونږنه یوسیاسی تنظیم نه ښکاري مونږ ته خپل تنظیم یو دیني تنظیم ښکاري او الله تعالی وائی:

وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ

اګر چې ده ده پلار ولی نه وی؟ او اګرچې ده ده رورولی نه وی؟ اګر چې ده ده رشته دار ولی نه وی؟ او الله تعالی وائی چا کې چې دا صفت وی چې خپل پلار او خپل رور او خپل رشته دار دخپل مقصد دپاره پریږدي.

صحابه او د اسلام دپاره خپل رشته دارانو سره جنګ کول

تاسو ته پته شته دبدر جنګ وو او ابوعبیده رضي الله عنه یو صحابی دی هغه جنګیده توره ورسره وه په یوصف باندې ورځی ده دشمنانو او دا سرونه غورځوی ناڅاپا یوسړی هغه له مخي له

---

۱ - سورة المجادلة (۲۲)

راشی ابوعبیده رضی الله عنه هغه صف پریږدي بل صف ته لاړ شی او دغه سړي ته څه نه وائي نو چې په درئم ځل باندې دغه سړی دهغه مخی له راغی حضرت ابوعبیده رضی الله عنه توره اوچته کړه چې سر ئي تری ووهلو سرئي هغه ځائی اوغورځید او تنه ئي ده ده په خپو کې اغورځیده او داسړی د حضرت ابوعبیده رضی الله عنه پلار وو جراح چې پلار ئي مقابلی ته راوتلی دی نوده پلار سرته ئي نه دی کتلی.

د بدر په ورځ باندې د عمررضی الله عنه د لاڅه خپل ماما مړ دي دی کائنات زمکی او آسمان یونقشه لیدلی ده چې یوطرف ته پلار جنګیدو او بل طرف ته ځوئ.

یو صحابی دي خپل ځوی ورته وائی بابا دبدر په ورځ باندې څو ځله زماد توری لاندی راغلی وی خوماووی چې پلار مي دی پلار ئي مسلمان وو او ځوئ دکافرو په صف کې جنګیدو هغه ورته لاسونه او مروړل هائی هائی نو ځما د توری لاندی به نه وی راغلی نو چې ماستا ټکړی جوړی کړی وی ځه دمحمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په ناموس باندې جنګیدم اوته ده محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دناموس خلاف جنګیدی دا صحابی ووابوبکرصدیق رضی الله عنه.

انشاء الله زمونږ دجماعت امتیازی شان دادی چې پلار مقابله کوله د دي جماعت انشاء الله اول مونږ دهغه خیرخواهی کوو او چې نه نه کیده نولکه د ابوعبیده رضی الله عنه مونږ دپلار په سر باندې هم نه یو حصار.

زمونږ مشن ته چې چابه ککړه ستر که باندې کتلی دی نومونږ چری هغه نه دی معاف کړی زمونږ نه مراد جناب محمد رسول الله صلی الله علیه و سلم او د هغه جماعت دي

د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم مقصد څه وو؟

جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم په اوله ورځ باندې خپل قوم ته څه وئیلی وو؟ څه ئي وی چې امارت غواړم ووټ غواړم او که مدرسه جوړوم کله چې د مکی خلق راجمع شو او جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته هغوئ وائی که خزه غواړی نو اجمل النساء العرب ته خو خ کړه او کوته پری کیده چې مونږه ئي تاله درکړو او که مال غواړی چې د مال خزانی ستاپه مخکې ولګوو او که بادشاهی غواړی ده نن نه ستاد ټولو قریشو صدر کوو نبی علیه السلام ورته وی نه ځما خویو آواز دی انمااعظکم بواحدة ځماخویوه خبره ده: ان تقولوا لا اله الا الله و تخلعوا غیره.

چې دکومی عقیدی دپاره چې څه راغلی یم او دغه عقیده امنی ده دی عقیدی نه علاوه نورخلق هغه پریږدي

د الله دشمنانو سره به دوستي نه کوي

الله تعالی مسلمانانو ته هم وائی:

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ: (۱)

۱- سورة الممتحنة (۱)

اي ده ایمان خاوند انو ستاد شمن او ځما دشمن چې ستاد عقیدی دشمن وی دهغه نه چرته دوست جوړ نه کړئ چې کوم قوم په هغه کې ایمان بالله او ایمان بالیوم الاخر وي نو د هغه په زړه کښ ده کافر سره دخپل مشن دمخالف سره مینه نه شی راتلی او مخالفت خو لالویه خبره ده چې کله یوسړی په یو معرکه کې تانه پاتی شو نومسلمانانو د هغه سره بائیکاټ کړی دی دکعب بن مالك رضی الله عنه سره بائیکاټ وو هغه چری بل جماعت ته نه وو تلی او کله چې ده بل جماعت خط هغه ته راغی نو دکعب رضي الله عنه د سترګو نه اوښکی روانی شوی وی ګوره څه دومره کمزوری شوم چې دشمن هم ځمانه طمع کوی خو حضرت کعب رضی الله عنه هغه بل طرف ته کتلی هم نه دی صرف افسوس ئې کړی دی او ټولو مسلمانانو ترښځی پوری د هغه سره بائیکاټ کړی وو صرف د تبوك په جنګ کې وروستو پاتی شوی وو او روستو هم نه پاتي کیدو اراده ئی دتلووه خواسباب داسی جوړ شو چې روستو پاتی شو.

مونږ دجماعت اشاعت التوحید والسنة ارکان دجماعت اشاعت التوحید والسنة خادمان انشاء الله زمونږ دا عهد دی او مونږ دنیا ته دا ثابتوو او ثابته کړی هم ده چې زمونږ دمشن په مقابله کې څوك راغلی دی مونږ دهغه سرمات کړی دی ستاسو هم دغه وعده ده اوکنه ؟

د اشاعت مشن د انبیاؤ مشن دي

زمونږ جماعت دنیاته څه وائی؟ زمونږ جماعت دنیا ته هغه خبره کوی چې کومه محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل ۲۳ کاله دنبوت په زمانه کې خپلواو پردوته پیش کړی وه.

نبی علیه السلام اول دنیاته دتوحید مسئله پیش کړی وه او خلق ئې راجمع کړی وو او هغوئ ته ئی وی چې ډیرزمانه په تاسو کې تیره کړی ده ځما باره کې ستاسو څه خیال دی؟

ریشتنی یم اوکه دروغجن ؟ کوه صفا باندې ئي خلق راجمع کړل او هغوئ ته وائی:

یا ایهاالناس لبثت فیکم عمرا من قبله فهل وجدتمونی صادقا ام کاذبا قالوا قد جربناك مرارا فما وجدناك فیك الا صدقا

اي دمکی خلقه ده نن نه مخکې ماپه تاسو کې ډیرزمانه تیره کړی ده ایا تاسو رینشتنی مندلی ئم او که دروغجن؟ هغوئي جواب ورکړه مونږ په تاډیرتجربه کړی ده مونږ په تا کې بغیر ده ریشتیا ؤ نه څه نه دی موندلی بیانبی علیه السلام دهغوی ده دی جواب دهغوی نه امتحان اخلی او ورته وائي که زه دا ووائم چې د صفا د غر لاندي یو لښکر ناست دي اوپه تاسو باندې حمله کوی اءنتم مصدقيَ آیا ستاسو زما تصدیق کونکی ئي؟

هغوئ ورته وی زمونږ ستر کی دهوکه کېدې شی خو د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم خبره دروغ کیدی نه شی هغه ورته وی نبه ده:

کلمة واحدة تاتونیها بهاالعرب وتدین نکم بهاالعجم قالوا وماهی یا محمد صلی الله علیه وسلم قال ان تقولوالااله الاالله وتخلعواغیره یوعقیده ده چې تاسو به ئې زما سره اومنئ داسی انقلابی عقیده ده چې ده دغه عقیدی په وجه باندې به ستاسو دعربو مالکان شئ او عجم به ستاسو خپو کې پریوزی او عجم به ستاسو تابعدار شی.

هغوئي نپوس کوی اي محمد صلی الله علیه وسلم هغه کومه عقیده ده نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل هغه داعقیده ده چې دالله تعالی نه سوا بل حاجت روا او مشکل کشا نه شته کنې جماعتونه وو هغوې به وی مونږ هم موحدین یو.

پخواه زمونږ په دی ملك کې یوجماعت وو جمعیت علماء اسلام د هغوئي مشران دالله تعالی دربار ته ورغلی دی الله تعالی پوهه شه او هغوئي خو چې کله د سیاست وخت راغلی دی نو د علي هجویري په قبرباندې حلوا کانی تقسیم کړی دی.

الحمدلله زمونږ اکابرو چې یوخبره کړی ده که په سرحد کې واوکه په پنجاب کې وو هیڅ څوك دا نه شی خودلی چې هغوئ د خپل دعوت خلاف کړی دی بیادلته کې یو پرنټ جوړ شوی وو قاضی صاحب د هغی مشر وو قاضیان همیشه وی داسی پخواه یو قاضی وو چا تری تپوس وکړو وی ستاخه نوم دی؟

هغه وی خما نوم کبوتر رطل پوک بنت پشم پانزده

دی نوم واله قاضیان تلی وو او خلق ئې هجویري قبر له بوتلی وو لیکن زمونږ اکابرین هغوئ چری داکار نه دی کړی.

د جماعت اول مؤسس جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه خلقوته وئیلی وو:

قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ (١) لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ (٢) وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ (٣) وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَا عَبَدْتُمْ (٤) وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ (٥): (١)

اول دوه جملو کې ما موصوله دي او په اخیری دوو جملو کې ما مصدریه دي معنی دا چې ځما او ستاسو معبود جدا او ځما او ستاسو طریقه کار جدا مونږ اتحاد نه شو کولی او یوځائی کیدی نه شو.

خلقو ته نبی علیه السلام خپل عقیده او رولی وه:

قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنْ كُنْتُمْ فِي شَكٍّ مِنْ دِينِي فَلَا أَعْبُدُ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلَكِنْ أَعْبُدُ اللَّهَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُمْ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ: (٢)

اې خلقو که چری ستاځو زما په عقیده باندې او ځما په طریقه باندې شک وي تاسو ئې نه پیژنئ راځی چې درته ئې واورووم.

فَلَا أَعْبُدُ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ

ځه هغه کسان نه بلم چې تاځو د الله تعالی نه سوا رامدد کوئ

وَلَكِنْ أَعْبُدُ اللَّهَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُمْ الَّذِي يَتَوَفَّاكُمْ ئې دلته د دې دپاره راوړې چې ځه دهغه خدائی عبادت کوم چې هغه په ټولو باندې

---

١ سورة الكافرون

٢ سورة يونس (١٠٤)

زورور دی سورة ملك کې چې الله تعالی خپل قدرتونه ذکر کړی
هلته هم وائی:
تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ: (۱)
خیر او برکت هغه الله اچوي چې د هغه لاس کې بادشاهي ده او په
هر څه قدرت لري او د قدرت نمونه ئي او خودله.
الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا وَهُوَ الْعَزِيزُ
الْغَفُورُ: (۲)
دا ئي نه وي چې الَّذِي خَلَقَ الْحَيَاةَ وَالْمَوْتَ موت ئي مخکې کړه دي
لپاره چې خلقو ته دا اوښایه چې ستاسو مرګ دا د هغه په قدرت
او طاقت کې دي.
نبی علیه السلام اعلان اوکړو ان تقولوا لا اله الا الله هغه عقیده
داده چې تاسو دا اوائی چې دالله تعالی نه سیوا بل څوك مدد ګار
او حاجت رواه نه شته بل مشکل کشا نه شته بل د نفع او نقصان
مالك نه شته
الحمدلله زمونږ دجماعت په منشور کې اوله خبره داده او بیا
جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم په میلو کې په کورنو کې
لکه څنګه چې دانبیاء عادت دی نوح علیه السلام چې کوم کار
کړی وو ثُمَّ إِنِّي دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا: (۳)
اي الله ما دوی ته په ډاګه باندې دعوت ورکړو

۱ - سورة الملك (۱)
۲ - سورة الملك (۲)
۳ - سورة نوح (۸)

ثُمَّ إِنِّي أَعْلَنْتُ لَهُمْ وَأَسْرَرْتُ لَهُمْ إِسْرَارًا: (۱)

الله اعلانونه می ورته وکړل او جرګی می ورپسی وکړی نبی علیه السلام هم دغه کار کړی دی داخبره ئې په عامو میدانونو کې کړی ده.

د حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه واقعه

صحابو ته کله کله تعلیم ورکوي معاذ بن جبل رضی الله عنه هغه صحابی چې د هغه باره کې یو تابعي وائي:

مَالِكٌ، عَنْ أَبِي حَازِمِ بْنِ دِينَارٍ، عَنْ أَبِي إِدْرِيسَ الْخَوْلَانِيِّ؛ أَنَّهُ قَالَ دَخَلْتُ فِي مَسْجِدِ دِمَشْقَ فَإِذَا فَتًى شَابٌّ بَرَّاقُ الثَّنَايَا وَإِذَا النَّاسُ مَعَهُ، إِذَا اخْتَلَفُوا فِي شَيْءٍ. أَسْنَدُوا إِلَيْهِ وَصَدَرُوا عَنْ قَوْلِهِ فَسَأَلْتُ عَنْهُ، فَقِيلَ: هَذَا مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ: (۲)

د دمشق جامع مسجد ته لاړم یو سړی می اولیدو بَرَّاقُ الثَّنَایَا چې هغه دامخکې غاخونه دبلب په شان پرقیدل او خلقو به د علم خبري کولې او په اخیر کې به ئې هغه ته وې چې ستا په دې کې څه رائ ده او د هغه په رائ باندې به د هغوی ده زړه تسلی کیده ما تپوس اوکړو من هذا داڅوک دی ؟ هغوئي جواب راکړو هذا معاذ بن جبل رضی الله عنه دا ده جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابی معاذ بن جبل رضی الله عنه دی

د نبی علیه السلام د هغه شړه دومره مینه وه معاذ رضی الله عنه فرمائي:

۱- سورة نوح (۹)

۲- الموطا لامام مالك (روایة یحیي بن یحیي اللیثی) جلد ۲ صفحه ٥٤٤

وَلَا رَآنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا تَبَسَّمَ فِي وَجْهِي

خه چې کله نبی علیه السلام لیدلی ئم ماته ئی خاندلی دی او په دی هم اکتفا نه وه یو پیره نبی علیه السلام هغه ته وائی:

حدثنا عبيد الله بن عمر بن ميسرة ثنا عبد الله بن يزيد المقرىء ثنا حيوة بن شريح قال سمعت عقبة بن مسلم يقول حدثني أبو عبد الرحمن الحبلي عن الصنابحي عن معاذ بن جبل أن رسول الله صلى الله عليه و سلم أخذ بيده وقال " يامعاذ والله إني لأحبك [والله إني لأحبك] " فقال " أوصيك يا معاذ لاتدعن في دبر كل صلاة تقول اللهم أعني على ذكرك وشكرك وحسن عبادتك " وأوصى بذلك معاذ الصنابحي وأوصى به الصنابحي أبا عبد الرحمن.

قال الشيخ الألباني صحيح (۱)

اي معاذ زمادي په خدائی قسم ئی ډیرمی خوخ ئی هغه معاذ رضی الله عنه ته جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم وائی:

حضرت معاذ فرمائي:

حَدَّثَنَا هُدْبَةُ بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ بَيْنَا أَنَا رَدِيفُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ إِلَّا آخِرَةُ الرَّحْلِ فَقَالَ يَا مُعَاذُ بْنَ جَبَلٍ قُلْتُ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ وَسَعْدَيْكَ ثُمَّ سَارَ سَاعَةً ثُمَّ قَالَ يَا مُعَاذُ قُلْتُ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ وَسَعْدَيْكَ ثُمَّ سَارَ سَاعَةً ثُمَّ قَالَ يَا مُعَاذُ قُلْتُ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ وَسَعْدَيْكَ قَالَ هَلْ تَدْرِي مَا حَقُّ اللهِ عَلَى عِبَادِهِ قُلْتُ اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ حَقُّ اللهِ عَلَى عِبَادِهِ أَنْ يَعْبُدُوهُ وَلَا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا ثُمَّ سَارَ سَاعَةً

---

۱ - سنن ابی داود جلد ۱ صفحه ۴۷۵ باب في الاستغفار

ثُمَّ قَالَ يَا مُعَاذُ بْنَ جَبَلٍ قُلْتُ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ وَسَعْدَيْكَ فَقَالَ هَلْ تَدْرِي مَا حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللهِ إِذَا فَعَلُوهُ قُلْتُ اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللهِ أَنْ لَا يُعَذِّبَهُمْ (۱)

څه دجناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوخر باندې سور ووم نو نبی علیه السلام ماته رامخ کړو اوماته ئې وی: «يَا مُعَاذُ» قُلْتُ ماورته وی لَبَّيْكَ رَسُولَ اللهِ وَسَعْدَيْكَ نو دری څله جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته وی «يَا مُعَاذُ» بیائې ماته وی تاته پته شته چې ده الله تعالی حق په بندګانو باندې څه دی ؟ نو معاذ رضي الله عنه وائي قُلْتُ اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ ماورته وی چې الله تعالی ته پته ده او دالله تعالی پیغمبر ته پته ده. نو هغه راته وی چې ده الله تعالی حق په بندګانو باندې دادی چې د الله بندګي به کوی او هیڅ څوك به ورسره نه شریك کوی معاذ بن جبل رضی الله عنه د نبی علیه السلام محبوب هغه ته نبی علیهم السلام وائی دخدائي حق وپیژنه ګوري او د خدائی حق دا دی چې ټول مخلوق به د هغه بندګی کوي اود هغه سره به هیڅ څوك نه حصه دارکوی لانبیا ولا ولیا ولا ملکا

۵ شیخ عبد القادر جیلاني رحمه الله تقریر

شیخ عبدالقادر جیلانی رحمه الله یوپیره تقریر کووخپلو شاګردانو ته ئې وی:

---

۱ صحیح البخاری (الطبعة الهندیة) جلد ۱ صفحه ۴۰۱۸ بابُ التَّرْغِيبِ فِي النِّكَاحِ

لا تخف انسیاولا جنیا ولا ملکا ولا شیئا من الحیوانات ناطقة و الصامة اتق الله.

مه ده بنده نه یریږه مه ده پیری نه اومه ده فرشتی نه ویریږه هغه حیواناتو چې دهغوی خوله خوزیګي اوکه چپ وی ده هیڅانه هم مه یریګه یریګه دڅانه؟ یریګه ده الله تعالی نه:

د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه واقعه

خپل ده ترہ خوئی ابن عباس رضی الله عنهما هغه د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم سره روان دي.

نبی علیه السلام هغه ته وائی:

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ مُوسَى. قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ. قَالَ أَخْبَرَنَا لَيْثُ بْنُ سَعْدٍ، وَابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ قَيْسِ بْنِ الْحَجَّاجِ (ح) وَحَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ أَخْبَرَنَا أَبُو الْوَلِيدِ، قَالَ حَدَّثَنَا لَيْثُ بْنُ سَعْدٍ قَالَ حَدَّثَنِي قَيْسُ بْنُ الْحَجَّاجِ، الْمَعْنَى وَاحِدٌ، عَنْ حَنَشٍ الصَّنْعَانِيِّ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ كُنْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا، فَقَالَ يَا غُلَامُ إِنِّي أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ، احْفَظِ اللهَ يَحْفَظْكَ، احْفَظِ اللهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ، إِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلِ اللهَ، وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللهِ، وَاعْلَمْ أَنَّ الْأُمَّةَ لَوِ اجْتَمَعَتْ عَلَى أَنْ يَنْفَعُوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَنْفَعُوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللهُ لَكَ، وَلَوِ اجْتَمَعُوا عَلَى أَنْ يَضُرُّوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَضُرُّوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللهُ عَلَيْكَ. رُفِعَتِ الْأَقْلَامُ وَجَفَّتِ الصُّحُفُ (هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ). (۱)

یا غُلَامُ إِنِّي أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ اي بچیه څه تا ته یو څو عقیدی بنایم او داسی عقیدی دی چې کله ستازره ته کوزی شوی نو الله تعالی به درته فائده درکړی یو عقیده احْفَظِ اللهَ يَحْفَظْكَ ته ده الله تعالی یره په زړه کې اوساته نو الله تعالی به ستا حفاظت کوی.

۱- سنن الترمذي (طبعة بشار) جلد ٤ صفحه ٢٤٨

بیا ورته وائي او که ټوله دنیاستا نفع له راجمع شی نه شی درکوي او
که ستا نقصان ته راجمع شی نه شی درکولی عبادت چې کوی اویره
چې کوی داده الله تعالی نه ساته.
نبی علیه السلام په اوله ورځ باندې قوم ته دغه دعوت ورکړو
صحابوته ئي هم دغه دعوتونه ورکړه.

صحابه د تبلیغ اسلام لپاره لیږل

او کله چې صحابه ده مملکت اسلامی اطرافوته لیږل هغوئ ته
ئي هم وئیلی وو:
معاذ بن جبل رضی الله عنه هغه ئي لیږلی وو روایت راځی:
حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ الضَّحَّاكُ بْنُ مَخْلَدٍ عَنْ زَكَرِيَّاءَ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ يَحْيَى
بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ صَيْفِيٍّ، عَنْ أَبِي مَعْبَدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، رَضِيَ اللَّهُ
عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم بَعَثَ مُعَاذًا، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، إِلَى
الْيَمَنِ فَقَالَ ادْعُهُمْ إِلَى شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللهِ فَإِنْ هُمْ
أَطَاعُوا لِذَلِكَ فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدِ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي
كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ
صَدَقَةً فِي أَمْوَالِهِمْ تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ وَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ. (۱)
معاذ بن جبل رضی الله عنه چې کله یمن ته لیږو هغه ته ئي وی
چې کله ته دی قوم ته لاړشی اول ورته دتوحید او رسالت دعوت
ورکړه که داعقیده ئي ومنله بیائي په دي باندې خبر کړه چې الله
رب العزت په دوی باندې پنځه مونځونه فرض کړی دی او چې

---

۱ - صحیح البخاری (الطبعة الهندیة) جلد ۱ صفحه ۶۲۵ کتاب الجمعة

دغه ئې ومنل نو بیا ورته دا ووایه اوه دی نه ئی خبردار کړ چې الله تعالی په دوی باندې زکوة مقرر کړی دي وی ده مالدارانو نه به اغستی شی او غریبانانوته به ورکولی شی

د مملکت اسلامی اطرافوته چې جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم کله خلق لیږل هم دغه عقیده وه او د دی برچارئې ورته کوو

معاذبن جبل رضی الله عنه چې لیږلو یوتپوس ئی تری داهم وکړو

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بن عمْرو الْقَضَاعِيُّ. حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بن حَرْب. حَدَّثَنَا شُعْبَةُ. عَنْ أَبي عَوْنٍ الثَّقَفي. عَنِ الْحَارث بن عَمْرو ابْن أَخي الْمُغيرة بن شُعْبَةَ. عَنْ مُعَاذ بن جَبَل، أَنَّ النَّبيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّم لَمَّا بَعَثَهُ إِلَى الْيَمَن. قَالَ لَهُ "كَيْفَ تَقْضي إِنْ عَرَضَ لَكَ قَضَاءٌ؟". قَالَ أَقْضي بكتَاب اللَّه. قَالَ "فَإِنْ لَمْ يَكُنْ في كتَاب اللَّه؟" قَالَ فَبسُنَّة رَسُول اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ. قَالَ "فَإِنْ لَمْ يَكُنْ في سُنَّة رَسُول اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ؟" قَالَ أَجْتَهدُ رَأْيي وَلا آلُو. قَالَ فَضَرَبَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ صَدْرَهُ. وَقَالَ "الْحَمْدُ للَّه الَّذي وَفَّقَ رَسُولَ رَسُول اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ لمَا يُرْضي رَسُولَ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ وَقَدْ أَقَرَّ النَّبيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ - مُعَاذًا عَلَى اجْتهَاد رَأْيه فيمَا لَمْ يَجدْ فيه نَصًّا عَنِ اللَّه وَرَسُوله: (۱)

او کله کله ئې تری تپوس کړی دی. معاذبن جبل رضی الله عنه چې لیږلو یوتپوس ئی تری داهم وکړو چې كَيْفَ تَقْضي إِنْ عَرَضَ لَكَ قَضَاءٌ؟" ای معاذ فیصله به څنګه کوی ؟ هغه ورته وی قال

۱- المعجم الکبیر للطبرانی جلد ۱۵ صفحه ۹۶

أقضي بكتاب الله د الله تعالی په کتاب باندې به فیصله کوم او
ده الله تعالی کتاب عقائد اخلاق معاشره اقتصادیات ټول د
ژوند سره چې متعلق څه څیزونه دی قرآن دهغی تکفل کړی او
قرآن راغستی دی
قَالَ "فَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِي كِتَابِ اللهِ؟" "قَالَ: فَبِسُنَّةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: أَجْتَهِدُ رَأْيِي وَلَا آلُو
اګرچې دبعضی خلقوبه ده دی سره اتفاق نه وی بیابه خپله رائې
کوم دصحابی رائې ده او نبی علیه السلام هغه لره په ملاباندې
ګوزار ورکړو او ورته ئې وی:
"الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي وَفَّقَ رَسُولَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَا
يُرْضِي رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ"
چې کله هغه ته داپته اولګیده چې د جماعت د فرد په دی زړه
کې دجماعت منشوردجماعت د مقصداهمیت ناست دی نو د
خدائې حمد ئې ادا کړو
نبی علیه السلام په اوله ورځ باندې دا مسئله شروع کړی ده ده
نبوت او ترمرګه پورې ئې کړی ده نه داسی اوږیدلی او نه دا بل
شان اوږیدلی دی نه پری دنیا اثرکړی دی او نه پری دنیا والو اثر
کړی دی او نه پری زور اثر کړی دی نه خرڅ شوی دی او نه ښکته
شوی دی ـ هغه یوخبرده وه او هغه یوخبره ئې په هرمیدان کې
کوله چې کله ـ ی ګتی لګی هلته هم دا خبره کوی اوپه خیمه کې
سر ورښکاره کوی او وائی یا ایهاالناس قولوا لا اله الا الله تفلحوا ای
خلقو لااله الاالله وائی چې کامیاب شی او کله چې په مدینې کې

تسلط دی اخیري ورځی دی اوصحابه ورسره په امسونو اوپه خرو باندې سوارد دي نو صحابی معاذ بن جبل رضی الله عنه ته وانی «هَلْ تَدْرِي مَا حَقُّ اللهِ عَلَى عِبَادِه» اوده ترد خوی ته وانی یا غلامُ إِنِّي أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ. احْفَظِ اللّٰهَ يَحْفَظْكَ

د جماعت د شمنانو ته خیري ټول

په دغی هم بس نه چې کله وفات کیدو دوفات په وخت کې د جماعت دشمنانو ته نبي خیری کړی دی او دجماعت مقصدنې بیان کړی دی

حدیث کې راځی چې کله نبی علیه السلام وفات کیدو ده هغه په خلی باندې دغه کلمات وو «لاَ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ. إِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَاتٍ» د الله تعالی نه سیوا بل حاجت رواد نه شته

حضرت شیخ باندې دی الله تعالی رحم اوکړی هغه دحدیث توجیه داسی کوله «لاَ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ. إِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَاتٍ» د الله نه ما سوا بل حاجت روا نه شته او د الله تعالی نه سیوا که بل حاجت رواد وی نو په توله دنیا کې د الله تعالی نه پس څه غوره یم او څه هم اله نه یم ولی «إِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَاتٍ» څکه د مرګ سلګی په ماباندې راغلی او په چاچې د مرګ سلګی راغلی هغه اله نه شی کیندی اوځوک چې د دی عقیدی دشمنان ووهغوی ته نبی خیری اوکړی

أَخْبَرَنَا أَبُو عَرُوبَةَ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ وَهْبِ بْنِ أَبِي كَرِيمَةَ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ. عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحِيمِ. حَدَّثَنِي زَيْدُ بْنُ أَبِي أُنَيْسَةَ. عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ. عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الْحَارِثِ. عَنْ جَمِيلٍ النَّجْرَانِيِّ. عَنْ جُنْدُبٍ.

قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ اَنْ يُتُوفَّى بِخَمْسٍ لَيَالٍ خَطَبَ النَّاسَ. فَقَالَ «اَيُّهَا النَّاسُ اِنه قَدْ كَانَ فِيكُمْ اِخْوَةٌ وَاَصْدِقَاءُ. وَاِنِّي اَبْرَأُ اِلَى اللّٰه اَنْ اَتَّخِذَ مِنْكُمْ خَلِيلًا. وَلَوْ اَنِّي اتَّخَذْتُ مِنْ اُمَّتِي خَلِيلًا لَاتَّخَذْتُ اَبَا بَكْرٍ خَلِيلًا. اِنَّ اللّٰهَ اتَّخَذَنِي خَلِيلًا كَمَا اتَّخَذَ اِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا. وَاِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمُ اتَّخَذُوا قُبُورَ اَنْبِيَائِهِمْ وَصَالِحِيهِمْ مَسَاجِدَ. فَلَا تَتَّخِذُوا قُبُورَهُمْ مَسَاجِدَ. فَاِنِّي اَنْهَاكُمْ عَنْ ذَلِكَ» (۱)

وی یهود او نصاری باندې دی الله لعنت اوکړی هغوئي دخپلو انبیاء او خپلو اولیاء د قبرونو نه جماعتونه جوړ کړی دی

دکومی مسئلی دعوت چې ما ورکړی دی هغوئي دهغه مسئلی خلاف کړي وو ده جماعت د اصولو خلاف چې چاکړی وو دمرګ په وخت کې ورته نبی علیه السلام خبری کړی وی

د حق پرستو کار هم دادی هرحق پرست هغه چې کله وفات کیږی هغه دوه کارونه کوی یوکار هغه دخپل مشن وصیت کوی په حضرت شیخ باندې دی الله تعالی رحمتونه اوکړی چې کله وفات کیدو پنج پیر کې وصیت کړی وو ملګروته چې ګوری خما مرګ دا نه دی چې تاسو ما په خاورو کې ډوب کړئ بلکه خما مرګ دادی چې دقرآن او سنت درسونه پریږدی داخما مرګ دی چې خما درس اوجماعت داتاسو ختم کړی

نبی علیه السلام دمرګ په وخت کې یو وصیت کړی او بل ئې خبری کړی دی وصیت ئې د اوکړو چې «لا اله الا الله» ګوری په

۱ صحیح ابن حبان جلد ۱۴ صفحه ۳۲۴

دی عقیده باندې تینګ ودریږئ او چاچې دده دی عقیدی او جماعت خلاف کړی خیری ورته وکړی

حضرت شیخ باندې دی الله رحم وکړی یونې وصیت وکړو چې خما مشن خما نه وروستو مه پریږدئ او بیائې خیری کړی وی سنګری شته وی الله تعالی چې څوك خما جماعت خما مشن خرابوی الله تعالی ته نی ډسرموی خکه یوسړی چې د هغه ټول عمرده دین داشاعت دپاره تیرشی د مسئلی د اشاعت لپاره تیر شی هغه مسئله هغه ته ګرانه وی

جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو صحابی راغی ورته وائی

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بن عَبْدِ الْعَزِيزِ ، حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ ، عَنِ الأَجْلَحِ ، عَنْ يَزِيدَ بن الأَصَمِّ ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَجُلٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا شَاءَ اللَّهُ وَشِئْتَ ، قَالَ جَعَلْتَ لِلَّهِ نِدًّا بَلْ مَا شَاءَ اللَّهُ وَحْدَهُ (۱)

ای دالله تعالی پیغمبره څه چې الله تعالی غواړی اوته غواړی هغه کیږی نبی علیه السلام ورته وی نه خما مشن دی ټول خراب کړو قَالَ «جَعَلْتَ لِلَّهِ نِدًّا مَا شَاءَ اللَّهُ وَحْدَهُ» نه نه تا خو خه دالله تعالی حصه دارجوړ کړمه چې الله غواړی هغه کیږي اوځه چې الله تعالی نه غواړی هغه نه کیږی شائبه ئې هم نه پریخوده

۱ المعجم الکبیر للطبرانی جلد ۱۰ صفحه ۲۸۵

د صحابو سره بغض کول کفر دي

زمونږ جماعت اوله مسئله د توحید کوی ده دی لپاره الله رب العزت یو جماعت خاص کړی وو اوهغه جماعت ته وئیلی کیږی د صحابو جماعت

حدیث کې راځی چې الله تعالی ده بندګانو زړونوته اوکتل نو انبیاء ئی مختاره کړل اوبیائي چې دبندیګانو زړونوته اوکتل نو دپاکو زړونو خلق ئي دنبی علیه السلام دصحبت دپاره مختار کړل.

أولئك أصحاب محمد (صلى الله عليه وسلم)كانوا خير هذه الامة

دغه د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه وو څکه خو د امت علماو کې مشهور محدث ابو زرعه د هغه قول دي

اخبرنا ابو منصور محمد بن عيسى الهمذاني ثنا صالح بن احمد الحافظ قال سمعت ابا جعفر احمد بن عبدل يقول سمعت احمد بن محمد بن سليمان التستري يقول سمعت أبا زرعة يقول إذا رأيت الرجل ينتقص احدا من أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم فاعلم انه زنديق وذلك أن الرسول صلى الله عليه وسلم عندنا حق والقرآن حق وانما أدى إلينا هذا القرآن والسنن أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم وانما يريدون ان يجرحوا شهودنا ليبطلوا الكتاب والسنة والجرح بهم أولى وهم زنادقة (۱)

کله چې تا یو سړي ولیده او هغه د جناب رسول الله په صحابو کې د یو تن بد وي خان پوهه کړه او زړه ته دا خبره کوزه کړه چې دا سړي زندیق دي وجه ئي څه ده ؟ځکه قرآن زمونږ په نزد باندې

---

۱ - الكفاية في علم الرواية جلد ۱ صفحه ۹٤ (باب ما جاء في تعديل الله ورسوله للصحابة)

رشتني دي او سنت هم زمونږ په نزد باندې رشتني دي او دا قرآن
او سنت مونږ د جناب رسول الله صحابو زارسولي دي دا خلق چې
په صحابو طعنونه کوي او د صحابو بد وائي دوئ دا غواړي چې
زمونږ ګواهان برباد کړي نو په دوئ باندې جرح دا ډيره اولی ده
او دا زنديقان دي

تفسيرابن کثير په تفسير د سورة الفتح کې ده امام مالك رحمه
الله هغه مشهور قول نقل کوی هغه وائی چې

ومن هذه الآية انتزع الإمام مالك رحمه الله في رواية عنه بتكفير الروافض
الذين يبغضون الصحابة، قال لانهم يغيظونهم، ومن غاظ الصحابة فهو
كافر لهذه الآية ووافقه طائفة من العلماء على ذلك (۱)

ده دی آيت لاندې ليکی چې ده دی آيت نه امام مالك دا حکم
راويستی دی چې څوك د صحابو بعض کوی هغه کافر دی ولی؟
امام مالك وائی چې داخلق د صحابو په مدح باندې خفه کيږی او
څوك چې د صحابی په مدح باندې خفه کيږی داکافر ګڼی دد دی
آيت دوجی نه بياحافظ ابن کثير ليکی دادد امام مالك قول فزا
نه دی بلکه دامت دعلماء يولويه ډله دامام مالك رحمه الله سره
په دی مسئله کې متفق دد

دا فتنه څه لپاره شروع شوی وه؟ د صحابو د طعن دا فتنه ما
تاسو ته عرض وکړو چې مقصد هغه توحيد وو مقصد هغه دنيا
نه دالله تعالی کتاب رسول وو نو عبدالعزيز فرهاري ليکی

۱۔ تفسيرابن کثير (دارطيبة) جلد ۷ صفحه ۲۶۲ تفسيرسورة الفتح ايت ۲۹
۲ مرام الكلام ص (۵)

انه لم من قرض الدولة المجوس عن فارس تشاور بعض شياطينهم في افساد دين الاسلام فحدثوا القول بان الصحابة ظلموا اهل البيت. (۱)

کله چې د مجوس حکومت د ایران نه ختم شو بعضی شیطانان اولګیدل او د اسلام د ختمولو د پاره ئې مشوري وکړې هغوی دا قیصی شروع کړی وی صحابو په اهل بیتو باندې ظلم کړی دی او شروع شو په صحابو باندې ردونه شروع کړل.

بیا دغه خلق چې ده صحابو طعن ئی کړی وو او رو رو زیاتیدل زمونږ دی قرن ته راورسیدل کتابونه ئې اولیکل کتاب کې ګنړی خبری د صحابو په باره کې لیکلی دی او یو نمونه څه ستاسو ته بنائم

مولا صاحب لیکی چې عثمان رضی الله عنه ډیره غټه غلطی کړی ده او د هغه غلطی دا ده چې معاویه رضی الله عنه ئې دیارلس کاله په یو د صوبه باندې ګورنر پاتی کړل او په دغه کتاب کې لیکی چې ابو موسی اشعری رضی الله عنه دولس کاله پس معزوله کړو نو دائې هم ګناه وکړه.

هلکه که دولس کاله پس معزوله کول ګناه وی نو په معاویه رضی الله عنه باندې ولی خفه ئې ؟ او که دولس کاله پاتی کول ګناه وی نو په ابو موسی اشعری رضی الله عنه باندې ولې خفه ئې ؟

ابو موسی اشعری رضی الله عنه په سن ۱۷ کې بصری ګورنر شوی او بیا په سن ۲۹ کې کاله پس عثمان رضی الله عنه معزوله کړی دا څه ګناه خو نه وه.

د قرآن قیمت

تاسو ته دقرآن قیمت معلوم دی؟ په ټوله دنیا کې دټولونه معزز څوك دی ؟ محمد رسول الله خوستاسو ته پته شته؟ چې د احد په ورځ باندې دنبی علیه السلام غاښونه مبارك شهیدان شوی وو سرمبارك ئې زخمی شوی خوده څه دپاره؟ ده دی قرآن دپاره د قرآن دی قیمت درته معلوم شو چې سومره دي؟ او الله تعالی نبی علیه السلام ته وائی:

يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ (۱)

اې رسوله تاته چې الله تعالی کوم کتاب رالیږلی دی داخلقو ته ورسوه اوکه داکاردی اونکړو زما کتاب دی ا نه رسو ګوری ډیوتی دی پوره نه کړه.

بیا ورته وائی ګوری په دی کتاب باندې کلك اوسیږه که لګ غوندی میلان دی اوکړو.

وَلَوْلَا أَنْ ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدْتَ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيلًا: (۲)

داکتاب اشرف کتاب اشرف الکتب او هغه اشرف الکتب چې په ټولو ژبو کې بهتره ژبه کې راغلی دی ده دی کتاب عزت او شرافت الله تعالی خائی پیغمبره که تاپکې سستی وکړه نو فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ داکتاب مونږته صحابو رارسولی دی اصحاب د

۱ - سورة المائدة (٦٧)
۲ سورة الاسراء (٧٤)

رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوئ ده دی کتاب دپاره خپلی وینی توئ کړی دی خپل پلاران ئي وژلی دی.

حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ، قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، قَالَ: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ أَنَسَ بْنَ النَّضْرِ تَغَيَّبَ عَنْ قِتَالِ بَدْرٍ، فَقَالَ: تَغَيَّبْتُ عَنْ أَوَّلِ مَشْهَدٍ شَهِدَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، لَئِنْ رَآنِي قِتَالاً لَيَرَيَنَّ اللَّهُ مَا أَصْنَعُ؛ فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ وَهُزِمَ النَّاسُ، لَقِيَ سَعْدَ بْنَ مُعَاذٍ فَقَالَ: وَاللَّهِ إِنِّي لأَجِدُ رِيحَ الْجَنَّةِ، فَتَقَدَّمَ فَقَاتَلَ حَتَّى قُتِلَ (۱)

انس بن نضر رضی الله عنه هغه داحد د جنګ په ورځ باندې روان دی ده احد غرطرف ته خلق ورته وائی غشی وریږی هغه ورته په رب باندې قسم دی داحد ده غره نه د جنت بوئ راځی او چې کله د قرآن د اعلاء دپاره هغه شهید شو او په زړه باندې غشی اولګیدو هغه چغی کړی وی «فُزْتَ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ» ځما دی دکعبی په رب باندې قسم وی څه کامیاب شوم.

اوس هغه خلق چې هغوئ خان ته خان نه وو وئیلی دده قنسرین په جنګ کې خالد رضی الله عنه جبلة بن ایهم ته وئیلی وو زمونږ په کتاب کې ګوری دریمه خبره نه شته إما الفتح وإما الشهادة یا به مونږ خپل مقصد خوروو او یابه دی مقصد دپاره سر ورکوو او سر چې دی ورکړو څه لوئي کار دی اونکړو شاعروائی

جان دی دی ہوئی اسی کی تھی　　حق تو یہ ہی کہ حق ادا نہ ہوا

---

۱ - تفسیر طبري (دار هجرة) جلد ۱۹ صفحه ٦٥

که تاروح ورکړو نو څه کمال دی وکړو دخدائی روح وو او تاله ئي
درکړی وو او تائي څه حق اداوکړو
هغوئ ته دا احساس وو چې دالله دپاره مونږ خپل ځان قربانو

د مصلحو سره بخښنه د قوم وخت نه ضروع شوه؟

کومو کسانو چې ده دی کتاب داشاعت دپاره ځان قربان کړی
دی خلق راغی او دهغوی جرحی ئي شروع کړی
قرآن هم کله کله هغه مشرته چې هغه دالله تعالی خلاف وی او د
الله تعالی د کتاب خلاف وی قرآن ورته شیطان وائی
وَاِذَا خَلَوْا اِلٰی شَیَاطِینِهِمْ قَالُوا اِنَّا مَعَکُمْ اِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِئُونَ (۱)
دا خو شیطانانوله نه تله داکبار ئي شیطانان وو
دغه رنګه سورة لقمان کې الله تعالی وائی:
وَاِذَا قِیلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَیْهِ آبَاءَنَا اَوَلَوْ
کَانَ الشَّیْطَانُ یَدْعُوهُمْ اِلٰی عَذَابِ السَّعِیرِ: (۲)
کله چې دی کافروته اووائی چې ده مَا اَنْزَلَ اللّٰهُ تابع شه قرآن د
هغوئي ده آباء نه تعبیر کوی اګر چې دغه پلار شیطان دی جهنم ته
راکاګي هغه آباء نا چې هغوئ ورته وئیلی وو الله تعالی ورته
شیطان اووی

۱ سورة البقرة (۱٤)
۲- سورة لقمان (۲۱)

د جماعت د حفاظت احکام

زمونږ جماعت هر هغه څوک چې هغه ده دی جماعت په لاړ کې حائل واقع شوی دی هغه ئي نه دی معاف کړی خو د جماعت د حفاظت دپاره الله رب العزت مونږ ته څه احکام راکړی دی او کوم آیاتونه چې مالوستی وو دې کې دغه احکام دی

الله تعالی فرمائی:

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَأُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ: ( )

او دهغه خلقو په شان مه کیږئ چې هغوئ تس نس شوی وو او دلی دلی شوی وو او هغوئ اختلاف شروع کړی وو پس دهغې نه چې هغوئ ته واضحه دلائل راغلل او هغه کسان چې هغوئ توحید او سنت پریږدی او مختلفو دلوته ځی او خپل مشن پریږدی د هغوی په شان مه کیږئ دهغوئ دپاره لوئی عذاب دی کله يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ (۲)

مفسرین لیکی چې دجوه او وجوه نه مراد جداجدا وجوه دی یخبر تعالی عن یوم القیامة أنه تسود فیه وجوه، وتبیض فیه وجوه. وتبیض وجوه اهل السنة والجماعة

چې په سنت اوپه جماعت باندې کلك وی ده هغه مخونه به سپین وی تسود وجوه أهل الفرقة والاختلاف چې بدعت ئي شروع کړی وی او اختلاف ئي شروع کړی وی دهغه مخ به تور وی

---

۳ - سورة آل عمران (۱۰۵)

۲ - سورة آل عمران (۱۰۶)

فَأَمَّا الَّذِينَ اسْوَدَّتْ وُجُوهُهُمْ أَكَفَرْتُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ (۱)

ده چامخ چې تور وی هغه فرقی والاو اختلاف والا بدعاتو والاو
د صحابو طعن والا هغوی ته به الله تعالی وائی آیا تاسو کفر کړی
پس د ایمان نو ستاده انکار په وجه باندې اس عذاب اوسکه

وَأَمَّا الَّذِينَ ابْيَضَّتْ وُجُوهُهُمْ فَفِي رَحْمَةِ اللَّهِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ تِلْكَ آيَاتُ اللَّهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ وَمَا اللَّهُ يُرِيدُ ظُلْمًا لِلْعَالَمِينَ (۲)

او هغه کسان چې هغوی مخونه سپین وی هغوی به دد الله تعالی
په رحمت کې وی اودوی به په دې کې همیشه
الله تعالی وائی خما دلائل اوحما بیان دادی چې جماعت به کلك
کړی او اختلاف به نه جوړوی کلك به اوسیږی په خپل مشن
باندې او الله تعالی په مخلوق باندې ظلم نه کوی
الله تعالی دی توفیق راکړی چې مونږ خپل جماعت دامخکې
بوزو اوزمونږ جماعت دی الله تعالی ده تفرق اوتجذب نه اوساتی
مونږ دی الله تعالی یوکړی زمونږ جماعت دی الله تعالی تر آخره
پورې یوکړی او زمونږ د جماعت امتیازی شان دا وو انشاء الله او
وی به هم نور جماعتونه پخواجمعیت علماء اسلام وو هغه په دوه
ډلو کې تقسیم شو مرکزی او غیر مرکزی کله چې د مرکزی هغه
خلق لاړو ده دنیانه نو هغه غیر مرکزی چې وو هغه په دوه ډلو کې
تقسیم شو کله چې دهغی هغه مشران لاړل هغه یوطرف بالکل

---

۱ سورة آل عمران (۱۰۶)
۲ سورة آل عمران (۱۰۷ ۱۰۸)

ختم شو او هغه بل په دوه ډلو کې تقسیم شو دغه رنګه نوری سیاسی پارتۍ په مختلفو ډلو کې تقسیم شوی دی

زمونږ دجماعت دا امتیازی شان وو چې مونږ نه تقسمیږو

الله تعالی دی مونږه اوس هم په هغه خپل طریقه باندې مضبوط اوساتی او تاسونه انشاء الله زمونږ دا توقع ده چې دجماعت کار دا به په مخکې باندې بوزی او دجماعت دمشن دپاره به خپل جانی او مالی قربانی کوی

(وآخردعوانا ان الحمد لله رب العالمین)

بسم الله الرحمن الرحيم

موږ غواړو د امن طریقې
مقام څنګه بر سول

الحمد لله الحمد لله نحمده ونستعينه ونتسغفره ونستهدی ونؤمن به ونتوكل عليه ونعوذ بالله من شرور انفسنا ومن سيات اعمالنا من يهده الله فلا مضلله ومن يضلل فلا هادي له ونشهد ان لا اله الا الله وحده لاشريك له ونشهد ان سيدناوسندنا ومولانا محمدا عبده ورسوله صلى الله عليه واله واصحابه الذين هم خلاصة عرب العرباء وخير الخلائق بعد الانبياء أَعُوذُ بِاللَّه مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ (١) إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ (٢) فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ (٣) الَّذِي أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوعٍ وَآمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ (٤) (١)

دنیا کې به امن څنګه راځي ؟

عزت مندو مسلمانانو نن صباپه دنیا کې یوعام بحث شروع دی او هغه ده دی نقطی نه چار چاپیره دي چې په دنیا کې امن به څنګه راځی ؟ دغه رنګه معاشی حالت به دخلقو څنګه ښه کیږي؟ دا یو دوه خبری دی چې دنیاده دی ده تصور نه عاجزه غوندی ښکاري ده دی دپاره خلق څه په چاباندې الزامونه لګوی څه ده

---

[1] سورة قريش

دی دپاره جرګی ګوی څه مختلف قسم تدبیرونه ده دی دپاره
لټولی کیږی
زمونږه اسلاف او په خصوصیت سره اوله صدئ زمونږ داسلاقو د
حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه نه واخله ترد آخری صحابی
پوری دهغوی چې کوم ژوند تیرشوی دی که سړی دهغوی دژوند
ده هغوئ کردار جوړه مطالعه وکړی نو ده امن یوه لارنه په
زرګونو لاری سړی ته معلومیږي د معیشت او معاشی خرابئ د
اصلاح ده هغی یوه لار نه ګنړی طریقی دا خلقو ته معلومیږی.
کوم سورة چې ماستاسو مخکې لوستی دی په دی سورة کې الله
رب العزت د دوو داسی مرضونو چې دا مرضونه خلقو ته لاعلاج
ښکاري ده دی ده علاج یو جلك الله تعالی خودلی دی.
قرآن کریم ده قریسو ده معاشیاتو ده هغوئي د اقتصادیاتو لاری
خائی اوبیا ورته ده امن او معشیت ده دی قانون خائی او ده دی
حاصل هغه دادی چې قریشو دمعاشی حالت ښه کولو دپاره ده
اوړی او دجمی مزلونه کول کله به شام ته روان وو او کله به روم ته
روان وواو قریش هغه خلق چې د هغوی په زمکه کې دفصل د
راټولو کولو لیاقت نه وو هغه خلق چې دهغوی چار چاپیره غرونه په
هغی کې واخله لرګي نه وو.
الله رب العزت هغوئي ته لاری کولاؤ کړی وی روم او شام ته به تله
او د هغوی معاشی حالت په ټولو کې ښه وو او دا په هغه زمانه
کې چې ټول عرب هغه د معاشی نقصاناتو او د معاشی غلطو د
هغی ښکار وو.

داسی خلق وو چې هغوئي بد امني زوره باندې راوسته یو به خپه اغوځوله په لار کې وی زما ده خپه به څوك راغونډه کړی او بل به راغی او توره به ئي ورلره راخلاصه کړه او هغه خپه به ئي ورلره پری کړه او ده لاری نه به ئي یوطرف ته اوغورځوله او په هغی به جنګونه شروع شو.

ټول ملك بدامنه وو د خوراك او سکاك داحال وو چې هډوکی او سرمنی دهغوی خوراك وو خو قریش په دغه زمانه کې د ولړي نه هم په امن وو او د ویري نه هم په امن وو معاشی خطره هغوئ ته نه وه او د معیشت خطره داهم هغوئي ته نه وه اوده دی یوسبب قرآن خائی چې قریشو د الله تعالی په شعائرو کې ده بیت الله تعظیم کوو اوده بیت الله دتعظیم ډوجی نه الله تعالی دهغوی معیشت اودهغوی امن دا دواړه په حال کړی وو.

قرآن په دې کې یونری غوندی نظرپه دی هم واچو چې کله قریشو د الله درسول او دالله تعالی ده کتاب دهغوی سره دشمنی شروع کړه نودقریشو معاشی حالت هغه خراب شو او دقریشو امن هغه برباد شو داسورة چې سړی په ژور نظرباندې اوګوری نوده دی نه دا معلومیږی چې د ملك امن ده دی دپاه واحده لار ده او هغه واحده لاړه هغه دالله تعالی دین ته غاړه کیخودل دی معاشي تنګسیا لري کول د هغي دپاره یوه لار ده او هغه لار د الله تعالی کتاب ته غاړه کیخودل دي

د امن اصول څه دي ؟

قرآن عظیم الشان چې کله په ملك کې د امن اصول اوضوابط ذکر کوی نوپه هغی کې اول د امن قاعده هغه الله تعالی داسی ذکر کوی الله تعالی فرمائی:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ: (۱)

اي ايمان والو دالله نه ويريږئ څنګه چې ده هغه د ويريدو حق دي او چې کله ته ده الله تعالی نه ويريدي نو دنيابه ستانه ويريږي ستاپه ملك کې به آمن وی.

الله تعالی فرمائی چې دمرګ پوری په اسلام کلك شئ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ

لفظي معنی ئي خو دا ده چې مه مړه کيږئ مګر په دي حال کې چې تاسو مسلمانان ئي نو مرګ خو د چا په اختيار کې نه دي خو د ايت معنی دا شوه چې تر مرګه پوري په اسلام باندې کلك شئ د الله تعالی يره داچې ده چا زړه ته ننوته دهغه ده زړه نه تولی يری اوځی دغه رنګه ده الله تعالی دين چې په کومه علاقه کې راغی په کوم ملك کې راغی اوپه کومه محله کې راغی د هغی نه د کفر اوظلم تول قانونونه ختم شی وطن کې امن راشی ده دی دوو نقطو يو د الله تعالی نه يره او بل ترمرګه پوری په اسلام باندې کلکيدل دا ده امن اوخوشحالئ اصول دی ده دی تشريح کوی الله الله تعالی فرمائی: وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا: (۲)

---

۱ - سورة آل عمران (۱۰۲)

۲ - سورة آل عمران (۱۰۳)

کلکی منګولی اولګوئ ده الله تعالی په دین باندې او پارټئ پارټئ کیږئ مه

ده امن دپاره د اتحاد ضرورت دی او اتحاد داسی چې په هغی کې تفرق نه وی نبی علیه السلام د دي باره کې یو پیره امت ته ارشاد وفرمایو المسلمون تتاکافأ دماءهم د مسلمان وینه او عزت دایو برابر دي او مسلمانان په هغی کې لاندی سړی چې کله عهداوکړو ټولو مسلمانانوباندې ده هغه ده عهد پاس ساتل دا ضروری دی او یوپیره اوفرمائیل یقینا مسلمانان کاعضاء جسد واحد دا ده یوبدن اندامونه دی اوپه دی بدن کې یو عضو او یو اندام هغه ته تکلیف وی دهغه یواندام دوجی نه ټول بدن هغه په بي خوابئ او په تبه باندې مبتلاء وی اود هغی اثر به ټول وجود باندې وی

دغه رنګه یومسلمان دی په یو وطن کې هغه بی امنه دی او یو مسلمان دی ده هغه معاشی حالت ښه نه دی قرآن عظیم الشان هغه مونږته دا خائی چې دا داسی دی لکه ټول مسلمانان چې بی امنه دی خوبیا الله تعالی فرمائي

وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ

ده الله تعالی نعمت په خان باندی یاد کړئ کله چې تاسو دیوبل دشمنان وئ امن نه وو

په نړئ نړئ خبره باندې به جنګو نه ونختل (۱۲۰) سال به هغه جنګو نه چلیدل

بعاث یوجنګ تیرشوی دی د اوبو څکلو په نمبرباندې شروع شوی وو او ۱۳۰ سال چلیدلی وه په دې کې ماشومان پیدا شی او ځوانان شی او ځوانان پکې بوډاګان شی دا بد امنی ولی وه ؟ دا بدامنی ځکه وه چې دالله تعالی سره تعلق نه وو الله تعالی فرمائی:

وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا

یادکړئ دالله تعالی نعمت په تاسوباندې کله چې تاځود یو بل دشمنان وئ الله تعالی ستاسوزړو نه دیوبل سره یوکړل.

تاسو ته دوه امنه میلاو شو اول تاسو د الله تعالی په کتاب باندې د یو بل ورونه شوئ یوامن په دنیا کې خائسته ژوند.

دوئم امن: وَكُنْتُمْ عَلَى شَفَا حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِنْهَا

تا سوده اور ده ډوغل په غاړه باندې ولاړ وئ الله دهغی نه بچ کړئ دویم امن هغه په دی امن پوری تړلی شئ دی قیامت کې ستاسو دالله تعالی دعذاب نه په امن شوی.

كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ: (۱)

الله رب العزت وائی ستاسو ته دلائل بیانوم دی دپاره چې ستاسو ده امن لار وپیژنئ ده امن لار هغه دالله تعالی سره تعلق دی.

که یوسړی وائی چې په ملك کې امن دا په معیشت په ښه والی باندې راځی داخبره درسته نه ده معیشت د امن تابع وی امن د معیشت تابع نه دی.

---

۱ - سورة آل عمران (۱۰۳)

په کومه زمانه کې چې جناب محمد عربی صلی الله علیه وسلم هغه تحریک شروع کړو د اسلام چار چاپیره بدامنی وه او په قول د جعفر رضی الله عنه هغه وائی زمونږ داسی معاشره وه چې په مونږ کې غریبانان داده مالدارو خوراك وو زمونږ ده الله تعالی سره تعلق نه وو ده هری ګټی او وني به مونږ عبادت کوو خو چې کله د الله تعالی نبی جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دنیا ته راغی اوده امن پیغام ئې راوړو قرآن نو کوم خلق چې هغه په قرآن باندې یوشو دا ټیك ده چې هغوئ قرآن په خپلو اوږو باندې اوچت کړو خوقرآن چې په کومه علاقه باندې حاوی شوی دی ده هغه وطن امن دا ضرب المثل دی مثال ګرځیدلی دی

د امن لپاره د صحابو اصول

ابن زنجویه یوعالم دی هغه د اسلام په اقتصادیاتوباندې دری جلده کتاب لیکلی دی کتاب الاموال په هغی کې د عمررضی الله عنه یو قول هغه نقل کړی دی عمررضی الله عنه فرمائی چې ده امن دپاره او ده اقتصاده د ښه کولو د پاره ده مسلمانانو باهمی ربط دا پکاردی اوچې ده مسلمانانو ربط راشی د یو بل سره نو که داسلام ټول حکومت پری ختم شی خیردی

عمر رضی الله عنه یو پیره وی

أنا قَبِيصَةُ، أنا سُفْيَانُ، عَنْ أُسَامَةَ، عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ كُرَيْزٍ. قَالَ: قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: لَأَنْ أَسْتَنْقِذَ رَجُلًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ مِنْ أَيْدِي الْمُشْرِكِينَ، أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ (١)

چې زه د مسلمان فوج یوفوجی ده کافرو نه راخلاص کړم او ده هغه ربط خپلو مسلمانانو سره راولم اوهغه ته امن میلاو شي عمر رضی الله عنه وائی ځما دی قسم وی د ټول اسلامی حکومت نه دا خبره ماته ډیره عظیمه ښکاري اوآمن دا چې راځی دا په دی باندې چې یو سړی دالله تعالی سره تعلق دی او بیا د هغوی په خپل مینځ کې تعلق وی هم امن راځی اوهم اقتصادی حالت د سړی ښه کیږی یو روایت کې راځی: «أَيُّ الْمُسْلِمِينَ خَيْرٌ؟».

أَخْبَرَنَا ابْنُ سَلْمٍ، حَدَّثَنَا حَرْمَلَةُ بْنُ يَحْيَى. حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ أَبِي الْخَيْرِ، أَنه سَمِعَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو، يَقُولُ: إِنَّ رَجُلًا، قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ الْمُسْلِمِينَ خَيْرٌ؟. قَالَ: «مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِه وَيَدِه»: (٢)

یو پیره یوسړی دنبی علیه السلام نه تپوس اوکړو اسلام کوم غوره دی او په مسلمانانو کې کوم سړی غوره دی:

حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَزِيدَ، عَنْ أَبِي الخَيْرِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عنهمَا، أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ

١ كتاب الاموال لابن زنجويه جلد ١ صفحه ٣٢٤

٢ صحيح ابن حبان مع حواشي الارناووط جلد ٢ صفحه ١٢٥ ذكر البيان بان من فعل ما وصفنا كان من خير المسلمين

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ الإِسْلاَمِ خَيْرٌ؟ قَالَ: «تُطْعِمُ الطَّعَامَ، وَتَقْرَأُ السَّلاَمَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ». (۱)

یو پیره یوسړی دنبی علیه السلام نه تپوس اوکړو اسلام کوم غوره دی او په مسلمانانو کې کوم سړی غوره دی نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل یوداچې په چاباندې اقتصادی کمزوری وی ته هغه لره ډوډی ورکړی ده یوبل سره امداد وکړی

دوئم که یوسړی پیژني اوکه نه ئې پیژني سلام به ورته کوي خکه سلام داده ربط ذریعه ده او ربط د امن ذریعه ده.

نبی علیه السلام یوپیره اوفرمائیل:

حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، وَابْنُ نُمَيْرٍ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لاَ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا، وَلاَ تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا، أَوَلاَ أَدُلُّكُمْ عَلَى شَيْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ، أَفْشُوا السَّلاَمَ بَيْنَكُمْ. (۲)

خما دی په خدائی قسم وی جنت ته نه شی تلی چې ایمان درکې نه وی او هیچری ستاسو ایمان واله نه شئ کیدی ترڅو چې په تاسو کې محبت نه وی

بیانبی علیه السلام اوفرمائیل

أَلاَ أَدُلُّكُمْ عَلَى أَمْرٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ؟ أَفْشُوا السَّلاَمَ بَيْنَكُمْ قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ

۱- صحيح البخاري (الطبعة الهندية) جلد ۱ صفحه ۱۹ كتاب بدء الوحي

۲- سنن ابن ماجه محقق ومشكول جلد ٦ صفحه ٦٤٩ باب إفشاء السلام

تاسو ته یوداسی عمل نه خائم چې کله هغه عمل تاسو کوی تاسو به د یو بل سره مینه راځی صحابو ورته وی په خپل مینځ کې په یو بل باندې ډیر ډیر سلام وائی یعنی داسی کردار کوی چې په هغی باندې ستاسو یوبل ته نزدی کیږئ ستاسو پری محبت راځی محبت چې راشی معاشره به بنه وی معاشره چې بنه شی امن به وی او امن چې پیدا شی نو معیشت د امن تابع دی ستاسو خوراك او ستاسو څکاك به بنه شی.

د امن لپاره واحد لار تعلق بالله دي

نبی علیه السلام نه یو پیره چاتپوس وکړو ایمان څه ته وائی؟ او مومن څه ته وائی؟ ده ایمان لویه نخه څه ده ؟ نبی علیه السلام وفرمایل:
«مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَا نه وَيَده » مومن اومسلم داهغه سړی دی چې ده هغه دلاس نه اودهغه دجبی نه مومنانوته امن وی ایمان چې په چا کې وی او ایمان دالله رب العزت دتعلق لویه ذریعه ده ده هغه نخه داده چې مسلمانان به د هغه د لاس نه او جبی نه په امن وی کوم سړی چې د هغه د لاس او جبی نه مسلمانان په امن نه وو دا سړی الله رب العزت ده ته په بنه نظرباندې نه ګوری دغه سړی ته الله تعالی امن او خوشحالی نه نصیب کوی.

ده امن او خوشحالی واحد لار د الله تعالی سره تعلق دی ده دی وجی نه قرآن کریم وائی:

وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ (۱)

خامخواه دی په تاسو کې یوجماعت وی چې خلق دین ته رابلی هغه ده هغه څیزونو حکم کوی کوم چې هغه ته قرآن او سنت کې معلوم وی اودهغه نه منع کوی کوم چې په قرآن اوسنت کې نوی ده دنیاکامیاب ترین خلق هغه دغه دی

ده امن په اصولو کې دتیولو نه لوئی اصل ده امن د پاره هغه د الله تعالی سره تعلق دی د الله تعالی د شعائروسره تعلق دی

ده الیکشن نه مخکې ده مردان د ضلعي په سطح باندې یو جرګه وه اوهغه جرګه ده مردان په سرکټ هاؤس کې وه ده حکومت خلق هم راغلی وو او عوام خلق هغه هم راغلی وو او ده ضلعی حکومت په ګوته باندې خلق راتول کړی وو د یونی یوی علاقی نه په هغی کې ماته هم خط وو چونکه فضاء ډیره ګنده وه او په هرځائی کې دهماکی شروع وی نو ډیرو کموخلقوپه هغی کې شرکت کړی وو او کموخلقو چې شرکت کړی وو څه هم پکې ووم بحث په دی باندې وو چې پاکستان پریږده او صوبه سرحد پریږده ډویژن د مردان پریږده خوپه مردان کې به څنګه امن راځی اوپه دی باندې هر چا خپلی خپلی رائی پیش کولی چې په دی وطن کې به امن څنګه راځی ؟ چایوڅه وی او چا بل څه وی هرسړی خپل ذهن وواوذهن مطابق هغوئ خبره کوله

---

۱ سورة آل عمران (۱۰٤)

وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ (۱)

خامخواه دی په تاسو کې یوجماعت وی چې خلق دین ته رابلی هغه ده هغه څیزونو حکم کوی کوم چې هغه ته قرآن او سنت کې معلوم وی اودهغه نه منع کوی کوم چې په قرآن اوسنت کې نوی ده دنیاکامیاب ترین خلق هغه دغه دی.

ده امن په اصولو کې دټولو نه لوئی اصل ده امن د پاره هغه د الله تعالی سره تعلق دی د الله تعالی د شعائروسره تعلق دی.

ده الیکشن نه مخکې ده مردان د ضلعي په سطح باندې یو جرګه وه اوهغه جرګه ده مردان په سرکټ هاؤس کې وه ده حکومت خلق هم راغلی وو او عوام خلق هغه هم راغلی وو او ده ضلعی حکومت په ګوته باندې خلق راټول کړی وو د یونی یوی علاقی نه په هغی کې ماته هم خط وو چونکه فضاء ډیره ګنده وه او په هرځائی کې دهماکی شروع وی نو ډیرو کموخلقوپه هغی کې شرکت کړی وو او کموخلقو چې شرکت کړی وو څه هم پکې ووم بحث په دی باندې وو چې پاکستان پریږده او صوبه سرحد پریږده ډویژن د مردان پریږده خوپه مردان کې به څنګه امن راځی اوپه دی باندې هر چا خپلی خپلی رائی پیش کولی چې په دی وطن کې به امن څنګه راځی ؟ چایوڅه وی او چا بل څه وی هرسړی خپل ذهن وواوذهن مطابق هغوئ خبره کوله.

---

۱ سورة آل عمران (۱۰٤)

یو جرنالست دی مسرت عاصی هغه پکې اووی چې ظالم حکمران پرویز مشرف ترڅو پوری چې په پاکستان وی په مردان باندې څه کوي چې په ټول پاکستان کې امن نه شی راتلی،
ماچې کله خبره کوله مادی خلقو ته اووی چې یوزمانه وه چې عربو کې انحطاط وو د هغوئ د رزق وسیلی کمی وی خوده دی باوجود په دغه عربو کې داسی یوځائی وو چې د هغی زمکی فصل نه کوو غرونو لرګی او واخه نه کول او په هغه ځائی کې امن وو په هغه ځائی کې معاشی تکلیف نه وو وجه دا وه چې د هغه ځائی محدوده حدود اربعه وو او په هغی کې دننه چې کوم کسان وو هغوئي د الله تعالی د کور تعظیم کوو نو الله رب العزت دخپل کوره ده تعظیم په صله کې هغوئې لره دوه لوئې لوئې انعامونه ورکړی وو الَّذِي أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوعٍ وَآمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ (۱)
په نورو عربو کې لوبه وه هغوئ باندې لوبه نه وه نور عربو کې امن نه وو او دغه خلقو کې امن وو.
زمانه تیریده دا خلق چې به لاړل نو ډاکوانو به ده دوئ حفاظت کوو دا ده حرم اوسیدنکی خلق دی ده دوئي مال ته به څه نه وائی قرآن عظیم الشان وائی دا خلق به کله شام ته تله اوکله روم ته إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ (۲)
د ګرمی جداده تجارت لیندې وو او د جمی جدا وو اوپه ارام به وو هغوئي ته بالکل چا غږ هم نه کوو

---

۱ - سورة قریش (٤)
۲ - سورة قریش (۲)

کله چې دالله رب العزت رحمت په جوش کې راغی او الله تعالی دا غوخته چې په ټول انسانیت کې دی امن راشی ټول انسانیت د هغوئ معاشی حالت دی ښه شی الله رب العزت د حرم په حدودو کې ده جبل ابوقبیس په ویخ کې د عبدالله په کور کې محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم پیدا کړو

کله چې څلویښت کالوته اورسیدو الله رب العزت ده هغه نه خپل رسول جوړ کړو رسول الله أو خپل کتاب ئې ورلږد ورکړه کتاب الله چې کله رسول الله او کتاب الله راغلل نوعربو دهغوئې توهین وکړو اوچې کله ئې رسول الله او ده کتاب الله تعالی توهین وکړو نو الله ربّ العزت د هغوئ امن دا په بدامنئ بدل کړو او دهغوی هغه معاشی ښه والی هغه الله تعالی په معاشی بدوالی باندې بدل کړو اوهغه د مکی خلق وو چې یوسړی به بهر ته ناست وو لس کسان به ورته و لاړ وو چې کله به پاسی چې ده ده دا لوئی بول مونږ اوخورو اوپه پردو غولو باندې به ئی جګړی وی دا ولی ؟ مخکې د هغوی په مینځ کې ده الله تعالی په شعائرو کې یو بیت الله وو هغوئ ئې قدرکولو د هغی په وجه باندې هغوئې په دنیا کې معزز اوپه دنیا کې مامون وو.

کله چې رسول الله او کتاب الله راغلل او د عربو خلقو د هغوی مخالفت شروع کړو هغه ملك بی امنه شو او چې دهغه ملك نه امن پورته شو خلق پکې تختول شروع شو او قتل مقاتلی پکې شروع شوی لوړه پکې داسی حدته اورسیده چې خلقو دبندیانو ګندګی خوراك شروع کړو

قرآن عظیم الشان وائی: فارتقب یوم تاتی السماء بدخان مبین: (۱)
د هغه ورځی انتظار کوه کله چې به اسمان دی خلقو ته شین لوګي خکاری.
او لوړه په هغوئ باندې داسی راغله چې دلوړي د لاسه د هغوی نظر نه لګیدئ ټول وطن ورته شین لوګی خکاریدو.
دا بدامنی او دا معاشی خرابی دا په هغوئي ولی راغله؟ ځکه ده الله تعالی سره ئي تعلق نه وو.
شیخ الاسلام ابن تیمیه ده اتمی صدئ یوعالم دی هغه فرمائی:
ان الله یقیم الدولة العادلة وان کانت کافرة ولا یقیم الظالمة وان کانت مسلمة ویقال الدنیا تدوم مع العدل والکفر ولا تدوم مع الظلم والاسلام. (۲)
هغه حکومت چې ده کافروحکومت وی چې عدل پکې وی الله تعالی د هغوئ مرسته کوی چې دمسلمان حکومت وی خوچې ظلم پکې وی او امن نه راولی هغه خلق الله رب العزت تباه کوی.

زمونږ صوبه او د مولیانو حکومت

هسی سوچ چې سړی وکړی ده نن نه څه زمانه مخکې زمونږ په دی صوبه کې ده دیندارو خلقو حکومت وو دیندار په دی معنی باندې چې ګیری وی اوپتکی ئي په سر وو اومولیان خلق وو چاد یو پارتئ سره تعلق چاده بلی سره او چاده بلی سره خو د خلقو به

---

۱ - سورة الدخان (۱۰)
۲ - الاستقامة جلد ۲ صفحه ۲۴۷ فصل في الامر بالمعروف والنهي عن المنکر

نظر کې دینداره خکاریدل خوهغه دینداره خلق چې کله راغی
هغوئي دادین دا صرف یو بادیچې ئي تری جوړه کړی وه اوپه دی
باندې خکارونه کول نتیجه ئی دا وه چې زمونږ ټول وطن ګړبړشو
هغه خلق چې هغوئي د قوم نه په دی باندې وټونه اغستی وو چې
د افغانستان طالبان ووژلي شو تباه شو کرو ز میزائل پری راغلل
امریکه پری داخله شوه وطن ئي برباد کړو او مونږ یومسلمانان
یو یو ورونه یو او په هغی نوم باندې وټونه واغستل اوپه هغه نوم
باندې اکثریت حاصل کړو اوکم ازکم ده پاکستان په څلورمه
حصه باندې دهغوئی حکومت راغی

کله چې د هغه خلقو حکومت راغی نو هغه طالبان ده کومو د
حمایت په سایه باندې چې دوئي ووټ اغستی وواو هغه طالبان
چې هغه دوی ده ووټ د ښکار دپاره ذریعه جوړه کړی وه په
هغوئي باندې په وانا کې ظلمونه شروع شو په افغانستان کې
پری شروع شو ځائی په ځائی باندې زمونږ خپل وطن کې دجنګ
او جګړی میدان جوړ شو په باجوړ کې مدرسی تباه شوی په
سوات کې مسلمانان دواړه طرف ته تباه شو هم د حکومت د
طرفه او هم دعامو خلقو دطرف نه او خاص کر زمونږ په
دارالخلافه اسلام آباد کې په جامعه حفصه کې زمونږ د هغه
خویندو او ورونو دهغوی وینی توئي شوی ده هغوئي بدنونه په
بمونو باندې ستي شووکومو چې ده دین تعلیم حاصلولو
لیکن هغه ده دیندارو خلقو حکومت هغه د پس نه مس نه شو

د حکومت ذمه داری داده چې هغه به په ملك کې امن راولی
دملك معاشی حالت به ښه کوی.

د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم قانون

د مکی یویتیم جناب محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم چې
کله په مکه کې خپل دعوت شروع کړواو هغه دعوت چې هغه د
امن ده اقتصادیاتو ده معاشیاتو داخلاقو ده تکمیل امن وو.
د هغه قانون دتکمیل دپاره جناب محمدعربی صلی الله علیه
وسلم خپل ابائي کلی مکه پریخوده او چې دمکی نه بهراوتو
مکی طرف ته ئي مخ کړو اودی مکی ته ي خطاب کوه او
ستر گونه ئي اوخکی بهیدی.

قال ابن عباس: لما خرج النبی (ص) من مكة واختفى بالغار ثم خرج مهاجرا إلى المدينة التفت إلى مكة ثم قال " إنك لأحب البلاد إلى الله وأحب البلاد إلى ولولا أن قومك أخرجوني منك ما خرجت ": (۱)

خما دی په خدائی قسم وی "إنك لأحب البلاد إلى الله " چې ده
ټولی دنیاپه ښارونو کې ماته معزز ښار ئي خو چې کله مدینی ته
لاړو په مدینی کې هغه یومثالی حکومت تیارکړو او داسی
مثالی حکومت چې په مدینی کې دوه قسمه دشمنان وو د هغه
بلکه دری قسمه یوطرف ته یهود دشمنان اوبل طرف ته منافقین
دشمنان اوبل طرف ته نصاری دشمنان.

---

۱ - صفوة التفاسیر للصابونی جلد ٤ صفحه ۲۳۵ تفسیرسورة محمد

جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د کافرو سره داسی معاهدی اوکړی چې د اسلام لاس ئې پری اوچت که اوهغه خلق ئې خپل ځان سره ملګری کړل خپل ده دین سودا ئې پری انه کړه.

د خندق جنګ چې کله کیدو اویوګټه راغله اوصحابو هغه ځائی کنستو اوهغه نه کنستي کیدو نبی علیه السلام چې کله معول راواغستو او معول هغه کودالي ته وائی چې دواړه طرفه ئې تیره وی هغه ئې راواغستو اوګتی ته ئې راواچولو او هغه ګټه زری زری شوه او یو پرق اوشو اونبی علیه السلام اوفرمائیل چې الله پاک ماته دقیصراوکسری خزانی راکړی.

مشرکینو ورپوری خندل وی لاس کې کوداله نیولی ده او ګټی ماتوی اووائی چې الله تعالی ماته د قیصراو دکسری خزانی راکړی واقعی الله رب العزت چې کله هغه قانون پوره شو او دنیا باندې خور شوهغه د قیصراوکسری خزانی مدینی ته راغلی.

واقعه د سراقه بن جعشم رضی الله عنه

په کومه ورځ باندې چې نبی علیه السلام هجرت کوو سراقه بن جعشم په نبی علیه السلام پسی روان وو نبی علیه السلام سراقه ته وائی اودریږه په ماپسنی مه راځه دوه دری ځله دهغه هغه اس په زمکه کې ننوتو او ورته ئې اووی زه وینمه چې دقیصر کنګړ تاپه لاس کې پراته دی.

چې کله د قیصر حکومت فتح شو عمر رضی الله عنه په زمانه کې او د هغه هغه دسرو هغه کنګړ هغه ئې راوغستل سراقه وی

دا نبی علیه السلام ماله راکړی او په هغی باندې ګواه اخودی شو او ده نبی علیه السلام هغه لیکل اخودی شو عمررضی الله عنه د هغه لاس ته واچول اوهغه ویستل او خرڅ ئې کړل.

د صحابو حالات

داسی زمانه وه چې په مدینی منوره کې د محمدصلی الله علیه وسلم ده منونکو معاشی حال دا وو چې په صف کې به اوغورځیدو خلقوبه وته خپی مړلي وي په ده پیریان راغلی دی ابو هریره رضی الله عنه وائی چې ځما سره به داچل ډیر کیدو:

حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ مُحَمَّدٍ، قَالَ كُنَّا عِنْدَ أَبِي هُرَيْرَةَ وَعَلَيْهِ ثَوْبَانِ مُمَشَّقَانِ مِنْ كَتَّانٍ، فَتَمَخَّطَ، فَقَالَ: «بَخٍ بَخٍ، أَبُو هُرَيْرَةَ يَتَمَخَّطُ فِي الكَتَّانِ، لَقَدْ رَأَيْتُنِي وَإِنِّي لَأَخِرُّ فِيمَا بَيْنَ مِنْبَرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى حُجْرَةِ عَائِشَةَ مَغْشِيًّا عَلَيَّ، فَيَجِيءُ الجَانِي فَيَضَعُ رِجْلَهُ عَلَى عُنُقِي، وَيَرَى أَنِّي مَجْنُونٌ، وَمَا بِي مِنْ جُنُونٍ مَا بِي إِلَّا الجُوعُ»: (۱)

هیڅ شئ نه وو خوده لوړي د لاسه به په مونږ باندې دا چل کیدو

صحابه راوتلی دی:

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَحْمَدَ بْنِ الْجُنَيْدِ الدَّقَّاقُ، قَالَ: حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ الْقَاسِمِ، قَالَ: حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ كَيْسَانَ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عنه، قَالَ: بَيْنَمَا أَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عنهما، جَالِسَانِ جَاءَهُمَا رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم -، فَقَالَ: مَا أَجْلَسَكُمَا هَهُنَا؟، قَالا:

---

۱ - صحیح البخاری (الطبعة الهندیة) جلد ۱ صفحه ۳٦٥٤ کتاب المناقب

وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا أَخْرَجَنَا مِنْ بُيُوتِنَا، إِلا الْجُوعُ. قَالَ: وَالَّذِي بَعَثَنِي بِالْحَقِّ مَا أَخْرَجَنِي غَيْرُهُ. فَانْطَلَقُوا حَتَّى أَتَوْا بَيْتَ رَجُلٍ مِنَ الأَنْصَارِ، فَاسْتَقْبَلَتْهُمُ الْمَرْأَةُ. فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم -: أَيْنَ فُلانٌ؟. قَالَتْ: ذَهَبَ يَسْتَعْذِبُ لَنَا مِنْ مَاءٍ. فَجَاءَ صَاحِبُهُمْ حَامِلا قِرْبَتَهُ، فَقَالَ: مَرْحَبًا! مَا زَارَ الْعِبَادَ شَيْءٌ أَفْضَلُ مِنْ شَيْءٍ زَارَنِي الْيَوْمَ. فَعَلَّقَ قِرْبَتَهُ بِكَرَبِ نَخْلَةٍ وَانْطَلَقَ. فَجَاءَهُمْ بِعِذْقٍ. فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم -: أَلا كُنْتَ اجْتَنَيْتَ؟. فَقَالَ: أَحْبَبْتُ أَنْ تَكُونُوا الَّذِينَ تَخْتَارُونَ عَلَى أَعْيُنِكُمْ. ثُمَّ أَخَذَ الشَّفْرَةَ. قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم -: إِيَّاكَ وَالْحَلُوبَ!. فَذَبَحَ لَهُمْ يَوْمَئِذٍ. فَأَكَلُوا. فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم لَتُسْأَلُنَّ عَنْ هَذَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ! أَخْرَجَكُمْ مِنْ بُيُوتِكُمُ الْجُوعُ. فَلَمْ تَرْجِعُوا حَتَّى أَصَبْتُمْ هَذَا. هَذَا مِنَ النَّعِيمِ. (۱)

ابوبکر صدیق رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه په مسجد نبوی کې د شپې ناست دی او نبی علیه السلام هم راغی تپوس کوی دابوبکر رضی الله عنه څه شی راویستی ئې؟ هغه ورته وی الا الْجُوعُ نه ده مکر لوږه

عمر رضی الله عنه وائی دالله تعالی پیغمبره لوږی راویستی یم محمد صلی الله علیه وسلم وائی لوږی راویستی یم

د لوږی د لاسه خوب نه ورتلو بیاد یوانصاری باغ ته لاړل هغه ورته بیزه راونیوله او کجوری راوړی ماړه شو

۱ مستخرج ابوعوانه (مشکول) جلد ۹ صفحه ۱٤۱ باب الاباحة لمن أصابته حاجة

د حضرت عمر رضی الله عنه حکومت او د قاتل میلاویدل

هغه خلق به هغوئ کې داسی امن راغی چې یوسړی مړ دی او قاتل پته ئې نه لګي د عمر رضی الله عنه دور دی او خپله ګیره نیسی اوراکاګي وائی عمره! ستانه به الله تعالی تپوس کوی چې د دی سړی قاتل څوك دی ؟

لس میاشتی چې په هغه ځائی باندې یووړ کی میلاویږی عمر رضی الله عنه وائی وجدت القاتل قاتل می اومندو او په هغی باندې هغه قاتل معلوم کړو.

عمر رضی الله عنه به وی زما دی په خدائی قسم وی که ده دجلی په غاړه باندې دجله ده یو دریاب نوم دی که ده دجلی په غاړه باندې سپی ده تندی نه مړ شو الله تعالی به دعمر رضی الله عنه نه تپوس کوی چې ده دجلی غاړه وی او سپی اوبه نه څکی په دې کې دعمررضی الله عنه څه نقصان دی؟ هغوئ خپله ذمه واری دی پوره ګنړله

د مولیانو او نیشنلیانو

زمونږ مولیانو صاحبانو ده MMA حکومت ده مولیانو حکومت مجلس عمل حکومت دا نه کول چې په وزیرستان کې څه مسلمانان دی چې هغوئ او حکومت په مینځ کې څه مذاکرات وکړی دائي نه کول چې په سوات کې مسلمانان دل کبړي چې څه مذاکرات وکړی دغه شان په افغانستان کې هم

هغه دوی چې ورته کافر وی او دوی چې ورسره وی مونږ هغوی ته دا نه وایو ګنی چې هغه ډیرخه خلق دی اوسنی حکومت ده دوی نه بهر حال ښه دی سوات کې مذاکرات وکړه او جنګ بندی وکړه امن ئې راوستو۔

وزیرستان والوسره ئې مذاکرات اوکړه صوفی محمد ده دیر هغه مولاچې دشریعت اواز ئی کوو

صوفی محمد چې تیرحکومت مرکزی حکومت خلاصوه نو ده MMA ملایان هغوی لاړل ورته ئې وی اووټ درته درکو خوصوفی محمد مه راپریده ځکه که ته دی راپریږدی هغه خولیونی سړی دی بیا به دشریعت چغی وهی نومونږته به فضاء ګنده کړی

پرویزمشرف لعنتی ده دوی تالاشی په سپو باندې واغسته او دوی ورته کور کې ووټ ورکړو او صدر ئې کامیاب کړو هغه دوی چې ورته غلط وی حیدر هوتی ده هغوئې حکومت صوفی محمد سرده دیرش کسانو را ازاد کړو مذاکرات ئې ورسره اوکړه او هغه دی چې په هغه وطن کې بدامنی وه اوس پکې امن شروع دی سوات خلقو سره ئې مذاکرات وکړه هلته ئې امن شروع کړو

هسی تاسو سوچ وکړئې زمونږ دپاره هغه چې ځان ته ئې دینداره وی خو ده دین کارئی نه کوو مسلمانان ئی ذلیله ساتل زمونږ دپاره هغه ښه وو او که داخو وو ؟

صاحبه تش په نوم باندې کار نه کیږی اسلام امن غواړی او مونږ ده امن محتاج یو او امن راځی ده الله سره په تعلق باندې

د قاضی حسین احمد وکیلانو ته خطاب او د مشهور وکیل ماء السماء اریانی تپوس کول

یو کال په دی بار کې د مردان بار چې دی ده وکیلانو دا ځانی په دې کې د قاضی صاحب تقریر وو د قاضی حسین احمد ټول وکیلان راغونډ شوی وو قاضی صاحب چې بیان وکړو په دغه وکیلانو کې یو وکیل دی اوس خو ډیره خکلی ګیره ده خلق ورته کپتان صاحب وائی او خپل نوم ئې دی ماءالسماء پلار ئې یوخه عالم تیرشوی دی

ماء السماء صاحب هغه پاسیدو او قاضی صاحب ته وائی چې جی څه یوسوال کولی شم هغه ورته وی وکړه وی یره جی زمونږ دا خلق پخوا ډیر کم عقل ووده سوال دی اندازی ته لګ اوګورئ وی خپل غوبل به ئې وو خلق به ورلره راغی بل سړی لره او د هغه غوبل به ئې په خپله وکړو ته ګوره دغه کم عقل سړی به هغه لره غورې ورکول دی اشرګندی ته یره جی داده خپل کارکوه قاضی صاحب ورته وی داخو ښه کارکوی داخو ډیرخه عمل دی وی دا توطیه ده هغه قاضی صاحب ته وائی چې قاضی صاحب تاسو دا جماعت اسلامی والاتاسو شریعت غواړئ اوکنه ؟ هغوئ ورته وی چې آو وی په میدان کې یوملاوو صوفی محمد نوم ئی دی هغه راپاسید هغه وی چې خه هم شریعت غواړم څه ستاسو سره اشرګندی یم اشرګندی له خو خلق غورې ورکوی چرګ ورته حلالوئی او تاسو د هغه اشرګندی نه مدرسه واغسته او هغه مو د مدرسی نه وبستو هڅی زه اوس څه او ایم قاضی صاحب چې

تاسو ډیر ظالمان ئی او کنه دبابری مسجد چې اوسوزولو اندرا
گاندی او دغه خلق ډیر ظالمان ووهغه کافر وو جماعت ئي بند
کړواو تاسو مسلمانان ئي او جماعت مو بند کړو دقاضی نه جواب
نه کیدو جواب ورسره نه وو

شهادت

(محمد طاهر توحیدیار بن شیخ عارف طاهری شهید)

شیخ صاحب د ANP د اسلام دشمن پالیسو نه خبر نه وو او د MMA
متحده مجلس عمل والاپه خپل دور حکومت کې د اسلام داسي
دشمني وکړه چې دا غیر غماز خلق ئي مونږ ته ښه ښکاره کړ خو
د ANP دور حکومت د شیخ صاحب د شهادت نه پس د پاکستان
د ټولو نه خطرناک او د اسلام د بربادئی حکومت وو
الله دي حیدر هوتي اعظم هوتي تباه او برباد کړي لکه څنګه چې
ئي اسلام تباه او برباد کړو آمین

دعا

الله تعالی دی زمونږ داملك ده امن والـه وګرځوی الله تعالی دی
زمونږ په دی ملك باندې د عمر رضی الله عنه په شان حاکم مقرر
کړی الله تعالی دی زمونږ په دی ملك کې امن راولی الله تعالی
دی زمونږ داملك دظالمانو د ظلم نه خلاص کړی
(واخردعونا ان الحمد لله رب العالمین)

(موضوع تعلق بالله او دهغی فائدی)

مقام کهوئی بر سول

الحمد لله الذی ارسل رسوله بالهدی ودین الحق لیظهره علی الدین کله وکفی بالله شهیدا واشهد ان لا اله الا الله وحده لا شریك له اقرارا به وتوحیدا، واشهدان سیدنا وسندنا ومولانا محمدا عبده ورسوله صلی الله علیه وعلی اله واصحابه وسلم تسلمامزیدا

وبعد

أَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ وَرَسُولِهِ وَاتَّقُوا اللّٰهَ إِنَّ اللّٰهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَنْ تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تَشْعُرُونَ (۱)

تمهید

عزت مندو مسلمانانو ورونو علماء کرام اوعوامو اوریدنکو زمونږ اکثر اجتماعات هغه دالله د توحید دبیانولو وی ده توحید د بیان اصل مقصد دا دی چې د مسلمانانو یو جماعت تیار شی چې هغه د مخلوق او د خالق په مینځ کې ارتباط جوړ

۱- سورة الحجرات (۱-۲)

کړی مسلمانانو چې اسلام خور کړی دی دغرب خلق هغوئي یو الزام په مونږ باندې لګوي وئي مسلمانانو دتوری په زور باندې اسلام خورکړی دی حالانکه داخبره نهایت غلطه ده ده اسلام په تاریخ کې دا نه شته چې مسلمانان یووطن ته تلی دی اوهغوئي نه ئی وئیلی دی اما الاسلام و اما السیف یا اسلام او یا توره دا ده اسلام په تاریخ کې څوك نه شی خودلی.

نبی علیه السلام به خلق لیږل تبلیغ له ده دی لپاره چې د مسلمانانو یو جماعت جوړ شی هغه جماعت چې هغوئي ده الله تعالی سره تعلقات وی خو چې کله تبلیغ له به ئي لیږل نو داسی نه وو لیږلی چې تاسو تش تور لاړ شئ او تبلیغ اوکړئ بلکه هغوئ چې تبلیغ له به تله نود هغه تبلیغ نه وروستو چې کوم اثارمرتب کیدل د هغی څه بندوبست به ئي ځان له کړي وو

دعوت تبلیغ او د هغي اثرات

عامه قاعده په وطنونو کې داده چې کله ته چاته دعوت ورکوی په هغه باندې په دوه قسمه اثرو کې یواثر کیږی یاخودا دعوت ده هغه زړه ته کوز شی او هغه ستاپه دعوت باندې لبیك اووائی او هغه ستاملګری شی خودا کارډیرکم کیږی

ځکه کوم خلق چې د هغوئی ژوند ده الله تعالی په مخالفت تیرشوی وی ده هغوئ په زړونوباندې داسی زنګونه راغلی وی چې هغه د یو وخت په ونیابائدې لری کیږی نه د بعضی خواصو خلقود هغوی هغه وینا هغه تری مستثنی ده.

کله کله مقابل په هغه خپل مدعوم اوپه خپله عقیده باندې غیرت اوکړی نو دي دی داعی ته راپاسی او دی په خپل غلط دین باندې ځان وجنی نوپه دغه وخت کې مسلمان او یادا داعی حق ده ده دپاره ده ځان د خلاصی دری لاری دی

یوه لار هغه د هندوانو ده اوهندوان هغی ته په خپله ژبه کې ستیاګره وائی ستیاګره دې ته وائی چې دی کله دعوت ده اسلام ورکړی او هغه سړی راپاسی او دی وهی او دی ورته سملی چې وهه می چې ستړی شی په خپله باندې به می پریږدی دا غیرفطری طریقه ده اسلام دې ته په بد نظر باندې ګوری ده غیرفطری نه مونږه پښتانه تعبیر کوو مونږ وایو داده دله توب طریقه ده.

دوئمه لار چې کله ته بیان اوکړی اوهغه خلق په طیش کې راشی او ته تری راوتختی او ځان خلاص کړی دا طریقه هم غیرفطری ده ځکه دا ده بی غیرتوب طریقه ده.

قرآن عظیم الشان کې الله رب العزت ده داسی خلقو په باره کې وائی

وَمَنْ يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ إِلَّا مُتَحَرِّفًا لِقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزًا إِلَى فِئَةٍ فَقَدْ بَاءَ بِغَضَبٍ مِنَ اللَّهِ وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ (۱)

ده تبلیغ په داسی مرحله کې چې یوسړی راوتختیدو او ده دشمن د وسلی نه اویریدو او که دی چل کوی نوخیردی دی خپل جماعت له راځی نو خیردی که ده دی نه بغیر دغه طریقه اختیار کړه نودی دالله تعالی په غضب ککړشو.

---

۱ - سورة الأنفال (۱٦)

جناب نبی کریم صلی الله علیه وسلم چې هغه اوه ۷ محیط څیزونه چې هغه سړی جهنم ته رسوی په هغی کې یو خودلی دی الفرار من الزحف کله چې جنګ تیار شوده هغی نه تیخته کول دا ګناه ده.

درئمه طریقه هغه مقابله ده خو قرآن د مقابلی فضا او نبی علیه السلام به ده مقابلی فضا نه جوړوله یوپیره ئې اوفرمائیل.

حدثنا (عبد الله بن محمد) قال حدثنا (معاوية بن عمرو) قال حدثنا (أبو إسحاق) عن (موسى بن عقبة) عن (سالم أبي النضر) مولى عمر بن عبيد الله وكان كاتبا له قال كتب إليه عبد الله بن أبي أوفى رضي الله تعالى عنهما فقرأته أن رسول الله في بعض أيامه التي لقي فيها انتظر حتى مالت الشمس ثم قال في الناس قال أيها الناس لا تتمنوا لقاء العدو وسلوا الله العافية فإذا لقيتموهم فاصبروا واعلموا أن الجنة تحت ظلال السيوف ثم قال اللهم منزل الكتاب ومجري السحاب وهازم الأحزاب اهزمهم وانصرنا عليهم (۱)

ده دشمن سره د مقابلی تمنا مه کوی هان کله چې مقابله راغله بیا به کلك ولاړ ئې

خو در اصل ټول څیزونه چې کیږی داده تبلیغ دپاره کیږی د اسلام اصل مقصد هغه تبلیغ دی او تبلیغ هم دقرآن دی

يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ (۲)

---

۱ عمدة القاري شرح صحيح البخاري جلد ۲۱ صفحه ۴۸۷ (باب كان النبي اذا لم يقاتل أول النهار أخر القتال حتى تزول الشمس)

۲ سورة المائدة (٦٧)

اي ځما پيغمبره د الله تعالى كتاب ورسوه او ده جهاد حكم چې
شوى دقرآن ده منكر ينو سره شوى دى
يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ
وَبِئْسَ الْمَصِيرُ (۱)
كفار دا مشتقى دى اوكفر ده دى مبداء ده او كفر انكار ته وائى
چې ده الله تعالى د كتاب نه ئې انكار اوكړو او مسلمانانوته ئې
ځان نه سپاره بيابه ورسره جنګ كوى اسلام اصل چې راغلى دى
د پاره راغلى دى چې خلقو ته ده الله تعالى دين اورسى
معاذ رضى الله عنه چې كله نبى عليه السلام ليږلو يمن ته هغه
ته ئې وئيلى وو چې كله لاړشى نواول خلق دالله تعالى كتاب ته را
اوبله او كه د الله تعالى كتاب ئې درسره نه منو نو بياد هغوى لاړ
داده چې زمونږ حفاظت قبول كړئ دحفاظت مطلب دادى چې
مقابل هغه به بى وسلى شى اومسلمان دابه دهغه د جان اومال
حفاظت كوى مقابل به جنګ ته نه ځى جنګ به مسلمان كوى د
مقابل دين او د هغه ده دين روايات دابه محفوظ وى او كه هغه
ده دى نه انكار اوكړو نو دقرآن نه انكار د توحيد نه انكار داده
جهاد لپاره سبب دى نو جهاد ذريعه ده او اصل مقصد هغه دالله
تعالى دين دنيا ته رسول دى ذريعه مقصدنه وى خو دا ذريعه او
دا سبب دا هم يوډيرلوئ كار كوى ده دى وجى نه نبى عليه
السلام فرمائيلى دى چې داسلام قب هغه جهاد فى سبيل الله دى

---

۱ - سورة التوبة (۷۳)

خوجهاد فی سبیل الله وئیلی دی قتال فی سبیل الله ته قتال داده جهاد په ضمن کې راځی.

د اسلامی معاشری اصول

دا تبلیغ د اسلام چې اوشي دا یو اسلامی معاشره تیاره کړی ده اسلامی معاشری هر یو فرد ده کې چې دری صفات وو نودی کامل دی اوکه دری صفات پکې نه وو نودی ناقص دی په هغه دری صفاتو کې اول صفت هغه ده ده روحانی صفت دی چې ده ده خپل رب سره تعلق جوړ وی په غم او ښادی کې الله تعالی ته اواز کوی

دیارلس کاله نبی علیه السلام دجنګ نوم نه وو اغستی دیارلس کاله نبی علیه السلام خپله خبره نه وه پریخودی خو خبره ئې یوه کړی وه چې: أَيُّهَا النَّاسُ قُولُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ تُفْلِحُوا

لا اله الا الله وائی تاځو به کامیاب شئ اول دعوت نبی علیه السلام چې ورکړی وو فرمائیلی وو یوخبرده ده خما سره ئې اومنی ده عربو مالکان به تاسوئې اوده عجمو مالکان به تاسو ئې خلقو تپوس کو څه خبرده ده ؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل قُولُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ تُفْلِحُوا مسلمان ده دی ټولی دنیا خیرخواه دې:

كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ (۱)

۱- سورة آل عمران (۱۱۰)

تاسو یوبهترین جماعت ئی ستاسو انتخاب د ټول عالم دپاره شوی دی خوستاسو کاربه څه وی ؟ تبلیغ: ستاسو به خلقوته حکم کوی چې کوم څیزونه قرآن او سنت کې دي چې هغه اومنئ او کوم څیزونه چې په قرآن اوسنت کې نه شته خلق به د هغې نه منع کوی خوخپل به ستاسو عملی نمونه ده ایمان خائی وَتُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ عزتمندو زمونږ نه مخکې دوه امتونه غټ غټ تیرشوی دی یهود او نصاری هغوئ الله تعالی په دی باندې تباه کړی دی چې په هغوئ کې اجتماعیت نه وو اوپیغمبر چې کومه مسئله خودلی وه نه ئي په هغی باندې سر ورکو او نه ئي د هغی د پاره کوشش کوو که د سر ورکولو وخت راغلي نو دوئ پیغمبر ته وئیلي دي فَاذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ (۱)

د انسانیت صفات

ما چې کوم سورة لوستی دی په دی سورة کې الله پاك د انسانیت دا صفتونه خائی یو صفت روحانی اوبل طبعی اوهغه ده بندیانو په خپل مینځ کې تعلق او دریم صفت عقلی هغه ده الله تعالی ده تعلق او ده بندګانوپه خپل مابین کې ده تعلق نه پس ده امن قیام دا دری څیزونه دانسانیت میټریل دی انسانیټ ده دی نه جوړیږی چې د الله تعالی سره تعلق نه وو شکل به انسان وی خو دا انسان انسان نه دی چې کله په معاشره کې ده ده تعلق صحیح نه وو اوده ده چې په انسانیت کې ده چا سره اوله رشته وه د

---

۱ سورة المائدة (۲٤)

هغوئي حقوق ده نه ادا کول دارنګه مرتبه په مرتبه باندې نو دي
انسان انسان نه دي.

قرآن د تعلق او ليت له هم ده اوليت مرتبه ورکړی ده اودغه رنګه
نبی علیه السلام هم تاسوته به دامعلومه وی چې ده معاشری
مشر هغه پلار دی:

الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ (۱)

خوپه معاشره کې حق ده مور زیات دی هغه حدیث کې راځی
ابوهریره رضی الله عنه روایت دی:

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ الْقَعْقَاعِ بْنِ شُبْرُمَةَ، عَنْ أَبِي زُرْعَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عنه قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَنْ أَحَقُّ النَّاسِ بِحُسْنِ صَحَابَتِي؟ قَالَ: «أُمُّكَ» قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: «ثُمَّ أُمُّكَ» قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: «ثُمَّ أُمُّكَ» قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: «ثُمَّ أَبُوكَ» وَقَالَ ابْنُ شُبْرُمَةَ، وَيَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ: حَدَّثَنَا أَبُو زُرْعَةَ مِثْلَهُ (۲)

ابوهریره رضی الله عنه تپوس کوی چې زه به ده چاسره ښه سلوک
کوم نبی علیه السلام وی «أُمُّكَ» ده مور سره به ښه سلوک کوی
دری ځله ئې ورته وئیلی دی د مورسره او په څلورم ځل ئې ورته
وئیل دی دپلار سره.

صحابی تپوس کوی چې: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَنْ أَحَقُّ النَّاسِ بِحُسْنِ صَحَابَتِي؟

---

۱ سورة النساء (۳٤)

۲ صحيح البخاری (الطبعة الهندية) جلد ۱ صفحه ۲۰۲۰ كتاب الأدب

ځما ده نبی معاشری قابل څوك دی ؟ نبی علیه السلام وی ستا
مور مقام خوده پلار اوچت دی دا مورئي ولی یاده کړی ؟
دری ځله داده دی وجی نه چې انسان کله په دنیا کې قدم ږدی نو
ده ده اول تعلق ده مور سره وی د تعلق اولیت داده انسانیت
اولیت دارمدار په دی باندې دی او بیا دریم صفت دانسان عقل
هغه ده دی مقتضی دی چې دوه او دری انسانان په یو وطن کې
اوسی چې ده هغوی ته مینځ کې امن وی

د کامل انسان جوړیدو لپاره قاعدې او اداب

قرآن عظیم الشان کې کنږ سورتونه دی چې هغوئ په دغه انداز
باندې چلیدلی دی چې ده کامل انسانیت لپاره د الله سره تعلق
او دبندیانو په خپل مینځ کې تعلق اوده دغه تعلق د بقا د پاره
امن پکار دی.
دا کوم سورة چې مالوستی دی ده دی سورة نوم دی سورة الحجرات
حجرات داده حجرة جمع ده او حجره داده ناستی ځائی ته وائی
عمومی وی اوکه خصوصی وی
په دی سورة کې الله پاك یوځواداب ذکر کوی ده زمانی په عدد
باندې اووه اداب اودا ۷ اداب ده دی لپاره چې تاسو دکوم
مقصد دپاره پیدائی چې هغه مقصد د الله رب العزت کتاب دنیا
ته رسول ده دی مقصد دپاره اسباب دی جهاد هم د دی په اسبابو
کې یوسبب دی مقصود باالذات دادی مقصود باالذات وینی

تویول نه دي قاعده داده مقدمه دفرضوفرض دی مقدمه د واجبو
واجب وی مقدمه د سنتو سنت وی او د مستحبو مستحب وی
چونکه ده دین تبلیغ فرض دی اوجهاد دادین مقدمه ده نو هغه
هم فرض دی دی سورة کې الله پاك مونږ ته اداب خائی چې تاسو
د الله تعالی دین رسوی ستاسو یو اجتماعیت وی دابه څنګه
برقرار ساتی په دې کې به امن څنګه راځی ؟
او مونږه له زیات سوچ په دی باندې پکار دی نبی علیه السلام ته الله
تعالی وائی دټول مخلوق نه غوره انسان هغه ته الله تعالی وائی
وَلَوْلَا أَنْ ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدْتَ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيلًا: (۱)
که ماته په دی قرآن نه وی مضبوط کړی کیدی شی تاځه میلان
کړی وی تاله به مادوچند عذاب درکړی وي که ده دی قرآن
خدمت دی اونه کړو او دده خان نه دی څه جوړ کړل
وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْأَقَاوِيلِ لَأَخَذْنَا مِنْهُ بِالْيَمِينِ ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِينَ (۲)
څه به دی مضبوط اونیسم اوده مرئی رګونه به در لره غوځ کړم دا
فکرمه کوه چې خلق به په ماباندې ظلم اوکړی
يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ
وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ (۳)
د الله تعالی کتاب اورسوه اوکه دی اونه رسو دخدائی ډیوتی دی
پوره نه کړه اوکه جنګ راغی الله تعالی به دی بچ کوی

---

۱ سورة الاسراء (۷٤)
۲ سورة الحاقة (٤٤ ٤٥ ٤٦)
۳ سورة المائدة (٦٧)

په دی سورة کې ورومبئ دوه قاعدی الله تعالی ذکر کوی د الله تعالی سره دتعلق بیایوځو قاعدی ذکرکوی هغه طبعی صفت کې ده بندګانو د بندګانو سره تعلق او په اخیر کې د امن د پاره یو قاعده ذکر کوی دا اووه قاعدی دی په دی سورة کې

اوله قاعده

الله تعالی فرمائی
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (۱)
اي دایمان خاوندانو ده الله تعالی اود پیغمبر نه به نه مخکې
اي دایمان خاوندانو ده الله تعالی دی هغه به دنیاته رسوئ او تعلق
کیږی کوم حکم چې د الله تعالی دی هغه به دنیاته رسوئ او تعلق
به دالله تعالی سره پیداکوئ چې ته په هر وخت کې الله تعالی ته
محتاجه ئې اوستا په هروخت کې په الله تعالی باندې اعتماد وی
اي ایمان والو دخدائی نه به نه وړاندی کیږی
اصل تعلق به د الله تعالی سره وی چې الله تعالی سره تعلق وو دا
سړی په خپل ځان نه دی ځکه ده ده ځان دا ډلره الله تعالی ورکړی
دی دا سړی په خپل مال نه دی داسړی په خپل عزت باندې نه دی
روح ورکول اوځان قربانول داډیرګران کار دی سړی په خپل ځان
باندې ډیرمئین وی خو چې کله ئې دالله تعالی سره تعلق راشی
خپل روح ورکول هغه ته سعادت ښکاری او اور ته دانګل ورته

---

۱ سورة الحجرات (۱)

سعادت ښکاری او چې کله خلق ده ده نه جدا کیږی دی ورته وانی چې قیامت به مونږ جمع کوی

واقعه د عبدالله بن حذافه السهمي رضي الله عنه

عبد الله بن حذافة السهمي چې کله د روم په جنګ کې ګرفتار شو او د بادشاه مخې ته پیش شو.

